# له

# طالبه تر طالبه

# (۲۰۰۱-۲۰۲۱)

ليکوال :

عبدالحبيب ببرکزئ ځدرانْ

د کتاب نوم: له طالبه تر طالبه

لیکوال: عبدالحبیب بېرکزئ ځدراڼ

چاپ کال: جون میاشت ۲۰۲۲ ز

چاپ ځای: بیرو اکسترن – الکمار – هالند

BURO EXTERN - ALKMAAR - HOLLAND

**د چاپ حق لیکونکي سره خوندې دئ**

# لړلیک

**مخګڼه** **سرلیک**

منلیک ........................................................................ 18
سریزه ........................................................................ 21
لومړی څپرکئ.................................................................... 25
مجاهدین یا پنځلس تنظیمي ډلې .................................................. 25
ځغلنده کتنه.................................................................... 25
جهادي مشران او تش په نامه جوړ شوي تنظیمونه (د جهاد ټیکه داران) په کابل راننوتل.... 33
د مجاهدینو حکومتولي .......................................................... 43
ټولیزې (عمومي) څرګندونې ...................................................... 46
فرهنګي، کلتوري او روزنیزو ټولنو ته زیانونه.......................................... 48
د مجاهدینو حکومتولي ولې ژر ړنګه شوه؟.............................................. 50
دوهم څپرکی.................................................................... 52
طالبان........................................................................ 52
طالبان څنګه او ولی منځ ته راغل .................................................. 52
طالبانو څنګه قندهار او نور ولایتونه یو په بل پسي فتح کړل.............................. 62
د طالبانو مشران څوک دي / ؤ...................................................... 66
د طالبانو له لوري د کابل فتح او سمدلاسه د ډاکترنجیب الله وژنه ........................ 72
د طالبانو حکومتولي ............................................................ 83

اسامه بن لادن څوک و؟ ..................................................... 85
اسامه بن لادی څنګه د افغانستان پولې او د افغانستان خاورې ته را دننه شو ............ 87
اقتصادي برخه ..................................................... 97
کورنۍ او بهرنۍ سیاست ..................................................... 99
د جنرال مالک له لوري د طالبانو غولونه او د مزار شریف فتح کول .................. 102
د طالبانو سقوط او د ملا محمد عمر مړ کیدل ..................................................... 103
یولسم د سپتیمبر ترهګریز برید ۱۱-۹-۲۰۰۱ ..................................................... 110
دریم څپرکی ..................................................... 114
حامد کرزئ ..................................................... 114
حامد کرزئ څوک دئ؟ ..................................................... 114
د بن کنفرانس او اړوند مسایل ..................................................... 116
حامد کرزئ څنګه واک ته ورسید ..................................................... 122
حامد کرزئ څنګه د ارزګان څخه ارګ ته راغئ ..................................................... 127
جنګي جرمونه ..................................................... 135
د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشری لومړنی ټول ټاکنې ۲۰۰۴ز ............... 137
د حامد کرزي د حکومتولی په تړاو ځینې نورې خبرې ..................................................... 138
اداري فساد ..................................................... 140
فساد او رشوت په کومه کچه و ..................................................... 143
نشه یي توکي ..................................................... 147
حامد کرزئ د دوهم ځل د پاره په ۲۰۰۹ ز کال کې ټاکل شوئ ولسمشر اعلان شو ...... 152
سوله او جنګ ..................................................... 153
د امریکایانوسره دفاعی او امنیتی تړون نه لاسلیک کول ..................................................... 156
د توکیوکنفرانس ..................................................... 159
کورنۍ سیاست ..................................................... 161
بهرنۍ سیاست او نړیوالی دیپلوماتیکی اړیکی ..................................................... 162
د حامد کرزي د حکومتولی لاس ته راوړنی او نیمګړتیاوې ..................................................... 166
څلورم څپرکئ ..................................................... 173
محمد اشرف غني ..................................................... 173
محمد اشرف غني څوک دئ ..................................................... 173

عبدالله عبدالله څوک دئ ............................................................ 175

د امریکا او ناټو سره د افغانستان امنیتي تړون لاسلیک ............................... 177

د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د لومړني ځل تولټاکنو پایله .................. 179

د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د دوهم ځل تولټاکنو پایله او اړوند مسایل .. 181

د امریکا بهرنیوچارو وزیر مایک پیمپیو په یوناڅاپي سفر کابل ته راغئ ............. 183

دوه ځایه د لوړې مراسم ............................................................ 184

د محمد اشرف غني او عبدالله جوړجاړی .............................................. 185

کورنئ سیاست ..................................................................... 186

بهرنئ ساست ...................................................................... 189

اداري فساد ....................................................................... 205

د اداري فساد او د نشه يي توکو تولید او قاچاق لامل څه ؤ .............................. 209

نشه يي توکي او قاچاق ............................................................. 211

د نشه يي توکو تولید او قاچاق په وړاندې مبارزه ولې بريالی نه وه ........................ 217

د افغانستان د تولید شویو نشه يي توکو عایدات چیرته په مصرف رسیدل ................... 219

د حامد کرزي او محمد اشرف غني د حکومتولی ځینې تفاوتونه .......................... 220

د امریکا او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو پیل ............................................ 223

د امریکا او طالبانو د خپلمنځي هوکړې څلور مهمې برخې ............................. 225

کابل ته د امریکا د بهرنیوچارو وزیر دوهم ځلي یوناڅاپي راتګ ........................... 229

ولسمشرمحمد اشرف غني ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلنکین لیک...... 230

د محمد اشرف غني په حکومتولی کې اقتصادي برخه او لس بنسټیزې پروژې .......... 231

امریکایانو د کومو موخو له پاره پر افغانستان یرغل وکړ ................................ 235

لنډیز ............................................................................ 245

په افغانستان کې د امریکا د جنګ لګښت ۲۰۲۱-۲۰۰۱ .................................... 248

امریکایان په سپین سترګتوب د خپل بې مسؤلیته وتلو ګرم ولسمشر محمد اشرف غني ګڼي .................................................................................. 254

ځینې نورې مهمې خبرې ........................................................... 262

د ولسمشر محمد اشرف غني په هکله زما نظر ........................................ 264

د افغانستان څخه د محمد اشرف غني وتل ............................................. 267

د بي بي سي سره د ولسمشر محمد اشرف غني د مرکې بشپړ متن ........................ 295

په افغانستان کې د نيابتي نوې جګړې څرک او د ځبرځواکونو تقابل............................ 316
لنډيز ..................................................................................................... 328
**پنځم څپرکۍ.......................................................................................... 330**
د طالبانو دوهم ځل حکومتولي ..................................................................... 330
د پخواني وسله وال ځواک غړي له داعش سره يوځای کيږي................................. 333
په پخواني نظام کې پټ طالبان....................................................................... 333
د طالبانو ډيپلوماتيکې هلې ځلې ..................................................................... 336
د طالبانو په هکله ټوليزې څرګندونې................................................................ 344
په افغانستان کې د امريکا له لوري تېل شوې شل کلنې جګړې ته ځغلنده کتنه............ 346
په بيرنۍ توګه سوليزافغانستان او ټول ګډونه حکومت........................................ 361
**اخيستنه ................................................................................................ 364**

# لومړی څپرکی

## مجاهدین یا پنځلس تنظیمي دلې

<u>ځغلنده کتنه</u>

جهادی تنظیمونه او د تنظیمونو په جوړښت کې د پاکستان ونډه

جهادي مشران او تش په نامه جوړ شوي تنظیمونه (د جهاد ټیکه داران) په کابل راننوتل

د مجاهدینو حکومتولي

ټولیزې (عمومي) څرګندونې

فرهنګي، کلتوري او روزنیزو ټولنو ته زیانونه

د مجاهدینو حکومتولي ولې ژر ړنګه شوه ؟

# دوهم څپرکی

## طالبان

طالبان څنګه او ولی منځ ته راغل؟

طالبانو څنګه قندهار او نور ولایتونه یو پر بل پسې فتح کړل؟

د طالبانو مشران څوک دي / ؤ

د طالبانو له لوري د کابل فتح او سمدلاسه د ډاکترنجیب الله وژنه

د طالبانو حکومتولي

اسامه بن لادن څوک ؤ؟

اسامه بن لادن څنګه د افغانستان پولي او د افغانستان خاورې ته را دننه شو؟

اقتصادي برخه

کورنئ او بهرنئ سیاست

د جنرال مالک له لوري د طالبانو غولونه او د مزار شریف فتح کول

یولسم د سپتیمبر ترهګریز برید ۱۱-۹- ۲۰۰۱

# دریم څپرکی

## حامد کرزی

حامد کرزئ څوک دئ؟

د بن کنفرانس او اړوند مسایل

حامد کرزئ څنګه واک ته ورسید؟

حامد کرزئ څنګه د ارزګان څخه ارګ ته راغئ؟

د حامد کرزي موقته او انتقالي دوره

جنګي جرمونه

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشرۍ لومړنی ټول ټاکنې ۲۰۰۴ز

د حامد کرزي د حکومتولی په تړاو ځینې نورې خبرې

اداري فساد

فساد او رشوت په کومه کچه ؤ

نشه يي توکي

حامد کرزئ د دوهم ځل د پاره په اګست د ۲۰۰۹ ز کال کې ټاکل شوئ ولسمشر اعلان شو

د امریکایانوسره دفاعی او امنیتی تړون نه لاسلیک کول

د توکیوکنفرانس جولای د ۲۰۱۲

کورنئ سیاست

بهرنئ سیاست او نړیوالي دیپلوماتیکي اړیکي

د حامد کرزي د حکومتولی لاس ته راوړنی او نیمګړتیاوې

# څلورم څپرکی

## محمد اشرف غني

محمد اشرف غني څوک دی؟

عبدالله عبدالله څوک دی؟

د امریکا او ناټو سره د افغانستان امنیتي تړون لاسیلک

د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ لومړني ځل تولټاکنو پایله

د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ دوهم ځل تولټاکنو پایله او اړوند مسایل

د امریکا د بهرنیوچارو وزیر مایک پیمپیو ۹-۷-۲۰۱۸ ز په یوناڅاپي سفر کابل ته راغئ

دوه ځایه د لوړې مراسم

د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله جوړ جاړی

کورنۍ سیاست

بهرنۍ سیاست

محمد اشرف غني بهرني سیاست ته بدلون ورکړ؟

د پاکستان او امریکا پر وړاندې څه کول پکار ؤ

اداري فساد

د اداري فساد او د مخدره توکو تولید او قاچاق لامل څه ؤ

نشه یي توکي او قاچاق

د نشه یي توکو تولید او قاچاق په وړاندې مبارزه ولې بریالۍ نه وه؟

د افغانستان د تولید شویو نشه يي توکو عایدات چیرته په مصرف رسیدل

د حامد کرزي او محمد اشرف غني د حکومتولۍ ځینې تفاوتونه

د امریکا او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو پیل

د امریکا او طالبانو د خپلمنځي هوکړې ځلور مهمې برخې

د ۵ زره طالب بندیانو خوشې کیدل

کابل ته د امریکا د بهرنیوچارو وزیر پیمپیو دوهم ځلي یوناځاپي راتګ

ولسمشرمحمد اشرف غني ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلنکین لیک

د محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې اقتصادي برخه او لس بنسټیزې پروژې

امریکایانو د کومو موخو د پاره پر افغانستان یرغل وکړ

په افغانستان کې د امریکا د جنګ لګښت ۲۰۰۱-۲۰۲۱

امریکایان په سپین سترګتوب د خپل بې مسؤلیته وتلو ګرم ولسمشر محمد اشرف غني ګڼي

ځینې نورې مهمې خبرې

د ولسمشر محمد اشرف غني په هکله زما نظر

د افغانستان څخه د محمد اشرف غني وتل

د بي بي سي سره د ولسمشر محمد اشرف غني د مرکې بشپړ متن

په افغانستان کې د نیابتي نوې جګړې څرک او د ځبرځواکونو تقابل

# پنځم څپرکی

## د طالبانو دوهم ځل حکومتولي

۱۵ د اګست ۲۰۲۱ کال

د پخواني وسله وال ځواک غړي له داعش سره یوځای کیږي

په پخواني نظام کې پټ طالبان

د طالبانو دیپلوماتیکې هلې ځلې

د طالبانو په هکله ټولیزې ځرګندونې

په افغانستان کې د امریکا له لوري تپل شوې شل کلنې جګړې ته ځغلنده کتنه لنډیز

په بیړنۍ توګه سولیزافغانستان او ټول ګډونه حکومت

## دلوی اوبښونکي خدای په نامه !

### پردغه،

### له طالبه ترطالبه ، اثرباندې یوه لنډه تبصره

دغه اثرزموږ په اوسنیوسیاسي، تاریخي اوټولنیزو لیکنوکې یود پاملرنې وړاثردې چې زموږ ځوان لیکوال ګران عبدالحبیب ببرکزي صاحب خواري پرکړی اوزموږ دتیرو څه باندې درېولسیزوتاریخي اوسیاسي بهیرېي په مستنده توګه په اوسنیوځانګړوحالاتوکې دهغوی له پاره چې زموږ دهیواد له روانوپیښواوغمیزوسره لیواتیا لري، لیکلی دی.

دلته تر هرڅه دمخه خبره له طالبه ترطالبه ده، معنا داچې دغه اثرکې هغه بهیرچې دکابل په ورانۍ ، دطالب پرواکمنۍ دهغه ماتیدل، دبن دغمیزې لړۍ اوبیرته د دویم ځل له پاره طالب پرواک کیدل دي په مسلسل ډول څیړل شوې دی اوپه دقیقه توګه یې همدغه بهیر له خپلوټولوهسکواوټیټوسره دمعتبروسرچینواواسنادو په رڼاکې بشپړکړی دی.

په دغه اثرکې ترټولومهمه خبره داده چې طالب دخپل نامه اودندې چې هغه زده کړه اوپوهه ده خلاف دخپلوخارجي ملاتړو له خوا دیوه شخړییزاومرموز اود دنیا له نرخه نا خبره ، خودهرڅه په سرکې دیوه غیرشعوري لاسپوڅي اومعامله ګرځواک په توګه څیړل شوی اوتشریح شوی دی، تاسې په دغه لنډه تحقیقي لیکنه کې هغه مرموزحرکتونه چې له دغه ځواک سره په سیمه اونړۍ کې دارتباط اوپراختیا په حال کې روان دي هم په ډیره ښه توګه احساس او درک کولای شئ .

برسیره پردې لیکوال هغه معاملي ، فسادونه، چوراوتالان هم په دغه اثرکې ترنظرتیرکړي ،هغه چې دطالب دسقوط اوبیاځلي واک ترمنځ په افغانستان کې دامریکایي اشغال ترسیوري لاندې له خپلومثبتو اومنفي اړخونوسره

یوځای روان و. لیکوال دیوه عینی شاهد په توګه دغه بهیرهم له خپلوتولوکورنیواوبهرنیواړیکواوجزیاتوسره لیکلی، تحلیل کړې اوارزولی دی.

له دغه حالته وروسته لیکوال هڅه کړې چې دمعتبروسرچینوپه مرسته طالب، دهغو را منځ ته کیدل، په سیمه بیزه اونړیواله کچه یې د استخباراتي کړیوله خوا ملاتړاوهڅونه، له امریکا سره دیوې ځرګندې معاملي دیوه اړخ او دپاراشوتي امریکایی دموکراسی بنسټه بهیردسقوط دعامل په توګه وڅیړي، لیکوال همداسې په خپله دغه څیړنه کې هغه پټ اومرموزعوامل هم را سپړي هغه چې د طالبي ځرګند اوتر هه ګرمرموز تاریخي افراطیت د بیاځلي پرواک کیدولامل شوي دي.

په دغه اثرکې به ددغوپیښوپه وړاندې دلیکوال هغه ځانی نظرهم درته په ډاګه شي چې وایي ، کوم څه یې چې لیکلي هغه ددې له پاره نه دي چې یولوری اویا کومه ډله پرې خوشاله کړي، بلکي وایي چې داکاریی یوازې دهغې لویې اندیښنی پربنسټ ترسره کړي چې دطالب په شمول یی له هغه ما فیایی اوغیرملي بهیرڅخه چې د سیمه بیزو اونړیوالوځواکونود شومو پلانواوغرضو د اوږده او تیاره تونل په وروستۍ برخه کې هیواد ته دبدمرغی په توګه په مخ کې پراته دي ملت اوهغو حساسواوملي فکرونوته ورسوي،چې دغه لوی او نه جبران کیدونکي خطران له اوسه ورمعلومیږي.

لیکوال ګران بیرکزي په سیمه کې طالب اودهغه معامله یی سرنوشت ته چې دبهرنیوخطرناکوسیاسی، اقتصادي اوپوځي سیالیو په مرګونی ګرداب کې را ښکیل شوي متوجه شوی دی، دی وایې چې دغه بدمرغي که داملاوي اودامسجد که دغه حالت وی اودغه دنا پوهی جنون، دابه لوی افغانستان اودغه اتل ملت په ډیره لوړبیه تمام شي. دبیرکزي دااثرزما په فکرهغوی ته چې لاهم دنورو دوزخي اومافیایي په تیربیا دنړیوالي ترهه ګرۍ دمورپاکستاني استخباراتود دلالۍ ښکاراوقرباني شوي اولاهم په خپله دغه قربانی نه پوهیږی اویا یي خپل ویاړاواتلولي بولي په خپل ذات کې یوځرګند التماتم دی، داچې اوري یی که نه اویا پرې پوهیږي اوکه نه دابیا ددوی درایت اوتاریخي مسولیت ته سپاري.

په پای کي باید داهم ووایم چې دغه کتاب د شهید ډاکترنجیب الله پرژوند اودهغه پرضد دکورنۍ اونړیوالې توطیې ،د حامد کرزي اواشرف غني

دژوند، حکومتونو، په ستونزواوبرياووباندې هم خبرې لرې چې خپلې محتواته جالبيت وربښي.

زه خپله لنډه ليکنه دګران ببرکزي ددغه په زړه پورې اثرپه اړه پردغه ټکي چې «مشک هغه دي چې خپله يې ووايی نه دا چې بنجاره يې ووايي » پای ته رسوم ، ليکوال ته يې دبرياووهيله کوم ، اوتاسوګرانولوستونکي ته د ښې روغتيا اوخوشالۍ په فضاکې ددغه اثردلوستلو!

**خدای مو مل شه !**

په درناوی

**پروفيسورعبدالخالق رشيد**

**دنهروپوهنتون استاد**

د ۲۰۲۲ کال دمی دمياشتې ۲۶

## مننليک

د قدرمن استاد پرفیسور عبدالخالق رشید څخه د زړه له کومې مننه چې د خپلو ډیرو مصرفیتونو سره سره یې چې د هندوستان (دهلي) د جواهرلعل نهرو په پوهنتون کې لري، خپل وخت زما د دې اثر د لوستلو د پاره وقف کړ.

دکتور عبدالخالق رشید څه دپاسه ۳۵ کاله دمخه د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګه کې زموږ ځوان او تکړه استاد ؤ. د قدر وړ او د ډیر ویاړ خبره داده چې دروند استاد لا تر اوسه هم په پوره ځوانه حوصله مندۍ سره د دهلي په نامتو پوهنتون جواهر لعل نهرو کې د پښتو څانګې استاد او د دیپارتمنت مشر دئ.

د دکتور عبدالخالق رشید د پوره پوره زیار او هڅو په نتیجه کې د جواهر لعل نهرو په پوهنتون کې پښتو څانګه څو کاله دمخه پرانیستل شوه چې بلاخره اوس د ماسترۍ په کچه محصلین ترې فارغ شوي دي. موږ ټول افغانان د استاد په دغو هڅو ویاړو.

د یادونې وړ بولم، چې استاد کلونه په دې بوخت ؤ چې په نوموړي پوهنتون کې پښتو څانګه پرانیزي، یو وخت یې راته ویل چې *بس که خدای مې همدغه ارمان پوره کړي نور ارمان نلرم*. د خدای په توکُل یې دا ارمان پوره شو.

استاد پخپلې پیرزوینې سره خپل نظر زما د دې اثر په هکله لیکلئ او تر څنګ یې یاده کړې چې ګواکې زه لاهم ځوان یم. قدرمن استاد ته زه تر اوسه هم هماغه د ۳۷ کاله دمخه د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي ځوان محصل یم، خو زه وایم کاشکې چې په ریښتیا خو هم لا ځوان وئ، او بیا راباندې هماغه ځواني راشي!

ځینې وایي چې *د شپیتو شوې د وتو شوې*.

محترم او قدرمن استاد پروفیسورعبدالخالق رشید څخه یوځل بیا د مننې ترخنګ د ژوندانه په ټولو چارو کې بریالیتوب، تل پاتې روغتیا او سوکالي غواړم.

همدا ډول زما د ډیر ګران او یو پخواني دوست د زوی چې زه ورته وراره وایم د زړه له کومې مننه کوم چې څو قطعې عکسونه یې تازه څو ورځې دمخه اخیستي ؤ راته راولیږل، کوم چې د دې کتاب پر پوښ چاپ شوي دي.

په ډیر درنښت

عبدالحبیب ببرکزئ ځدراڼ

# د لوی او ښنونکي څېښتن په سپیڅلي نامه

## سریزه

په زړه زخمي مورد خپلو توریالیو او زمریالیو زامنو په شتون کې لکه لیونۍ،
توربېرسرناسته ده، کله کله یې له خولې څخه زګیروي راوځي.
د مور په خورجینې کې چې څه ؤ هغه غلواو داړه مارانوترې یووړل او په سر زخمي
یې پرېښوده.
ټیکری، کمیس او د پرتوګ څنډې یې پخپل کلي کې ترې لیوانو وخوړل.
په شته زامنو کې پرسر زخمي، پرځان د لیوانو داړو سورۍ سورۍ کړې ده. اوس لا د
ګاونډیو کلیو واړه کوکري هم ورته تاو راتاو شي خولې پرې لګوي اوداړي یې،
مور زګیروي کول، خو زامن یې په درانه مرګُني خوب ویده ؤ، نه یې غوښتل چې له
خوبه یې راویښ کړي.
زخمي مور چې دردونو ډېره په تنګ کړه، نو یې غږ کړ:
زامنو!
لږ راویښ شئ ډېردو کلیو سپو خوړلې یم... سپو...
خو دوی لا هم ویده دي!!!
اوه، خدایه دا شپه به پر زخمي مور کله سبا کیږي ؟
کله به بیا سپیدې وچوي، کله به بیا د سپیده چاود ستوري را وځلیږي
کله به بیا د پامیر پرجګو غرونو، د هندوکش پرهسکو څوکو او د سپین غره په پراخو
لمنو
د سهار ځلنده لمر وړانګې ولګي؟ کله به دهغو پراخې غیږې تودیږي، او را تودیږي ...
کله به دا شپږ زامن راپاځي؟

د دغې دردېدلې مور پرسر به يو زوی پټې کېږدي،
بل به يې پريوه او بل لاس مرحم ږدي اودرمل به ورکړي،
دوه زامن به دمور پر دواړوپښو لګېدلي زخمونه له وينو زوو پاک، او زړومبی به پر کېږدي،
مشر زوی به يې بدن په لپو لپو اوښکوو مينځي!
مور به کله مسکی شي او وبه وايي :
زامنو ! ښه شو چې تاسوراوېښ او راټول شوی،
نوره به زه نه زخمي يم اونه به هيڅ درد لرم...
په پرهارو مو راته مرحم کېښول،
زامنو ستاسو په راغونډېدو په زړګي ځوانه شومه،
اوس مې په تن کې وينه په ځغستا درومي رادرومي،
نور به زموږ مېنې (کور) ته غله ، داړه ماران کتلئ نه شي ،
نور به زموږ مينې ته زمري، ليوان او کوکري راتللئ نه شي ،
له پاک الله څخه موتل داسې يو والئ غواړم !
زامن به ټول په يو غږ ووايي :
مورې په خدای مو دا قسم دئ چې بيا، به نه ويديږو، ته په ډاډه زړګي آرام وکړه ...
ستا دغه زمري زامن به شپه نوره ترسهاره ،
ترتا چاپير، په يوه خوله، يو موټي لکه فولاد، داسې ديوال جوړ کړي،
نور به بياغل، داړه ماراو ليوه هم،
ستا سيوري ته کتلی نه شي،
ورځه ته آرام وکړه اوخوا دې ټوله لره ،
ورځه ته آرام وکړه او خوا دې ټوله لره ... !

د ګران هيواد افغانستان دلالهانده ژوند پربېرې څو څو ځلې د ښکيلاکګرو له لوري توپاني څپې راغلي دي. يرغلګروتل دا هڅه کړې وه چې دا بېړۍ ټوټه ټوټه او د سمندر په تَل کې د تل له پاره خښه کړي. خو د افغان ملت په يو والي او غښتلي متو دا بېړۍ په

آرامه د سمندر څنډې ته رسول شوې ده ، کله يې چې لړه ساه اخيستې بيا پرې بله ليونۍ توپاني څپه راوښتې او راغلې ده ...

خو، ډاډمن يم، څرنګه چې دا بيړۍ په تيرو ځلوکې د توپانونوله ټل څخه د ټول افغانستان د وګړو پرمټو او د سپيڅلي څيښتن په توکُل راوتې، دا څپه به هم تيره شي اومونږ به د وروستي بري سرمنزل ته رسيږو...

درنو لوستونکو،

له څو ورستيو کلونو راهيسې مې د ګران هيواد افغانستان د وخت پرحالاتو زړه ډير خوابدئ دئ. د دې له پاره چې هم مې د زړه غوټه راکښلي وي او هم مې له درنو لوستونکو سره د زړه خواله کړې وي، ځکه خو مې د دې کتاب په ليکلو پيل وکړ.

هڅه مې کړې ده چې واقعيتونه بيان شي، دا که د هرچا په وجود کې وي.

زه په افغانستان کې د ننه او بهر د هيڅ کوم ګوند، ډلې يا ټپلې غړيتوب نه لرم، نه مې درلود. ټول افغانان ماته د قدر وړ او د سترګو توردي په تيره هغوی چې ملي ارزښتونو او ځمکنۍ بشپړتيا ته ژمن اوسي. دا يادونه مې د دې له پاره وکړه چې لوستونکي دا ګمان ونه کړي چې زه به د چا مخالف او يا هم ملاتړئ يم.

هيله مې داده چې ټول افغانان خپل هرډول مخالفتونه نوردهيرښت په ژورې کندې کې خښ کړي. ټول يو موټئ، يوغږ او يوه خوله د هيواد په بيا رغونه او ودانۍ کې برخه واخلي. افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دئ.

لکه څنګه چې د کتاب نوم له طالبه تر طالبه دئ (د طالبانو له لومړي ځل واک ته رسيدو څخه تر دويم ځل واک ته رسيدو پورې )، ځکه خو دغه برخه ژوره اوترهغې د مخه (مجاهدينو) ته ځغلنده کتنه شوې ده. په بله وينا پر افغانستان باندې د ستر ښکيلاکګرامريکا يرغل او د هغه ناوړه اوشومې موخې په کې په ګوته شوي اوترڅنګ يې بيرته په بې مسؤليته وتلو باندې لنډه رڼا اچول شوې او څرګندونه پرې شوې ده.

همدادول زياتره مطالب د خپل حساسوالي له کبله کټ مټ کاپي، له اړوند ويب سايت څخه را اخيستل شوې او دلته نښلول شوې دي.

همداراز ځيني بيلګې د مطلب د ښه روښانتيا له پاره تکرار ليکل شوي، چې په دې هکله د لوستونکو د حوصله مندۍ څخه منندوی يم.

پته دې پاتې نه وي چې ددې کتاب ډیری مطالب له بیلابیلوکتابو اویاهم نورو سرچینو اوباخبره کسانوله نقل قولوڅخه را اخیستل شوي دي.

دا چې وروستي څه دپاسه تیردیرش کاله زما په ژوندانه تیرشوي، هغه راته یاد ؤ، په دغه اړه مې ځینې یادښتونه له ځان سره ساتلي هم ؤ. خو برسیره پر دې مې بیا هم له کورنیواو بهرنیو کتابونو، مستندو اسنادو، شواهدو او مدارکو څخه استفاده کړې ده اوهم مې په دغه ترڅ کې له نړیوال پیژندل شویو ویب سایتونواوباخبره سرچینو لکه بی بی سی ، امریکا غږ، دویچه ویله (المان) او ځینې نورو څخه هم اخیستنه کړې ده. د دې له پاره چې لوستونکي وکولای شي اړوند مطلب خپله هم وګوري، ځکه خو مې اخیستنې اړیکې اولینکونه د اثرپه څنډه کې لیکلی دي، دڅیړنیزوآسانتیاوو په خاطرمې ټولې سرچینې او ماخذونه د کتاب په وروستیو پاڼو کې هم راوړي دي.

**په درنښت**

**عبدالحبیب ببرکزئ ځدراڼ**

**مارچ میاشت ۲۰۲۲ زیږدیز کال**

# لومړی څپرکئ

## مجاهدین یا پنځلس تنظیمي ډلې

### ځغلنده کتنه

جهادی تنظیمونه او د تنظیمونو په جوړښت کې د پاکستان ونډه

1

اخوان المسلمین په کال ۱۹۲۸ ز کې د حسن البنا مصري له خوا تأسیس شو، چې د مصر تر ټولو زوړ اسلامګرا سازمان دئ.

د اخوان المسلمین د تحریک مرکزي دفتر کله چې د ۱۹۶۰ ز په وروستیوکې په بیروت کې ؤ. دوی هڅه وکړه چې د اخوان المسلمین د نهظت کتابونه په پښتو او فارسي ژبو وژباړي. دغه کتابونه په بیروت او کویت کې په پښتو او فارسي ژباړل کیدل او بیا افغانستان استول کیدل.

دشهید محمد داودخان د صدارت او ولسمشرۍ په دوران کې د پښتونستان او دیورند کرښې مسلې ته زیاته لمن وهل کیده.

کله چې شهید محمد داود خان د افغانستان ولسمشر شو، اسلامی بنسټپال مشران لکه برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار همداشان ځیني نور اسلامی بنسټپالان پاکستان ته ولاړل. د یادولو وړ ده چې عبدالرب رسول سیاف بندی شو. نوموړئ بیا ۷ د ثور انقلاب څخه وروسته له بنده خلاص اوپاکستان ته ولاړ.

دوی په پاکستان کې نظامي زده کړې وکړې او د پاکستان له لوري په داسې روحیه وروزل شول چې ګواکې د افغانستان دولت د اسلام ضد ایدیالوژیکې پلانونه لري او د

---

1

https://www.bbc.com/persian/world/2013/07/130711_an_egypt_muslim_brotherhood

د بي بي سي له سایت څخه اخیستل شوئ

اسلام ضد روحیه مخ په تقویه کیدو ده. د پرچم او د خلق ګوندونه د دې ښکارندویې او تصیدیق کوي، او خپله محمد داودخان هم په اصطلاح د دغو ګوندنو پلوئ دئ.

نو پاکستان د پورتنۍ روحیې په ښسټ دغه ښستپالان مسلح کړل او نظامی تعلیمونه یې ورکړل. دغې ګروپونو ځینې فعالیتونه د افغانستان په داخل کې پیل کړل. محمد داود خان بلاخره دې ته اړ شو ذولفقارعلی بوټو ته ووایي چې دغه ګروپونه د افغانستان دولت ته تسلیم کړي. خو د پاکستان آی اس آی او د لاهور نظامیانو کله دغه په لاس ورغلئ فرصت له لاسه ورکاؤ.

په کال ۱۹۷۶ز کې بوتو خپلو نظامیانو ته ویلي ؤ چې اوس موږ د افغانانو رګ موندلئ دی او دا باید ژر او آسانه خوشې نه کړو. جنرال ضیاالحق ویل افغانستان باید وسوځي. جنرال نصیرالله بابر چې بیا وروسته دپاکستان د کورنیو چارو وزیر وټاکل شو په افغانستان کی دپرمختګ سخت مخالف سړئ ؤ.

په لنډه توګه ویلئ شو چې پاکستان له جوړښت څخه ۱۹۴۷ ز تر ننه غوښتي چې افغانستان کې تل یو ضعیفه حکومتولي وي. دا خو به ډیره ښه وي چې که د دوی په خوښه حکومت وي او ترټولو خو لاښه دا ده چې د دوی لاسپوڅي او جاسوسان حکومت وکړي اویا جاسوسان په کې ګډون ولري.

2

کله چې شوروی اتحاد په افغانستان یرغل وکړ، البته بهتره ده ووایم په اصل کې خو د شورویانو یرغل هغه وخت څخه پلان شوئ ؤ، کله چې په ۲۷ -۱۲-۱۹۷۹ ز د کابل تاج بیک ماڼی کې پر حفیظ الله امین د شورویانو له لوري یرغل وشو. دا یرغل د ۱۰۳ قطعي کماندو، یو کنډک د شوروی د مسلمان جګړن خالبایف او د «رعد»، «زینت» او «ک، ګ،ب» ګروپونو قوماندان جګړن سیمیونف او جګړن رومانف له لوري پلئ شو. د یاد عملیاتو اداره او څارنه د شوروی استخباراتي دستګاه ډګروال لولیسنیک په لاس کې وه. دوی بریالي شول چې حفیظ الله امین په دغه شپه له منځه یوسي. پایله دا شوه چې ببرک کارمل کابل ته راغئ او د شورویانو له لوري د افغانستان د دمکراتیک جمهوریت ولسمشر وګمارل شو. له دې وروسته بیا د شورویانو سرې لښکرې هم افغانستان ته راننوتلې.

---

2 آیا قوای نظامي اتحاد شوروي از افغانستان خارج ساخته شد؟ لیکونکئ: اسدالله ولوالجي- چاپ کال: ۱۳۸۰ ل

په هرحال، پر افغانستان د شوروی د یرغل څخه وروسته دې خبرې نور هم پوخوالئ وموند چې افغانستان کې ګواکې غیر اسلامي نظام حکمفرما دئ او ددوی په ضد جهاد روا دئ.

[3]

کرینل امام چې اصلی نوم یی سلطان امیر دئ اود ډګروالی تر رتبې یې د پاکستان په استخبارتو(آی اس آی) کې کار کړئ. لومړنی نظامي زدکړې پورته یادو بنسټپالو ته د دغه امام له خوا په کال ۱۹۷۵ ز کې ورکړل شوې ، د امام لقب هم همدغو جهادیانو ورکړئ ؤ.

د دې دپاره چې پاکستان د مجاهدینو سره هراړخیزه ښه مرسته کړې وي، نو ډیر ژر د پاکستان استخباراتو (آی اس آی) وکولئ شول چې په دې هکله د سعودي عربستان مرسته هم را خپله کړي. پاکستان ته ستره مرسته عربستان او امریکا ورکوله، چې بیا پاکستان یې پخپل وار مجاهدینو ته څنګه چې آی اس آی غوښتل ورسوي.

[4]

*ډګروال محمد یوسف په آی اس آی کې د افغان څانګې ریس ؤ او مستقیم د جنرال اخترمحمد د (آی اس آی ریس)لاس لاندې کارکاؤ. نوموړئ وایې د څلورو کلونو په ترځ کې تر ۱۹۸۷ ز پورې اتیازره ۸۰۰۰۰ مجاهدینو ته پوځې زده کړې ورکړي. نوموئ زیاتوي زموږ موخه نه یواځې مجاهدینو ته پوځي زدکړه ورکول ؤ بلکې د دوی عملیات مې په افغانستان کې طرحه کول. زموږ پوځیانو به ډیرئ د دوی سره سم افغانستان کې دننه په عملیاتو کې برخه اخیسته.*

پاکستان د افغانستان پولې ته نژدې د پاکستان په خاوره کې دیني مدرسې جوړول پیل کړل. په دې مدرسو کې یې د دیني زده کړو د پاره زده کوونکي روزل. (نه یواځې دیني بلکې ډیرو ته نظامي زده کړې هم ورکول کیدې)

---

3

((د پیریانو جګړې -لیکونکئ: ستیوکُول- ژباړه: غلام محمد زرموال - د چاپ کال ۱۳۸۷ ل))
GHOST WARS (STEVE COLL)

4

تلک سرخ - لیکونکئ: ډګروال محمد یوسف او مارک ادکین - ژباړه: داکتر نثار احمد صمد – د چاپ کال نه دئ څرګند

د پیریانو جګړې په ۲۶۱ مخ کې لیکل شوي چې په کال ۱۹۷۱ ز کې په ټول پاکستان کې ۹۰۰ دیني مدرسې وې. په ۱۹۸۸ م کې ۸۰۰۰ رسمي او ۲۵۰۰۰ غیررسمي یا نه راجسترشوې دیني مدرسو ته لوړې شوې. ترټولو ډیرئ دا مدرسې د افغانستان د پولې په اوږدو کې جوړې شوې وې. دا مدرسې دسعودي عربستان او نور عربي شتنمو خلکو له خوا تمیویل او تجهیز کیدې. ډیرئ د افغان کډوالو زامن او نور تنکي ځوانان او ځوانانو پکې دیني زده کړې کولې.

5

جنرال ضیاالحق په کال ۱۹۷۹ ز کې امریکا سره موافقه وکړه چې خپل بریښنایي جاسوسي تاسیسات په بلوچستان او سوبه سرحد کې ځای پرځای کړي. امریکا په دې کار ځکه خوښه وه چې دوی دغه ډول بریښنایي جاسوسي تاسیسات په ایران کې د شاه د ریژیم د نسکوریدو جنوری ۱۹۷۹ ز څخه وروسته د لاسه ورکړي ؤ. که څه هم پاکستان په پیل کې په دې خوښ نه ؤ خو بیا وروسته یې موافقه وکړه. ځکه خو امریکا ته په دغه سیمه کې پاکستان د ایران یو ښه بدیل وګرځید.

<u>پیل همدغه سبب شو چې آی اس آی د سي ای ای سره کلکې اړیکې ټینګې کړي.</u>

په کال ۱۹۸۰ز کې د امریکا او عربستان مرستې مجاهدینو ته ( د آی اس آی له لیارې) ۳۰ میلونه دالره ؤ. په کال ۱۹۸۱ ز کې ۵۰ میلیونه دالره شو او په کال ۱۹۹۱ ز کې ۲.۸ دوه عشاریه اته میلیارده دالره ؤ.

6

په دې وخت کې جنرال ضیا الحق ښه چنه د مجاهدینو په سر د امریکا سره ووهله، چې بلاخره امریکا پاکستان ته ۱.۳ میلیارد ډالر نظامي مرسته او څلویښت (ایف ۱۶ جنګي

---

5

حقایق پشت پرده تهاجم شوروی بر افغانستان - لیکونکي: دیاګو کوردو ویز او سلیګ هریسن – ژباړه: عبدالجبار ثابت- ۱۱۲ مخ د چاپ
کال ۱۳۷۷ ل

6

حقایق پشت پرده تهاجم شوروی بر افغانستان - لیکونکي: دیاګو کوردو ویز او سلیګ هریسن – ژباړه: عبدالجبار ثابت- ۱۳۷ مخ د چاپ
کال ۱۳۷۷ ل

الوتکې) او ۱.۶ میلیارده اقتصادی مرسته ومنله. همداراز جنرال ضیا خپل ډیر مهم شرط چې امریکا به دپاکستان د سولیزاتومي پروګرام پرمخ بیولو ممانعت نه کوي ومنل.

د پیریانو جګړې د لیکونکي په حواله د ډګروال محمد یوسف (په ای اس ای کې د افغان څانګې ریس) له قوله چې لسګونه زره ټنه ، درنه ،سپکه، اسلحه (هاوانونه، راکت انداز،پس لګد راکت،او وروسته بیا ستنګر راکتونه) او همداراز البسه دوی ته توزیع کیده. دغه اسلحه د چین، مصر عربستان حتا د اسرایل څخه اخیستل کیده .یواځې څو میلیارده ډالره د لوژستیکي توکو د اکمال دپاره مصرف شوي. داچې هرڅه ته زه نه شوم رسیدلئ نو بله څانګه مې د خپل نظارت لاندې پرانیسته چې البسه او خوراکه توکي مجاهدینو ته ورسوي. دا هرڅه د سي ای اې په پیسو اخیستل کیدل.

د آی اس آی له خوا مجهادینو ته مختلف ډول هدایتونه د ورکول کیدل چې عملي یې کړي. د اپلان په ۲۹ ولایتو کې عملي کیده. بلاخره داسې وخت هم راورسید چې د ای اس ای ګروپونه په منظم ډول د مجاهدینو سره افغانستان ته داخلیدل او پلانونه یې عملي کول.

د ډګروال محمد یوسف خبرې سمې دي، موږ تاسو ټول شاهدان ؤ چې د ولایاتو په لویو لارو کې بمونه خښول، په روغتونونو او ښوونځیو کې بمونه منفجرول، پلونه ویجاړول، حتا په جوماتوکې هم بمونه منفجر شوي. دا وروستئ عمل (په جوماتونو کې بمونه منفجرول) یې هم په دې خاطر کول چې ګواکې دا دولتي خلکو خپله کړي چې مجاهدین بد نام کړي. حتا دا بیلګې یې اوس هم ګورو. همدا ډول دې ته ورته په لسګونو نور فجایې کړي دي. د امریکا، لویدیځو هیوادونو، عربستان او نورو عربې هیوادونو څخه په کال کې دوه میلارده ډالره افغانانو (مجاهدین) ته ورکول کیدل.

د ډګروال محمد یوسف په حواله (تلک سرخ) *ما به چې کله جهادی مشران رابلل نو دوی به په یوه کوټه کې راسره نه کښیناستل. ځکه به مې له دوی سره جلا جلا لیده کاته کول. دوی په خپلو په مخالفتونو کې ډوب او یو بل سره تعصب یې ډیر لوړ ؤ او ډیر سخت جاه طلبه خلک ؤ.*

*جنرال اختر ډیر کوښښ وکړ چې جهادی تنظیمونه یوبل سره ایتلاف وکړي. هغه نژدې ۵۰ سلنه خپل ټول وخت د افغانستان په هکله وقف کړئ ؤ. او له دی څخه ۷۰ سلنه یواځې په دې مصروف ؤ چې د جهادی مشرانو ترمنځ هم غږي رامنځ ته کړي. جنرال اختر د عربستان د استخباراتو ریس ته بلنه ورکړه چې راشي او دوی وهڅوي چې سره متحد او هم غږي شي، خو دې هم کومه مؤثره پایله نه درلوده. تر څو چې جنرال ضیاالحق خپله مداخله وکړه او مشران یې راوغوښتل تر دؤ بجو د شپې کښیناستل کومه*

*مشخصه پایله یې ونه مونده. بلاخره یې حوصله تنګه شوه او عصبانی شو او امر یې وکړ:*

*تنظیمونه موظف دي چې یو ایتلاف رامنځ ته کړي او په درې ورځو کې یو مشترکه اعلامیه صادره کړي. بلاخره هماغسې وشول په درې ورځو کې ایتلاف رامنځ ته شو او اعلامیه یې صادره کړه.*

دغه تش په نامه ایتلاف یواځې د کاغذ پرمخ پروت ؤ او بس. په ولایاتوکې د تنظیمونو ترمنځ سختې جګړې کیدې.

7

په هر حال، آی اس آی د سعودي عربستان استخبارات او سی آی ای په داسې حال کې چې له یو بل سره همکاري لرله، د خپلو دندو په بیلولو پیل کړئ ؤ.

د کډ کار په نتیجه کې هغوی لسګونه زره ټنه وسلې او مهمات پیرل او افغان مجاهدینو ته یې لیږلې. دغو جاسوسي شبکو یو پر بل هم جاسوسي کوله. هریو جاسوسي سازمان ځانته سیاسی اجنداوې لرلې.

تر ۱۹۸۴ز پورې په اسلام آباد کې د سې آی ای د اډې د مشر هاورډ هارټ په وینا *دا په سیمه کې تر ټولوناوړه پټ ساتلئ راز ؤ چې سعودیانو په ځانګړي توګه سیاف ته په پټه پیسې او وسلې استولې.*

سي آی ای د مجاهدینو ملاتړ دپاره پیسې استولې، د سې آی ای مشر ویلیم جوزف کیسي موخه یواځې دا نه وه چې شوروی اتحاد په افغانستان کې بند وساتي، بلکې غوښتل یې چې وېې باسي.

د ۱۹۸۴ ز په وروستیو کې کیسي پاکستان ته ولاړ او غوښتل یې چې د افغانستان پولې ته نژدې د مجاهدینو د روزنې کمپونه ووینې. کیسي سهاروختي جنرال اخترسره یوځای په پاکستانی چورلکه کې د افغانستان پولې ته نژدې د آی اس آی روزنیز کمپ ته راغئ. جنرال اختر کیسي ته ډاډ ورکړ چې د امریکایانو مالیه ورکوونکو له ډالرو څخه په ښه توګه ګټه پورته کیږي.

---

7

د پیریانو جګړې -لیکونکئ: ستیوکُول- ژباړه: غلام محمد زرموال - د چاپ کال )) ۱۳۸۷ ل)) GHOST WARS (STEVE COLL)

له دې وروسته يې په راولپنډۍ کې د آی اس آی مرکز ته له ستنيدو وروسته، د يولړغوره عملياتوپه اړه خبره پورته کړه چې د دواړو څارګري ادارو له خوا پيل شوي ؤ، **<u>هغه پخيله شوروی ته دننه د افغان جهاد ورغزول ؤ.</u>**

د اويايمو زيړديز کلونو په پيل کې د سي آی ای د پټو عملياتو کار کوونکو د پټو خپرونو او تبليغاتي هڅو وړانديز کړئ ؤ چې موخه يې **اوکراينيان** او هم د **منځنۍ اسيا هيوادونه** ؤ. د کارتر د ملی امنيت سلاکار بريژنسکي د امريکا د پټو عملياتو ملاتړو په ډله کې ؤ چې غوښتل يې د شوروی پرپولو د غيرروسي جمهوريتونو په منځ کې د نشنليزم احساسات وپارول شي. د سي آی اې په وړانديز د منځنۍ آسيا هيوادونو ته د هغوی د کلتور او شوروی د تاريخي بې رحميو په اړه کتابونه ولېږي. د آی اس آی په مشوره برسيره پردې کتابونو قران کريم هم په سيميزه ژبه واستول شي.

هماغه ؤ چې سي آی اې په المان کې يو ازبک پناه غوښتونکي ته دنده وسپارله چې قزان کريم په ازبکي ژبه وژباړي

سي آی اې په زرګونه جلده قران کريم چاپ کړل او آی اس آی ته يې واستول. چې بلاخره په د ۱۹۸۴ز په وروستيو کې دغه کتابونه او قران کريم ازبکستان ته ورسيدل.

د بل ګيتس په وينا، کيسې د دې دپاره سي آی اې ته نه ؤ راغلئ چې موخه يې ددې سازمان ښه کول ؤ بلکې **<u>لومړنۍ موخه يې د شوروي اتحاد پرضد د جګړې پيلول ؤ.</u>**

کله چې د شوروی اتحاد قواوې د ۱۹۸۸ ز کې پر وتلو پيل وکړ او په ۲۸ د فبرورۍ ۱۹۸۹ ز د شوروي وروستئ سر تيرئ د افغانستان څخه ووت نود ډاکټرنجيب الله حکومت د مجاهدينو او آی اس آی د نظر خلاف نه يواځې څو هفتو کې سقوط ونه کړ بلکې څوکاله نور يې هم دوام وموند.

کله چې شورويان ووتل نو آی اس آی، د پاکستان پوځيان، کوماندو، د پاکستان مليشه او مجاهدينو د جلال آباد د ښار نيولو تکل وکړ.

(د پيريانو جګړې ۲۷۷ - ۲۷۸مخ ليکل شوي چې)

د جلال آباد جګړې د پاره مخکې له مخکې د سي آی ای او آی اس ای له خوا ګډ پلان جوړشوئ ؤ.

دواړو استخباراتي اداروغوښتل چې په چټکۍ سره هغه عملي کړي. آی اس آی نژدې ۷۰۰۰ جنګيالي د جلال آباد ښارته نږدې راټول کړي ؤ.

هغوی غوښتل د جلال آباد په ګارنيزيون باندې يريد وکړي. دغه بريد ترټولو نورو بريدونو او ګوريلايي جګړو متفاوته ښه لرله. د پاکستان د استخباراتو (آی اس آی) مشر

جنرال حمیدګل بې نظیربوتو ته وعده ورکړې وه چې په یوه اونۍ کې به جلال آباد د جهادیانو لاس ته ولویږي خو د وینو تویولو اجازه راکړه. بې نظیربوتو ویل چې د حمیدګل سترګې داسې د لیونتیاڅخه ځلیدې چې مافکروکړ په یوه اونۍ کې نه، بلکې په ساعتونو کې به جلال آباد ونیسي. حمیدګل خپله اعلان وکړ چې د بې ایمانه مارکسستانو پرضد جهاد کې به هیڅ اوربند نه وي. جګړه باید دوام وکړي ترڅودارالحرب ومینځل شي او ځای یې دارالامن ونیسي.

8

د تاریخ معاصر افغانستان لیکونکۍ په ۴۵۰ مخ کې لیکي: ګلبدین حکمتیار ویل چې په اول د جون به د جلال آباد ښار په جومات کې لمونځ وکړي. خو احمد شاه مسعود ویل چې څلور کاله په کار دي چې موږ د نجیب رژیم ته سقوط ورکړو.

دجلال آباد جنګ دا وښودله چې د ډاکټرنجیب الله دحکومت وسله وال ځواک څومره غښتلي، منظم او د وطنپالنې په روحیه د آی اس آی ، پاکستاني پوځیانو او مجهاهدینو په وړاندې وجنګیدل. آی اس آی او مجاهدینو هیڅکله هم دا فکر نه کاؤ چې د افغانستان وسله وال ځواک به دومره غښتلي وي.

په لنډ سره ویلۍ شو چې دغه جګړه د آی اس آی او پاکستاني پوځیانو د تمې خلاف د افغانستان دولت وګټله او پاکستانیان مختوري شول.

د جلال آباد جنګ څخه وروسته د شهنواز تني شرمونکي کودتا د ځینو جهادي تنظیمونو (ویل کیده چې د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب) او آی اس آی په مرسته هم د ۱۹۹۰ ز کال د مارچ په پیل کې شنډه شوه. بیا خو نو د افغانستان وسله وال ځواکونو ډیر لوړ محرال وګاټه. د آی اس آی او په اصطلاح مجاهدینو په زړونو نور هم اور بل شو. دغو دؤ جګړو وښودله چې ډاکټرنجیب الله حکومت څومره غښتلۍ او وسله وال ځواکونه څنګه په میړانه جنګیدل.

د جهاد سپیڅلي کلمې څخه په استفادې سره پاکستان تش په نامه اوه اسلامي جهادي تنظیمونه (چې په واقعیت کې د څوکیو جهادیان او وطن پلورونکي جاسوسان) جوړ کړل. د تنظیمونو مشران یې ګلبدین حکمتیار، برهان الدین رباني، عبدالرب رسول سیاف، مولوی خالص، مولوی محمد نبي، پیرسید احمد ګیلاني، صبغت الله مجددي ؤ. د یادولو

8

تاریخ معاصر افغانستان - لیکونکۍ:کاندید اکادیمسین محمد ابرهیم عطایي - ژباړه: دکتور جمیل رحمان کامګار- ۴۵۰ مخ ۱۳۸۴ ل کال

وړ ده چې له پورتنیو ډلو څخه لومړني څلور سخت دریزه او وروستي درې یې منځنپاله خلک دي / ؤ.

9

د شهید ډاکترنجیب الله په حکومت کې دننه یوشیمر لوړپوړو چارواکو لکه د ډاکټرنجیب الله د حکومت د بهرنیو چارو وزیر، ځیني جنرالانو د دولت ضد جګړه کوونکو لکه احمدشاه مسعود، عبدالرشید دوستم ،ګلبدین حکمتیار، ځیني نورو اشخاصو اوهمداشان د پاکستان او ځینو بهرنیوهیوادونو استخباراتو د مزارشریف او جبل سراج د تړونونو پربنسټ د ملګروملتونو د سولې پنځه فقریز پلان شنډ او سبوتاژ کړ.

بلاخره د ۱۹۹۲ز اپریل په دیارلسمه داکترنجیب الله اعلان وکړ چې حاضر دئ د اپریل تر آخره قدرت انتقالي حکومت ته وسپاري، هغه انتقالي حکومت کوم چې تراوسه یې لا څرک هم نه ؤ.

## جهادي مشران او تش په نامه جوړ شوي تنظیمونه (د جهاد ټیکه داران) په کابل رانئوتل

تنظیمي مشران لا د مؤقت حکومت په هکله کومي نهایي فیصلې ته نه ؤ رسیدلي چې کابل کې څوک دویرې په ښار او کوڅو کې نه ګرځیدل. ډیرئ خلکو کابل ښار پریښود او ولایاتو ته ګډه شول. لنډه داچې د تنظیمونو د مشرانو ترمنځ په پاکستان کې پنځوس کسیزه شورا رامنځ ته شوه. داسې پریکړه شوې وه چې د دی شورا مشري به د دؤ میاشتو دپاره صبغت الله مجددي کوي او وروسته به برهان الدین رباني د موقت حکومت مشر وي. خو مخکې له دې چې دا شورا کابل ته ننوځي د ډاکترنجیب الله د حکومت ځیني کړیو په دو برخو کې د احمد شاه مسعود او ګلبدین حکمتیار سره اړیکې ټینګې کړې.

10

---

9
دویمه سقاوی - لیکونکئ: سمسور افغان – دچاپ کال ۱۳۷۹ ل
10

که څه هم ګلبدین حکمتیار د اسلامي حزب مشر پخپل کتاب ( دسایس پنهان چهره های عریان) کې لیکي چې د اسلامي حزب مجاهدینو پرته له جګړې او وینې تویونې څخه کابل ته را ننوتل. د کابل ښاریانو د مجاهدینو راننوتلو ته ښه راغلاست ووایه او په شور او زوک سره یې استقبال وکړ، د کورنو او د دولتي ودانیو د سپاتونو (بامونو) په سر یې د خوښۍ شنه بیرقونه لګولي ؤ.

په هرحال زما په آند دا د ګلبدین شخصي او یو اړخیز نظر دئ.

کابل ته د مجاهدینو د راننوتلو څخه وروسته ډیر ژر په کابل کې جنګونه پیل شول. په پاکستان او ایران کې د جوړ شویو پنځلس تنظیمي ډلو له خوا په کابل توغندي ویشتل پیل شول. داسي جنګ کابل په تیره یوه پیړۍ کې هیڅکله هم نه ؤ لیدلئ.

حبیب الله د سقاؤ زوی چې کله کابل فتح کړ دومره سخت جنګ ځکه نه ؤ شوئ چې په هغه وخت کې دومره درنې وسلې نه وې چې وکاریږي (توغندي، توپونه او ټانګونه حتا د الوتکو بمباردمان) ځکه خو تر دې ګړۍ کابل هیڅکله هم د داسي جنګ شاهد نه ؤ. د پنځه شپږ ورځي د سختو جنګونو څخه وروسته دنظار شورا اود حکومت دپخواني افسرانو جنګ محار کړ. لاهم احمد شاه مسعود او ګلبدین حکمتیار یو بل ته ګوته په ماشه ؤ.

لکه څنګه چې د نوازشریف په لاس د مجاهدینو موقت حکومت په پیښور او اسلام آباد کې مخکې له مخکې جوړ شوئ ؤ، نو د ډاکټر نجیب الله د حکومت په ړنګیدوسره دغه د جهادیانو موقت حکومت کابل ته انتقال شو.

په پیل کې صبغت الله مجددی د دو میاشتو د پاره د ۲۸ اپریل ۱۹۹۲ز څخه تر ۲۸ جون ۱۹۹۲ز پورې ولس مشرؤ. نواز شریف خپله د مجاهدینو سره یوځای په تورخم راواوښت *(خپلې پښخمې سوبې ته راغئ، ښکاره ده چې ویزې ته یې ضرورت نه درلود، د خپلو مزدورانو حکومتولي یې وه.)* صبغت الله مجددی چې د دؤ میاشتو له پاره د حکومت واک په لاس کې واخیست نو د پاکستان ولسمشر نواز شریف څخه یې په کلکه مننه وکړه.

دوه ورځې وروسته نواز شریف د کابل په ارګ راننوت او مجاهدینو ته یې مبارکي وویله او د دې له پاره چې په پاکستان کې روزل شوي جاسوسان یې بلاخره قدرت ته ورسول او د افغانستان ځواکمن وسله وال پوځ یې د خاورو سره خاورې کړه نو د شکراني لمونځ یې د پل خشتي په جومات کې ادا کړ. د نوازشریف دغه ارمان پوره شو،

---

دسایس پنهان، چهره های عریان- ازخروج قوای روسی تا سقوط اداره ایتلافي- لیکونکئ: مهندس حکمتار-چاپ ۱۳۸۰ل

خو د آی اس آی دمشر جنرال اخترمحمد عبدالرحمان چې د کابل د فتحې څخه وروسته به د شکراني لمونځ په کابل کې ادا کړي خاورې او پوره نه شو.

**یادونه:** *11*

په ۲۸ د اپریل ۱۹۹۲ز د واک لیږد په بهرنیوچاروزارت کې ترتیب شوئ ؤ، واک د جمهورریس د ځای ناستو له خوا د مجاهدینو یوپنځوس کسیزی شورا ته چې مشرې یې صبغت الله مجددي کوله رسماً ولیږدول شو. په دغه مراسمو کې د جهموررریس مرستیالان، ستره محکمه، قاضی القضات او ځینې دنظام جنرالانو ګډون درلود. له دؤ میاشتو ورسته صبغت الله مجددی هڅه کوله چې نورهم په واک کې پاتې شي خو دې څوکی ته ډیر ګیدړان وړي ناست ؤ. مجددې په زور له څوکی لرې کړئ شو او برهان الدین رباني یې ځای ناستئ او ګلبدین حکمتیار یې صدراعظم وټاکل شو.

اوس نو په اصطلاح مجاهدینو (د چوکۍ، فساد ، چور، چپاول اود غضب جهادیان) پرکابل منګولې خښې کړې. جهاد هم ختم شو، خو د افغانستان څورلس کلن جنګ پایله ونه موندله.

---

11

(په ۱۷ اګست ۱۹۸۸ کومه الوتکه کې چې جنرال ضیاالحق د پاکستان د وخت جمهورریس، جنرال اخترمحمد د آی اس آی مشر، په پاکستان کې د امریکا سفیر رافیل او ځینې نورچې د الوتکې د املې په ګډون ۳۰ دیرش تنه سپاره ؤ د الوتکې رالویدو له کبله مړه شول. البته چې د الوتکې رالویدلو په هکله مختلف نظریات شتون لري او زما د لیکنې موضوع څخه وتلې ده ځکه تری صرف نظر کوم)

**صبغت الله مجددي څوک ؤ؟**

12

صبغت الله مجددی د محمد معصوم مجددي زوی په کال ۱۹۲۵ ز په کابل کې وزیږید. نیکه یې فضل محمود مجددی د افغانستان اوچتو مذهبي او سیاسي کسانو څخه شمیرل کیږي. صبغت الله مجددي په کابل کې دیني مدرسه پای ته ورسوله او په کال ۱۹۴۷ ز کې دمصر الازهر پوهنتون کې د اسلامي حقوقو په پوهنځي کې پس له شپږکالو د ماسترۍ دیپلوم تر لاسه کړ. نوموړۍ هیواد ته راستون شو او په حبيبيه، استقلال او نجات (اماني) لیسو کې ښوونکۍ ؤ، او بلاخره په کابل پوهنتون کې استاد شو. په کال ۱۹۵۹ ز کله چې د شوروی اتحاد د وزیرانو شورا مشر نیکتیا خروسچوف کابل ته راغۍ، د هغه د ترور په تور د پنځو کلو په بند محکوم شو. پس له یوې مودې بیرته راخوشې شو. ترڅو چې په کابل کې د سعودي عربستان په سفارت کې ژباړونکۍ شو. په کال ۱۹۶۴ ز کې د دؤ کلو دپاره د هیواد څخه ووت، د بیرته راستنیدو سره یې سم د اخوان المسلمین په نامه بنسټ کیښود. صبغت الله مجددي په کال ۱۹۷۱ ز کې پاکستان ته ولاړ او له هغه ځایه بیا امریکا ته ورسید. نوموړۍ د ۱۹۷۴-۱۹۷۸ ز د دنمارک پلازمینه کوپن هاګن کې د اسلامي مرکز مشر ؤ، همدارنګه په هالند کې اوسیدلۍ او بلاخره پاکستان کې استوګن شو.

صبغت الله مجددی د یوې شورا د هوکړې پر بنسټ د ۲۸-۴-۱۹۹۲ز څخه تر ۲۸-۶-۱۹۹۲ز د دؤ میاشتو دپاره د افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر ؤ.

صبغت الله مجددی پخپل مرګ د ناروغۍ له کبله چې ور پیښه وه په ۱۱-۲-۲۰۱۹ کې مړ شو.

---

12

سرې لښکرې په افغانستان کې - لیکونکۍ: ګروموف - ژباړه: داود جنبش- د چاپ کال:۱۳۷۵ ل
بی بی سي- ژوندۍ خاطرې-په تیرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ ۱۹۹۲-۱۹۰۰-
لیکونکۍ:ډاکټرعبدلعلي ارغنداوی- د چاپ کال ۱۹۹۷ ز

**برهان الدين رباني څوک و؟**

13

*بر*هان الدين رباني د محمد يوسف زوی په کال ۱۹۴۰ م د بدخشان په فيض آباد کې زيږيدلي. په کال ۱۹۵۷-۱۹۵۶ په کابل کې د ابوحنيفې مدرسې په نهم ټولګي کې شامل شو. په ۱۹۶۰-۱۹۵۹ د دوولسم ټولګي څخه خلاص شو او په ۱۹۶۰ د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځي کې شامل شو. په ۱۹۶۳ ز د پوهنځي څخه خلاص شو او په کدر کې ونيول شو. په ۱۹۶۵ ز د مصر الازهر پوهنتون څخه يې ماستري واخيستله.

برهان الدين رباني په کال ۱۹۷۳ ز کې د وخت د حکومت د ځار لاندې و چې بندی به يې کړي، خو رباني د بدخشان په غرونو کې ځان څه موده پټ وساته او بيا پاکستان ته ولاړ. په پاکستان کې يې د جمعيت اسلامي ګوند تاسيس کړاو هلته ترهغو پاتې شو چې ترڅو مجاهدين کابل ته راننوتل.

د يادولو وړ ده چې عبدالرب رسول سياف، ګلبدين حکمتيار او احمدشاه مسعود هم د رباني د ګوند غړی شول کوم چې رباني يې رهبر و.

عبدالرب رسول سياف او ګلبدين حکمتيار هم بيا وروسته ځانونو ته بيل ګوندونه پرانيستل.

14

د حقايق پشت پرده کتاب کې ليکل شوي دغه *بنسټپالان* (اخوانيان او ورسره ملګري*) چې نژدې يونيم زر تنه و د ډيرو فشارونو سربيره وکولای شول چې تر ۱۹۷۳ ز پورې په افغانستان کې دننه پټ فعاليتونه وکړي. پس له دې ډيرئ دغه بنسټپالان پاکستان ته وتښتيدل. هلته نورو بنسټپالو ډلو او د پاکستان د استخباراتو سره يوځای شول. ډيره موده*

13

دويمه سقاوي / سري لښکرې په افغانستان کې

بی بی سي- ژوندئ خاطرې - په تيرو نهو لسيزو کې د افغانستان تاريخ ۱۹۹۲-۱۹۰۰(ليکونکئ: ډاکترعبدلعلي ارغنداوی- کال ۱۹۹۷ز

14

حقايق پشت پرده تهاجم شوروی بر افغانستان - ليکونکي: دياګو کوردو ويز او سليګ هريسن – ژباړه: عبدالجبار ثابت- ۱۲۴ مخ د چاپ کال ۱۳۷۷ ل

*نه وه تیره شوې چې ناراضه افغانان کوم چې د آی اس آی له خوا روزل شوي ؤ، د جمعیت اسلامي د لارښوونې لاندې پنجشیر کې په امنیتي مراکزو یرغل وکړ.*

په هر حال کله چې مجاهدینو ته کابل کې واک تسلیم شو، صبغت الله مجددی پس له دوؤ میاشتو په ۲۸-۶-۱۹۹۲ ز د افغانستان د ولسمشرۍ څوکۍ برهان الدین رباني ته پرېښوده. برهان الدین رباني ترڅو چې طالبان په لومړي ځل د کابل واک په لاس کې نیوه ۲۶-۹-۱۹۹۶ ز د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر پاتې شو.

کله چې برهان الدین رباني د افغانستان د سولې عالی شورا ریس ؤ، په ۲۰-۹-۲۰۱۱ ز د هغه پخپل کور کې د یو بم منفجر کیدو له کبله ووژل شو.

**احمدشاه مسعود څوک ؤ؟**

*15*

احمد شاه مسعود دډګروال دوست محمد خان زوی په کال ۱۹۵۶ ز کې زیږیدلئ. د استقلال د لیسې څخه خلاص شو. ویل کیږي چې همدلته یې د فرانسي استخباراتو سره اړیکه شوه. د لیسې د خلاصیدو څخه د کابل په پولتخنیک کې شامل شو. په کال ۱۹۷۳ ز کې چې شهید محمد داود خان د افغانستان ولسمشرشو، د اخوانیانو، پرچمیانو، خلقیانو او شوله یانو ترمنځ دغرې خپل اوج ته رسیدلې وې.

د شرعیاتو پوهنځي ریس پوهاند ډاکټر غلام محمد نیازي تر لارښوونې اسلامي غورځنګ په ۱۹۷۴ کې پاڅون وکړ او پاڅون لمنځه ولاړ او ډاکټرغلام محمدنیازئ هم بندي شو. احمد شاه مسعود په دې وخت کې د پولتخنیک د دویم ټولګي محصل ؤ نو( د اسلامي ځوانانو) د جوړښت د نورو غړیو په شمول پاکستان ته وتښتیدل. برهان الدین رباني هم پاکستان ته وتښتیده.

د پاکستان د سرحدی ځواکونو قومندان ډګروال نصیرالله بابر د ذولفقارعلی بوټو په منظورئ د دغو افغاني محصلانو دپاره پیښور ته نژدې د پوځي روزنې یو پټ پروګرام جوړکړ. احمدشاه مسعود ددې لومړئ دورې له شاملانو څخه دئ چې پیښور ته نژدې د (چیرات) د پوځي کمپ په یومیاشتني ډیر پټ کورس کې یې برخه واخیسته. دغو افغاني ځوانانو د ۱۹۷۵ د جولای په وروستیو کې د آی اس آی د هدایت سره سم پرحکومتي دفترونو بریدونو له پاره افغانستان ته را واستول شول.

احمد شاه مسعود چې نژدې د دیرشو کسو ځوانانو مشرې کوله پنجشیر ته راغلل. حوکمتي کوماندو او سیمیزو خلکو دغه ګمارل شوي جګړه ماران غروته وشړل او ډیرئ یې ووژل شول. ځینې هم ونیول شول. احمدشاه دوه میاشتې وروسته بیا پاکستان ته ولاړ. په دویم ځل پاکستان ورتګ کې احمدشاه مسعود ته ډیره پاملرنه د آی اس آی له خوا ونه شوه. په هرحال دغه اسلامي غورځنګ په پیښور کې پر دؤ ډلو وویشل شو. یوه څانګه یې ګلبدین حکمتیار او بله څانګه یې برهان الدین رباني پرمخ بیوله. احمدشاه مسعود د ژبنې تړوا له مخې د برهان الدین رباني په جمعیت اسلامي کې ودرید.

---

15

سرې لښکرې په افغانستان کې- لیکونکئ: ګروموف- ژباړه: داود جنبش- د چاپ کال:۱۳۵۷ ل

احمدشاه مسعود دروسانو د کې جي بې له سازمان سره تېنګې اړيکې درلودې. د يوې انګيرنې له مخې احمدشاه مسعود پرافغانستان د شوروی يرغل په لس کلنه موده کې دری ځله پټ سفرونه شوروی اتحاد ته کړي، او دوه پټې ژمنپاڼې يې هم ورسره لاسليک کړي. روسي پوځ کله چې په کال ۱۹۸۲ کې په پنجشير حمله وکړه او د مسعود ځواک بې ښه وځپه، نو مسعود هم دې ته اړ شو چې د روسانو سره شپږمياشتينئ اوربند وکړی. په ۱۹۸۳ ز په فبروری کې يوکلن اوربند وکړ او درې نيم لکه ډالر بې ترې لاسه کړل.

په افغانستان کې د شوروی د پلي لښکر مشر جنرال ګروموف وايي:

*د ځلوييښتم استخباراتي مرکز هڅو په پای کې تاکلې نتيجې درلودې. په ۱۹۸۲ ز د مسعود سره تړون لاسليک شو چې مسعود به په جنوبي سالنګ کې پر شوروي قطارونو يرغل ته اجازه نه ورکوي. روسانو په نغدو پيسو برسيره پنځمه برخه د ټولو توکو چې په سالنګ لار تيريده هغه ته ورکوله. شپږکامازه بار د غنمو، ورېژو او نورو توکې مسعود ته ورکړل.*

*په کال ۱۹۸۲ ز کې موږ خپل لوی مقصد ته ورسيدو، له احمدشاه مسعود سره مو داسې ټينګې اړيکې پيدا شوې چې آن له افغانستان نه د شوروی پوځونو د وتلو تر وخته په خپل حال پاتې شو.*

16

د بريتانيا څارګرې ادارې چې په اسلام آباد کې د بريتانيا سفارت کې يې د څارګرۍ څانګه پرانيستې وه، د جګړې له پيله د احمدشاه مسعود سره اړيکه لرله. نوموړي ته يې پيسې، وسلې او نور استخباراتي توکي ليږل. د هغه د بهرنيو اړيکو مسوول عبدالله (عبدالله عبدالله) ته انګريزي ژبه ورزده کوله. فرانسويانو هم د مسعود سره د سي آی ای د قوانينو پر بنسټ آزاده اړيکه لرله. دغې دواړو څارګرو ادارو خپل جاسوسان د خبرياﻻنو په جامه کې ورليږل.

سي آی ای په هغو رپوټونو اعتبار کاؤ چې برتانوی جاسوسانو له خوا ورکول کيده.

---

16

د پيريانو جګړې -ليکونکئ: ستيوګول- ژباړه: غلام محمد زرموال - د چاپ کال ۱۳۸۷ ل
GHOST WARS (STEVE COLL)

سي ای ای په ۱۹۸۴ ز په وروستیو کې په پټه، بې له دې چې آی اس آی پرې خبر شي د مسعود سره اړیکه ونیوله، د پیسو او نورو توکو اکمالات یې ور پیل کړل.

د پیریانو جګړې په ۲۸۵ مخ کې داسي لیکل شوي:

*د امریکا له خوا احمد شا مسعود ته هره میاشت دوه لکه ډالره ورکول کیدل. د ۱۹۸۹ د مئ په میاشت کې ګاري شروین پخپل لاس نه لکه(۹۰۰۰۰۰) ډالره د مسعود ورور احمد ضیا ته ورکړي ؤ چې د افغانستان په شمال کې د بیا رغونې پر پروژو ولګوي.(* په پوره ډاډ سره ویلئ شم چې په هغه وخت کې به مسعود ۹۰۰ نه سوه ډالر هم په بیا رغونې پروژې نه وي لګولي).

همدا ډول سي آی اې د کانګرس د غړیو تر فشارلاندې مسعود ته په کابل کې د وروستی فتحې له شونتیا سره ستره مرسته کړې وه. دا فتح په خورا لوړه بیه تمامه شوه. تر ۱۹۹۲ ز پورې افغانستان کې د وسلو کچه دې حد ته رسیدلې وه چې هند او پاکستان دواړو په ګډه سره نه لرلې. له ځینو اټکلونو سره سم افغانستان ته په مخکنی لسیزه کې په نړۍ کې له هربل هیوادڅخه ډیرې وسلې لیږدول شوې وې. د ثور انقلاب راهیسی افغانستان ته شوروي څه کم ۴۸ میلیارده ډالرو په ارزښت پوځي وسایل استولي. امریکا، سعودي عربستان، نورو عربي هیوادونو او چین په ګډه د ۶ څخه تر ۱۲ میلیارده ډالرو په ارزښت وسلې او مهمات استولي ؤ.

د انګلستان استخباراتي شبکه د اتیایمو زیږدیز کلونو په اوایلو کې د احمد شاه مسعود سره په تماس کې شوه او د هغه سره یې د پیسو او مخابراتي توکو مرسته وکړه.

واشنګتن پوست په ۲۸ فبروری د ۲۰۰۴ کې لیکلي ؤ چې احمدشاه مسعود د جیمزبمفورد څخه په کافی اندازه پیسې لاس ته راوړې.

واشنګتن پوست په ۲۲ او ۲۳ فبروری د ۲۰۰۴ کې لیکي ؤ چې احمدشاه مسعود د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر میاشت کې د سي آی اې هیت سره په پنجشیر کې ملاقات درلود. احمدشاه مسعود په پوره علاقه مندۍ سره ومنله چې د سي آی اې سره همکاری کوی خو له دی سره جوخت یې خپل محدویتونه هم یاد کړل. د سي آی اې پټو تیمونو د هرځلې ملاقات سره په پنجشیر کې د ډیرو جاسوسي توکو برسیره دوه نیم لکه ډالر ورکول.

(پیریانو جګړې ۷۵۹ مخ) لیکل شوي: *چې د مسعود جاسوسي شبکې له هغوی (امریکایانو – سي آي اې) سره د اطلاعتو په غونډولو او پلانولو کې همکاري کوله. خو په زیاتیدونکي توګه څرګندیده چې د بن لادن د نیولو په موخه یې د برید نیت نه درلود.*

*د سي آی ای د مخدراتو ضد مرکز ریوټ ورکړ چې د مسعود سړیو اروپا ته ستره اندازه د اپیمو قاچاق ته دوام ورکاؤ. برتانویانو هم ورته ریوټونه لرل. هغوی ټولو (مسعود سره په ګډه) عملیاتو د بربنډ کیدلو په صورت کې د ورځپانو سرلیکونه انځورولای شول « سي آی اې د افغان اپیوم سالار ملاتړکوي».*

همدارنګه په ۵۰۰ مخ کې لیکل شوي: مسعود د پنجشیر په پټن ځای کې نغدې پیسې *لرلې، چې لوړه بیه ډبرو د ایستلو او مخدره توکو د قاچاق له لارې یې غونډې کړې وې. د مسعود ملیشې د مرکزي آسیا له لارې روسیې ته د هیروینو قاچاق کاؤ. هغوی د امریکا د لاس ویګاس په شان د نړۍ په لوړه بیه ډبرو او غمیو په ننداړتونونو کې لاجورد او زمرد پلورل.*

بلاخره احمد شاه مسعود د دؤ تنو عربو ځانمرګو له لوري چې ځانونه یې ژورنالستان معرفي کړي ؤ د ۲۰۰۱-۹-۹ ز د یکشنبې په ماسپښین د تخار ولایت په خواجه بهاءالدین ولسوالۍ د مرکې په ترڅ کې، ځان مرګو چې ویل کیدل د ویدیو د ثبت کامره کې یې بم ځای پرځآی کړئ ؤ منفجر کړ، د بم د انفجار سره سم احمد شاه مسعود او ځانمرګي ووژل شول.

## د مجاهدینو حکومتولي

17

د شهید ډاکټرنجیب الله د حکومت ړنګیدو څخه د اپریل میاشت ۱۹۹۲ ز، اوه ګوني او اته ګوني تنظیمي ډلې یا په ساده وینا د پاکستان او ایران لاسپوڅي او جاسوسان کابل ته راوستول شول.

زموږ ملي وسله وال پوځ، هغه پوځ کوم چې په سیمه کې یې سارئ نه درلود د پاکستان د خوښې سره سم د ریښې څخه له منځه یووړل شو.

ټول وزارتونه د مخې چور او تالا شول. د دفترونو څخه قالیني میزونه، څوکۍ او حتا ډیر عادي فرش هم که پکې پروت ؤ ترې غلا شول. دا غلا عامو وګړو نه شوه کولئ په غیر د تش په نامه جهادیانو څخه.

دغو تنظیمي ډلو اسلام، کلتور، انسانیت، هرڅه تر پښو لاندې کړل. دوی وژني، چور، لوټول، غلا، بې ناموسی، د اندامونو پریکول، د ښځو تي پریکول، په سرونو کې میخونه ټکوهل، دمړي نڅا (د محقق خلکوبه د افغان وګړو په تیره بیا د پښتنو سرونه پرې کړل تنه به یې خوځیدله، دې ته دوی دمړي نڅا نوم ورکړ) په لسګونو دې ته ورته فجایې کړي دي، چې قلم یې پر لیکلو شرمیږي او خپلې اوښکې نشي ټینګولئ.

د ۱۹۹۲ ز اګست په میاشت کې د اسلامي حزب له خوا سلګونه توغندي په کابل ښار ولګیدل، چې زرګونو خلکو په کې خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ. لنډه داچې دغو پنځلس تنظیمونو هغه څه وکړل چې د بشریت یو شرمیدلئ تاریخ ترې جوړ شو. د کابل نیمایي ودانۍ وراني شوې. موزیم هم چور شو، دموزیم پاتې برخه آثار هزاره ګانو وایستل ایران ته یې ورسول. وزارتونه چور شول. د کابل پوهنتون د وحدت حزب بندیخانه وه. ښوونځي د تنظیمونو قرارګاوې جوړې شوې وې.

لارې او کوڅې په وینو سرې شوې. روغتونونه له زخمیانو ډک ؤ، درمل نه ؤ. لاهم د پاکستان او ایران زړه یخ نه ؤ. خوراکه توکي چې په دې وخت کې ټول دپاکستان څخه راتلل، خو پاکستان به کله د تورخم دروازه وتړله او کله هم خلاصه. بهرني ډیپلوماتان، د ملګروملتونو کارکوونکي او د سره سلیب روغتونونه له کابله ووتل. په کابل کې څو حکومتونو شتون درلود.

---

17 د ملی تاریخ فلسفه او پښتنولي - لیکونکئ: قدرت الله حداد- د چاپ کال ۱۳۷۳ ل

18

ټول ښارد وينو او لمبو په سيند ولمبول شو. ټول هيواد له يوې سختې بې ثباتۍ سره مخ شو. په افغانستان کې د واک په زرګونو مختلفي سرچينې رامنځ ته شوې او يوه عمومې انارشي چې لومړۍ سقاوۍ ته يې ورته والئ درلود، خو په کيفيت، ظرفيت او کميت کې له هغې څخه درنه او ګواښمنه وه رامنځ ته شوه. د غه وحشيان او ډارونکي حيوان ډوله انسانان پر کابل را پريوتل، هغوی په هره جاده او هره کوڅه کې په ظلم او لاس اچونې لاس پورې کړ.

جنرال محمد نبی عظيمي چې د ډاکټرنجيب الله د حکومت د کابل ګارنيزيون قوماندان ؤ او د معاملې له مخې يې د نظار شورا سره يوځای شو پخپل کتاب **اردو او سياست** کې د مجاهدينو د خپلمنځي جګړو په هکله داسې ليکي: *چې په هره څلورلاره کې يوه پوسته وه او قوماندان ؤ ځينو څلورلارو کې به زرغوال ګاډی ؤ د پوستې مشر خپلواکه پادشاه ؤ. څه يې چې ويل هغه يې کول. نه قانون ؤ او نه څوک د پوښتنې.*

د ښځنې نړيوال سازمان د رپوټ په بنسټ يواځې د ۱۹۹۴ ز د سپټيمبر په مياشت د توغنديو د لګيدلو له امله ۱۱۰۰۰تنه وژل شوي او ۲۳۰۰۰ ټپيان شوي.

مولوی عبدالباقی ترکستاني د جمعيت ګوند نامتو کسانو څخه ؤ په ۱۳۷۳ ل د مزارشريف په تلويزيون کې خپله اقرار کوي چې: *د کمونستانود ټولې حکومتولې په ترخ کې د ملت يوه ستنه هم چور نه شوه خو زموږ په يوکلن حکومتولۍ کې مو د ملت يوه ستنه هم پرې نه ښودله.* عام وګړي د دغه وحشت او ناروا څخه تر پزې راورسيدل.

د ۱۹۹۲ ز د اپريل څخه وروسته د تنظيمي جګړو له امله لسګونه زره يواځې ملکي وګړی وژل شوي. د ځينو شاهدانو په وينا د ۵ د ثور ۱۳۷۱ څخه تر ۸ دثور نژدې دورځې ۱۰۰۰ تنه ملکي کسان وژل شوي. ويل کيږی چې په دې څو ورځو کې زرګونه توغندی په کابل ولګيدل.

کله چې د تنظيمونو ترمنځ په کابل کې خپل منځي جګړې پيل شوې، په هر کوڅه کې يو قومندان او د کابل په هره سيمه کې د جهادی تنيظم واکمن ؤ.

څرنګه چې جوته ده د مجاهدينو رژيم په لومړۍ درجه د پاکستان او بيا د عربستان ورپسې امريکا په مټو بريالئ شو چې د ډاکټرنجيب الله رژيم نسکور او د کابل واک په لاس کې واخلي.

---

18

دويمه سقاوی ليکونکئ: سمسور افغان – دچاپ کال ۱۳۷۹ ل

کوم چا ډیره په ځای خبره کړې ده چې کابل کې به حکومت نیول وکړئ شي ، خو حکومت کول یې ډیر گران دئ. هو! همداسې ده. په هغه وخت کې هم همداسې وه اوس هم همداسې ده (د طالبانو دوهم ځل حکومتولۍ) .

د پاکستان، ایران، عربستان، ترکیې او دځینو نورو بهرنیو هیوادونو لاسپوڅي پلویان پخپل منځي جګړو اخته شول. د احمدشاه مسعود ډله د پاتې نورو په وړاندې د کابل په ښار کې په جنګ کې ښکیل شول. گلبدین د گذرگاه، چهلستون او شاه شهید سیمه خپله کړې وه. دوستم یا گلم جم ډله د کابل مرکز او د مکرویان سیمه نیولې وه. وحدت حزب د کابل لویدیځې سیمې کې پراته ؤ. دسیاف ډله هم همدغو سیمو په قرغه او پغمان واکمن ؤ. دغو ټولو کثیفو ډلو یو پر بل سپکې، درنې وسلې اوتوغندې کارول، پایله یواځې داوه چې د کابل بې وزلې خلک ووژل شي او ډیرې سختې شپې ورځې تیرې کړي . په لسگونه زره ماشومان یتیمان شول، زرگونه ښځې کونډې شوې او زرگونه میندو د زړه ټوټې ځلمې زامن له لاسه ورکړل. هره ورځ راکټونه او توپونو د کابل له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته ویشتل کیدل. د کابل ښاریانو دکانونه چور شول. ښځې او نجونې بی پته شوې. نجونو د وحشتگرو د ویرې چې بی پته او بې عزته نشي مکرویانو دبلاکونو څخه ځانونه کښته گزار کړل مړې شوې. د کابل هره سیمه په یو جهادي تنظیم پورې تړې وه. څوک له یوې سیمې بلې سیمې ته تلئ نه شو. که څوک د خپلو کورنیو لیدو، یا یو ناروغ له یوې سیمې څخه دبلې سیمې روغتون ته انتقال کاؤ نوټکسیوان به د بلې سیمې تر پولې رسول هلته به یې د بلې سیمې قومندان ته ډیرې پیسې ورکولې ترڅو یې پریښدي، بیا به یې بل ټکسي نیوه.

د مجاهدینو له برکته دا ډول ملک الطوایفي هم کابل ولیده، کومه چې هیڅکله یې هم نه وه لیدلې.

په ټوله کې دغه پنځلس تنظیمونه چې کابل ته راننوتي، بیا د طالبانو د لومړۍ حکومتولۍ پورې نژدې د ۸۰ زره څخه تر یولک او لس زره ملکي خلک ووژل شول او په لسگونو زره زخمي، معلول او معیوبه شوي.

همدغه ډول په ولایاتو کې هم کابل ته ورته چار چلند روان ؤ. د جهادیانو خپل منځي جګړې په خلکو ظلم، د خلکو مال تښتول، په زور د خلکو نجونې تښتول او ځانونو ته په نکاح راوستل. که پلار یا ورور ممانعت کړئ ؤ نو هغه وژل کیده او نجلۍ هم تښتول کیده. په زور د خلکو جایدادونه اخیستل او په خپل نامه کول او دی ته ورته لسگونه نور ظلم او استبداد روان ؤ. کورنو ته غله ننوتل او ټوله شتمني یې لوټ کیدله. د خلکو موټرونه غلا شول.

ډيرزيادغيری مسؤلو خلکو سلاح درلودې. مسؤل خلک هم غله ؤ، غير مسؤل خو له نومه پيژندل کيږي چې غل او چپاول گر دئ. له دې سلاح څخه يې ناوړه استفاده کوله. د شخصي دښمنۍ له کبله خلک وژل کيدل او د پيژندگلوۍ په اساس خوشې کيدل. دې ته ورته لسگونه نور مثالونه، جنايتونه او فجايي تيرې شوي دي. دغه ډول کړنې په ټولو او يا ډيرئ ولاياتو کې کيدلې.

**نو دغه ؤ په اصطلاح د مجاهدينو جهاد چې د شوروي يا د افغانستان د وخت رژيم په وړاندې يې کاؤ.**

**اوس په لوستونکو اړه لري قضاوت وکړي چې جهاد داسې وي لکه چې دوی وکړ؟**

## ټوليزې (عمومي) څرگندونې

**اقتصاد**

**19**

د برهان الدين رباني د حکومتولۍ په دوره کې د هيواد اقتصاد ته دومره زيانونه واوښتل چې د چنگيز يرغلگرو به هم افغانستان ته دومره زيان نه ؤ رسولئ. يواځې په کابل ښار کې دوه زره لويې او وړې فابريکې، کوچنۍ دستگاوې، او د لاسي صنايعو کارځايونه لوټ او ويجاړ شول. د افغانستان په نورو سترو ښارونو کې هم همدې ته ورته حالات رامنځ ته شول. د اقتصاد پوهانو په نظر د رباني د څلورنيم کلنې دورې په حکومتولۍ کې افغانستان ته رسيدلئ زيان آن افغانستان ته د روسانو د رسول شوي زيان څوبرابر زيات دئ. ځکه هغه وخت کئ ښارونه ډيرئ روغ پاتې ؤ. نو هغه څه چې د کلونو او پيړی په ښارونو کې پاتې ؤ هغه د دې ټوپکسالارانو د ځان غنيمت کړل. څه يې پر گاونډيو هيوادونو خرڅ کړل او څه يې وسيځل. د نظار شورا غلو ډيرې سلاح، مهمات، دولتې موټر، زغروال گاډي پيښور ته واړول او د کباړ په بيه يې خرڅ کړل.

---

19

دويمه سقاوی - ليکونکئ: سمسور افغان – دچاپ کال ۱۳۷۹ ل

برهان الدين رباني د هیواد پر اقتصاد بل ملاماتونکئ ګوزار هم وکړ چې بی شمیره او بې پشتوانې پیسې یې په ټنونو په روسیه کې چاپولې او هیواد ته راتلې. د شرم او خندا خبره خو دا وه چې په یو هیواد کې، دوستم هم بل لورته په همدې روسیه کې په ټنونو بې پشتوانې پیسې چاپ کړې. آیا دا سمه د هیواد تجزیه نه وه؟ که چیرې یو هیواد وي نو ولې دوه دوله پیسې ولري؟ دوستم ته به په ډاګه د شمال پاچا ویل کیده، ځینو خپلو خلکو یې ورته پاچا صاحب خطاب کاؤ.

رباني او مسعود د دې دپاره چې وکولای شې ډیر قومندانان خپل کړي نو په زرګونو ملیارده بې پشتوانې افغانۍ یې چاپ کړې. نو په دې اساس بې سارئ انفلاسیون یې پر افغانستان حاکم کړ.

سمسور افغان د خپل کتاب دویمه سقاوي په ۱۸۲ مخ کې لیکلي: *چې د بی بی سی د پښتو څانګې خبریال ډاکټر محمد اکبر لیکي چې د رباني په څلورو کلونو کې ۸۰۰۰ میلیارده افغانۍ د هغو بانکي نوټونو په بڼه چاپ شوي چې پرله پسې شمیره (سیریال نمبر) یې په بانک کې خوندي پروت دئ. د دې شمیرو تر مخې له خوندي پرله پسې نمره پرته د چاپ شویو نوټونو اندازه ۱۷۰۰۰ میلیاردو افغانیو ته رسیږي.*

قیمتي ډبرې په دغو څلورو کلونو کې په ډیره لوړه پیمانه بهرنیو هیوادونو ته قاچاق او صادرې شوې دي. کومې چې صادرې شوې هم دي په ډیره ټیټه بیمه صادرې شوې (ځکه چې د غلا مال ؤ) چې د هغې له جملې څخه د هندوستان هیواد ته ډیر لوړ رقم قیمتي ډبرې صادرې شوي دی. د پاکستان د مستندو خبرونو له قوله د لس میلونوه ډالرو په ارزښت ډبرې هندوستان ته صادرې شوي. زه په ډاډ سره ویلئ شم چې ارزښت به یې د سل میلیونو ډالرو څخه ځکه زیاد ؤ چې د دغو غلو غارتګرو ډیر په ارزانه بیه خرڅې کړې.

په دې وخت کې د رباني حکومت خپلواک نه ؤ. نه یې کورنئ مشروعیت درلود او نه هم بهرنئ. نه یې کورنئ سیاست خپلواک ؤ او بهرنئ سیاست خو یې اصلاً نه پیژانده، ځکه هرڅه د پاکستان په واک کې ؤ.

د پیریانو جګړې کتاب په ۲۵۵ مخ کې لیکل شوي چې: *جنرال ضیا په زغرده وویل چې د پاکستان پوځ او څارګری به په کابل کې د یوه دوست حکومت پر کښیښولو لاس پورې کړي. داسې یو حکومت چې له هند سره په سیالی کې به د پاکستان د ګټو ساتنه کوي او د پاکستان په خاوره د پښتون ناسیونالیزم د هر ډول خوځښت مخه به نیسي. ضیا فکر کاؤ چې دا د پاکستان پر افغانستان پور ؤ.*

دولت هیڅ کومه برنامه نه درلوده. دوی کومه پالیسي خپل رژیم ته ځکه نه درلوده چې د غلا، چور، فساد او لوټمارۍ څخه نه ؤ وزګارشوي. هغه څوک چې خپل هیواد پخپل لاس ورانول ویجاړول غواړي نو دهغه څخه څنګه د کومې پالیسۍ پر مخ بیولو تمه وشي.

فساد او رشوت خپل اوج ته ورسید. هیڅ دولتي اداره نه وه چې رشوت او فساد په کې شتون ونه لري.

تعلیمي موسسو هم ورته حال درلود. په پیل کې خو په مطلقه توګه ټول ښوونځي او پوهنتونونه او نور د لوړو تحصیلاتو موسیسې وتړل شوې. نجونو ۹۹-۹۸ سلنه ښوونځي وتړل شول دوه سلنه خلاص ؤ، هغه هم نه ښوونکۍ ؤ او نه هم نجونې له ډاره ښوونځي او پوهنتون ته تللې شوې. یواځې تش په نامه خلاص ؤ. د هلکانو ښوونځي هم د ځینو راپورونو پر بنسټ چې ۹۵ سلنه تړلي ؤ او پنځه سلنه تش په نامه خلاص ؤ. نه حاضرۍ وې، نه زده کوونکي ښوونځي ته راتله. همدا ډول ښوونکي هم نه راتلل.

## فرهنګي، کلتوري او روزنیزو ټولنو ته زیانونه

20

برسیره په نورو زیانونو ټولنې ته درانه فرهنګي زیانونه هم واوښتل. د نورو جګړه مارو سربیره د رباني او مسعود جګړه مارو هم فرهنګي مرکزونه او بنسټونو ویجاړکړي. د رباني د اداري د راډیو تلویزیون دریس په وینا یواځې په ۱۹۹۲ ز کال د اپریل په میاشت کې راډیو تلویزیون ودانۍ او سامانونو ته ۱۵ میلیونه ډالره زیان واوښت. وروسته خو بیا په پرلپسې ډول زیانونه اوښتي نوموړئ زیاتوي چې د تلویزیون د مرکز د لیدنې او اوریدنې دستګا له منځه ولاړه چې لس میلیونه ډالرو ارزښت یې درلود. د رادیو د اوریدنې شپږ دستګاوې له منځه ولاړې چې دیرش میلیونه ارزښت یې درلود.

---

[20] دویمه سقاوی - لیکونکۍ: سمسور افغان – دچاپ کال ۱۳۷۹ ل

په کال ۱۹۹۷ ز د راډیو تلویزیون مسؤلینو هڅه وکړه چې د اوښتي زیان اندازه معلومه کړي تر پلټنو ورسته جوته شوه چې نژدې ۲۵۰ میلیونه ډالره زیان وراوښتئ ؤ. په کال ۱۹۹۴ او ۱۹۹۵ ز کلونو کې د راډیو څخه خبر خپور شوچې د موزیم او نور تاریخي آثار چې له کابل څخه غلا شوي ؤ د پروان او کاپیسا په ولایتونو کې ځینې توکي پیدا شول، خو بیا همدغه پیدا شوې توکي هم بیرته موزیم ته راستانه نه شول. (غل په غدئ واوښت یا دزد سوم خر شانرا زد و بُرد) .

(دویمه سقاوي ۲۲۱ تر ۲۳۳ مخ)

د ۱۹۹۲ او ۱۹۹۶ ز کلونو ترمنځ دغه لاندې ودانۍ زیانمنې او یا ویجاړې شوې وې.

یواځې په کابل ښار کې په لسګونو ښوونځي په بشپړه توګه او یا هم نیمايي له منځه وړل شوي ؤ. چې په ټولیزه توګه سلګونو میلیونه ډالر زیان اوښتئ.

**کابل پوهنتون** ته پنځوس میلیونه زیان اوښتئ ؤ. دوه میلیونه ټوکه کتابونه وسوځیدل.

د کابل د طب انستیتوت ودانۍ ډیرش سلنه تخریب شوې وه. ۴۴ زره عنوانه علمي کتابونه او د استادانو ۵ زره عنوانه لیکلي نا چاپ آثار له منځه وړل شوي.

**د کابل پولتخنیک** نژدې ۵۰ میلیونه ډالره زیان زغملئ.

**د حربي پوهنتون** زیاتره ودانۍ ویجاړې شوې. ټول وسایل او وسایط له منځه وړل شوي او یا هم غلا شول.

**د هوایي پوهنتون** ډیرئ برخه تخریب شوه. ټول وسایل او وسایط يې غلا او چور شوي چې په اټکلیز ډول يې زیان نژدې دوه سوه میلیونه ډالرو ته رسیږي.

**د افغانستان د علومو اکاډمۍ** د کتابونو ساتنځایونو څخه ټول کتابونه چور او غلا شوي، په سلګونو عنوانه پروژې، خطي نسخې او تر لاس لاندې کړې او کیدونکې پروژې له منځه وړل شوي. همداشان د لیکوالو ټولنې ۱۵۰ زره ټوکه کتابونه لوټ شول.

**دملي موزیم** دویم پوړ رانړول شوئ ؤ او د موزیم د یولک آثارو له جملې څخه ډیرئ آثار غلا شوي او یواځې کم ارزښته آثار يې پاتې دي. په دې موزیم کې د نژدې ۵ زره کاله پخوا آثار هم شتون درلود.

## د مجاهدینو حکومتولي ولې ژر رنګه شوه؟

د مجاهدینو فاسد رژیم کوم چې تش په نامه مجاهدین، خو په اصل کې ټول پردي پالونکي جاسوسان ؤ. دوی یواځې د څوکۍ او واک لاس ته راوړلو دپاره تش په نامه جهاد کاؤ *(دا خو ورسته ثابته شوه)*. دوی په دې پوهیدل چې باداران یې دوی ته پیسې او وسلې ورکوي خپلې موخې لري، د خپلو موخو رسیدو دپاره یې د داسې ضعیفو وطن پلرونکو څخه استفاده کوله. خو دوی هغه خلک ؤ چې پیسې او وسلې ورته دومره ارزښت درلود چې سترګې یې ړندې شوې وې او خپله مور یې (وطن) خرڅوله.

البته پرته له شکه چې ډیر سپیڅلي واقعي مجاهدین هم په کې ؤ. دوی د دې دپاره جنګیدل چې وطن د شورویانو له خوا اشغال شوئ، د تیرې کوونکي په وړاندې جهاد روا دئ. خو دغه سپیڅلي مجاهدین په دې پوه نه ؤ چې د دوی څخه نور مشران خرڅ شوي خلک ؤ، او له دوی څخه د جهاد په نامه استفاده کوي.

د پورتنۍ لیکنې پربنسټ ویلئ شو چې د مجاهدینو په حکومتولۍ کې د چا مال، ځان او ناموس په امان نه ؤ.

د برهان الدین رباني رژیم په واکمنۍ کې په ډیره لوړه او ډیره ټیټه کچه غلا کیدله. لکه څنګه چې پورته هم ورته اشاره وشوه کوچنیان او نجونې تښتول کیدې، برسیره پردې چې جنسي تیرئ به پرې کیده د کورنۍ څخه به یې د پیسو اخیستلو په مقابل کې د هغوی اولاد پریښود. د خلکو مال او شتمني په زور ترې اخیستل کیده. د خلکو کورونه په زور ترې نیول کیدل *(ښه بیلګه یې د کابل کارته پروان او ځینې نورې سیمې دي. ویل کیږي چې اوس د طالبانو حکومت ته عرایض زیاد شوي چې د دوی کورونه او غضب شوې ځمکې او نور جایدادونه د زورواکو څخه اصلي مالکینو ته ورکړل شي)*. ډیرو نجونو ځانونه ووژل. کله به چې د شورای نظار وحشي ځناورانو نجونې تښتولې او یا به په کورونو ورننوتل نو نجونو به ځانونه ووژل.

*(د مکرویانو لوړ پوړ څخه یې ځانونه کښته ګذار کړل.په موټرونو کې به تښتول کیدې، نو په دې وخت کې به نجونو د دې وحشیانو څخه په چل ول سلاح واخیسته او ځان به یې وواژه. په کابل کې ډیرې داسې پیښې شوې دي. په قندهار کې تښتول شوې نجلۍ د تښتوونکو په موټر کې لاسي بم موندلئ، دې نجلۍ لاسي بم خلاص کړې ځان یې وژلئ)*. دې ورته ډیرې پیښې نورې هم شوي وې.

21

*په قندهار کې يو قومندان په نامه دې خان محمد يو هلک سره رسماً واده وکړ او موټر يې هم ورته ګل پوش کړئ ؤ، تر شايې نور موټرونه راوان ؤ چې وسله والو يې راکټونه په اوږ ؤ او په زرګونو مرمۍ يې ډزې يې کولې. دا مجاهد ؤ!!!.*

د سمنګانو ولايت ايبک کې ماته چا د خولې خبره کوله، ډيرې نجونې په زور زورواکو ځانونو ته نکاح کړي. ځينو ځناورانو نجونې بې پته کړې، بيا يې پلار ته راوستې وې، پلار مجبور شو چې نکاح کولو سره موافقه وکړي، بلاخره بيا هم هغه نجلۍ د همدې ځناور له خوا ووژل شوه. دا ټولې هغه قصې دي چې خلک پرې خبر دي، په زرګونو نورو به د شرم او حيا څخه پر ځان څوک نه وي خبر کړي.

په دغه ډول شرايطو کې د طالبانو تحريک په قندهار کې سر راپورته کړ او د همدغو بې عدالتيو، چور، چپاول او ظلم په وړاندې يې په کلکه او غوڅ عمل وکړ. مجرم به ډير ژر د طالبانوتحريک له لورې په سزا ورسيد. د جنسي تيري کوونکي سزا وژل ؤ. د غله سزا لاس پرې کول. د غاصب څخه په زور غصب شوئ مال اخيستل کيده. همدارنګه (په داسې حال کې چې د رباني د رژيم محاکم فعال ؤ) په عدلي او قضايي برخه کې که چا څه ستونزه درلوده د طالبانو تحريک ته يې مراجعه کوله چې ډير ژر به منصافانه قضاوت پرې کيده. د طالبانو د تحريک دغې کړنې سبب شوې چې د وخت خوسا شوي رژيم څخه ولس واټن ونيسي او طالبانو ته ورنژدې شي.

په همدغو شرايطو کې په قندهار کې ملا نقيب الله چې د رباني د حکومتولۍ د قندهار د قولې اردو قومندان ؤ د ځينو ملاحظاتو له کبله طالبانو ته د ټول قول اردو د سپکو او درنو و سلو سره تسليم شو. همدا د دې سبب شو چې ډير ژر قندهار، سهيلي او سهيل لويديزې سيمې طالبانو د رباني د دولت څخه فتح کړلې. د ولايتونو د سقوط لړۍ په ډيره چټکۍ سره راوانه وه ترڅو نژدې د يوکال په ترڅ کې طالبانو کابل هم فتح کړ.

برهان الدين رباني شمال د افغانستان ته وتښتيده او وروسې بدخشان کې استوګن ؤ. بدخشان هغه ولايت ؤ چې د طالبانو د واکمنۍ لاندې نه ؤ.

---

21

تاريخ معاصر افغانستان ليکونکئ:کانديد اکاديمسين محمد ابرهيم عطايي: ژباړه:دکتور جميل رحمان کامګار -چاپ کال :۱۳۸۴ل ۵۱۰ مخ

# دوهم څپرکی

## طالبان

## طالبان څنګه او ولی منځ ته راغل

### ځغلنده کتنه

پر افغانستان د شوروي يرغل ۱۳۵۸ ل جدی مياشتي څخه وروسته په پښتني کليوالو سيمو کې طلابو او ملايانو وسلې ته لاس کړ، په کليوالي کچه او د دين د جواز پر بنسټ د شوروي پرضد يې جهاد پيل کړ. ډيرژر وروسته دغې جګړې د پولې هغې خوا پاکستان کې ځانته بله بڼه غوره کړه. هغه داسې چې د پاکستان جمهور ريس جنرال ضيال الحق په غوښتنه، د پاکستان د څارګرې ادارې آی اس آی (په دې وخت کې جنرال اختر د آی اس آی مشر ؤ) او د سعودي عربستان د استخباراتو په لوړه مرسته د افغانستان پولې ته نژدې پرته سيمه کې په سلګونو نوې اسلامي مدرسې جوړې کړې. په دې مدرسو کې په لسګونو زره طالبانو وړيا زدکړې کولې. ډيرئ دغه طلاب افغانان ؤ. د ۱۹۸۰ ز او ۱۹۹۰ ز کلونو ترمنځ ډيرئ طالبانو کې د لوی قندهار جلاوطنه پښتانه ؤ.

ځوانو طالبانو په مدرسو کې سبق وايه، دقران شريف د زده کړې بشپړولو له پاره له خپلو سيمو څخه په ملک دننه لويو ښارونو ته تلل او يا به په همدې موخه پاکستان ته سفرکاؤ او د زدکړې حاصلولو څخه وروسته بيرته به خپل کلي ته ملا شوئ راستون شو. طالبانو ته په پيل کې دومره د سپيڅلو په سترګه کتل کيدل چې حتا  هغوی به د ډوډئ خوړلو او د ډوډئ ټولولو له پاره کورونو ته ورتلل، ښځو به ترې مخونه نه پټول.

کله چې د کلونو په تيريدو سره جهادی تنظيمونو په پاکستان کې د نورو استخباراتي کړيو سره اړيکې پيدا شوې (لکه امريکا، ايران، شوروي، انګلستان، فرانسه او ځينې عربی هيوادونه) نو پاکستان په تشويش کې شو. ځکه خو يې د بلې سخت دريځی اسلام پالې ډلی جوړول پيل کړل. کرنيل امام (چې اصلی نوم يې سلطان اميردئ) د مولوی محمد نبی سره په اړيکه کی شو. وروسته بيا ۳۵ کسيزه ډلګۍ د حرکت انقلاب اسلامي، نهضت انقلاب اسلامي، اسلامي حزب، او د جمعيت اسلامي څخه جوړه شوه. دغې ډلګۍ ته ځانګړي نظامی، اسلامی او سياسی زدکړې ورکول کيدی. په دغه ډلګۍ کې مشران ملا محمد عمر، ملا ربانی، ملا بور جان او ځينې نور کسان ؤ.

*کرنیل امام وایي چې تراوسه ما نژدې یولک او پنځه ویشت زره ۱۲۵۰۰۰ افغانانو (مجاهدین او طالب) ته نظامي او سیاسي زدکړې ورکړې دی.* بلاخره دغه کرنیل امام د ځینو نا معلومو سرچینو په قول د پاکستاني طالبانو له خوا په شمالي وزیرستان کې وتښتول شو او بیا وروسته ووژل شو، د ځینو نورو په قول چې پخپل مرګ د دوی سره مړ شو. زما په ګمان کله چې نوموړي ځیني ځرګندوني وکړې د آی اس آی له خوا د پاکستاني طالبانو پواسطه ووژل شو.

د طالبانو اسلامي تحریک اوازې د نوی یمو (۱۹۹۳-۱۹۹۴) کلونو د کورنی جګړې له کبله واوریدل شوې. اوریدل کیدل چې د لوی قندهار په سیمو کې د دیني مدرسو طالبانو یو تحریک جوړ کړ. دوی پرځان د طالبانو اسلامي تحریک نوم کیښود.
22
ظاهر طنین پخپل کتاب افغانستان در قرن بیستم په ۴۱۱ مخ کې لیکي: *د افغانستان په اوسني سیاست کې د طالبانو ظهور په ۱۹۹۴ ز کې ظاهراً یوه مغلقه معما ده. ټول پوهیږو چې د رهبری له لحاظه د حرکت انقلاب اسلامي افغانستان سره تړون لري. چې د ګلبدین حکمتیار په شان سخت دریزه نه دي، بلکې ډیرئ سنتي ډله ده.*
*د طالبانو په هکله مهم ټکئ دا دئ چې طالبان د پاکستان په مرسته او د سعودي عربستان په مالي مرسته په ۱۹۹۴ ز کې په یوه غښتلي ځواک بدل شول.*

دغو طالبانو د پاکستان په هغو مدرسو کې زده کړې، کړې وې کومې چې د پاکستان له لوري د امریکا، عربستان، ځینونورو عربي هیوادونو په مالي مرسته جوړې شوې وې.
په لومړي ځپرکي کې د دغو مدرسو په هکله معلومات ورکړ شوئ دئ.
د دغه تحریک غړو شعار د اسلامي شرعیت پلي کول ؤ.
د دغې تحریک غړي د افغانستان د سهلي سیمو (لوی قندهار) د شر، فساد او تیري کوونکو په وړاندې خپله مبارزه پیل کړه. له دې کبله چې په ریښتیا هم خلک د هغه وخت د شر او فساد څخه سخت په تنګ شوي ؤ او څوک نه ؤ چې د هغوی پروړاندې ودریږي نو طالبانو هم په سپیڅلي توګه د شر، فساد او تیري کوونکي پروړاندې په کلکه مبارزه وکړه. بریالي شول او ملت ترې په پیل کې ډیر خوښ ؤ.
طالبانو به د شر فساد او تیري کوونکي پر وړاندې، په یوه ورځ کې شرعیت پلئ کاؤ، ځکه ترې خلک ډیر خوښ شول او ډیر ژر یې په بې ساري ډول پرمختګ وکړ.

---

22

افغانستان در قرن بیستم لیکونکئ:ظاهر طنین- دویم چاپ – د چاپ کال :۱۳۸۴ ل

23
خیر محمد بایګان د دې کتاب په ۳۷۷ مخ کې د میرمحمود آقا څخه نقل قول کوي.
میرمحمود آقا وایي: *زه خپله د جمعیت اسلامي غړئ وم. کله چې مجاهدینو کابل فتح کړ، پر کابل د تنظیمي خپل منځي جګړواو د کابل ښار د ویجاړولو څخه وروسته ماته د شرم ځای ؤ چې د دغې حزب غړیتوب ته ادامه ورکړم، ځکه خو مې خپله استعفی رسماً واخیستله.*

*میر محمود زیاتوي د طالبانو تحریک د افغان مهاجرو بچیان دي، کوم چې د شوروي اتحاد د یرغل څخه وروسته پاکستان ته کډه کولو ته اړ شول. دوی د بلوچستان او پیښور په دیني مدرسو کې شامل شول.*

*کله چې د مجاهدینو اسلامي نظام په افغانستان کې حاکم شو. د دې مجاهدینو رهبران ځینو قدرت طلبی او ځینو نورو په چور او چپاول لاس پورې کړ. دا هغه څه ؤ چې محمدي شرعیت کې مجاز نه ؤ. په هرحال د مجاهدینو د بریا څخه وروسته افغانان بیرته خپل هیواد ته راستانه شول او دغو مدرسو سره هم نوره مرسته نه کیدله چې په پایله کې مدرسې ځینې وتړل شوې. دغه طلاب به په کوڅه او بازار کې ګرځیدل او ګدایي یې کوله. د ګدایي له کبله ښار بله بڼه ځانته غوره کړه. ترڅو چې مولانا فضل الرحمن دغه لوڅې پښې او په نس وږي طلاب راټول کړل او په مدرسه کې یې شامل کړل. چې د ګدایي پرځای دیني علوم زده کړي.*

*میرمحمود زیاتوي چې د طالبانو تحریک، تنظیمي مشرانو او تنظیمونو پورې تړې خلک نه دي. دا ځکه چې دغه تنظیمیان او رهبران په پیښور کې یې د طلابو آبرو د پښولاندې کړې. برسیره پر دې په ځانګړې ډول د کابل ښاریان یې په اور وسیځل. طالبان دوی ته منافقان وایي.*

د دې پوښتنې په تړاو چې د طالبانو تحریک د پاکستان د سیاست زیږنده ده؟ ځواب دا ؤ *چې پاکستان د طالبانو د تحریک په منځ ته راوستلو کې هیڅ کوم اساسي ونډه نلري، او دغه تحریک په قندهار کې د تنظیمیانو د ستم له کبله پخپله منځ ته راغئ.*

*د تاجرانو مال ډیرئ به د قندهار څخه چمن او د چمن څخه قندهار لاره کې د غلو او داړه مارانو له لوري چور کیدل. دغه تاجران مجبور شول چې د قندهار د ځوان زمریان ( پای لچان) ته مراجعه وکړي او دننده ور وسپارل شوه چې داړه ماران پرې نږدي چې مال چور شي، هغوی په صداقت سره دغه دننده ترسره کوله. دغه مسئله په قندهار کې د اسلامي حزب د مخالفت سبب وګرځیده. بلاخره دغه ځوان زمریان د قندهار د اسلامي حزب سره په سپین بولدک کې په جګړه ښکیل شول. په دې وخت کې هغه ریښتینې مجاهدینو چې د رباني په حکومت کې یې سلاح نوره په ځمکه ایښودې وه د دغو ځوانو*

---

23
نقش استعمار نوین جهان ابرقدرت در افغانستان - لیکونکئ: خیرمحمد بایګان– چاپ کال ۱۳۷۹

*زمريانو په مرسته د اسلامي حزب پر وړاندې وجنګيدل. د دوی زامن چې د مولانا فضل الرحمن په مدرسو کې ديني زده کړې کولې بيرته خپل هيواد ته راستانه شول چې خپلو پلرونو سره يوځای وجنګيږي. ترڅو چې د منافقو تنظيمي مشرانو ريښې د افغانستان څخه ورکې کړي او د يو ريښتيني اسلامي دولت بنياد په افغانستان کې کيږدي. دغو ديني مدرسو هم د خپلو پلرونو غږونو ته چې ريښتيني مجاهدين ؤ لبيک ووايه او د اسلامي حزب په وړاندې په جګړه شول.* **همدغه سبب ؤ چې دغه نوئ تحريک د طالبانو د تحريک په نامه ياد شي.**

يادونه: د ښاغلي ميرمحمود د نظريې لومړۍ برخې ته د شک په سترګه ګورم. بله داچې زما په آند طالبان **پای لُڅان** نه ؤ. هو، د ځوان مردئ کړنې يې پای لُڅانو ته ورته وې. دغه کلمه به مير محمود آقا له خپل ځآنه پرې ورزياته کړې وي. البته چې پاتې نظر سره يې موافقه يم.

تيرڅيرکي ته په کتو سره ، د تش په نامه جهاديانو د حکومتولی په دوران کې په کابل ښار کې هيڅ ودانۍ په بشپړه توګه روغې نه وې پاتې. ځينې به لړې او ځينې هم په بشپړه توګه لمنځه تللې وې. فساد، رشوت، انسان تښتونه، په نجونو جنسي تيرئ، نجونې تښتونې او په جبر ورسره واده کول، کورونو ته غله ورتلل موټر او نور هرڅه يې چې لرل له ځانه سره وړل. هغه فجايې تيرې شوې چې نظير يې کابل نه ؤ ليدلئ. د کابل ورته پيښې په نورو لويو ښارونو کې هم تکرار کيدلې. لکه په قندهار، هرات، مزارشريف ، ننګرهار، او نور ښارونه.

طالبانو د مجاهدينو کړنو ته په کتو سره د لوی قندهار څخه د دا ډول کسانو په وړاندې خپلې مبارزې پيل کړې.

طالبان په کال ۱۹۹۴ ز کې د يوې کوچنۍ ډلګۍ په بڼه راڅرګند شول، چې ددې کال په اوړي کې يې لوی قندهار کې فعاليت پيل کړ. په دې کال کې د طالبانو نهظت د عدالت او انصاف په نامه خپله مبارزه پيل کړه. د دغه تحريک شعار د اسلامي شرعيت پلي کول ؤ.

داسې ښکاري چې ټول شنونکي په دې نظر دي چې د طالبانو جګړه د قندهار د سپين بولدک د فتحې څخه وروسته ځواکمنه کيږي، دا به ريښتيا وي.

دوی د سيميزو سوداګرو، ځينو نورو سوداګرو له خوا ورکړشوې اټکل ۲۵۰ زره ډالرو په ټوليزه پانګې سره وسلې او مهمات رانيول. په پيل کې يې د خپلې سيمې د کوچنيو داړه

مارانو او جګره مارانو پرضد عملیات پیل کړل. دا ډول عملیات یې په پوره ایمانداری بریالي سرته ورسول. دخلکو ترمنځ شخړو ته به یې په ښه توګه د پای ټکئ کیښود. همدا ډول په سیمیزه او دودیزه کچه یې محکمې درلودې او لانجې یې فیصله کولې. د وخت دولت ته چا ځکه مراجعه نه کوله چې په روښانه او په حق فیصله به نه کیده، ځکه مقابل لوري به رشوت قاضی ته ورکړ او قاضیانو به سمه فیصله نه کوله. په دې بنسټ خلکو دولت ته نه بلکې طالبانو ته مراجعه کوله.

په دې ډول ترڅو چې ددوی افسانه سوکه سوکه مشهوره شوه او په ولس کې یې ځان ته ځای بیاموند. شتمنو سوداګرو او نورو مخورو قومي مشرانو سره یې اړیکه پیدا شوه او د مالي مرستو غوښتنه یې ترې کوله، څرنګه چې دوی په ولس کې ځای وموند نو د دوی مالي مرستې غوښتني خامخا په ورین تندي ومنل شوې.

یوې هالنډۍ ژورنالستې بیتي دم یو کتاب په هالندي ژبه لیکلئ، چې ژباړه یې د دښمن په لټه مانا لري.

24

نوموړې څو نور کتابونه هم په هالندي ژبه د افغانستان په هکله لیکلي. ارزګان نظامي سفر یا تلل - د ارګ په لور د حامد کرزي لار، او بل کتاب یې هم د افغانستان په هکله چې هغه هم له ماسره شته په انګلیسي ژبه لیکلئ، چې یو سړئ او یو موټرسایکل مانا لري.

25

په هر حال د دښمن په لټه کتاب ځانګړتیا په دې کې ده چې نژدې دا ټول کتاب، د خلکو سره خبرې او د خلکو سره مرکې په کې لیکل شوي دي.

تر اوسه موږ تاسو مختلفې نظریې د طالبانو د منځ ته راتلو په هکله ولوستې، قضاوت به لوستونکي وکړي چې کومه نظریه به ریښتینې وي. د بیتي دم قصه چې خلکو سره یې

---

24

Op zoek naar de Vijand (Bette Dam) د دښمن په لټه – لیکونکې بیتي دم ۲۰۲۱ ز کال چاپ)

25

A MAN AND A MOTOR CYCLE - (BETTE DAM)
یو سړئ او یو موټرسایک – د بیتي دم لیکنه کال ۲۰۱۴ ز

د مرکو څخه په لاندې ډول را اخيستې ده، کومه چې د پورته يادو شويو ځينو نظريو سره هم يو څه يو نژدې والئ لري.

بيتي دم په زړه پورې قصه د طالبانو منځ ته راتلو په هکله د ۱۲۲ مخ څخه پيلوي. ما هڅه کړې چې د دې قصې اړين ځايونه چې زموږ پرموضوع پورې تړاو لري ترې راواخلم. د دې ترڅنګ مې هڅه کړې چې د قصې جالبيت په پام کې نيولو سره ځينې نه اړين موضوعات هم په کې وساتم.

د دښمن په لټه (بيتي دم) ۱۲۲ مخ څخه پيل کيږي. بيتي دم په خپل دغه کتاب ليکي:

*ملا محمد عمر به نژدې د ديرشو کلونو ؤ چې د قندهار د ميوند په ولسوالی کې د سنګيسار په کلی کې دحاجی ابراهيم سيمه کې* (د سنګيسار په کلي کې حاجی ابراهيم يوه کوچنۍ سيمه ده چې دغه کوچنۍ سيمه د عيسی د پلار په نوم يعنی د ابراهيم په نامه ياده شوه) *دعيسی کورته راغئ . هلته يې د عيسې څخه وغوښتل چې که ستاسو خوښه وي زه به ستاسو د جومات ملا شم (دا د عيسی خپل جومات ؤ). ځکه په دې وخت کې د جومات ملا عبدالحکيم پاکستان ته کډه شوئ ؤ. عيسی ته محمد عمر يو آرامه، عاجز سړئ ښکاره شو، او دا يې درک کړه چې دئ زموږ جومات ته يو مناست سړئ دئ. هغه به ډيرې خبرې نه کولې او که چا به ترې پوښتنه وکړه په ډير ورين تندي او آرامه يې ورسره خبرې کولې او ځواب يې ورکاو.*

*لنډه دا چې په دې ډول محمد عمر دلته په جومات کې ملا شو. ملا محمد عمر به شل ديرش تنه کمکي هلکانو او نجونو ته قران شريف زده کړه کوله. ملا عمر يو ځل خپل پخواني استوګن ځای **ده راهود*** ( په ارزګان ولايت کې يو کلئ دئ) *ته ولاړ چې خپل څه کتابونه او څه کالی راوړي، هماغلته يې لومړئ ځل واده وکړ او خپله ميرمن او زړه خوانښې يې هم له ځانه سره حاجی ابراهيم سيمې ته راوستل . تره يې* (کاکا چې د مور ميره هم ؤ) *بله ښځه وکړه او له دوهمې ميرمنې څخه يې درې زامن ؤ، د هغوی سره د ملا عمر ښې اړيکې وې.*

د يادولو وړ ده چې وليکم ملامحمد عمر د درې او د ځينو په وينا پنځو کلونو ؤ چې پلار يې مړ شو. د ملاعمر تره (کاکا) د عمر مور ځان ته نکاح کړه. کوم چې په افغانانو کې لا تر اوسه هم دوديزه توګه همداسې کيږي.

*د ملامحمد عمر يو ځوی پيداشو نوم يې يعقوب* کيښود (ځوک چې اوس د افغانستان د اسلامي امارت د دفاع وزارت سرپرست وزير دئ).

*يعقوب پرې ډير ګران ؤ. کله چې د ګرځيدو شو نو دپلار لاس به يې نيولئ ؤ هرې خوا به ورسره ګرځيده. د ملاعمر لنډ ګاونډيان د ارزګان د ملګرو څخه ؤ، د هغه نوم برادر*

ؤ (ملا برادر کوم چې اوس د ریس الوزرا لومړئ مرستیال دئ)، بل ګاونډئ یې د غازي (ملا غازي) کور ؤ او بل د قیوم (ملا قیوم) کور ؤ. د محمد عمر د کور څخه لږ وړاندې د هغه د بل تره کور ؤ، کوم تره چې محمد عمر دهغه لور سره ۱۹۹۶ واده وکړ، دا د محمد عمر دوهم ځل واده کول ؤ. ملاعمر د خپلې ملایي ترڅنګ د دې دپاره چې په حلاله توګه ځانته روزي پیدا کړي دهقاني هم کوله. دا ځکه چې د تره په شان یې نه غوښتل چې مفته ډوډۍ (د خلکو د کورونو) وخوري. ملا غازي به هروخت ورسره کروندې کې مرسته کوله. د څه مودې وروسته کوم معاش چې ورکول کیده، یو چینایي بایسکل واخیست. ملا محمد عمرته دا چینایي بایسکل یو ډیر ستر شئ ؤ.

کله چې شورویان له هیواد څخه ووتل او مجاهدین بریالي شول، له دې وروسته د کابل، قندهار او قندهار- هرات په لویه لار غله او داړه ماران پیدا شول. د خلکو مالونه به یې چور کول او هر موټر څخه به یې پیسې اخیستې. دوی د جهاد په وخت کې هم همدا ډول کړنې سرته رسولې او له دې لارې یې ډیرې پیسې پیدا کړې. اوس هم دوی په همدې لارې بندولو ډیرې پیسې لاس ته راوړې. د نژدې دیرش کیلومترو په واټن کې به پنځه یا شپږ ځایه داړه مارانو لاره نیوله.

د شوروي په وړاندې دجهاد د وخت مجاهدینو لکه همدغه ملا محمد عمر، او دملاعمر د ارزګان ډلګې ملګرې حاجي غوث الدین او ځینې نور سره جرګه شول چې وکولای شي دغه غله، داړه ماران د لارې څخه لرې کړي.

لکه څنګه چې څرګنده ده د ملا خبرو ته د کلي خلک ښه غوږ نیسي او خبره یې منل کیږي. ملاعمر هم د څو تنه ملایانوسره دغو داړه مارانو ته ورغلل. دوی ورسره وغږیدل. هغوی یې خبرو ته ښه غوږ ونیوه او ورسره یې ومنله. خو کله چې ترې بیرته راستانه شول، هغوی بیا خپلو کړنو ته دوام ورکړ. د حاجي غوث الدین له خولې چې موږ درې ځله ورغلو او خبرې نصیحت مو ورته وکړ چې دغسې کړنې مه کوی، خو هیڅ ګټه یې ونه کړه.

د جهاد په دوران کې د یوشتمن او د قوم مخورپه نامه د نیک محمد د حاجي ابراهیم د سیمې مجاهدینو سره ډیره مالي مرسته کوله. د نیک محمد شل کلن مشر زوی حاجي بشر یو زیرک ځوان ؤ.(زه ګمان نه کوم چې حاجي بشر به هغه وخت کې شل کلن ؤ، خامخا به تر شلو کلو ډیر عمر درلود)

حاجي بشرد جهاد په دوران کې د محمد عمر او نورو سره په یوه مرچل (پوسته) کې میاشتې یوځای تیرې کړي وې. حاجي بشرد شورویانو د وتلووروسته د میوند ولسوال مقررشو. پس له هغه هم څوځله دجرګې استازو ډلګې سره په داسې حال کې چې د میوند ولسوال ؤ داړه مارانو ته ورغلئ ؤ.

د يادولو وړ بولم چې تقريباً دې ته ورته خبره ((تاريخ معاصر افغانستان (ليکونکۍ:کانديد اکاديمسين محمد ابرهيم عطايي: ژباړه:دکتور جميل رحمان کامګار-چاپ کال :۱۳۸۴په ۵۱۲ مخ کې هم کړې ده))

*حاجي بشر چې د موټر د ټايرونو تجارت کاؤ، (قندهار،سپينبولدک هرات لويه لار) نه يواځې د خپل مال بلکې د نورو موټرونو پخاطر هم دغه د ملايانو ډلګی د استازو په شان داړه مارانو ته ليږله. برسيره پردې دوی د جهاد په دوران کې ډيرې پيسې د مخدره توکو څخه پيدا کړې. په دغه سيمه کې څو ځايه د هيروينو سيميز لابراتوارونه ؤ. دا مواد به د قندهار څخه کوټې ته قاچاق کيدل. دفترونه يې پاکستان، سينګاپور او دوبۍ کې درلودل. هغوی کلونه له دې لپارې ميليونونه ډالره مونډلي ؤ. کارکوونکو ته بايد معاش ورکړل شي. د لارې د بنديدو له کبله د حاجي بشر کورنۍ ته د ورځې زرګونه ډالر تاوان رسيده. ځکه بيرته د قندهار کوټې کارکوونکو ته او ورپسې د پيښور او کابل (له هغه ځآيه بيا ازبکستان او بيا نورو ملکونوته ) لارې کې هم همدغه ستونزه پرته وه.*

*د حاجې بشرپه ډير کوښښ سره دغه لاره لا اقل د يو څواونی له پاره خلاصه شوه، خو د داړه مارانو د خپلمنځي جګړې له کبله بيرته بنده شوه. د ۱۹۹۴ ز په اوړي کې حاجي بشر حوصله ورته ختمه شوه. حاجي بشر يوه جرګه خلک راوغوښتل لکه ملاعمر او د هغه د ارزګان ډلګی، حاجي غوث الدين، عيسی، ملابورجان او ځينې نور قومي مشران نژدې ينځويشت تنه جرګه کوونکي ؤ. ملاعمر پخپل بايسکل راغئ. جرګه پيل شوه، ټول په دغو داړه مارانو لاره بندونکو په غضب ؤ. هرې خوا غږونه پورته شول چې دا خلک بايد له دې ځايه لرې شي. پس له ډيرو خبرو حاجی بشر وويل: زموږ په منځ کې دغه د اوجرې زده کوونکي (طالبان) بې طرفه خلک دي دوی به نور طالبان او ملګري پيدا کړي او دغه داړه ماران به له لارې لرې کړي. ټولو قومي مشرانو ومنله.*

*دغه د اوجرې طالبان د جهاد په وخت کې جنګيدلي هم دي. ملا عمر په يو قونج د کوټې کې ناست ؤ څه يې نه ويل. حاجی بشر وويل ملا محمد عمر به د ډلګی مشر وي. د هری خوا غږونه پورته شول. همدا ملا؟ تر د خو ملارباني، ملا بورجان ښه دئ. هر يو وويل زه خپله سلاح نه ورکوم. هيچا هم حاجی بشر سره دا ونه منله، حتا ملا محمد عمر خپله هم ونه منله، خپل بايسکل کې واخيست او ولاړ.*

*جرګه بله ورځ بيا راټوله شوه او حاجی بشر ملا محمد عمر ته وويل که چيرې ته او ستا د نور زده کوونکي (طالبان) ملګري ورشی نو زه سلاح، موټر او هر څه په اختيار کې درکوم. دا چې حاجی بشر د سلاح ورکولو ژمنه ورسره وکړه، نورو هم همداشان د*

سلاح ورکولو ژمنه وکړه. لنډه داچې ملا محمد عمرد دوی د ورانديز په هکله حاجی بشر ته وويل چې زه به د اوجرۍ طالبانو سره مصلحت وکړم.

بله ورځ جرګه د حاجی غوث الدين په کور کې راغونډه شوه، او حاجی غوث الدين پسه ورته حلال کړي ؤ. اوجرۍ طالبان او د ارزګان ډلګی ټول راغلل. د اوجرۍ طالبانو سپينې لنګی په سر وې د حاجي غوث الدين کور ته راد ننه شول. دوی دباندې په انګړ کې تم شول. ملا محمد عمر او د ارزګان ډلګی لکه ملابرادر او نور مشران کوټه کې په جرګه شول. حاجی بورګټې هم ژمنه وکړه چې سلاح مهمات او موټر به د ملا محمد عمر په واک کې ږدي.

لنډه داچې پس له ډيرو خبرو ملامحمد عمر ورسره ومنله. يوه شيبه وروسته ځوان حاجی بشر ملامحمد عمر او وسره نور جرګه کوونکي د کوټې راووتل او په انګړ کې تم شويو طالبانوته حاجی بشر په داسې حال کې خبرې کولې چې ملا محمد عمر غلئ ولاړ ؤ. حاجی بشر د جرګې فيصله طالبانو ته واوروله. په پيل کې دغه طالب ډلګی اوه تنه ؤ چې د اونيو او مياشتو په تيريدو سره تر پنځوسو تنو واوښتل

دا چې ملا محمد عمر او نور طالب مشران څوک ؤ، وګوری د طالبانو د مشرانو عنوان.

په پيل کې دغې طالب ډلې د حاجی بشر خپلو خلکو چې اوږدې څنې يې درلودې وينتان پرې وکتيل. وروسته د لويې لارې داړه ماران يې لرې کړل (نپوهيږم چې ولې اوس طالبان « د طالبانو دوهم ځل واک ته رسيدل» خپلې څنې نه لنډوي، جهاد خو هم ختم شو. د دوی خيرنې، سپږنې څنې لنډې نه شوې).

په قندهار کې د دؤ نجونو قصه ډيره مشهوره شوې وه، کومې چې د قندهار هوايې ډګرته نژدې تښتول شوې وې په موټرکې کښينولې وې پټه نه وه چې چيرې بيول کيږي. په موټر کې دغو نجونو لاسي بم وموند. دغه دوې نجونې پوهيدلې چې پر دوی به ډليزجنسي تيرئ کيږي. دوی بهتره وګڼله چې ځانونه ووژنې نو بم ته يې انفجار وکړ، يوه نجلی ترې مړه شوه او بله سخته زخمي شوه. داسې ناوړې پيښې ډيرې کيدلې. طالبانو دغه ډول خلک ووژل او د غلو لاسونه يې پرې کول ترڅو نورو ته عبرت شي او څوک بيا ددې ډول کړنو جُرئت ونه کړي.

طالبانو د عامو خلکو سره ښه چلند کاؤ. خلک ډير ترې خوښ ؤ. داسې حالت راغئ چې دوکانونه به خلاص پريښودل چا د غلا جرئت نه درلود. لنډه داچې کابل کې حتا د رباني حکومت ترې خبر شو او دمرستې ژمنه يې وکړه.

*مرکزي دولت بیا خپله موخه درلوده! برهان الدین رباني غوښتل چې د طالبانو په واسطه د حکمتیار ډله چې په قندهار کې فعالیت کاؤ له منځه یوسي. د رباني د حکومت ستر قومندان نقیب الله هم د طالبانو سره یوځای شو،* (د نقیب الله په تړاو وړاندې یادونه شوې) *چې د حکمتیار ډله وځپي. اوس نو طالبانو زیاته سلاح او مهمات ترلاسه کړل. حتا د قندهار هوایي ډګر هم د دوی په ولکه کې ورغئ، هلته څه روغې او ناروغې الوتکې هم ولاړې وې. وروسته بیا جنرال دوستم خپل د الوتکو تخنیکران طالبانوته قندهار ته واستول چې ناروغې الوتکې ورته ورغوي. په دې ترتیب طالبان د ډیرې خفیفه او سقیله (ټانکونه، توپونه او زغروال ګاډي) سلاح برسیره د جنګي الوتکو څیښتنان هم شول.*

26

ستیو کول د پیریانو د جګړې لیکونکئ پخپل کتاب کې د طالبانو په تړاو لیکي چې د قندهار تر هرات او بیا تر ایران او همداشان د کابل قندهار په لویو لارو به سلګونو غیر قانوني زنځیرونه یا پاټکونه اچول شوي ؤ او د موټرونو او خلکوڅخه به یې باجګیرئ کولې. خلک به یې لوټول. تنکي هلکان او نجوني به تښتوتل کیدې او نجونو او ښځو ته به بدلمني ورپه برخه کوله، همداشان دې ته ورته لسګونه نورې بیلګې.

په ۱۹۹۴ ز کال د طالبانو د تحریک د ملا محمد عمر په مشرئ د جنایتکارانو او جګړه مارو په وړاندې پاڅونونه او غبرګونونه وښودل او عامو خلکو هم د بریالیتوپ په سترګه ورته کتل. د ملامحمدعمر په مشرئ دلسګونو نجونو ژوند ژغورغل شوئ دئ. ټولنیز عدالت د نوموړي ژمنتیا وه. زناکارانو او فاسدو انسان تښتونکي به یې د ولس ترمخه په دار ځړول. دغه خبره د پاکستان نامتو ژورنالست عبدالرشید هم منلې ده. عبدالرشید وایي:

*ملا محمد عمرد څو تنو نورو سره یوځای سلاح واخیسته او د بی عدالتی په وړاندی یې مبارزه پیل کړه. کومه ورځ په قندهار کی کوم قومندان یوه نجلی وتښتوله او جنسي تیرئ یې پرې وکړ له دې کړنې څخه ملامحمد عمر خبر شو. ملا محمد عمر د څو کسو سره یوځای په هغه سرې برید وکړ او ویې واژه ، د هغه مړئ یې د توپ په میله کی ځوړند کړ اوپه ښار کی یې وګرځا ؤ. عامو خلکو د ملا عمر دغه کړنه وستایله. دغه ؤ چې د طالبانو نطفی ځان ته شکل ونیوه.*

---

26

GHOST ((د پیریانو جګړې -لیکونکئ: ستیوګول- ژباړه: غلام محمد زرموال - د چاپ کال ۱۳۸۷ ل)) WARS (STEVE COLL)

د پیریانو جګړې په ۴۱۰ مخ کې لیکل شوي چې د یوې پښتنې رادیويي خبریالې سپوږمۍ میوند پر وینا چې له طالبانو سره یې ډېرې مرکې کړي وایي: *طالبان د یوې افسانې په ډول ؤ. په لاس کې قران او ټوپک ؤ. هغوی به ویل د قران په خاطر وسلې پرځمکه کیږدئ اوموږته یې تسلیم کړئ. که جګړمارو به ونه منله سمدلاسه به یې وژل. طالبانو به ماشومانو ته سبقونه ویل، د لمانځه امامت یې کاؤ، د ناروغ او بې وزلې پوښتنه یې کوله او د وګړو د شخړو ترمنځ یې منځګړتوب کاؤ.*

## طالبانو څنګه قندهار او نور ولایتونه یو په بل پسې فتح کړل

د پیریانو جګړې په ۴۲۲-۴۲۳ مخ کې داسې راغلي:

*د سپین بولدک په سیمه کې ظاهراً یو مسعود پلوی قومندان (زما په ګمان ملا نقیب) ښار ته نږدې د آی اس آی له خوا د ورکړ شویو وسلو د یو لوی زیرمتون کلي (کلید) طالبانو ته دغټو پیسو په بدل کې ورکړه. دا زیرمتون په ۱۹۹۱ ز د ای اس ای او د سعودی څارګري افسرانو مخکې له دې چې په افغان جګړه کې ښکیلو اړخونو ته له بهر څخه د وسلو پر ورکولو د بندیز نیټه راورسیږي، جوړ کړئ ؤ. د سپین بولدک د زیرمتون په ۱۷ تونلونو کې دومره وسله پرته وه چې د لسګونو زرو سرتیرو له پاره کافي وه. دا وسلې لا په پلاستیکونو کې پیچلې پرتې وې. اوس نو طالبانو د قندهار هوایی ډګر هم په ولکه کې شو. په هوایي ډګر کې ۶ میګ جنګي الوتکي، څلور ام آی ۱۷ لیږدونکي چورلکې هم وې.*

محمد ابراهیم عطایي پخپل کتاب تاریخ معاصر افغانستان په ۵۱۲ مخ کې لیکلي چې طالبانو د میوند ولسوالۍ څخه خپل کال پیل کړ. د ۱۹۹۴ ز نوفمبر میاشت په پیل کې اټکل سل طالبان سپین بولدک ته په رښا ورځ ورغلل او د سپین بولدک ولسوالي یې فتح کړه. بر سیره پردې یې د ګلبدین حکمتیار یو زیرمتون هم طالبانو پلاس ورغئ چې له دې سره طالبان نور هم ځواکمن شول. د بولدک څخه فاتحانه مخ په قندهار وخوځیدل. د لارې ټول پاټکونه یې ټول کړل(له مینځه یووړل) همدارنګه د عصمت مسلم ډلې سره په مخ شول، هغوی ته یې هم ماته ورکړه. وروسې د قندهار هوایي ډګر ته پرمخ ولاړل او فتح یې کړ. په ۴-۱۱-۱۹۹۴ قندهار ښار ته راغلل او قندهار یې هم فتح کړ. په ۱۱-۱۱-۱۹۹۴ ملا نقیب الله د قول اردو قومندان د ټولو نظامي تسلیحاتو سره طالبانو ته تسلیم

شو. پس له دې نو طالبان په يو ستر ځواک بدل شول. دغه پورته دواړه ليکنې او لاندينۍ ليکنې سره ډير نژديوالئ شته، ځکه خو به همداسې هم وي.

27

فضل الهي پخپل کتاب يکصدويکروز درشمال افغانستان کې ليکي:

په کال ۱۹۹۴ ز د عدالت او انصاف په نامه خپله مبارزه پيل کړه. په دې کال کې کله چې طالبانو د قندهار سپين بولدک فتح کړ. د همدې کال په ترڅ کې قندهار، هلمند، زابل، غزني، ارزگان، پکتيا، پکتيکا، خوست، وردگ او لوګر ولايتونه هم فتح شول. په قندهار کې ملا نقيب الله د جمعيت اسلامي جهادی قومندان چې په دی وخت کې د قندهار ۲ نمبر قول اردو قومندان ؤ د مرکزي دولت سره بې د دي ولايت د اداري په سر د نظر اختلاف درلود. حتا د قندهار په هکله د دولت دسياست او کړنو سره مخالف ؤ. نوموړي د قول اردو ټولې وسلې، مهمات او جزتامونو سره طالبانو ته تسليم شو. ملانقيب الله ته د جهاد پيل څخه د ګلبدين د اسلامی حزب قومندان حاجی سرکاتب سرخوړئ پيښاؤ. ددوی ترمنځ سختې جګړې کيدلې. ملانقيب الله په همدې شرط د طالبانو سره يوځای شو چې د سرکاتب جنګيالي ورسره يوځای وټکوي. هماغه ؤ چې د طالبانو په مرسته يې د سرکاتب جنګيالي د درې ساعتونو په ترڅ کې تارو مار کړل. په دې ډول قندهار ټول د طالبانو له خوا فتح شو. د قندهار څخه وروسته يې هلمند پس له جګړې فتح کړ چې په کې تر شلو زياد طالبان مړه او زخمی شول. بلاخره هلمند هم فتح شو. ورپسې ارزګان او زابل هم فتح شول او غزني ته راورسيدل. په غزني کې قاری بابا د دوی (طالبانو) مخنيوی کاؤ خو د مرکز(رباني دولت) څخه هدايت وشو چې جګړه ونه کړي . د مرکزي دولت موخه دا وه چې طالبان د ګلبدين حکميار جنګياليو سره په جنګ اخته کړي. په هر حال په دې ډول قاری بابا او د څورلسمې فرقې قومندان خيال محمد هم طالبانو ته تسليم شو. د ګلبدين حکمتيار جنګيالي داوخت د غزني کمربند ته رارسيدلي ؤ. د حکمتيار جنګيالي د طالبانو سره په جګړه شول. دولتي ځواکونو د حکمتيار اسلامی حزب جنګيالي سخت بمباردمان کړ. د حکمتيار جنګيالي مخ په شا شول نو دا د طالبانو په ګټه تمامه شوه. په دې وخت کې د دولت ځواکونو لوګر کې د حکمتيار اسلامی حزب سره په جګړه شو. کله چې په غزني کې د حکمتيار جنګيالي د لوګر د جنګ څخه خبرشول نو په چټکی مخ په شا شول او ډيره درنه او سپکه وسله ترې پاتې شوه. د حکمتيار جنګيالې د وردګو تنګي او لوګر کې تم شوي ؤ. طالبان ورپسې په چټکۍ راورسيدل او پرلپسې يې دغه ولايتونه ونيول. بلاخره طالبانو لوګر فتح کړ او حتا تر چهارآسياب راورسيدل. چهار آسياب د دولتي

27

يک صدو يک روز در شمال افغانستان (ليکونکئ: فضل الهي عمرزاد – د چاپ کال: ۱۳۷۹ ل)

ځواکونو په لاس کې ؤ او دوی ته له کابل څخه امر وشوچې جګړه ونه کړي او چهار آسیاب پرته له جګړې فتح شو. په دی ډول طالبان د کابل دروازې ته راورسیدل.

طالبانو په هرات هم یرغل وکړ. د اسمعیل خان سره یې ځو ځلي سختي جګړې وکړلي ترڅو چې د اګست په ۲۱ د ۱۹۹۵ هرات، اسلام قلعه، تورغندی، او د شیندنډ هوایې ډګر پرله پسې د طالبانو په ولکه کې ولویدل.

له دې وروسته بیا طالبانو خپلي قواوې له څو خوا مخ په کابل سوق کړې. میدان ښار، چهارآسیاب او حتا کله خو بیني حصار، ارغندې، بتخاک ته هم راورسیدل خو بیرته به د دولتي ځواکونو له لوري په شا تګ ته اړل کیدل. لنډه داچې د سنبلې په میاشت کې طالبان د ملابورجان تر قوملندې لاندې د حکمتیار قرارګاه سپینه شګه فتح کړه. وروپسې د تنګي حصارک څخه راتیر شول او مخ په جلال آباد یې حرکت وکړ. بلاخره جلال آباد هم فتح شو. طالبان په چټکۍ سره مخ په سروبې حرکت وکړ او دولتی قوا په تیښته شول او زیاته سپکه او درنه وسله سره د زغره والو ګاډو په سروبې کې د طالبانو لاس ته ورغلل. طالبان نور هم په پرمختګ کې ؤ. دولت خپلو جنګیالو ته امر وکړ چې هرڅه پریږدي او په چټکۍ ځانونه کابل ته راورسوي. د سروبي په بند غازی سیمه کې د دولت سلګونه زغره وال ګاډي او بی شمیره درنه او سپکه وسله د طالبانو لاس ته ورغله.

د دې کتاب (یکصدو یکروز در شمال افغانستان) لیکونکۍ بیا په ۱۴ مخ کې لیکي چې د جنوبي آسیا چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت معینه میرمن رابن رافیل احمد شاه مسعود سره په استالف کې په دغه فورمول هوکړه کړې وه چې دولتي ځواک به د کابل څخه ووځي او پنجشیر ته دې ولاړې شي. دوستم ډله دې د سالنګ څخه وړاندې نه راځي او طالبان د پلچرخي څخه وړاندې کابل ته نه راننوځي.

دوی ټول په دې باور ؤ چې د بې نظیربوتو لوړ پوړي چارواکو طالبان دې ته تشویق کړل چې کابل ښار ته راننوځي او د افغانستان پخوانۍ ولسمشر ډاکټرنجیب الله هم ووژني. پس له دې چې طالبانو کابل فتح کړ، نصیرالله بابر د پاکستان د کورنیو چارو وزیر اعلان وکړ چې طالبان درې ورځې وروسته پنجشیر هم فتح کوي. چې په دې ډول بیاد ملګروملتونو سازمان د سولې پروګرام په نطفه کې خنثی شو.

مخکې له دې چې طالبان کابل ته راننوځي دې وخت کې یو ستر دولتي کاروان د نقلیه وسایلو د کابل څخه مخ په پنجشیر روان شو.

ویل کیده چې د لس زرو او دولس زرو تر منځ نقلیه وسایل په حرکت شول. د کامازونو په واسطه غټې او درنې وسلې پنجشیر ته انتقال کیدې (موټرونه، زرغوال ګاډی، توپونه،

ټانکونه، کاماز موټرونه او داسې نور وسایل) . ویل کیده چې یوسر د دې سترکاروان په خیرخانه او بل یې پنجشیر کې ؤ. دا کاروان چې وروسته بیا **د پلازمینې انتقال کاروان په نوم یاد شو په۱۸ ساعتونو کې د کابل څخه ووت.** ویل کیږی چې ۹۰سلنه نظامي ځواک د کابل څخه پنجشیر ته انتقال شو. په همدې ورځ ۲۶-۹-۱۹۹۶ برهان الدین ربانی د افغانستان ولسمشر کابل پریښود او شمال خواته وتښتیده، چې بیا نیمې شپې ته یې طالبان کابل ته راننوتل.

طالبان بلاخره په نیمه شپه د۲۶-۹-۱۹۹۶ کابل ښار ته راننوتل او ښار یې پرته له جنګ څخه فتح کړ.

نژدې د پنځو کلو په ترڅ کې طالبانو د افغانستان ۹۵ سلنه خاوره تر خپل کنترول لاندی راوسته. پرته د پنجشیر، بدخشان، تخار او د ځینو ځو نور ولایتونو محدودی ولسوالۍ د طالبانو په ولکه کې نه وې.

د طالبانو د لومړۍ دورې د حکومت د وخت امربلمعروف و نهی المنکر وزیر مولوي قلم الدین په وینا *چې د ننګرهار ولایت پرته له جنګ څخه طالبانو ته تسلیم شو. د وخت والی حاجی قدیر ؤ. پوره مې په یاد نه دي د شپې په دو بجو کابل ته طالبان ننوتل. برهان الدین رباني مخ په شمال وتښتیده.*

# د طالبانو مشران څوک دي / ؤ

### ملامحمد عمر څوک ؤ

28

د بیتي دم له قوله چې ملا محمد عمر د زیږد نیټه پوره چاته جوته نه ده، خوویل کیږی چې دئ په قوم هوتک دئ او په ۱۹۶۰/ ۱۹۵۹ م زیږدیز کال کې د قندهار ولایت د خاکریز په ولسوالی کې زیږیدلئ وي.

ملا محمد عمر د محمد نبی زوی ؤ چې محمد نبی خپله هم ملا ؤ. ملا محمد نبي ته د نورو ملایانو پشان مفتي ډوډۍ خوند نه ورکاؤ، نه یې هم د چا څخه بخشش اخیسته، ځکه خو د ملایي ترڅنګه ژرندګر هم ؤ، چې خپل ژوند وچلوي. ملا محمد عمر د قندهار خاکریز ولسوالۍ کې د نوده (نوئ کلئ) په کلي کې وزیږید. داخبره د ملا عمر ملګرو تایید کړې وه چې ملا محمد عمر ورته ویلي ؤ چې په نوده کې زیږدلئ دی. د زیږیدو نیټه یې پوره نه ده څرګنده. درې کلن (د ځینو سرچینو له مخې ۵ کلن ؤ) ؤ چې پلار یې مړ شو او تره (کاکا) سره لوی شو، کوم تره چې د محمد عمر مور یې د خپل د ورور له مرګه وروسته ځانته نکاح کړه. ملا محمد عمر که څه هم درې کلن ؤ چې پلار یې مړ شو، خو دئ لا تنکئ هلک ؤ چې هرکله د خپل پلار قبر ته ورته. حتا کله چې د طالبان مشر هم شو. د ملا عمر تره هم ملا ؤ. دوی (ملا عمر او تره) د ارزګان ولایت ده راهود ولسوالی ته کده وکړه، د کډه کولو علت یې هم پوره نه دئ څرګند، ځکه ضد او نقیص خبرې ویل کیږي. په هر حال د ملا عمر تره په دې ولسوالی کې د تنګي په کلی کې ملا شو. ملا محمد عمر هم د خپل تره څخه لکه د نورو کوچنیانو(طالب) د ملایي سبق ولوست.

---

28 Op zoek naar de Vijand (Bette Dam) د د دښمن په لټه – لیکونکي بیتي دم ۲۰۲۱ ز کال چاپ)

احمد رشید پاکستانئ لیکوال او ژورنالست وایې چې ملا عمر د پاکستان په مدرسه کې زده کړې کړي. خو د پاکستاني ژورنالست سمع الله یوسفزي په حواله چې مولانا سمع الحق د پاکستان د جمعیت علما مشر (نوموړئ په ۲۰۱۸ کې ووژل شو) ویلي چې ما محمد عمر هیڅ نه دئ لیدلئ، ما به ډیر افتخار کولئ که هغه په دارالعلوم حقانیه پوهنتون کې زدکړې کولئ. خو د دې ترڅنګ بیا بی بی سی او نیویارک تایمز ویلي چې محمد عمر په همدې پوهنتون (دارالعلوم حقانیه) کې زدکړې سر ته رسولي.

ملا محمد عمر په کال ۱۹۷۹ ز کې د اسلامي حرکت انقلاب د مولوی محمد نبي جهادی ډله کې شامل شو.

(د پیریانو جګړې په ۴۱۷ مخ) لیکل شوي چې ملا محمد عمر د مولوی خالص د تنظیم یو کوچنئ سیمیز مرستیال قومندان ؤ)

د جهاد په دوران کې څلور ځله زخمي شوئ چې یوه سترګه یې هم د جهاد په جریان کې له لاسه ورکړه. ملا محمد عمرد شورویانو بی شمیره ټانکونه د راکټونو پواسطه له منځه وړي دی. د راکټ ویشتلو نښه یې ډیره دقیقه وه، ځکه خو یې راکټ هم ډیر خوښ ؤ.

لومړنی دیني زده کړې یې د خپل تره (پلار اندر) سره کړي. د ځینو سرچینو په حواله د کوټې په یوې اسلامي مدرسې کې یې زدکړې سرته ورسولې. د زدکړې وروسته په کال ۱۹۹۲ ز بیرته  قندهار ته راستون شو او په سنګیسار کلي کې یې د یو جومات ملا شو. په کال ۱۹۹۶ ز کې ملا محمد عمر د هیواد ۱۵۰۰ دیني عالمان راوغوښتل د سولې او پایښت په هیله خرقې مبارک زیارت په مخ کې ولس ته د حضرت محمد (ص) مبارکه خرقه راوکښله، د طالبانو پلویانو ورته د امیرالمومنین لقب ورکړ. د ځینو طالبانو له خولې چې ملاعمرپه دې وخت کې سخت وژړل او پخپل څادر یې اوښکئ پاکې کړې. طالبانو په همدې کال کې کابل هم فتح کړ.

**ملامحمد عمر کله ومړ**

29

بتي دم هالندۍ لیکوالې له قوله چې دجبارعمري سره يې مصاحبه کړې وه، (عمري هغه ځوک ؤ چې په افغانستان باندې د امریکایانو د یرغل څخه ورسته د ملاعمر ساتونکۍ ؤ) د عمري د خولې چې ملا محمد عمر په ۲۳-۴-۲۰۱۳ ز کې د ناروغتیا له کبله چې ورپیښه شوې وه د زابل ولایت په یوې ولسوالۍ کې مړشو.

د ځینو نه تایید شویو سرچینو په نظر چې د پاکستان په کوټه کې په مرموزه توګه ووژل شو، البته چې ښکاره ده د آی اس آی له خوا. دغه سرچینې وايي چې آی اس آی ملا عمر ته ویلي ؤ چې د دوی د خاورې ووځې (بیرته افغانستان ته ولاړشي) چې د پاکستان دولت د امریکا د جدي فشار سره مخ دئ.

د ځینو نه تایید شویو رسنیو له قوله پس له دې چې امریکا په افغانستان یرغل وکړ، ملامحمد عمر د قندهار څخه ارزګان ته راغئ. هلته څه موده پټ ؤ او بلاخره پاکستان ته واوښت. ډیره موده د پاکستان په یوه نامعلومه سیمه کې پټ ؤ. ترڅو چې نوموړئ د آی اس آی له لوري د کوټې څخه شمالي وزیرستان سیمې ته د لیږد پرمحال (۲۰۱۲-۲۰۱۳ ز) د آی اس آی له لوري ووژل شو. ویل کیده چې امریکا د اسامه بن لادن د وژلو څخه وروسته دا ګمان درلود چې ملا محمد عمر په پاکستان کې دئ، نو پر پاکستان یې ډیر فشار راوستئ ؤ چې ملا عمر ورته تسلیم کړي. پاکستان ملاعمر ته ویلي ؤ چې بیرته خپلې خاورې ته واړوړي، دا چې ملاعمر نه غوښتل او یا په هغه وخت کې ورته شرایط نه ؤ آماده چې ولاړ شي بلاخره پاکستان اړ شوئ چې ملا عمر ووژني.

ځینې نورې نه تایید شوې رسنیو له قوله پاکستان غوښتل چې ملاعمر پخپل لاس هلمند یا ارزګان ته ولیږدوي او له هغې سره جوخت امریکایانو ته راپور ورکړي چې ملاعمر په فلانه (په هماغه سیمي ته چې دوی لیږدولئ دئ) ځای کې پټ دئ او د امریکایانو پواسطه یې ووژني یا ونیول شي. په دې ډول به پاکستان امریکایانو او نورې نړیوالې ټولنې ته دا وښیي چې تروریستان یواځې په پاکستان کې نه بلکې مشران يې په افغانستان

---

29 د دښمن په لټه – لیکونکې بیټي دم ۲۰۲۱ ز کال چاپ) Op zoek naar de Vijand (Bette Dam)

کې هم شته. پاکستان به دا جوته کړي چې دوی هم په دې هڅه کې دي چې ملا عمر او یا ځینې نور طالبان امریکایانو ته ورپه ګوته کړي.

زما په آند دا خبر هسې آوازې وې، ماته د بیتې دم (هالندۍ لیکونکې) خبره رېښتیا په دې ښکاري چې ټوله قصه یې هم ورسره کړې وه چې ملا عمر چیرته پټ ؤ او بلاخره د ناروغۍ له کبله مړشوئ. (دغه قصه د دې کتاب په اړوند ځپرکي کې لیکل شوې ده).

**ملا اختر منصور محمد**

30

د بی بی سی ویب پاڼې په حواله ملا اختر محمد منصور د طالبانو د ډلې مشر په کال ۱۹۶۸ ز قندهار ولایت د میوند ولسوالۍ د بند تیمور په کلي کې زیږیدلئ.

ویل کیږي چې نوموړئ د خپلې کورنۍ نورو غړیو ترڅنګ د یونس خالص د اسلامي حزب غړئ ؤ او د شوروی اتحاد ضد جګړو کې برخه درلوده.
همداراز ویل کیږی چې په کال ۱۹۸۷ ز کې د پاکستان د کویټې څخه پیښور ته راغئ او دوهم ځلې په دیني مدرسه کې شامل او خپلې زده کړې یې پرمخ بوتلې.
ملا اختر محمد منصور د طالبانو په ډله کې د لومړنیو ډلګیو خلکو څخه ؤ چې ۱۹۹۴ ز کې یې قندهار فتح کړئ.
کله چې طالبانو په ۱۹۹۶ کې کابل فتح کړ، ملا اخترمحمد منصور د آریانا افغان هوایي شرکت ریس وګمارل شو، چې بیا وروسته د هوایي چلن وزیر هم ؤ.
د طالبانو د حکومتولۍ د نسکوریدو څخه وروسته نوموړئ د کویټې د شورا غړئ شو.
ویل کیږي چې اخترمحمد منصور ملا محمد عمر ته نژدې شخص ؤ.
د ملامحمد عمر له مړینې څخه وروسته ملا اختر محمد منصور د طالبانو د سترې کتلې له خوا د مشر په صفت ومنل شو، خو د هغه د مشرۍ سره سم د ځینو قومندانانو ترمنځ مخالفتونه پیل شول. پایله دا شوه چې د ملا رسول ډله ترې جلا شوه.
د امریکا د دفاع وزارت په ۲۲-۵-۲۰۱۶ ز په خبر پاڼه کې راغلي ؤ چې ملا اختر محمد منصور احتمالاً د دوی د بې پیلوټه هوایي برید په ترڅ کې مړ شوئ.

30 https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2016/05/160522_mar_taliban_leader_mansur_profile

د پنتاګون په خبر پاڼه کې دا هم راغلي ؤ چې منصور د افغانستان حکومت سره د سولې په تړاو خنډ ؤ. د افغانستان دولت هم ويلي ؤ چې ملا اختر محمد منصور د سولې غږ ته رد ځواب ورکړئ.

**ملا هيبت الله آخندزاده**

31

د دويچه ويله د ويب پاڼې په حواله، وحيدالله مژده چې د طالبانو د لومړي ځل په حکومتولۍ کې د بهرنيوچارو په وزارت کې دننده درلوده وايي چې ملا هيبت الله آخندزاده د قندهار نورزئ دئ.

همدا ډول د پاکستان تکړه خبريال رحيم الله يوسفزئ فرانس پرس ته ويلي ؤ چې پر افغانستان د شورويانو د يرغل پر محال ۱۹۷۹-۱۹۸۹ ز، هيبت الله آخندزاده په پاکستان کې اوسيده.

د شنونکو له قوله د هيبت الله آخندزاده فرق د طالبانو د نورو مشرانو سره دا دئ چې په جګړه کې يې حضور نه درلود.

د منصور د مرګ څخه وروسته ملا هيبت الله آخندزاده د طالبانو مشر وټاکل شو چې تر اوسه هم رهبر دئ. تراوسه د افغانستان اسلامي امارت مشر ملا هيبت الله آخوندزاده نه په تلويزيون خبرې کړي او نه يې هم هيوادوالو ته په ښکاره وينا کړي.

ويل کيږي چې ملا هيبت الله آخندزاده په کال ۱۹۶۰ ز کې د قندهار ولايت په پنجوايي ولسوالۍ کې زيږيدلئ. داسې ويل کيږي چې په طالبانو کې دومره نظامي سابقه نلري او ډيرئ دئ مذهبي پيژندل شوې څيره وه. کله چې په لومړي ځل طالبانو د فراه ولايت د ۱۹۹۱ کې فتح کړ، نوموړئ د دې ولايت د قاضي په حيث دنده ترسره کوله. وروسته بيا د قندهار د نظامي محکمې او وريسې د ننګرهار د نظامي محکمې مسؤل وټاکل شو. کله چې طالبانو کابل فتح کړ، نوموړئ د ټول افغانستان د نظامي محکومو مسؤل او سترې محکمې معاون وټاکل شو. کله چې د يولسم د سپتمبر څخه وروسته امريکايانو په افغانستان يرغل وکړ، هيبت الله آخندزاده د طالبانو د رهبرۍ د عالي شورا مشر شو. ويل کيږي چې نوموړي دپاکستان په کويټه کې د مدرسې مسوول ؤ. په کومه مدرسه کې چې

31

dw.com/fa-af/ملا-هيبت-الله-آخندزاده-رهبر-جديد-طالبان-کيست/a-19281711

ډیرئ طالبانو زدکړې کړي دي او دا مدرسه د کویټې شورا سره کلکې اړیکې درلودې. همداراز ویل کیږي چې هیبت الله آخندزاده وکولای شول چې درهبرئ شورا په ښه توګه اداره کړي. په تیره د هغه وخت راهیسي چې په کال ۲۰۱۶ ز کال کې ملا اختر محمد منصور ووژل شو. هیبت الله وکولای شول چې رهبري ښه د کنترول لاندی ولري. الظواهری د القاعدې مشر ملا هیبت الله ته بعیت کړئ او حتا داچې د ته د امیرالمومنین خطاب کوي. دا په دې مانا ده چې د هغه مقام یې په طالبانو او نورو غورځنګونو کې لوړ کړئ دئ.

**سراج الدين حقاني**

سراج الدين حقاني د جلال الدين حقاني زوی دئ. د زیږیدو کال یې نه دئ تر لاسه شوئ خو ویل کیږي چې سراج الدين به په ۱۳۵۲ او ۱۳۵۹ لمریز کلونو منځ کې زیږیدلئ وي. نوموړئ د پکتیا ولایت او په خته ځدراڼ دئ. امریکایانو د جلال الدین حقاني څلور زامن په هوايي بریدنو کې ووژل. اوس سراج الدين حقاني د افغانستان د اسلامي امارت د کورنیو چارو وزیر دئ، د چا په سر چې امریکایانو لس میلیونه ډالره جایزه اېښودې ده.
32

د طالبانو په لومړي ځل واک ته رسیدو څخه (۱۹۹۶ ز) وروسته د سراج الدين حقاني ډله د طالبانو سره یوځای شوه. ویل کیږي چې دغې ډلې وکولای شول چې د طالبانو په منځ کې خودمختاره ډله اوسي. ځکه خو دوی ته د حقاني شبکه وايي. که څه هم د سراج الدين حقاني کشر ورور انس حقانې په وار وار سره ویلې چې موږ ټول یو طالب وروڼه یو او د حقاني په نامه شبکه شتون نلري. دې ته ورته خبره ملابرادر د افغانستان د اسلامي امارت د ریس الوزرا لومړي مرستیال هم کړې ده.

---

32 https://www.bbc.com/pashto/world/2014/08/140821_ma_us_reward_on_haqqani_network

## د طالبانو له لوري د کابل فتح او سمدلاسه د ډاکټرنجیب الله وژنه

طالبانوخو په اصل کې د یوې معاملې په ترڅ کې په ۱۹۹۶ ز کال د سپتمبر په ۲۲ جلال آباد ښار پرته د جنګ څخه فتح کړ.

د حامد کرزي د واک ته رسیدو څخه وروسته نژدې دوه نیم کاله وروسته (۲۰۰۵ ز) کې زه کابل ته ولاړم. هلته یو چا راته قصه وکړه، *(د هغه پخپله غوښتنه، نوم یې نه غواړم چې څرګند کړم)* هغه ته دا قصه کوم بل چا کړې وه څوک چې د طالبانو سره جلال آباد ته راغلي ؤ (د نوم اخیستو څخه یې ډډه وکړه). هغه داسې وویل:

*پر طالبانو برسیره په زرګونو د پاکستان نظامیان او آی اس آي غړی هم جال آباد ښار ته راغلل. د۱۹۹۶ ز کال د سپتمبر ۲۲ یا ۲۳ جلال آباد ښارد سپین غر هوټل په سالون کې د پاکستان د کورنیو چارو وزیر نصیرالله بابر، ملابورجان (طالبانو نامتوقومندان)، د آی اس آی څارګران، د پاکستان د پوځ نظامیان او ځینې نورو طالبانو دلته شتون درلود.*

*دوی د کابل په هکله خپل راتلونکي پلان باندې خبرې کولې. ملابورجان خپلو ملګرو ته خبرې کولې. بورجان وویل:*

*زموږ موخه د کابل په لوری تلل دي. زه خبرداریٔ درکوم چې موږ په کابل کې درې دندی لرو. د دولتي موسساتوساتل، د بهرنیو موسساتوساتل او د ډاکتر نجیب الله ساتنه او خوندی توپ دیٔ، هغه څوک چې اوس د ملګرو ملتونو په سیاسي دفتر کې پناه اخیستې ده.*

*په دې ترڅ کې د نصیرالله ویې ویل: د ملاصاحب (ملابورجان) د خبروسره هم غږیٔ یم خو د کمونست نجیب په هکله نه. هغه ډیر مسلمانان ووژل نو ولې باید طالبان د نجیب ساتنه وکړي؟ ملابورجان ورته وویل: بابرصاحب! دا مسله په موږ اړه لري نه په تاسو. که نجیب الله قاتل وي نو په افغانستان کې اوس محاکمې شتون لري هغوی به پریکړه کوي. نصیرالله بابر په قهر د سپین غر هوټل څخه ووت.*

دقیق دا هغه څه ؤ چې بیا څو کاله وروسته په یوټیوب او ځینو تولنیزو رسنیو کې د نه تأیید شوي راپور په توګه هم خپرې شوې.

په هرحال څو ورځې وروسته طالبان مخ په کابل وخوځېدل او دسروبي څخه تیر شول. ملابورجان کابل ته نژدې چې ویل کیږي د پلچرخی زندان ته لا نه ؤ رارسیدلي چې په مرموزه توګه د شا له خوا په سر وویشتل شو او ځای پرځای مړشو.

لکه څنګه چې ولیدل شول، کله چې طالبان کابل ته په نیمه شپه (د میزان په۶ نیټه د ۱۳۷۵= ۱۹۹۶-۹-۲۶) راننوتل ځینې مؤضف خلک مخامخ د ملګرو ملتونو دفتر ته ننوتل ډاکترنجیب الله او ورور یې دملګروملتونو دفتر څخه راوکښل او سهار وختي یې د دوی مړي د کابل ښار د آریانا په څلورلارې کې وځړول.

پوښتنه پیدا کیږي، طالبان چې تر دې دمخه هیڅکله هم کابل ته نه ؤ راغلي د لومړي ځل د پاره هغه هم په نیمه شپه کابل ته راننوتل، کابل ښار کې بلد نه ؤ، څنګه پوهیدل چې د ملګروملتونو دفتر چیرته دئ؟ مخامخ هغه دفتر ته ورځي. ورځ هم نه وه که د چا څخه یې پوښتنه کړې وي. بناٌ د آی اس آی جاسوسان چا ته چې په دقیقه توګه پته وه چې یاد دفتر چیرته موقعیت لري ورغلل. ډاکټرنجیب الله او ورور یې د ملګروملتونو د فتر څخه وکښل او بیا یې وژلي دي.

ظاهر طنین د خپل کتاب افغانستان در قرن بیستم په ۴۱۱ مخ کې لیکي چې د ډاکټرنجیب الله میرمنې (فتانه نجیب) ډاکټر نجیب الله سره د ورستي ځل د پاره په ۲۶-۹-۱۹۹۶ د مازدیګر په ۵:۳۰ دقیقې په تلیفون کې خبرې کړې وې.

هالندئ لیکونکې بیتي دم دښمن په لټه کتاب کې په ۱۶۵-۱۶۶مخ کې داسې لیکي:

*ملا بورجان د ملا محمد عمر ډېر پخوانئ او تکړه ملګرئ ؤ. ملابرجان شپږمیاشتې وړاندې له دې چې طالبان کابل فتح کړي، حاجي بشر(حاجی بشر ړومبئ در پیژندل شوئ) د کویټې د روغتون څخه قندهار ته پخپل موټر کې راوست. د وخت بی بی سي خبریال داود جنبش هم ورسره موټر کې ناست ؤ. په داسې حال کې چې حاجي بشر د ملامحمد عمر په هکله خبرې کولې، یوه ناڅاپه موزیک په جګ آواز چالان شو، حاجي بشر داود جنبش ته وویل چې ته خو د اروپا څخه راغلئ یې موزیک به درته روښانه کړم. په داسې حال کې چې موزیک منع ؤ. ملابورجان هم هیڅ ونه ویل، پښې یې په مخکې سیټ کې دسبورد باندې غزولې وې پروت ؤ. شپږمیاشتې وروسته طالبانو کابل فتح کړ. د کابل جلال آباد په لاره کې ملا بورجان وویشتل شو او ځای پرځای مړشو.*

*د ملاعمر د وخت د یو وزیر له خولې چې ملاعمر د کابل د فتح په خوښی نه پوهیده، ځکه د هغه ډیر نژدې ملګرئ وژل شوئ ؤ. ملا عمر درې ورځې د بورجان له غمه ډوډی ونه خوړه.*

*کله چې طالبانو کابل فتح کړ، د افغانستان د پخوانی ولسمشر نجیب الله د مرګ خبر په داسې حال کې ملا عمر ته ورکړ شو چې ملګرو سره ناست ؤ.*

*عبدالرحمن د قندهار څخه کابل کې د ترانسپورت وزیر په حیث ټاکل شوئ ؤ. عبدالرحمن وایي کله چې زه په قندهار کې د ملاعمر دفتر ته ورغلم، ناستو خلکو د محمد عمر په دفتر کې وویل چې د ډاکټرنجیب الله په وژلو کې د پاکستان د آی اس آی لاس دئ.*

*د افغانستان په چارو کې د پاکستان لاس وهنې د پاکستان بې اعتمادي ډیره کړه. ملا عمر د ملابورجان د مرګ غمجنتوب کې ؤ چې بل خبرد نجیب د وژلو ورته راغئ.*

*ملا عمر اوږد په ځای کې پروت ؤ ویل یې چې ما خو نه دي کړي* (زما له خوا خو ورته د وژلو امر نه ؤ شوئ) *نو چا کړي؟ (عبدالرحمن د خولې)*. داسې ښکاریده چې دلته د ملا عمر په دفتر کې څوک نه پوهیدل چې په کابل کې څه تیر شول. ملا عمر ویل دئ *(ډاکټر نجیب الله) د طالبانو مجاهدینو وژلئ که بل چا؟ څارنوالی ته به یې سپارلئ ؤ، هر ډول فیصله چې په کیده. په شرع کې جایز نه ده که څوک پرته محکمې څخه ووژني.*

د هغه وخت د طالبانو د بهرنیو چارو وزیر یوه اونی ورسته اعلان وکړ چې د ډاکټرنجیب د وژلو په هکله د دوې پلټنې پیل شوي. خو بیا چا څه وا نوریدل چې پلټنې څه پایله درلوده، البته دا پخپله په دې مانا ده چې طالبانو ډاکټرنجیب نه ؤ وژلئ.

د ملګرو ملتونو دسازمان پیره دار د خولې چې نجیب الله هیڅ د طالبانو څخه ډار نه درلو. د ځینو نورو خلکو د خولې چې ډاکټر نجیب الله د ملابورجان سره اړیکه ټینګه کړې وه. ملا بورجان ورته ویلې ؤ چې لږ ساعت ورسته کابل نیسو (کابل ته رسیږو) . [33]

رازق مامون په خپل کتاب (راز خوابیده) کې د غرزي خواخوږي له قوله لیکي:

*نجیب او دهغه ورور احمدزئ خادیست مو ارګ ته راوستل هلته مو ووژل. هلته کرنیل امام (سلطان صاحب)، بهلول صاحب او څو نور له موږ سره ؤ.*

رازق مامون چې په هغه وخت کې بی بی سي فارسي څانګي ته په پیینورکي کار کاؤ وایي:

*ما د نصیرالله بابر کورته تلیفون وکړ، ما وویل هلو! لکچې لور یې وه هغې سمدستی پلار ته ناري کړي چې کوم کابلئ دئ. بابر غوږی واخیسته او د ملاقات دپاره مو سره*

---

[33] راز خوابیده - لیکونکئ: رازق مأمون- د چاپ کال ۱۳۸۷ ل

*وخت وتاکه. کله چی په تاکلي وخت ورغلم، نو بابر صاحب راته ډېر زرنګ او سریع اللهجه ښکاره شو. ما د ډاکټرنجیب د وژلو په هکله تري پوښتنه وکړه.* هغه زما د نرمې او آرامی لهجې خبرو په ځواب کې راته وویل: *زویه اوس ډیر وختي دئ چې ددې دپاره ځواب درکړم.*

رزاق مامون وایی زه پوه شوم چې نصیرالله بابر د ډاکټرنجیب الله په وژنه کې پوره لاس ؤ.

**کومه نظریه چې د پاکستان د استخباراتو ( آی اس آی) مشر جنرال حمیدګل د افغانستان پخوانئ ولسمشر ډاکټرنجیب الله وژلئ دئ.**

**پاملرنه:**

**ویل کیږي چې مارک جیمز امریکایي ژورنالست یو کتاب لیکلئ په نامه د زیره طلا. دغه کتاب بیا نورآقا ولي زاده په دری ژبه ژباړلئ.**

**نو دغه لاندینی لیکنه د څپاند د فیسبوک پاڼې څخه کټ مټ کاپي را اخیستل شوئ. ما حتا ځینې املایي تیروتنې هم نه دي اصلاح کړي، یواځې هر چیرې چې انګلیسي الفبا راغلې وه، هغه انګلیسی الفبا د کرښې سر ته راوستل شوې، په راتلونکې کرښه کې جملې ته دوام ورکړ شوئ (دا زما د کمپیوتر تخنیکي ستونزه ده چې پرې نه پوهیږم).**

**د پاملرنې وړ خبره دا ده د رازق مامون په کتاب راز خوابیده کي د غرزي له قوله لیکل شوي چې :** *نجیب او دهغه ورور احمدزئ خادیست مو ارګ ته راوستل هلته مو ووژل. هلته کرنیل امام (سلطان صاحب)، بهلول صاحب او څو نور له موږ سره ؤ.*

نو که چیرې پورتنی خبره ریښتینې وي، بیا به نو د مارک جیمز لاندینی لیکنه هم واقعیت ولري.

په هر حال ما ډیره هڅه وکړه چې دغه کتاب لاس ته راوړم، خو په موندلو یې تر اوسه بریالئ شوئ نه یم.

د مارک جیمز امریکایي ژورنالست لیکنه Mark James

ترجمه: نورآقا ولی زاده

https://www.facebook.com/208195492582381/posts/149267146 7468104/

Sapand

29S tponovensmber17 2017d3

کتاب «طلایی زرد

Gloden Yellow»

فصل چهارم قسمت دوم:

نویسنده: مارک جمیز

Mark Jems

ژورنالیست امریکایی

ترجمه: نورآقا ولیزاده

Nooraga waliezada

**قتل داکتر نجیب الله رئیس جمهور افغانستان بدست جنرال حمید گل تاریخ 27 سپتامبر 1996 میلادی در کابل**

*تاریخچه سازمان اطلاعاتي پاکستان «ISI»*

*سازمان استخباراتي پاکستان*

*ISI*

*در سال 1948 میلادی توسط یک افسر ارتش بریتانیا بنام جنرال (رنات کوتومه)*

*General Renat Kotoma*

*و معاون لوی درستیز پاکستان تأسیس شد. مارشال ایوب خان رئیس جمهور پاکستان در دهه 1950 میلادی نقش*

*ISI*

را در حفظ منافع پاکستان، نظارت بر سیاستمداران مخالف و حفظ حکومت در پاکستان گسترش داد. جنگ در سال 1965 میلادی میان پاکستان و هندوستان زمانیکه آغاز شد یک فروپاشی کامل در کشمیر باعث بحران بزرگی در اطلاعات شد. آی اس آی پس از عملیات تمام آژانس های اطلاعاتي که عمدتاً به کاری های تحقیقاتي داخلی مانند انجام مکالمات تلفني و تعقیب مظنونین سیاسي اختصاص یافته بود. و مخالفان رژیم حاکم را پیگیري میکرد.

در سال 1958میلادی به فرمانده کل اردو اعمال قانون رزمي به تصویب رسید که تماما سازمان های اطلاعاتی تحت کنترل مستقیم رئیس جمهور و مدیر امور نظامي ارتش قرار گیرد و سه سازمان اطلاعاتی در رقابت برای انتخابات

[MI و ISI ]

رای نشان دادن وفاداری خود به ایوب خان و دولت او درگیر شدند. جنرال ضیالحق پس از باز نشستگی برنامه های مدیر عمومی آی اس آی جنرال گلام "جیلانی" خان را که ذالفقار  برای جنرال ضیالحق بطور فعال در انتخابات تبلیغ کرده بود حفظ نموده بود علی بوتو به طوری جدی ارتش را ترویج کرد و نیروری امنیتی فدرال را تاسیس کرد و توانایی های گسترده را برای مقابله با نفوذ ای اس ای به وجود اورد اما نیروی نظامی در سال 1977 میلادی که جنرال ضیالحق قدرت را بدست گرفت لغو شد ارتش با رژیم ذالفقار بوتو محبوبیت خاص نداشت و توسط ای اس ای سرنگون شد. سازمان ای اس ای بطور گسترده تحت رهبری جنرال حمید گل به موثریت کامل خود رسید به تهاجم ئواستراتژیک تبدیل کرد و ایالات متحده شوروی به افغانستان پاکستان را به کشور مهم ژ امریکا پاکستان را دولت خط مقدم علیه تجاوز شوروی اعلان کرد وپیشنهاد کمک های مالی و نظامی را به پاکستان صادر نمود . سازمان ای اس ای حمایت خود را از تنظیم های جهادی در افغانستان اغاز نمود رهبران تنظیم های هفت گانه جهادی را در این سازمان جذب نمود و به ایجاد پایگاه ها و کمپ ها در سراسر پاکستان کرد افراد تنظیم ها را اموزش نظامی نمود و نظارت را بالای تماما تنظیم های جهادی بعمل اورد که در طی سالهای 1997تا 1983 میلادی حدود 83000 نفر از مجاهدین افغان را در کمپ های خود اموزش نظامی داد و انها را دوباره برای جنگ تخریب مکاتب و پل ها به افغانستان فرستاد سازمان ای اس ای در حدود یکصد هزار از افراد خاص حزب اسلامی به رهبری گلبدین حکمتیار را برای عملییات های تروریستی در افغانستان توسط افسران تعلیم یافته بخش ای اس ای پرورش داد. وپس از حکومت مجاهدین در افغانستان ای اس ای همچنان به طور فعال در جنگ داخلی افغانستان شرکت نمود و از گروه طالبان در مقابل حکومت برهان الدین ربانی حمایت کرد. و این گرو را از شبکه القاعده که در خاک پاکستان موقعیت داشت در تشکیل جدید خود بنام گروه طالبان در افغانستان ایجاد کرد و توسط یک فرقه نظامی ارتش پاکستانی در داخل خاک افغانستان برعلیه حکومت اسلامی مجاهدین به جنگ اغاز نمود و نقاط زیادی از افغنانستان را در تصرف خود اورد تا اینکه قدرت را در افغانستان بدست اورد.

مارک جیمز چنبن بیان میادرد: ریس امور اسیا جنوبی در سازمان سی ای ای بنام

[ Das Feinly ]

درکتاب خود بنام

[ White Eagle]

در مورد سفر غیر قانونی جنرال حمید گل به همرای جند تن از جنرال های ارتش پاکستان بکابل تحریر داشته که سازمان ای اس ای در وجود رهبران تنظیمی و رهبران طالبان مانند افتاب جا گرفته موقع که انسان در حرکت است سایه اش در روی زمین افتاده و یکجا با شخص حرکت میکند. سازمان ای اس ای هم همینطور میباشد و کنترل تنظیم های جهادی و گروه طالبان به مانند سایه افتاب در وجود انها جای گرفته و یکجا با انها حرکت میکند. ما این مطلب را بخوبی میدانستیم که ای اس ای برای خود منتظر یک فرست خوب در افغانستان بوده چرا که از تنظیم های مجاهدین خواسته های زیاد را داشت یک تعداد خواسته خودرا توسط حزب اسلامی گلبدین براورده ساخت به همین دلیل است که طالبان را از پرسونل ملیشه های ارتش خود و شبکه القاعده تشکیل داد تا برای پاکستان هم خرما و هم ثواب حساب شود.

در بخش دیگری از کتاب خود در مورد سفر جنرال حمید گل و ملا محمد عمر چنین بیان میدارد

سپتامبر 1996 ] 26 ] جنرال حمید گل ریس سازمان ای اس ای ساعت شش شام میلادی توسط هلیکپتر نظامی از پشاور پاکستان به همرای نصرالله بابر و چند تن از جنرال های ارتش پاکستان هر یک افق بلال، عصمت الله گیلانی، منو نیر خان باجو، کلام الدین فیصل، و ملا محمد عمر رهبر گروه طالبان با دوازده تن دیگر از مقامات رهبری گروه طالبان وارد کابل گردیدند و در اولین فرست داکتر نجیب الله ریس جمهور قبلی افغانستان را که در دفتر سازمان ملل متحد پناه سیاسی برده بود به ساعت یازده شب به وقت کابل از دفتر ملل متحد خارج و به داخل ارگ ریاست جمهوری که به کنترل گروه طالبان قرار داشت اوردند. مارک جمیز پرده برداری از ویدیوی سه ساعته میکند که

DasFeinly

در کتاب خود از ان بیان داشته است. در این ویدیو که داکتر نجیب الله تا اخرین لحظات زندگی خود سخن میگوید دیده میشود.

موضوعات شامل این ویدیو ارتباط دارد به مسائل خط دیورند که مسله اساسی اختلافات بین پاکستان و افغانستان میاشد.

Das Feinly

در کتاب خود سخنان را در مورد قتل داکتر نجیب الله مطابق انچه در ویدیو مورخ -۰۹ ۲۶-۱۹۹۶

ساعت 35/11 دقیقه شب به وقت کابل ثبت گردیده است مینویسد . نکات مهم و مختصر در این ویدیو:

جنرال حمیدگل : از داکتر نجیب الله سوال میدارد من را میشناسید ؟

پاسخ داکتر نجیب الله : تو حمید گل مسول آی اس آی پاکستان هستید.

جنرال حمیدگل : میدانید که ما بخاطر چی صحبت خواهیم کرد ؟

پاسخ داکتر نجیب الله : میدانم که شما همان موضوعی را که چند سال قبل در مذکره با گلبدین از ما خواسته بودید.

جنرال حمیدگل : خوب حالا که شما مطلب را میدانید بیاید که کار را اغاز نمایم.
پاسخ داکتر نجیب الله : شما چی کاری را میخواهید شروع نماید ؟
جنرال حمید گل : ما شامل ترکیب یک هیئت با صلاحیت از طرف صدر اعظمی پاکستان نواز شریف به منظور امضا پرتوکول خط دیورند با شما داکتر نجیب الله و رهبر امارت اسلامی افغانستان ملا محمد عمر میخواهم این سند بیست دو ماده ای را امضا بدارید در این سند تذکر امده که خاک های شامل معایده دیورند مالکیت پاکستان بوده حکومت فعلی افغانستان انرا به رسمیت سناخته ومنحیث سند رسمی میان پاکستان و افغانستان مدار اعتبار است.
پاسخ داکتر نجیب الله : هیچگاه این پرتوکول به امضا نمی رسد تاریخ در صحفه خود به خط درشت درج دارد که خاک های شامل دیورند توسط انگلیسی ها جعل کاری شده و مدار اعتبار نیست شما پاکستانی ها در خاک تان تنظیم های جهادی هفتگانه را بنیاد گذاری کردید تا توسط انها منافع تان را در افغانستان بدست ارید زمانیکه ما قدرت را توسط ملل متحد به انها تسلیم دادیم چرا شما انزمان از ریس جمهور اسلامی صادر شده ای اس ای که شما ودیگر هم مسلک های شما این تنظیم های جهادی را وارد کشور ما ساختید امضا نکردید انها در پی منافع پاکستان بودند و هدف همین سارمان که شما در رس ان قرار دارید هم همین بوده شما گلبدین را دارید که از نو جوانی در خدمت شما بوده در افغنستان جنایات ضد بشری را انجام داده تا شما را خوش نگه دارد امریکا تا انچه در توان داشت در خدمت این افغان خاین قرار داد و رهبران دیگر تنظیم های جهادی که هر کدام در خاک شان جنایات ضد بشری را انجام داده اند مردم و خاک شان را برباد کردند تا جنرال های پنجابی از باداران شان امریکا و انگلیس میلیون ها دالر بدست ارد گلبدین بدستور شما پنجابی ها با من مذاکره کرد و اولین خاست وی در مذاکره با ما این بود که حاکمیت حزب دموکراتیک خلق افغانستان باید خط دبورند را به رسمیت بشناسد ولی پاسخ ما همان بود که توسط گلبدین به شما ارسال داشتیم.
جنرال حمید گل : حکومت پاکستان برای منافع خود به همرای رهبران تنظیم های جهادی هر یک صبغت الله مجددی ، گلبدین حکمتیار ، پیرسید احمد گیلانی برهان الدین ربانی ، رسول سیاف ، مولوی یونس خالص و مولوی محمد نبی به توافق رسیده اند و هر کدام از این رهبران خط دیورند را به رسمیت شناخته اند و انرا مالکیت پاکستان میدانند پس شما چرا اینرا قبول ندارید ؟
پاسخ داکتر نجیب الله : این رهبران تنظیمی را شما پاکستانی ها بوجود اوردید از سازمان شما معاش خور اند تماما مردم افغانستان این را بخوبی میدانند که اینها برای بیگانگان کار میکنند در فکر سرمایه و ثروت اند نه به فکر ملت شان انچه را که از شما دستور میگرد انجام میدهند اینها حتا یک بار هم وجدان شان را مورد قضاوت قرار نداده اند ما با اینها مصالحه ملی را اعلان کردیم تا در کشور ما قطع جنگ و برادر کشی خاتمه یابد ولی بر عکس شما پاکستانی ها انها را تشویق به جنگ کردید من حاضر شدم تا از قدرت کنار بروم از نماینده های خاص انها در افغانستان پیام های زیاد گرفتیم و گفتن که حاضر ند در مصالحه ملی که به نفع افغانستان است سهم بگیرند ولی بعدا جواب دادن که ما را پاکستان اجازه نمی دهد ما می جنگیم ما اسناد های ا نکار ناپزیر از صبغت الله مجددی ، پیرسیداحمد گیلانی ودیگران داریم همه میگویند که مقامات پاکستان اجازه نمی دهد و

معلوم دار است که شما برای مقاصد تان در افغانستان در ادامه جنگ و برادرکشی هستید نه به یک افغانستان واحد ومستقل.
مارک جمیز در مورد بیان های
DasFeinly
در کتابش بنام
White Eagle
اصافه می دارد:
در قسمت های بعدی این ویدیو بعد از سخنان دو طرف دیده میشود که ای اس ای با داکتر نجیب الله طوری دیگر رفتار مینماید و از انچه در پی ان بود نتیجه را بدست نیاورد الفاظ بد را بکار میبرد و دست های داکتر نجیب الله را به پشت اش بسته میکند و وی را شکنچه می کنند در این قسمت نصرالله بابر به داکتر نجیب الله خطاب میکند شما بودید که اردوی سرخ را به خاطر گرفتن پاکستان به افغانستان اوردید جواب داکتر نجیب الله در این قسمت به نصرالله بابر این بود که اگر اینطوری که تو فکر میکنی واقعیت داشت باید انچه را که شما فکر میکردید اتفاق میافت ولی حقیقت ان است که ما در فکر خاک های دیگران نبودیم ما در کشور خود باند های تروریستی را تربیه و ان را به دیگر کشور های همسایه صادر نمی کردیم سیاست ما مطابق به اصول برادری با همسایه ما بود در دوران حاکمیت حزب دموکراتیک خلق افغانستان هیچگاه ما به کشورهای همسایه تعرض نکردیم بلکه این همسیایه های ما بودند که به گونه های مختلف به افغانستان تجاوز کردند و این وضعیت فعلی در افغانستان دلیل وعلت ان تجاوز همسیایه های ما ایران و پاکستان است یکی تنظیم های هفتگانه را ودیگر تنظیم های هشتگانه را برای اهداف سیاسی شان بالای مردم افغانستان تمعیل داشته اند.
مارک جیمز در کتاب خود چنین بیان میدارد:
در همان دفتر که نجیب الله ریس جمهور ان وقت بود در ویدیو دیده میشود که حالا در ارتش Psc_147 کنترل ای اس ای میباشد و بنام گروه طالب و توسط غند کوماندو پاکستان انرا در تصرف خود در اورده است و هم به بسیار خوبی دیده میشود که افسران و سربازان این غند
Psc_147
کوماندو پاکستان با لباس های افغانی در داخل معوط ارگ ریاست جمهوری حضور کامل دارند و به لسان اردو صحبت میکنند بسیار خوشحال به نظر میرسند و هم شخصی با قیافه پنهان دیده میشود و بالسان اردو با حمید گل ،نصرالله بابر و با افراد امنیتی که در داخل ارگ و جای که داکتر نجیب الله موجود است صحبت میکنند برخورد این افراد مسلح با داکتر نجیب الله طوری است که گویا یک شخص متحم را میخواهند محکمه نمایند در ویدیو شنیده میشود که ارتباطات مخابروی به معقر ارتش پاکستان به اسلام اباد در جریان است در این ویدیو سخنان زیاد گفته و شنیده میشود.
مارک جیمز بیان میدارد:
حمیدگل دستور میدهد که شاپور احمد زی برادر داکتر نجیب الله را که در اطاق دیگری تحت نظارت قرار داشت بیاورد ساعت ویدو ۱۵/۲ دقیقه صبح مورخ ۲۷/۹/۱۹۹۶ میلادی را نشان میدهد ومعلوم میگردد که دستور قتل داکتر نجیب الله و برادر اش شاپور

احمد زی را حمید گل از نواز شریف دریافت نموده اند و در این ویدیو دیده میشود داکتر نجیب الله و شاپور احمد زی در دقایق مرگ و زندگی قرار دارند ابتدا ملا عمر که به چهره پنهان و به لسان پشتو قندهاری خطاب به داکتر نجیب الله میگوید در دفتر ملل متحد پنهاه برده بودی که به کشور کافر هندوستان بروی حالا جسد ات را هم کسی یافته نمی تواند و خلاصه حرف های زیاد گفته میشود با مشت و لگد هردو را میزند در همین لحظه حمیدگل نزدیک داکتر نجیب الله میشود که در دست اش تفنگچه دستی دیده میشود و به هر دو برادر خطاب میکند که هندوستان دشمن پاکستان میباشد شما میخواستید که به نزد دشمن ما بروید با ختم همین سخنان در ویدیو دیده میشود که داکتر نجیب الله با حمله سرخود ضربه محکمی به بینی حمیدگل وارد مینماید و خون از دماغ وی جاری میشود که توسط بادیگارد حمید گل در قسمت شکم داکتر نجیب الله فیر میشود و به زمین می افتد و حمید گل با تفنگچه دستی اش به سر داکتر نجیب الله چندین فیر میکند داکتر نجیب الله دیگر از این دنیا میرود و برادر اش را هم ضربه باران میکنند در ویدیو دیده میشود که داخل اطاق پر از گاز و باروت میباشد و افراد مسلح هر دو جسد را خارج و به بیرون انتفال میدهند . و درست ساعت ۵۳/۲ دقیقه صبح مورخ ۱۹۹۶/۲۷/۹ میلادی جنرال حمیدگل ،نصر الله بابر وزیر داخله و چند جنرال ارتش پاکستان توسط موتر های پیکپ ارتش پاکستان بنام گروه Psc_147 عازم میدان هوایی کابل که در کنترول غند کماندو طالبان قرار داشت گردیده و با دو چرخ بال هلیکپتر ارتش پاکستان عازم پشاور پاکستان گردیدند.

مارک جمیز اظافه میدارد:

قتل داکتر نجیب الله و برادر اش شاپور احمد زی قبلا در سازمان ای اس ای پاکستان دقیق پلان گردیده بود . هنوز گروه طالبان از پاکستان به طرف کابل حرکت ننموده بود که یکی از جمله قوماندان با نفوذ گروه طالبان بنام ملا بورجان که از ولایت قندهار میباشد یک روز قبل از حرکت افراد طالبان و غند کوماندو

Psc_147

ارتش پاکستان که بنام

طالبان امادگی بطرف کابل را داشتن این قوماندان طالب به بنام ملا بور جان اگاهی حاصل نموده بود که حمیدگل پلان دارد که توسط هوا به کابل میرود و پلان کشتن داکتر نجیب الله را دارد نیرو های طالبان دستور اخذ نمودن که صبح روز ۱۹۹۶/۲۶/۹ بطرف کابل حرکت دارند در همین روز ملا بور جان با افراد مورد اعتماد اش یکجا با دیگر نیرو ها حرکت مینماید و تلاش دارد که خود را به کابل زودتر برساند تا داکتر نجیب الله را که ای اس ای تصمیم کشتن وی را دارد از دفتر ملل متحد به جای امن انتقال دهد و موضوع را به داکتر نجیب الله تذکر دهد که سامان ای اس ای با یک غند کوماندو ارتش پاکستان به نام طالب داخل میشود وپلان قتل شما و برادر تان را دارد در سر قطار نیرو های طالبان همان غند کوماندو ارتش پاکستان میباشد واز ای اس ای دستور اخذ نموده بودند که به هیچ کس و یا وسایطی اجازه ندهید که اول به داخل کابل شود تنها ما اسم افرادی را به شما میدهیم که انها اجازه ورد به کابل را دارد البته یک قسمت اول این غند کوماندو ارتش پاکستان از دیگران اولتر به سروبی کابل خود را رسانیده بودند و جاده را مسدود ساخته و به هیچ وسایط اجازه حرکت به طرف کابل و

هچنان از طرف کابل به سمت جلال اباد را در اختیار خود داشتن و به احدی اجازه حرکت را نمی دادند و هویت اشخاص را جک میداشتن ساعت چهار عصر به وقت کابل است ملا بور جان از همه اولتر با ده وسایط پیکپ وسی نفر افراد مسلح خود به سروبی میرسد وسایط شان توسط نیرو های کوماندو توقف داده میشود و اجازه حرکت به سمت کابل برای شان داده نمی شود چون ای اس ای کشف کرده بود که ملا بور جان برای نجات نجیب الله میخواهد اول خود را بکابل برساند و برای نیرو های غند کوماندو ارتش پاکستان که کنترول کامل سروبی در در دست دارند دستور داده میشود که قوماندان طالب ملا بور جان و پرسونل مسلح وی را خلع سلاح نماید در صورت مقاومت انها را از بین ببرد و دستور اجرا میشود و از ملا بور جان خواسته میشود که سلاح های شان را به زمین بگذارند ولی ملا بور جان و افراد مسلح وی اجازه نمی دهند تا خلع سلاح شوند نبرد شروع میشود و ملا بور جان کشته میشود

مارک جیمز همچنان تذکر میدهد:

در سال ۲۰۰۷ میلادی یک تاجر وکلان قوم بنام حاجی عصمت الله خان از ولایت قندهار که در شهر کویته پاکستان زندگی مینمود از سازمان ای اس ای پاکستان خواسته بود که حاضر است تا ویدیوی را که در مورد قتل داکتر نجیب الله است به مبلغ ده میلیون دالر از این سازمان خریداری نماید سازمان ای اس ای به مجرد دریافت این پیام ا ز طرف تاجر حاجی عصمت الله دانست که اگر این معامله را با این تاجر افغانی نماید بانشر این ویدیو این تاجر پلان دارد تا اقوام پشتون دو طرف خط دیورند را به علیه حکومت مرکزی پاکستان تحریک میکند و ای اس ای در صدد پلان ترور این شخص گردیده و در همین سال ۲۰۰۷ وی را در شهر کویته پاکستان ترور و از بین برد.

## د طالبانو حکومتولي

خلک په پیل کې ډېر خوښ ؤ. غله، د لویولارو داړه ماران، غاصبین او زورواکي ورک شول. نژدې ټول هیواد کې ډاډمن امنیت تأمین شو.

طالبانو د کابل ولایت په ګډون ټولو نورو ولایتونو کې کوڅه په کوڅه ګرځیدل او جار یې واهه، که څوک سلاح په کور کې لرئ، رایې وړئ موږ ته یې تسلیم کړئ. یوائې امنیت ؤ. خو د دې ترڅنګ نور هیڅ شي په هیواد کې شتون نه درلود. هرڅه په ټپه ولاړ ؤ،

ښوونځي او پوهنتونونه تړلي ؤ، کوم نیم که خلاص ؤ نو زده کوونکي نه ورتلل. لېډه داچې تعلیمي موسسو ته څوک نه تلل. د نجونو ښوونځي په مطلق ډول تړلي ؤ.

ښځې پرته د محرم د باندې د کور څخه د تلو اجازه نه درلوده، که وتلئ په ډُرو وهل کیدلې، د کار کولو اجازه یې نه درلوده. سړیو باید ږیرې پرېښودلې وئ. که نه په دُوره وهل کیدل.

غل که په غلا نیول شوئ وئ، لاس یې پرې کیده. زناکاران سنګسار کیدل. د کابل حضوري چمن د پانسئ یا اعدام میدان ګرځیدلئ ؤ. بیکاري ډېره اوچته شوه.

بیتي دم دخپل کتاب ( دښمن په لټه ۲۳۷ مخ) لیکي:

ملا عمر هڅه کوله چې دکوکنارو کښت کم شي. او همداسي هم وشول. په کال ۲۰۰۰ ز د مخدره توکي تولید یو پر درې برابر لږ شو. چې وروسته حتا صفر ته راورسید. چې په نړیواله کچه یې ٪۳۴ کموالئ راغئ.

طالب وزیران چې کله کابل ته راغلل خپل دفترونه یې ولیدل، نو پخواني مامورینو ته ډېره عجیبه ښکاریده. هغوی د مجلس د کوټې میز او څوکئ لرې کړې او پوشتئ (تکیې) په کې کیښودې. اکثره وزیران به د شپې هم دفتر کې ویده کیدل. کوم یو که په کابل کې کور درلود نو پلئ (پیاده) به روان ؤ.

طالبان چې کابل ته راننوتل د سینما ګانو فلمونه ټول وکښل شول او وسوځیدل. د تلویزیون خپرونې ودریدې. تلویزیون لیدل منع ؤ. عکس اخیستل منع ؤ. د کورونو د پلټنې پرمحال که د چا په کور کې تلویزیون وموندل شو، برسیره په دُره وهلو، تلویزیون به یې هم ماتیده. د کورنو پر سر د تلویزیون لیدلو تبئ (دیش آنتن) نه لیدل کیدل. د کابل ښار او د ولایاتو په ځینو سیمو کې د مات شویو تلویزیونو ډومبیرئ یا غونډئ جوړې

وې، خو چا جرئت نه درلود چې ګوتې وروړي. دا يې په پوهاوي (آګاهانه) ټول کړي ؤ چې خلک يې وګوري او د خپلو کورنو څخه تلويزيونه ورک کړي.

د بهر او کورنيو تلويزيونو خبرياالانو اجازه نه درلوده چې فلمبرداري وکړي. يواځې غږ ثبتول يې اجازه درلودل، نه څيره ښودنه (مرکه کول او يا راپور جوړول).

د طالبانو په دغه حکومتولۍ کې يواځني شي چې شتون درلود هغه ډاډمن امنيت ؤ او بس. د طالبانو داسې يو نظام ؤ چې تا به فکر کاؤ، دوه سوه کاله دمخه به هم په افغانستان کې همداسې ژوند ؤ. د طالبانو له لوري عامه خدمات قطعاً نه وړاندې کيدل. نه يواځې د ښځو حقوقو ته درناوي شتون نه درلود، بلکې انساني کرامت او انساني حقوق هم د پښو لاندې شول.

په لنډه کې ويلئ شو چې دا يوه مطلقه د تورتم دوره وه. کټ مټ بنديخانه وه. حتا بنديخانه کې دولت مجبور وي چې بنديانو ته درې وخته خواړه ورکړي. خو په دې بنديخانه کې ډيرئ خلکو ته يو وخت خواړه هم نه ميسر کيدل.

دغه کړني سبب شوې چې ډير ژر د طالبانو د رژيم او ملت تر منځ لکه د دې څخه دمخه رژيم ستر واټن رامنځ ته کړي. نه يواځې ښځې په تنګ شوې بلکې، سړي هم سخت په تنګ راغلل.

د طالبانو د پورتنيو کړنو په بنسټ او امريکا ته د اسامه بن لادن د نه تسليمولو په خاطر، د طالبانو اسلامي امارت د ملګرو ملتونو، امريکا، اروپا، ځينې نورو هيوادونو او د نړيوالو بين المللي ټولنو له لوري د کلک فشار لاندې ؤ.

د يادولو ده چې په ډير کم بدلون سره اوس هم طالبان هماغسې خپل پخوانئ سياست مخته بيايې. دا به وخت څرګنده کړي چې څه بدلونونه پکې راغلي او که نه، خو انتظار اړين دئ.

## اسامه بن لادن څوک ؤ؟

34

اسامه د محمدبن لادن زوی، چې ویل کیږی په کال ۱۹۵۵ ز کال د عربستان پلازمینه ریاض کې زیږیدلئ. خو اسامه خپله په یوه مصاحبه کې چې په ۱۹۹۸ ز کې ورسره شوې وه وویل چې په ۱۰-۳-۱۹۵۷ ز کې زیږیدلئ.

د اسامه پلار یو د عربستان د میلیادرانو څخه ؤ. د بن لادن کورنۍ ودانولو (ساختماني) شرکت درلود چې پانګه یې نژدی ۵ میلیارده دالره وه.

داسامه بن لادن پلار محمد بن لادن په ۱۹۳۱ ز په یمن کې له یوې خورا شډلي او بیوزلي درې (دره) څخه جدې ته کډه شو.

دغه د ښه استعداد خاوند بن لادن د ودانولو یو شرکت (ساختماني شرکت) پرانیست او د ۱۹۳۰-۱۹۴۰ ز کلونو منځ کې څو پروژې یو په بل پسې سرته ورسولې. نوموړې کورنه، دفترونه او هوټلونه جوړکړل او په دې ترڅ کې یې د سعودي عربستان د ټولواکۍ کورنۍ سره پیژندګلوي پیداشوه.

بن لادن (د اسامه پلار) د ګڼشمیر نجونو سره واده وکړ چې پایله یې اټکل پنځوس اولادونه ؤ، تر هغه پورې ***چې ۱۹۵۷ کې یې له یوې ځوانې سوریایي ښځې اوه لسم زوی اسامه وزیږید.*** د بن لادن شرکت د ملک فیصل د نیابت او ټولواکۍ په دوره کې د عربستان تر ټولو مخکښ شرکت شو.

د شهزاده ترکي الفیصل (د سعودی عربستان د استخباراتو مشر) پلار او بن لادن سره دوستان، تجارتي اندیوالان او سیاسي متحدین شول. په کال ۱۹۶۷ ز د فیصل د پادشاهۍ دریم کال کې بن لادن د الوتکې د راغورځیدو له کبله مړ شو. فیصل د بن لادن د ودانولو شرکت د کار د ادامې له پاره یوه اداره جوړه کړه چې د عملیاتو څارنه وکړې. فیصل غوښتل چې دا خبره باورې کړي چې ددی شرکت ثبات ترهغه پورې تضمین کړي ترڅو اسامه د یو میریز ورور سالم په مشرۍ د بن لادن مشران زامن د شرکت د چلولو جوګه شي.

د بن لادن زامنو په بریتانیا او امریکا کې پوهنتونونه ولوستل. سالم د یوې انګریزي ارستوکراتې سره واده وکړ. اسامه په کال ۱۹۷۶-۱۹۶۸ د الصدر مدرسه کې شامل شو.

---

34

((د پیریانو جګړې - لیکونکئ: سټیوکول- ژباړه: غلام محمد زرموال - د چاپ کال ۱۳۸۷ ل)) GHOST WARS (STEVE COLL)

اسامه په خپله خوښه په جده کې د ملک عبدالعزیز په پوهنتون کې شامل شو او د اقتصاد عمومي اداره کې یې دیپلوم واخیست.

اسامه د فوتبال او شعر ویلو سره مینه درلوده. د دې پوهنتون ښوونکي د مصر او اردن اسلامپال پروفیسوران ؤ، چې ځینې یې د اخوان المسلمین غړي او یا د هغه سازمان د دعوت د پټې شبکې غړي ؤ. د اسامه یو ښوونکئ هم عبدالله عزام ؤ چې د فلسطینې سازمان حماس روهاني بنسټ اینښودونکئ ؤ. د اسامه بن لادن بل ښوونکئ محمد قطب ؤ چې د یو مصري رادیکال سید قطب ورور ؤ چې په کال ۱۹۶۶ کې اعدام شوئ ؤ.

اسامه بن لادن په کال ۱۹۷۶ کې کله چې دئ اولس کلن ؤ د نجوا نومې نجلۍ سره په سوریه کې واده وکړ. لادن څلور ځلې نور هم واده کړئ چې نژدې د شلو زیاد زامن لري.

## اسامه بن لادی څنګه د افغانستان پولې او د افغانستان خاورې ته را دننه شو

35

په افغانستان کې د شورويانو پر ضد جګړه کې پر افغاني جهاديانو برسيره ډېر شيمر عرب جنګيالي له افغانانو سره سم جنګيدل. وروسته بيا د رباني په حکومتولی کې دوی ته پناه ورکړل شوه، حتا ځينو ته يې افغاني تابعت هم ورکړ.

کله چې طالبان واک ته ورسيدل او نژدې د افغانستان ۹۵ سلنه خاوره يې په خپلې ولکې کې راوستله، نو د اسامه بن لادن په ګډون ډېر شمير عربان لا پخوا په افغانستان کې شتون درلود.

36

د دې د پاره چې وکولای شو يو څه بهتر د اسامه بن لادن په هکله پوه شو، ښه به وي چې يو څه شاته لاړ شو او په هر اړخيز ډول معلومت تر لاسه کړو.

لکه څنګه چې په تيرڅپرکي کې وويل شو ځيني تش په نامه جهادي رهبران پرافغانستان د شوروی يرغل څخه دمخه پاکستان ته تښتيدلي ؤ او ځيني هم وروسته وتښتيدل.

پر افغانستان د شوروی يرغل څخه وروسته امريکا، سعودي عربستان او ځينو نورو هيوادونو په ميليارډونو ډالره پاکستان ته استول چې افغاني اوه ګوني جهادي تنظيمو باندې يې ووېشي او په اصطلاح دغه جهاديان د افغانستان شته نظام پر وړاندې وجنګوي. همداراز په پاکستان کې کډوال شويو افغانانو ته بهترد ژوندانه شرايط برابر کړي.

ويل کيږي چې نيمايي د دغو مرستو پاکستان خپل ځانته اخيستي دي، او نور نيمايي يې دغو جهادي تنظيمونو او د کډوالو د ژوندانه شرايطو سمولو د پاره لګولي دي.

---

35

نن آسيا له https://www.nunn.asia/85665/جنگ-امریکا-در-افغانستان-۲۰۱۶-۲۰۰۱/ سايت څخه اخيستل شوئ

36

((د پيريانو جګړې -ليکونکئ: ستيوکُول- ژباړه:غلام محمد زرموال- د چاپ کال ۱۳۸۷ ل )
GHOST WARS (STEVE COLL)

کله چې شوروری په افغانستان یرغل وکړ نو د پاکستان استخباراتو وکولئ شول چې په ډیره چټکۍ د سعودي عربستان مرسته خپله کړي.

د پاکستان د استخباراتو (آی اس آی) مشر جنرال اخترد شوروی د یرغل وروسته په څو اونیو کې سعودي ته راغئ او د سعودی عربستان د استخباراتو مشر ترکي الفیصل او احمدبادیب (د استخباراتو لوی درستیز) سره یې کتنه وکړه.

جنرال اختر د پاکستان د استخباراتو (آی اس آی) مشر د سعودي عربستان ټولواکو ته د ولسمشر ضیاالحق له خولې پیغام راوړئ ؤ هغه داچې که د شوروی د یرغل مخه ونه نیول شي نو سعودی عربستان به هم پخپله له خطر سره مخامخ شي. د عربستان د استخباراتومشر ترکي الفیصل، احمد بادیب (څوک چې په ښوونځي کې د اسامه بن لادن ښوونکئ ؤ. اوس د عربستان د ټولواکۍ د څارګریو لوی درستیز ؤ) د نغدو ډالرو سره پاکستان ته واستاؤ. د سعودی عربستان د استخباراتو اداره د نورو مرستندویه ادارو سره یوځای حتا د سی آی اې څخه هم زیاته د آی اس آی سخاوتمنده حامی شمیرل کیده.

جنرال اختر د آی اس آی مشر، احمد بادیب په راولپینډۍ کې له جمهور ریس ضیاالحق سره یوځای یوې غونډې ته بوت. بادیب اعلان وکړ چې سعودي عربستان پریکړه کړې چې آی اس آی ته نغد ډالر وسپاري ترڅود پاکستان استخبارات وکولای شي د چین څخه په نورو وسلو سربیره دقیق ویشتونکي توغندی وپیري. سعودی عربستان د خپلې ټولواکۍ د امنیت د خوندي ساتلوله پاره د پاکستان پوځونه اجیرکړي ؤ.

احمدبادیب اسلام آباد او پیښور ته خپل پرله پسې سفرونه پیل کړل چې ورسره به دلرګیو بکسونه له ډالرو ډک ؤ. ترکي الفیصل په کال ۱۹۸۰ ز جولای میاشت کې د سی آی ای سره رسمي تړون وکړچې افغان جهادیانو ته هغومره مالي مرستې ورکړي چې د امریکا کانګرس یې ورکول غواړي.

هرکال سعودی عربستان ددی پیسو یوه برخه په واشنګټن کې خپل سفارت ته استولې، په واشنګټن کې د سعودی سفیر شهزاده بندربیا هغه پیسې په سویس کې هغو بانکونوته استولې چې د سي آی اې په واک کې ؤ. سې آی ای له دغو حسابونو څخه د هغو وسلوپه پیرلو کې ګټه پورته کوله چې په نړیوال بازار کې یې پیرل.

د کرنیل محمد یوسف (امام) چې د ۱۹۸۰ کلونو په نیمایي کې یې څلورکاله د آی اس آی د افغان څانګي مشرؤ وایې ترکي الفیصل که څه هم شخصیت یې د ارستوکراتیک چاپیریال پر بنسټ ولاړ ؤ. د عربو ټولو هغوشهزادګانو په پرتله چې ما ورسره لیده کاته کړي ؤ یو متواضع او پوست شهزاده ؤ.

احمد بادیب په هغه ښوونځي کې ښوونکئ ؤ، کوم کې چې اسامه بن لادن زده کوونکئ ؤ. دوی دواړه (احمد بادیب او اسامه بن لادن) سره یوځه ملګري شوي ؤ.

اسامه بن لادن د افغانستان د پولې هغه خوا (د پاکستان په خاوره) کې نظامي کمپونو سره مرسته کوله. دا هغه کمپ ؤ چې سی آی اې د آی اس آی په مرسته هلته جوړ کړئ ؤ.

د احمد بادیب په وینا اسامه بن لادن پاکستان ته د خپل لومړي سفر پر مهال د جنرال ضیاالحق سیاسي ضربتي ځواک جماعت اسلامي ته په لاهور کې بسپنه ورکړه. دا جماعت په پاکستان کې د اخوان المسلمین څانګه وه چې محصلانو یې په ۱۹۷۹ کې د امریکا سفارت چور کړ. د ضیاالحق په هڅو سعودي عربستان مرستندویه ټولنو د افغانستان پولې ته نژدې لسګونه مدرسې جوړې کړې.

احمد بادیب په افغان پوله باندې د یوې مدرسې د جوړولوله پاره خپله شخصي مرسته هم کړې وه. هغه (بادیب) ویلې ؤ چې په دې مدرسه کې به قران یادول **نه**، بلکې <u>دعملي مسلکونو مهارتونه ښوول کیږي</u>. اسامه بن لادن د سي آی اې د نظره پټ د سعودي استخباراتو دعملیاتو په دایره کې فعالیت کاؤ.

د یادونې وړ ده چې د پیریانو جګړې په ۴۲۷-۴۲۸مخ کې داسې راغلي: کله چې ۱۹۹۵ ز په لومړیو کې احمد بادیب د لومړي ځل د پاره طالبانو ته قندهار ته په الوتکه کې راغئ، نو ځینو ځوانو طالبانو (طالب مشرانو) ورڅخه پوښتنه وکړه چې موږ دې په یاد یو؟ احمد بادیب وویل نه. موږ خو ستا په ښوونځي کې زده کړې کړې وې. د احمد بادیب پر وینا په همدې لیدنه کې ملا محمد عمر بادیب ته وویل چې لومړئ وسلې دوی ته د پاکستان د کورنیوچارو وزارت له خوا رسیدلي وې.

اسامه بن لادن ډیر بلدوزرونه او نور د ودانولو وسایل او توکي د افغانستان پولې ته نژدې په کارواچول. زیاتره په میرامشاه سیمه کې په کار اچول شوي ؤ. د آی اس آی څارګرې ادارې د افغان څانګې مشر ډګروال محمد یوسف (کرنیل امام) وایي چې اساساً عربي پیسې وې چې ددې پروژو جوړول یې ژغورل.

بن لادن د پکتیا ولایت د ځاځیو په سیمه کې د عربو ځانګړئ کمپ جوړ کړ. هغه د روزنې دپاره لومړنی آسانتیاوې برابرې کړې، هلته به ځوان عرب جهادیانو روزنیز کمپ ؤ چې دټوپکو، بمونو او نورو چاودیدونکو توکو په کارولو یې لارې چارې زده کولې.

د شوروي قواؤ په کال ۱۹۸۷ د اپریل په ۱۷ د اسامه پر دغه روزنیز کمپ د بم غورځونکو الوتکو له لوري برید وشو چې وروسته یې دوه سوه روسي عسکر پلي شول. دا جګړه یوه اونۍ اوږده شوه چې په پایله کې ډیر عرب مړه او ۱۲ تنه د اسامه لنډ ملګري

هم ووژل شول. خپله اسامه هم په پښه زخمي شو. د ځاځيو په سيمه کې ددې جنګ وروسته اسامه بن لادن د عربوجهاديانو او نورو په منځ کې د يو تکړه جنګيالي په توګه وځليد.

اسامه خپله کورنۍ هغه وخت پيښورته راوستله کله چې ميلتين بيير ډن په کال ۱۹۸۶ کې په اسلام آباد کې د سي آی اې د اډې د مشر په توګه وګمارل شو. بن لادن په پيښور کې په يونورسټۍ ټاون کې په يو کرايي کور کې استوګن شو. د هغې ښې اړيکې د سياف او ګلبدين سره وې.

رضاکار عرب ډاکټر ايمن الظواهري د مصر د يوې شتمنې کورنۍ غړۍ دۍ چې په کال ۱۹۸۰ په لومړيو کې په هغه پلان او فعاليتونو کې چې د انورالسادات د وژلوسبب وګرځيده بندی شو او دبند څخه د خوشيکدلو وروسته د اسلامپالې ټولنې له لياري پيښور ته راغۍ. نوموړۍ د کويټ له خوا جوړشوي الهلال روغتون کې رضاکار ډاکټر وګمارل شو. چې بيا وروسته الظواهري هم پيښور ته راغۍ او د اسامه بن لادن سره يوځای شو.

37

واشنګټن پوست د قوله چې د امريکا د کانګرس د څيړنې کميټې دا څرګنده کړه چې اسامه بن لادن د نويمو کلونو په پيل کې د اسلامي سخت دريځو خوځښتونو مالي مرستندوی ؤ.

په کال ۲۰۰۹-۱-۱۵ د الجزيرې د تلويزيو څخه د اثامه بن لادن غږيز پيغام خپور شو. په دې پيغام کې اوريدونکو ته د اسرايلو په ضد مبارزې ته خلک راوبلل. د فلسطين د غزې تړانګې په سر اسرايلو سره جهاد ته خلک رابلل.

<u>اسامه بن لادن د امريکا دولت ته په لاندينيو ترهګريزو بريدنو تورن ؤ:</u>

په کال ۱۹۹۳ کې د توين تاور د موټرونو په ګراچ کې يو ستر لاری کې د چاوديدونکي توکي ځای پرځای کړي ؤ او چاودنه ورکړ شوه چې له امله يې لومړني ۷ پوړه سخت زيانمن شو، شپږ کسان په کې ووژل شول او نژدې زر تنه زخميان ؤ. په دی اړوند اسامه بن لادن تورن شو.

همدارنګه په ۱۹۹۵ کې په عربستان کې د ملي ګارد په چاودنه کې ۷ تنو ووژل شو چې له هغو څخه ۵ تنه امريکايان ؤ. په دې اړوندهم اسامه بن لادن تورن شو.

---

37

د دښمن په لټه کتاب (بيټی دم ليکنه د ۲۰۶ مخ څخه پيل کيږي)

په ۱۹۹۶ د عربستان په خوبر برج کې د ارماکو د تیلو د کمپنۍ دفتر کې چاودنه وشوه چې ۱۹ تنه امریکایان پکې ووژل شول. په دې تړاو هم اسامه بن لادن تورن شو (بیا وروسته دا نظریه رد شوه). ځینو سرچینو وویل چې د ایران دولت په چاودنه کې لاس درلود. په دې ټولو چاودنو کې اسامه تورن ؤ، خو هیڅ دولت یا سازمان کوم اسناد نه درلودل چې دا چاودنې به د اسامه له لورې شوي وي. په دې وخت کې اسامه بن لادن په سودان کې استوګن ؤ.

ددې ټولو چاودنو څخه وروسته امریکا او سعودي عربستان د سودان دولت څخه وغوښتل چې اسامه بن لادن دوی ته وسپاري. د سودان ځواب دا ؤ چې موږ ته اسناد، شواهد او مدارک را څرګند کړئ چې اسامه په کې لاس درلود.

څرنګه چې یا به اسناد شتون نه درلود او یا هم امریکایانو نه غوښتل چې خپل استخباراتي اسناد چیرته ښکاره کړي، ځکه خو سودان د دوی غوښتنه رد کړه. سودان د امریکا د پرله پسې غوښتنو پر بنسټ د بن لادن شتمني په سودان اوسعودي عربستان کې ټوله کنګل کړه، (د اسامه د زوی عمر له خولې).

په ۱۹۹۸-۸-۷ د تانزنیا پلازمینه دارالسلام او کینیا پلازمینه نایروبي کې د امریکا پر سفارت دوه غبرګ ځانمرګي بریدونه وشول چې نژدې ۲۲۰ تنه په کې ووژل شول.

وروستۍ ۲۰۰۱-۹-۱۱ په امریکا کې د نیویارک په سوداګریز مرکز باندې ترهګریز برید ؤ چې اټکل درې زره خلک په کې ووژل شول.

لنډه داچې اسامه په نړۍ کې بل داسې ملک پیدا نه کړ چې ځان په کې پټ کړي نو په ۱۹۹۶ کې په الوتکه کې د جلال آباد په هوایي ډګر کې را کښته شو.

د اسامه بن لادن مشر زوی عمر چې په کال ۱۹۹۶ کې د پنځلس کلو ؤ، هغه (عمر) د بیتي دم هالندۍ لیکوالې اوژورنالستې سره په یوه مصاحبه کې چې د قطر په دوحه کې ورسره شوې وه وویل : *کله چې موږ د جلال آباد په هوایي ډګر کې کښته شو، د ګلبدین حکمتیار د ډلې چا راته ښه راغلاست ووایه، خو دهغه ولایت والي دا څرګنده کړه چې اسامه نه شي کولئ چې د جلال آباد سیمې کې پاتې شي، موږ بلاخره په توره بوره کې استوګن شوؤ.*

یادونې وړ ده چې توره بوره د ننګرهار ولایت اړوند سرحدي سیمه ده چې جهادیانو د شوروی پرووړاندې دغې سیمې څخه استفاده کوله، چې بیا د اسامه په راتلو سره دې سیمې ته څوک لنډ نه شو ورتلای، دلته یواځې عربان استوګن ؤ.

د پیریانو جګړې په ۴۹۵--۴۹۶ او ۵۹۶-۵۹۷ مخ کې داسې راغلي:

*کوم وخت چې طالبانو کابل کړ فتح د سعودی عربستان د استخباراتو ریس شهزاده تُرکي الفیصل په وینا چې طالبانو سعودی عربستان ته یو پیغام واستاؤ چې اسامه بن لادن له موږ سره دئ، تاسو یې غواړئ چې درویې سپارو؟ او یا دا چې موږ یې دلته وساتو؟ موږ هغه ته پناه ورکړې ده. سعودیانو یو پسرلئ د مخه په سوډان کې د اسامه بن لادن د نیولو له ممکن چانس څخه سر غړولئ ؤ. شاهي کورنی لا هم په دې معتقده وه چې ښه به وي چې اسامه بن لادن، د دې پرځای چې په سعودي عربستان کې تر څار لاندې یا بندي وي ښه ده چې په افغانستان کې ورک وي.*

د ۱۹۹۶ کال په اوړي کې اسامه بن لادن قندهار ته راغئ، ډیره لنډه موده وروسته په پاکستان کې د سعودي عربستان سفیر عبدالعزیز المتبقاني ملا عمر ته (قندهار) راغئ او ورته وویل چې موږ د اسامه بن لادن په لټه کې یو، هغه د سعودی عربستان او امریکا له لوري په ډیرو ترهګریزو پیښو کې تورن دئ. موږته دې وسپارل شي. ملا عمر ورته وویل چې که څه ثبوت شتون ولري او شواهد وي نو موږ ته یې راښکاره کړئ موږ به یې سمدستي دروسپارو، که نه نو څنګه کیدای شي موږ خپل میلمه تاسو ته دروسپارو. څرنګه چې ثبوت او شواهد امریکا نه غوښتل چې د استخباراتي ملاحظاتو پر بنسټ اسناد طالبانو ته ښکاره کړي نو سفیربیرته ولاړ.

له دې وروسته د افغانستان په پوله ډیرئ نظامي روزنېز کمپونه وتړل شول یا له منځه ولاړل (د امریکا او سعودی په غوښتنه او د آی اس آی په اجراتوسره).

په کال ۱۹۹۶ عبدالباری عطوان عربي تحلیل ګر او د رای الیوم د ورځپاڼې مدیر اسامه سره مصاحبه کړې وه، هغه وویل چې په دې لټه کې دئ چې څنګه یمن ته د پلار د زیږدې وطن ته ولاړشي. په دې وخت کې اسامه په ډار کې شو چې کومې خواته ولاړشي او چیرته ځان پټ کړي. په همدې کال کې ملا خاکسار (د هغه وخت د طالبانو د مشرتابه څخه ؤ) د ملا رباني په کور کې اسامه بن لادن سره ولیدل او ورته یې وویل چې اوس یې وخت رارسیدلئ چې د دې هیواد څخه ووځې. *په هغه څه چې زما ګمان نه راځي چې ملا خاکسار دې دا خبره اسامه ته کړې وي.*

په هر حال څه موده وروسته اسامه قندهار ته د تلو تکل وکړ. ړومبئ کابل ته راغئ او د ملا رباني د سترګو لاندې ؤ، او ورپسې قندهار ته راورسید. په یوه زړه او ویجاړه عسکري قشله کې استوګن شو.

بتی دم هالندئ لیکواله دغه ځای لیدلئ ؤ، وایي: *چې یوه کوټه کې چې دروازه یې هم نه درلوده پرده ورته اچول شوې وه، ما یوه کوچنۍ آینه او د غاښونو برس په یوه تاقچه کې ولید. دا د اسامه استوګنې ځای ؤ.*

لنډه داچې اسامه د ملا محمد عمر سره ولیدل. ملا عمر ورته وویل چې د امریکا او سعودی په وړاندې پروپاګنډي جهاد ودروه. دا چې امریکایانو او نورو غربي نړئ دا څرګندوني کولې چې ملا عمر او اسامه ډیر ټینګ ملګري دي، د اسامه زوی (عمر) وایي: *چې ملا عمر هیڅ نبې اړیکې زما دپلار سره نه لرلې، خو له دی سره جوخت یې دا هم نه غوښتل چې د هیواد څخه یې وباسي.*

څرنګه چې ډیر داسې اوریدل کیدل چې ملامحمد عمر او اسامه بن لادن سره ساندوګان (باجه ګان) دي. په بله وینا ملاعمر او اسامه دوه خویندې ځانونو ته په نکاح کړي دي. په دې اړه بیتی دم دهالندئ لیکوالې په حواله چې ملا عمر او اسامه سره ساندوګان (باجه ګان) **نه** ؤ. د ملا عمر څلورواړه میرمني د ***ده راهود*** د سیمي وې، په داسې حال کې چې د اسامه د څومیرمنو څخه یوه میرمن هم افغانه نه وه.

ملا عمر اسامه ته ویلي ؤ: *چې نور به خبریالانو سره مصاحبه نه کوې، امریکا، عربستان او نورې نړی ته به اختارونه نه ورکوې.*

د ۱۹۹۸ کال د مئ په میاشت کې اسامه د خوست په پوله د خالدن نظامي کمپ ته ولاړ. دا هغه کمپ ؤ چې د عربو د مجاهدینو نظامي زدکړو دپاره ودان کړئ ؤ. په دې کمپ کې اسامه وینا وکړه او امریکا ته یې اختار په کې ورکړ.

د دې غونډې په تړاو په پاکستان کې د بی بی سی خبریال رحیم الله یوسفزی سره هالندئ لیکوالې بیتی دم ته ویلي ؤ چې:

*ملا عمر ډیر سخت په غضه شو، راته یې وویل چې زه دلته مشر یم که دئ (اسامه)؟ ماته دې غوږ شي. پخپل سر د خوست پولې ته تللئ.* د یوسفزي د خولې چې اسامه د ملا عمر په واک کې نه ؤ. ویې ویل زه خپله ورسره غږیږم. بیا برسیره پر غږیدو یې لیک هم ور استولئ ؤ.

په ۱۹۹۸-۸-۷ د تانزنیا پلازمینه دارالسلام او کینیا پلازمینه نایروبي کې د امریکا په سفارت دوه غبرګ ځانمرګي بریدونه وشول چې نژدې ۲۲۰ تنه په کې ووژل شول. نژدې ۴۰۰۰ زخمیان شول.

یوه اونی وروسته اف بي آی د امریکا پولیسو ته څرګنده شوه چې د اسامه بن لادن پکې لاس ؤ. یو تن د تورنو کسانو ژوندئ نیول شوئ ؤ، کوم چې په همدی عربي کمپ (خالدن د خوست ولایت په پوله کوم کې چې اسامه میډیا ته څرګند شوئ ؤ) نظامي زدکړې لیدلې وې.

ډیر ژر د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې میدلینه البرایت په ټینګه د طالبانو وغوښتل چې، که طالبان غواړي موږ یې په رسمیت وپيژنونو اسامه دې امریکا ته وسپاري.

د ۱۹۹۸-۸-۱۹ په شپه امریکا شپیته توغندي د خوست خوا او شا سیمو کې نظامي کمپونه باندې وتوغول او ډیرئ ویجاړ شول، په دې راکټي بریدونو کې یوویشت تنه مړه شول چې جلال الدین حقاني هم په کې شامل ؤ. همداشان بمونه هم پرې ګوزار شول، خو اسامه ځنې بچ شو، ځکه دئ (اسامه) دوه ساعته دمخه له دې ځایه تللئ ؤ.

په ماسکو کې د بی بی سی خبریال داود جنبش په هماغه شپه ملا محمدعمر ته تلیفون وکړ، *هغه ویده ؤ. ورته یې وویل چې خبریې د راکټونو او بم غورځوني څخه؟ دئ لا خبر نه ؤ. ملا عمر وویل امریکایان غواړي موږ له منځه یوسي. زه پوره باورمن یم چې په وروستیو تروریستي پیښو کې اسامه لاس نشته. دا اصلاً زموږ د پاره لاره جوړونه ده او اسامه یواځې بهانه نیول دي. په امریکا باور کول نه دي پکار.*

په اسامه بن لادن د تورونو په تړاو امریکا د عدلیي وزارت ځینې قضایي او عدلي دلایل وړاندې کول چې د هغو په اساس امریکا نشي کولای هغه اسناد او شواهد طالبانو ته ښکاره کړي چې بن لادن په تروریستي پیښو کې لاس درلود.

د امریکا دولت نه غوښتل چې معلومات طالبانو ته ورکړي (په طالبانو یې باور نه ؤ، طالبان به دغه معلومات بیرته بن لادن ته ورکړي).

د خوست د راکټي بریدونو څخه نژدې یومیاشت کم یا زیاد وروسته د سعودي عربستان د استخباراتو ریس او د پاکستان د آی اس آی ریس ملا عمر ته راغلل. دواړو ترې وغوښتل چې اسامه بن لادن سعودي عربستان ته وسپاري. ملا عمر څه ونه ویل خو (د یو تن د شاهد له خولې) د کوټې څخه ووت (خپله غضه یې سړه کړه)، لږه شیبه وروسته راغئ او وویې ویل هیڅکله به هم اسامه په لاس ورنه کړو.

د دې مجلس څخه ورسته د سعودي عربستان دیپلوماتیکې اړیکې د طالبانوسره وشلیدې، حتا حاجیانو ته هم د تلو ویزه ورنکړل شوه.

د ۱۹۹۸ کال د نوفمبر په میاشت کې د عربستان د کورنیوچارو وزیر په ډاګه وویل چې په کال ۱۹۹۶ کې د خوبر برج (په عربستان کې) په خونړۍ چاودنه کې د اسامه بن لادن لاس **نه** ؤ.

د ۱۹۹۹ کال په اوړي کې اسامه قندهار ته راغئ. تر دې ګړۍ بن لادن ملا عمر نه ؤ لیدلئ. د اسامه بن لادن زوی (عمر) د خولې خبره چې:

*ملا عمر زما د پلار څخه هم لوړ (جګ) ؤ. ملا عمر زما پلارته میلمستیا کړې وه. ملا عمر زما د پلارڅخه لرې کښیناست او چندانې ډوډۍ یې ونه خوړه. زما پلار پوه شو چې زه باید د افغانستان څخه ووځم. ملا عمر زما پلارته وویل چې د بین المللي ټولنې په موږ ډېر فشارونه دي، که څه هم په شرعي لحاظ موږ نشو کولای چې تاسې هغوی ته پلاس ورکړو، ځکه دوی هیڅ کوم سند ستا په مورد کې نه دئ وړاندې کړئ. موږ هیله کوؤ چې تاسې په خپله خوښه ووځی. اسامه ورته وویل چې چیرې لاړشم، ځواب د ملاعمر صرف دا ؤ چې اوس یې وخت رارسیدلئ چې په خپله خوښه ولاړ شی. اسامه ورته وویل چې په سودان کې پنځه کاله پاتې شوم، افغانستان کې خو مې یواځې درېنیم کاله کیږي. ملا عمر ودرید او ولاړ، پرته له دې چې د اسامه سره مخه ښه وکړي.*

د ۱۹۹۹ کال په سیپتمبر کې د ملګروملتونو دسازمان په ډاګه کړه چې پر طالبانو رژیم به هر ډول بندیزونه ولګول شي.

په ۱۹۹۹-۱۰-۱۵ د طالبانو په ریژیم د بندیزونو اعلان وشو او یومیاشت طالبانو ته وخت ورکړ شو، که چیرې طالبان اسامه بن لادن دریم ګړي هیواد (مطلب یې سعودي عربستان ؤ) ته ونه سپاري چې له هغه  وروسته بیا امریکا ته ولیږدول شي، نو بندیزونه به پیل شي. برسیره پردې امریکا د اسامه بن لادن په سر د یومیلیون ډالرو جایزه کیښوده.

طالبانو دا وړاندیز وکړ چې موږ چمتو یو اسامه بن لادن دریم مسلمان هیواد کې په اسلامي محکمه کې د اسلامي متخصصیونو په شتون کې په دې شرط سره محاکمه شي چې امریکا هم خپل شواهد او اسناد په دې تړاو وړاندې کړي. امریکا دا ونه منله.

د نوفمبر ۱۹۹۹ کې په افغانستان بندیزونه پیل شول، حتا د افغانستان ملکي الوتکو اجازه نه درلوده چې دافغانستان څخه ووځي.

د اکتوبر په ۲۰۰۰ کال کی د سعودي عربستان جنوب ته د عدن خلیج کې په یوې امریکایي بیړۍ **(یو اس اس)** باندې ترهګریز برید وشو چې دو تنو یمني بریدګرو یوې کوچنۍ بیړۍ کې ځان مرګي برید وکړ چې په ترڅ کې امریکایي بیړۍ زیانمنه شوه او د

دې بيرۍ ۱۶ تنه امله (امريکايان) په کې ووژل شول. د امريکايانو له لوري په دې بريد کې بيا اسامه بن لادن تورن شو.

د هالندۍ ليکوالي ژورنالستي بيتی دم له قوله چې د پاکستان د کورنيو چارو وزير (حيدري) سره يې مصاحبه کړې وه ليکي چې *۷ ساعته د سي آی اې مامورينو سره ناست ؤ او د کاغذونو له مخې وښودل شوه چې د دارالسلام، نايروبي او د ګولف په بريډونو کې عربانو چې د القاعده غړي ؤ لاس درلود.*

د وروستي ځل د پاره په پسرلي د ۲۰۰۱ کال ملا عمر د اسامه بن لادن په هکله د امريکايانو څخه وغوښتل چې د قطر په دوحه کې دې اسلامي محکمې ته د اسامه په تړاو شواهد وړاندې کړي خو بيا هم امريکايانو رد ځواب ورکړ.

بلاخره اسامه بن لادن د پاکستان په ابيټ آباد کې په يو کرايي کور کې ځان پټ کړئ ؤ. د سي آی اې له خوا د ۲۰۱۰ څخه دغه کور د څار لاندې ؤ. تر څو چې په ۲۰۱۱-۵-۱ د شپې له خوا د امريکا د ځانګړو ځواکونو له لورې په همدې کور کې ووژل شو.

## اقتصادي برخه

د افغانستان ټولې سترې او وړې فابريکې چې د ډاکټرنجيب الله په حکومتولۍ کې فعالې وې، او زرګونه کارګران په کې په کار بوخت ؤ، دجهاديانو په راتګ سره ټـه چور او تالا شوې، ځينې يې د کورنيو جګړو له کبله ويجاړې شوې. خو يو ټـه آبادې هم پاتې وې.

کومې چې آبادې وې د هغوی فعاليتونه هم بند ؤ. په بله وينا هيڅ کومې توليد کوونکې منبعې شتون نه درلود، ځکه اقتصاد هم په ټپه ولاړ ؤ.

بيتي دم د خپل کتاب ( دښمن په لټه) په ۲۳۰مخ ليکي:

د امريکا د تيلو کمپنۍ (يونيکال) استازي کابل ته راغلل چې د ګازو پيپ لين د منځنۍ آسيا څخه بيا تر هند پورې ورسوي. امريکايان راغلل او هغه سيمې يې وليدې چې پيپ لين ورڅخه بايد تيرشي، (کوم چې اغلباً اوس د ټاپي پروژه ده) خو دغه کمپنۍ د امريکا د ښځو د تحريک د فشار لاندې وه، دا ځکه چې طالبانو د ښځو حقونو ته درناوئ نه درلود.

د امريکايي د تيلو کمپنۍ (يونيکال)

38

کريس تاګرت د امريکا ديونيکال تيلو کمپنۍ مسؤل د طالبانو واکمني چې نژدې په ټول افغانستان باندې واکمن ؤ جشن ونيوه او د امريکا د ولسمشر(بيل کلينتون) څخه يې غوښتل چې د طالبانو حکومت په رسميت وپيژني، خو داسخته وه چې د امريکا کانګرس او کابينه دې د طالبانو فشارونه په پام کې ونه نيسي او د طالبانو دولت په رسميت وپيژني. دا سمه وه چې په افغانستان کې دايمن امنيت شتون درلود، خود دې ترڅنګ د افغانستان ټول وګړي (ښځينه او نارينه) د طالبانو د رژيم څخه په تنګ راغلي ؤ، په بله وينا د طالبانو رژيم مشروعيت نه درلود. کولئ شو ووايو چې صرف د يو تورتم دوره وه او بس.

په هرحال طالبان دې ته ډير خوښ ؤ چې دغه پروژه بريالۍ شي. ځکه دا يواځنۍ او ترټولو ستره پروژه وه چې په زرګونو افغانانو ته يکې د کار زمينه موندل کيدله. د دې

38 http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=164014
د شبکه اطلاع رساني افغانستان (افغان پيپر) له سايت څخه اخيستل شوئ

ترخنګ به د امریکا دولت د طالبانو رژیم په رسمیت پیژندلئ وئ. خو د یولسم د سپټمبر ۲۰۰۱ ترهګریزې پیښې سره نه یواځې د دې پروژې بنسټیزې هڅې او کړنې له منځه ولاړې، بلکې ورسره د طالبانو رژیم هم دړې وړې شو. ځکه خو ویلای شو چې د طالبانو د هغه وخت په واکمنۍ کې هیڅ اقتصادي پرمختګ نه دئ شوئ.

## کورنۍ او بهرنۍ سیاست

ځرګنده ده، په کورني ساست کې د ډیرو اړینو شرطونو څخه یوهم د ملت مشروعیت لاس ته راوړل دي، کوم چې د طالبانو په رژیم کې شتون نه درلود. نه اساسي قانون شتون درلود، نه د قانون پلي کول. هرڅه د پاکستان په لاس کې ؤ. ځکه خو ځرګنده خبره ده چې کورني سیاست هم شتون نه درلود. هرڅه په دودیزه توګه سرته رسیدل.

بناءً ویلۍ شو چې طالبانو نه یواځې د کورني سیاست، بلکې د بهرني سیاست بنسټیز او اړین شرایط نه پیژندل، نه درلودل او نه یې واک درلود. طالبانو نه بین المللي قوانین پیژندل او نه هم چا مراعت کول.

بیتي دم پخپل کتاب د دښمن په لټه ۱۹۲-۱۹۵ مخ کې لیکي: کله چې طالبانو کابل فتح کړ، ملا عمر هیله من ؤ چې امریکا به دوی (طالبان) نه هیروي. د طالبانو په هکله د بلین کلنتن د ولسمشرۍ د وخت د بهرنیو چارو وزارت ځرګندونې چې طالبانو نژدې ۹۵٪ د افغانستان په خاورې واک درلود مثبتې ارزولې. خو د دوی حکومت یې په رسمیت نه پیژانده.

په اسلام آباد کې د امریکا سفیر وویل چې امریکا د افغانستان سره زړنډه تاریخچه لري. موږ به دوی ته د کابل د نوي واکدارانو په سترګه ګورو. امریکایي دیپلوماتانو داسې هیله مندې ښودله چې تاسي ژر خپل استازۍ واشنګتن ته ور وپیژنی. امریکا په نظر کې لري چې خپل سفارت هم په کابل کې پرانیزي.

امریکا(*کتمټ لکه د اوس په شان*) طالبانو ته وویل د نجونو او هلکانو ښوونځي او پوهنتونونه د ې پرانیزې. نورو ملیتونو ته دې هم په حکومت کې ونډه ورکړۍ شي، دا مهمه نه ده چې تاجک، ازبک که هزاره وي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند په یوه خبری کنفرانس کې ځرګنده کړه چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ملګروملتونو سازمان ته په ډاکه کړې چې دطالبانو په هکله د بین المللي ټولني د شک سربیره باید دوی د یومنل شوي قشر د تحریک په څیر ځان وښیي چې په واک کې پاتي کیدای شي. د ملګرو ملتونو په سازمان کې لا هم د رباني حکومت استازي شتون درلود. د طالبانو حکومت یواځې پاکستان، سعودي عربستان اومتحده عربي ایالاتو په رسمیت وپیژند.

همداشان د امریکا د وخت بهرنیو چارو وزیرې میدلینه البرایت په واروار وویل چې موږ به د طالبانو سره هیڅکله اړیکې ونه غواړو مګر داچې دوی (طالبان) د ښځو حقوقو ته درناوئ ولري او ښځې د فشار لاندې نه وي.

د یادولو وړ ده چې د ملګرو ملتونو د سازمان د غړیتوب د قوانینو څخه یوه مهمه ماده د ښځوحقوقو ته درناوئ دئ، کوم چې د ملګروملتونو د سازمان په آند طالبانو نه دئ مراعت کړئ.

د دې دپاره چې طالبان د ملګروملتونود سازمان غړیتوب ترلاسه کړي، د طالبانو دولت په تل سعودي عربستان بیلګه نیوله چې سعودي عربستان د ملګروملتونو د سازمان غړیتوب د هغه وخت راهیسې ترلاسه کړئ کله چې په ۱۹۴۵ دا سازمان تشکیل شو. په سعودي عربستان کې شرعي نظام حکومفرما دئ. ښځې پټ مخ دي. ښځې او سړي بیل دي. او دې ته ورته نور قوانین کوم چې طالبانو په افغانستان کې هم پلي کول.

لنډه داچې په کال ۱۹۹۶ کې جرمنئ نوربیرت هول د پاکستان او افغانستان دپاره د ملګروملتونودسازمان استازئ کابل ته راغئ او د طالبانو سره یې ولیدل. د لیدنې څخه وروسته هغه څرګنده کړه چې د دې امکان شته چې طالبان د ملګروملتونو د سازمان غړیتوب ترلاسه کړي. په دې شرط چې ځینو قوانینو کې یو څه بدلون راولي.

پایله دا شوه چې عبدالحکیم مجاهد د طالبانو د حکومت استازولي وکړي. له دې سره جوخت بیا برهال الدین ربانی هم (چې پنځه سلنه خاوره یې هم په واک کې نه وه) خپل استازئ د ملګروملتونو سازمان ته ورمعرفي کړ. په دې وخت کې ملګروملتونو د رباني استازئ ومانه. په دې سره ملا عمر سخت غصه شو. پدې سره طالبانوته د ملګروملتونو سازمان خپل ناپیل توب کم اعتباره کړ. کله چې بیا نوربیرت هول غوښتل ملاعمر په قندهار کې وګوري، دغه غوښتنه یې رد شوه.

له دې وروسته بیا محمود مستري د ملاعمر سره په قندهار کې ولیدل. ملا محمد عمر ورته خپله غوښتنه چې طالبان باید خپل استازئ په ملګروملتونو کې ولري وړاندې کړه، خو محمود مستري ورته وویل چې په کال ۱۹۹۵ کې تاسې ولې روسې الوتکه کښته کړه او اوس هم د قندهار په هوایي ډګر کې ولاړه ده. ددې په اوریدو سره ملا عمر په غصه شو، ورته یې وویل چې مجاهدینو د روسانو سره جګړې وکړې او همدغو روسانو د رباني دولت ته پټ سلاح او مهمات په الوتکو کې راوړي او ورکوي یې، ځکه یې د الوتکې پیلوټان (امله) د طالبانو سره بندیان دي. محمود مستري څو عکسونه راوکښل چې ښځې ژاړي، دوی د همدغو پیلوټانو ښځې دي . مستري ملا عمر ته وویل دغه ښځې غواړي چې ستاسو سره دغه بندیان شوي پیلوټان آزاده شي. ملا عمر ورته وویل چې د شوروی او مجاهدینو ترمنځ جګړه کې یولک افغانان غواړي چې پوه شي د دوی عزیزان

مړه دي که ژوندي؟ که مړه دي چيرته خښ شوي. له هغوی څخه هم کورنی پاتې شوي د هغوی پوښتنه ولې نه کوئ؟

په هر حال څه موده وروسته دغه بنديان سره د الوتکې وتښتيدل. ( زما په آند دوی له بنده خوشې شول. ډيره عجيبه ده چې هم بندي وتښتي او الوتکه هم له ځانه سره په هوا کړي او ماسکو کې کښته شول).

د يو چا د خولې خبره ده چې ماته يې په کابل کې کړې وه، د ملا عمر څخه چا پوښتنه وکړه چې دغه الوتکه څنګه د روسي پيلوټانو سره بيرته والوته، ملا عمر ځواب ورکړ، له ما څخه بيا دا پوښتنه مه کوئ.

په کال ۱۹۹۷ کې بيا طالبانو د ملګروملتونو د عمومي امنيت شورا غونډې ته ليک واستاؤ چې د دوی حکومت بايد په رسميت وپيژني. که څه هم د طالبانو سياسي پرستيژ ډير راټيټ شوئ ؤ، خو بيا هم طالبانو خپل غوښتنليک د ملګروملتونو سازمان ته وليږه چې دوی په رسميت وپيژني.

د طالبانو غوښتنه د ملګروملتونو له خوا بيا رد شوه او د رباني د دولت استازولې د يو بل کال د پاره نوره هم وغزيده. خو د دې ترڅنګ عبدالحکيم مجاهد او سهيل شاهين (دواړه په انګليسي ژبه خبرې کولئ شي) دواړه نيويارک ته ولاړل اود ملګروملتونود سازمان د دفتر څخه يوڅو کيلومتره وړاندې يې اپارتمان کرايه کړل، هڅه يې کوله چې په ملګروملتونو کې استازولي ومومي.

(زما ښه په ياد دي چې د ملګروملتونو په سازمان کې عبدالحکيم مجاهد د طالبانو د افغانستان د اسلامی امارت په استازيتوب د ځينو راډيو ګانو سره خبرې کولې. په داسې حال کې چې رسماً د رباني حکومت استازئ درلود.)

د ملګرو ملتونو سازمان هم زما په آند يواځې بهانې کولې، کچيرې عبدالحکيم مجاهد په ملګرو ملتونو کې د طالبانو استازولي **نه** کوله، نو څنګه امريکا هغوی ته ويزه ورکوله؟

اصلاً خو د امريکايانو د ملت له لوري په هغوی فشار ؤ چې ترڅو اسامه امريکايانو ته د طالبانو له لوري نه وي ورسپارل شوئ، دوی (د ملګروملتونو سازمان) دې هم طالبان په رسميت نه پيژني.

نړيوالې ټولنې د طالبانو څخه غوښتل چې د ښځو حقوقو ته درناوئ ولري. د نجونو ښوونځي پرانيزي، ښځو ته د کار اجازه ورکړي، ټول ګډونه حکومت جوړ کړي او داسې نور مسايل ؤ.

د یادولو وړه ده چې دا هغه مسایل ؤ، کوم چې اوس هم په لږ بدلون سره شتون لري.
اوس هم نړیواله ټولنه د افغانستان د اسلامي امارت څخه تقریبا همدغه غوښتنې لري، ځکه خو تراوسه هیڅ هیواد په رسمیت نه دي پیژندلي.

**د جنرال مالک له لوري د طالبانو غولونه او د مزار شریف فتح کول**

طالبانو د عبدالرشید دوستم پلوي جنرال مالک سره خبرې وکړې. د مالک په واسطه طالبان وتوانیدل چې ۱۹۹۷ کال د مئ میاشت په آخره کې مزارشریف هم فتح کړي. په بدل کې مالک به د طالبانو له خوا د مزار خپلواکئ والي وي. پس له دوه ورځې وروسته مالک بیرته د طالبانو سره په جګړه شو. په دې جګړه کې ډیر طالبان ووژل شول. د ښار په کوڅو کې د طالبانو ډیرمړي پراته ؤ.

جنرال مالک بیرته د دوستم خوا ته اوښتئ ؤ. البته چې دا یوه سیاسې دسیسه وه چې د دوستم له خوا طرحه شوې وه او طالبان وغولول شول.

په دې برسیره کله چې امریکا په افغانستان یرغل وکړ، په مزارشریف، میمنه او نورو شمالي ولایتونوکې دوستم طالبان په ژوندیني خښ کړل. زموږ خپلوان چې هغه وخت کې په مزارشریف کې ژوند کاؤ، دوی لیدلي ؤ چې ډیر زیاد شمیر طالبان ووژل شول.
طالبان په دې حتا نه پوهیدل چې مخ په جنوب (تاشقرغان، سمنګان) خواته کومه لار تللې ده. دښاریانو څخه یې ځینو پوښتنه کوله، چې کومه د وتلو لار ده؟ هغوی به غلطه لار ورښودله کومه کوڅه به چې ختمیدله، هغه به یې وروښوده. کوڅه به بنده شوه اود شا لوري به دوستم ډله وریپسې راورسیدل د مخې به یې ووژل. د ښار په کوڅو کې دومره مړي پراته ؤ چې عامو وګړو به خپلو کورونو ته تلل نو په مړو به هم ختلي وي، دا ځکه چې د ښار په کوڅو کې دومره د طالبانو مړي پراته ؤ.

**د طالبانو سقوط او د ملا محمد عمر مړ کيدل**

د بيتی دم  د دښمن په لټه کتاب چې ۲۵۳ مخ څخه پيل کيږي داسې ليکل شوي:

په ۲۰۰۱-۱۰-۶ د شپې نه نيمې بجې، شين آسمان ؤ او ستورې ښايسته ځليدل چې امريکايي بې پيلوټه ( ۳۰۳۴ ډول) الوتکه  ډيره لوړه د ملا محمد د دفتر په سر په هوا کې ولاړه وه، خو بمونه يې پرې ګزار نه کړل، چې ډير ملکي وګړي به پکې مړه شي. خو پوره په حوصلې سره ورته تم شول، تر څو چې درې لند کروزر موټرونه راووتل او مسلح خلک پکې سپاره شول.

د امريکا ولسمشر جورج بوش، د سي اي اي مشر، د دفاع وزير او ځينو نور دغه فلم د سي اي اې په دفتر کې ليده. امريکايان پوه شول چې د دغو موټرونه څخه په يو کې هرومرو ملامحمد عمر ښته. په دې وخت کې بيا يو جنرال موافقه **نه** ؤ چې بم پرې ګزار کړي ځکه موټرونه ژر د ښار ګڼه ګوڼې کوڅې ته ننوتل او د ملکي خلکو وژلو امکان په کې ډير ؤ. لنډه دا چې يوې لارۍ باندې بم (هيل فاير راکت) وويشت. سي آی اې کې دا هيله ښودل کيدله چې د همدې ويرې سره به بيا درې لند کروزرې يا د ملا عمر موټر ژر راووځي او وبه تښتي، کله چې راووځي بيا به خپل کار ختم کړو. څرنګه چې د دې راکت يا بم سره ډيرې دوړې او ګرد شو، نو سي آی اې ونشو کولای چې پوه شي د ملاعمر موټر راووت او که نه، دغه کړنه د اوس د پاره پاتې شوه.

په ۷ د اکتوبر ۲۰۰۱ م کال د امريکا له لوري هوايي حملې پيل شوې. يوه ورځ وروسته دامريکا ولسمشر بوش اعلان وکړ چې د کابل، قندهار هوايي ډګرونه او ځينې د طالبانو مهم دفترونه وويشتل شول. دغه توغندي د امريکايی بيړو څخه وويشتل شول. همدارنګه د پاکستان په پوله ختيځه پرته غرنۍ سيمه کې هم بمونه ګوزار شول چې ويل کيدل هلته القاعده او نور عربو شتون درلود.

لکه څنګه چې ملګرو ملتونو دسازمان منشور د دې سازمان دغړو له خوا تصويب شوئ دئ، په دې مانا ده چې امريکا هم تصويت کړئ. په منشور کې راغلي دي چې د ملګروملتونو د سازمان ټول غړي خپلې کړنې د سوليزو موخو پر بنسټ مطرح کړي. د دې سازمان ټول غړي بايد پرته د خپل دفاع څخه د يو بل پر وړاندې نظامي ځواک څخه کار وانخلي.

د امريکا د متحده ايالاتو په اساسي قانون کې هم دا راغلي دي چې د ملګروملتونو د سازمان منشور هوکړې د امريکا اساسي قانون تصويب کړي دي.

د ملګروملتونودامنيت شورا امريکا ته پر افغانستان د يرغل اجازه نه وه ورکړې. امريکا پر افغانستان د يرغل په هکله اعلان وکړ چې پر موږ د کوم بل هيواد له لوري يرغل نه دئ شوئ، بلکې په ۱۱ د سپتمبر د ۲۰۰۱ م کال د يوې يا څو ترهګرو ډلو له لوري

تروریستي یرغل ؤ. مونږ خپله دفاع کؤ او زمونږ دفاع د ملګروملتونو د سازمان منشور د ۵۱ مادې سره په ټکر کې **نه** ده. په دې ډول امریکا خپل دغې یرغل ته مشروعیت وربښه.

دا په داسې حال کې وه چې د هغه وخت د طالبانو اسلامي امارت او ځینو هیوادونو پر افغانستان د امریکا یرغل د ملګروملتونو د سازمان د منشور د۵۱ مادې سره په ټکر او غیر قانوني وباله.

په هر حال سي آی اې د شمالي ټلوالي سره اړیکه ونیوله. له دې جملې څخه په شمال کې عبدالرشید دوستم سره، د هغه په مرسته یې خپل ځینې خلک په شمال د افغانستان کې کښته کړل. په لویدیځ کې د اسمایل خان او په سهیل یا جنوب کې د ګل آغا شیرزي سره هم اړیکه ونیول شوه.

امریکایانو په بکسونو کې ډالر راوړي ؤ او دغه جنګسالاران یې په پیسو واخیستل، او ورته یې وویل ورځی خپل خلک ووژنی. یوه میاشت وروسته امریکایانو سم خپله کوماندو قطعه او د سي آی اې مامورین په مزار شریف کې کښته کړل.

د عبدالرشید دوستم لښکر ځینې په ټانکونو سپاره، ځینې پر آسونو او پلې د مزار په ښار د امریکایانو سره سم راننوتل، جنګ ډیره موده دوام ونه کړ خو ډیر ژر په سلګونو طالبانو ووژل شول.

په دې ترڅ کې د پاکستان دیني مدرسو څخه هم د پاکستاني طالبانو لښکرې د افغانستان شمال خواته راوخوځیدې.

که څه هم سي آی اې پاکستان ته وویل چې پاکستاني طالبان پرې نږدي چې افغانستان ته راننوځي، خو دپاکستان د ملا صوفي محمد په لمسون ډیر پاکستاني طالبان د امریکایانو پروړاندې دجهاد په نامه راغل. ځینې جهادیان تسلیم شول، خو ډیرئ په کې مړشول. طالبان ډیرئ د یوه ښوونځي په ودانۍ کې ځانونه پټ کړل، امریکایانو دغه ښوونځئ بمباردمان کړ، له هغه څخه چې ځینې ژوندي راوتل د دوستم لښکرې ورته په مخکې وي ټول یې وویشتل او ویې وژل.

په همدې اونۍ کې په هرات کې هم جګړه وشوه، ویل کیږي چې د اسماییل خان سره د ایران پوځ هم مرسته کوله. هلته هم طالبان ووژل شول او ښار د اسمایل خان له خوا ونیول شو. یوه ورځ وروسته په ۲۰۰۱-۱۱-۱۴ باندې په کابل حمله وشوه راکتونه او بمونه پر طالبانو ګوزار شول، طالبان مخ په جنوب قندهار ته په منډو شول.

د کابل څخه د طالبانو په وتلوسره ډیر ژر د قسیم فهیم ډله په کابل راننوتل.

په دې وخت کې شمال د افغانستان، پرته د قُندز څخه شمالي ټلوالي نیولئ ؤ. په قندز کې زرګونه طالبان یوځای شوي ؤ. د دوستم لښکرې مخ په قندز راغلې، لړه نښته وشوه ، خو په دې لړه نښته کې ډیر طالبان ووژل شول ځکه چې دوی د امریکایانو او دوستم د

لښکرو له خوا محاصره ؤ، محاصره پرې تنګه کيده او طالبان وژل کيدل، دلته هم ډير بهرني طالبان او افغاني طالبان ووژل شول، يولس ورځې جګړه اوږده شوه.

د تيښتې لار نه وه. پرويزمشرف د امريکايانو سره په اړيکه کې شو چې پاکستاني جنګيالي ترې دوی راباسي ځکه چې په خپل وطن کې ورته بيا بله ستونزه پيدا کيږي. د پاکستاني طالبانو دپاره د جنرال پرويزمشرف له خوا الوتکه راوليږل شوه او هم د ځمکې له لارې پاکستان ته يووړل شول، خو ټول عرب جنګيالي ووژل شول.

لنډه داچې د شمال جګړه په ۲۳ د نوفمبر پايله ومونده. دوستم د سلګونو طالبانو لاسونه وتړل او يوځايې يې ووژل. د قلعه جنګي په جګړه کې ايسار شوي طالبانو يوڅه مقابله وکړه له پورته څخه امريکايانو پرې بمونه واچول بيا په سلوګونه طالبان په وحشيانه ډول ووژل شول. په زرګونو نيول شوي طالبان د شبرغان بندي خانې ته ليږدول کيدل. بنديان يې په کانترنونو کې واچول او پس له هغه يې پرې په سڅيلو ماشيندارو سره ضربې وکړې، خندل به يې چې موږ ورته کانتنر سورئ کوؤ چې هوا ورداخله شي. په داسې حال کې چې هغوی يې وژل.

قندهار هم ډير سخت بمباردمان شو، ښار ټول وران ويجاړ شو. لکه څنګه شمالي ټلوالې د امريکايانو په مټو بيا کابل ونيو، دغسې ګل آغا شيرزئ هم د طالبانو په واکمنۍ کې د پاکستان په کويټه کې استوګن ؤ، د سي آی اې په مرسته او ملاتړ قندهار ته راننوت. د امريکايانو له خوا هغه ته پوره واک ورکړ شوئ ؤ. که څوک يې د لارې خنډ ګرځي نو بايد له منځه يووړل شي. د دسمبر مياشت په پيل کې په سلګونو مړي افغاني طالبان، پاکستاني طالبان اوعرب جنګيالي پاکستان (د چمن له لياری) ته وليږدول شول. حتا ځينې د طالبانو پلاوي چې د ګل آغا شيرزی سره يې غوښتل خبرې وکړي، پرته د خبرو کولو ووژل شول.

په هرات کې اسماعيل خان د امريکايانو او د ايران د سپاه پاسداران قُدس له خوا ورسره مرسته وشوه، هرات هم پس له لږې جګړې څخه سقوط وکړ.

په دې مانا چې طالبان د شمال او لويديز لورې څخه د شمالي ټلوالې په ځمکني پوځ او د سي آي اې ځانګړو ځواکونه په مرسته سقوط وکړ. همدارنګه د جنوب (قندهار) له لورې هم د ګل آغا شيرزي ځمکني پوځ او د سي آی اې ځانګړي ځواکونو له خوا د امريکايانو په مرسته سقوط وموند.

(ارزګان نظامي سفر يا تلل - د ارګ په لور د حامد کرزي لار - ليکونکي: بيتي دم -چاپ کال ــ ۲۰۰۹ ز)

بيتي دم پخپل پورته ياد شوي کتاب کې ليکې چې په دې ترڅ کې حامد کرزي په ارزګان کې خلک په ځان راټولول.

دیادولو وړده چې ډېره لږه موده ورسته له دي چې حامد کرزئ د ارزګان څخه قندهار ته راغئ، پرته له دې چې ملا محمد عمر خبر شي ځینو طالب مشرانو لکه ملا عبیدالله، ملا عبدالسلام ضعیف او ملاجلال د حامد کرزي سره لیدلي ؤ. حامد کرزي ورته ویلي ؤ چې وخت د دې رارسیدلئ چې خپلې وسلې په ځمکه کېږدی او خپلو کورونو ته ولاړشی تاسو ته څوک څه نه وایي. ملا ضعیف وپوښتل چې ملا محمد عمر ته هم څه نه ویل کیږي، کرزي وویل هو هغه هم کولای شي سلاح کیږدي او خپل کورته ولاړشي.

ملا محمد عمر چې په دې وخت کې په قندهار کې چیرته په کومي سمتي تاکاوي (د ځمکې لاندې کوټه) ځان پټ کړئ ؤ. یو پلاوئ د طالب مشرانو څخه ملا محمد عمر ته راغل. ټولو طالب مشرانو باید خپله سلاح ایښودي وئ بیا ملا عمر ته ننوځي پرته د ملا برادر څخه. په هر حال طالب مشرانو ملا عمر ته وویل چې نور جنګ نه کیږي ډېر طالبان په مزار شریف، قندوز او کابل کې وژل شوي، ډېر نور هم تسلیم شول. ملامحمد عمرورته وویل هغه څه وکړی چې د ملت او وطن په کې خیروي. پس له دې زما له لوري ستاسو مشر ملا عبیدالله دئ. بیا یې تکرار کړه چې پوه شوی پس له دې ملا عبیدالله ستاسو مشر دئ. هرڅه چې هغه وایي هماغسې وکړی. همدغه یې وویل او د خپلو حاضرباشانو سره ولاړ.

موږ ډېر خوښ شوؤ چې جنګ به ودریږي ، موږ به د حامد کرزي سره یوځای د وطن په آبادی کې کار وکړو. یو ورځ وروسته په ۲۰۰۱-۱۲-۵ ملا عبیدالله په قندهار کې د حامد کرزي سره ولیدل. حامد کرزئ د امریکایانو له لوري ساتل کیده. دوی یو بل سره ښې خبرې وکړې، چې څنګه به د طالبانو لوري پلاوئ جوړیږي او داسې نورې خبرې. د حامد کرزي سره چې کوم د امریکا د سي آی اې ځانګړي ځواکونه ؤ، دوی ورته د شک په سترګه کتل.

زما په ګمان د سی ای اې شته مامورینو امریکا ته د کرزي او د ملا عبیدالله د خبرو احوال ورکړ. هماغه ؤ چې دونالد رامسفلد د امریکا د هغه وخت د فاع وزیر په قهرجنه لهجه حامد کرزي ته زنګ وواهه (ستلایت تلیفون) *ته هغو خلکو سره خبرې کوې چې زموږ هیواد کې په فجیح شکل خلک ووژل* (یولسم د سپتمبر پیښنه). د سی آی اې دغو ځانګړو ځواکونو ته رامسفلد وویل چې حامد کرزي باندې ډېر پام ساتی. **دغه قصه بیتي دم ته ملا عبدالسلام په کابل کې کړې وه**

حامد کرزئ اوس نو پخوانی حامد کرزئ نه دئ. نوموړئ د بن په کانفرانس کې د افغانستان د انتقالي دورې ریس وټاکل شو. حامد کرزي په قندهار کې د خپلو پخواني ملګرو په واسطه ساتل کیده (سي آی اې).

حامد کرزي امریکایی ساتونکو ته وویل چې هر څوک چې راځي پرې یې ږدی چې ویې نه وژني برسیره پردې که پوه شی چې طالب هم دئ. حتا طالبان مشران چې ورته راتلل نه تلاشي کیدل. ټول خلک خوشحاله ؤ. ټولو دا ګمان کاؤ چې هر څه سم شول. ملا عبیدالله هغه لیک له ځآنه سره حامد کرزي ته راوړئ ؤ کوم چې ملامحمد عمر پکې لیکلي ؤ ملا عبیدالله د طالبان مشر (ځای ناستئ) دئ، هر څه چې دئ وایي د هغه خبرې

ته غوږ ونیسی. حامد کرزي ورته وویل چې ټول به خپله سلاح تسلیم کړی. تاسو ته نور څوک څه نه وایي، همداراز ملا عبیدالله دې خپله په راډیو کې خبرې وکړي چې طالبان د حامد کرزي تر مشری لاندې دولت ته تسلیم شول او بعیت یې کړئ.

همدارنګه حامد کرزي هم ځینو بهرنیو خبریالانو ته دغه څرګندونې وکړې. یواځې القاعده له دې څخه مثتثنی ده، او هغوی باید مجازات شي. پس له دې چې حامد کرزي دغه څرګندونې وکړي، یواځې څو ګړی وروسته دونالد رامسفلد بیا ورته په ډیر قهر سره تلیفون وکړ او ویې ویل:

*تا بهرنیو خبریالانو دا څرګندونې کړې دي. زموږ د پاره طالبان، ملا عمر او القاعده ټول یو شان دي. ملاعمر باید وپلټل شي چیرته دئ او امریکا ته وسپارل شي، دئ هغه څوک ؤ چې اسامه بن لادن سره یې د یولسم د سپټمبر په پیښه کې لاس درلود. طالبان هیڅکله هم په دولت کې ګډون نشي کولای. که ضرورت ؤ داسې باید وویل شي چې خبریالانو دغه خبره (کومې څرګندونې چې حامد کرزي د طالبانو په هکله کړې وې) له ځانه جوړه کړې ده.*

هماغه ؤ حامد کرزئ د قندهار څخه کابل ته راغئ او د امریکایانو له خوا ټول واک د قندهار پخواني جنګسالار ګل آغا شیرزي ته ورکړل شو (حامد کرزئ په دې خوښ نه ؤ چې ګل آغا شیرزئ دې د قندهار والي وي). ګل آغا شیرزي هرهغه څه چې امریکایانو غوښتل هماغسې یې وکړل، طالبان یې ښه وځپل. (کلونه وروسته دغه خبره حامد کرزي بیتی دام ته کړې وه).

کله چې ملاعمر د طالب مشرانو سره په تاکاوی (د ځمکې لاندې کوټه) کې سره ولیدل او ملا عمر ځای ناستئ یا د طالبانو مشر ملا عبیدالله وګاڼه، پس له هغې له هغه ځایه ووت. او هیڅ خبر یې هم چاته نه ؤ معلوم، هر چیرې چې ؤ آرامه غلئ ناست ؤ، نوره یې د طالبانو مشري پریښې وه.

بیتي دم (د دښمن په لټه) خپل کتاب کې لیکي: د امریکا ملت غوښتل پوه شي چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن او د طالبانو مشر ملا محمد عمر څه شول او ولې نه نیول کیږي. د سی آی اي ځینو مامورینو به ویل چې ملا عمر به د قندهار په بمباردمان کې وژل شوئ وي، ځکه خو د هغه په هکله هیڅ کومه خبره هم نه کیږي. ځینو نورو د سي آی آی مامورینو ویل چې په کراچی به وي او ځینو هم ویل د قندهار او د پاکستان په پوله (کویټه) که به وي.

په داسې حال کې چې ملا عمر یواځې دوه تنه خبروړونکي لرل، په یو اختر بل اختر کې یې ټایپ شوي کست کې خبرې کړې وې. هغه د ځینو رسنیو له لوري خپریده او بس. ملا عمرد هیچا سره اړیکه او لیده کاته نه درلودل ( د طالبانو د مشرانو په ګډون).

د طالبانو مالي مرستندوی معتصم بیتی دم ته ویلي ؤ چې ملا محمد عمر دوه تنه خبروړونکي لري نومونه یې عبدالبهاري او عزیزالله دئ. دا چې دوی چیرې دي نپوهیږم. د هغه په ګمان چې ملامحمد عمر په افغانستان کې دننه چیرته پټ دئ. نوره

پته نه وه. کوم بل چا ورته وويل چې د جبار عمري په نامه کوم څوک شته هغه به پرې خبر وي چې چيرته دئ، خو هغه په کابل کې د امنيت رياست (استخباراتو) سره بندي دئ، خو بيا وروسته څرګنده شوه چې بندي نه ؤ صرف دنظارت لاندې ؤ.

بيتي دم پس له ډيرې هڅې د امنيت رياست اړونده ريس سره ليدلي ؤ هغه ورته عمري همدلته دفتر ته راوست. عمري د دې جنرال (د امنيت رياست اړوند څانګې ريس) پرمخ خبرې نه شوې کولای، لنډه داچې دوهم ځل بيتي دم د عمري سره وليدل او جنرال ته يې ته وويل: *چې که پرته له تاسو ورسره خبرې وکړم، جنرال اجازه راکړه*. په هماغه کور کې چې د نظارت لاندې ؤ ورسره وليدل. عمري ورته په دې ډول قصه وکړه:

*په دسمبر مياشت کې چې امريکايانو په افغانستان بريد وکړ، ملاعبيدالله د ملاعمر ځای ناستئ پوه شو چې نور نه کيږي، ماته يې تيلفون وکړ زه په بيړه قندهار ته ورغلم. په قندهار کې مې ملا شيرين د ملا عمر ساتونکي سره وليدل. ملا شيرين راته وويل چې ملامحمد عمر يو پټ او امن ځای ته بوځه. لږه شيبه وروسته ما او ملا شيرين په موټر کې د قندهار ښار ته راغلو او ميدان چوک کې مو موټر ودراؤ هلته ملاعمر ملا عزيزالله او يو دوه تنه نور هم ؤ. ملا عمر عمري ته پس له سلام څخه وويل ته مې يو امن ځای ته بيای؟ ځواب : الله دې په امن کې وساته، زه به خپله هڅه وکړم. عمري شمال د قندهار ته کومه لويه لاره چې زابل ته پيل کيږي وليږل شو. عمري هماغلته انتظار کاؤ چې يوه چې وروسته ملا عمر او ملا عزيزالله او يو بل څوک هم ؤ په سپين تويوتا کې راغلل. موټر حرکت وکړ او پس له ماسپښين قلات (د زابل مرکز) ته ورسيدو. عمري زما دې پوښتنې په هکله چې پاکستان مناسب نه ؤ؟ ډير ژر ځواب راکړ چې ملاعمر نه غوښتل چې پاکستان ته ولاړشي، که څه هم ډير شتمن ملګري لري، چې ډير آسوده ژوند وکړي، هلته ميليونونه نور افغانان هم ژوند کوي، خو ملا عمر نه غوښتل.*

*د دسمبرد ۲۰۰۱ څخه ملا عمر په دوو سيمو کې پټ ژوند کاؤ، لومړئ د قلات څخه لږ وړاندې څلور کاله اوسيدلئ، دا يوه پښتنې ختيڅه قلا وه. دلته آرامه اوسيده چې يو بل فاميل هم ژوند کاو. ملا عمر ځانته دوه کوټې درلودې سره د تشناب. يوځلې خو امريکايان راغلل ملاعمر او ساتونکو يې د لرګيو او ترشاخو لاندې ځآنونه پټ کړي ؤ. ترڅو چې امريکايان ولاړل، پس له څلورو کلونو ملا عمر له دې ځآيه ولاړ د زابل چوري ولسوالۍ* ته (په داسې حال کې چې چوره د ارزګان ولسوالي ده، نه د زابل. يا داده چې کومه بله ولسوالي ده خو نوم يې هالندی ليکونکې غلط ليکلئ).

*عمري به درې وخته ډوډۍ ورته جوړوله. د ملاعمر ږيره سپينه شوې، نو نکريزی يې وغوښتې ږيره يې په نکريزو کړه. ملا عمر به بی بی سي پښتو خبرونه اوريدل، پس له يوې مودې بی بی سی راډيو څخه خبر شو چې اسامه بن لادن مړ شوئ، دا د ملاعمردپاره د حيرانتيا خبره ښکاره نه شوه، حتا چندان عکس العمل يې هم ونه ښود.*

*کله کله به خبرووړونکي راغلل او ملا عمر به تايب په کسټ کې خبرې کړې وې هغه به يې له ځانه سره يووړې. ملا عمر له ډيرې مودې څخه توخيده، ډاکتر ته نه ورته، دوا يې*

*هم نه خوړله. ډوډۍ يې څو ورځې ونه خوړه. حتا شوروا چې د ملا عمر ډيره خوښه هم وه ونه خوړه.*

*يوه ورځ بيحاله په ځای کې پروت ؤ نو صرف سيروم مې د بازار څخه ورته راوړل (پرته د ډاکټر د هدايت) ملا عمر بيهوشه پروت ؤ څوځلي مې پرې غږ وکړ هيڅ عکس العمل مې ونه ليد، کله مې چې وخوځاؤ لږ وخوځيد، د شپې لږ بيا په هوش راغئ خو سهار ته په ۲۳-۴-۲۰۱۳ز باندې مړشو. د ملاعمر مړئ مو ډېر ژر خښ کړ او د هغه ځوی يعقوب او اندري ورورته چې د پاکستان په کويټه کې اوسيدل خبر ورکړ او کومه ويډيو مو چې د ملاعمر دمړينې اخيستې وه ورواستوله.*

*د ملاعمر مشر ځوی غوښتل چې پخپلو سترګو د پلار مړئ وګوري، لنډه داچې اولس ورځې وروسته د ملاعمر قبر مو بيا راوسپړاؤ، يعقوب د خپل پلار مړئ په تابوت کې کيښود او بيرته مو خښ کړ.*

افغانستان د وخت دولت په ۲۰۱۵ کال کې اعلان وکړ چې ملاعمر په ۲۰۱۳ ز کې مړشوئ. خو دځينو له قوله ويل کيده چې دپاکستان په کراچۍ کې دوه کاله دمخه په روغتون کې مړشوئ. څو اونۍ وروسته بيا د ملا محمد عمر ځای ناستي يا د طالبانو مشر ملامنصور دا ومنله چې ملا محمد عمر دوه کاله دمخه مړ شوئ ؤ، خو دايې ونه منله چې په کراچۍ کې مړشوئ ؤ.

د يادولو وړ ده چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن د پاکستان د ابيت آباد په ښارکې په

۲۰۱۱-۵-۱ د شپې له خوا د امريکا د ځانګړو ځواکونو له لورې په همدې کور کې ووژل شو.

# یولسم د سپټیمبر ترهګریز برید ۱ ۰ ۰ ۲-۹-۱۱

په ۲۰۰۱-۹-۱۱ ز ترهه ګریزه پیښه کې نولس تنو ترهګرو په امریکا کې څلور مسافروړونکي الوتکي چې ویل کیږي د القاعدې د غړو له خوا وتښتلول شوې. له دې جملې څخه دوه الوتکې د نیویارک د سوداګریز مرکز پر برجونو ولګول شوې. د دواړو الوتکو مسافرین ټول ووژل شول. همدارنګه د سوداګریزمرکز دواړه برجونه هم نژدې د دوه ساعتونو په ترڅ کې ټول ونړیدل. په دغه تروریستي پیښه کې نژدې د۹۰ ملکونو اټکل درې زره بیګناه وګړي ووژل شول. دریمه الوتکه په پنتاګون ولګیده او څلورمه الوتکه په پنسلوانیا کې نسکوره شوه. پټه دې پاتې نه وي چې د دغو نولس تنو تروریستانو څخه یو هم افغان ثابت نه شو.

رویټرز په ۲۰۱۹ کال کې خبرخپورکړ چې د دغې ورځې په تروریستي پیښه کې نژدې ۲۵ زره کسان ټپي شوي ؤ

پر افغانستان د امریکایانو یرغل ظاهراً اصلي لامل په ۲۰۰۱-۹-۱۱ د نیویارک په سوداګریز مرکز باندې تروریستي برید پیښه وه.

د ځینو نه تایید شویو سرچینو له قوله چې په ۱۹۹۹ کال کې دغه برید د القاعدې مشر اسامه بن لادن له خوا ومنل شو، په بله وینا اسامه بن لادن د دغې ترهګریز برید د عملي کولو پلان تصدیق کړل چې بیا وروسته یې عملي بڼه ځانته ونیوله.

د دې برید څخه یوه اونۍ وروسته په همدې تړاو د امریکا د هغه وخت ولسمشر جورج بوش د القاعده مشر اسامه بن لادن په دې برید کولو کې تورن کړ. څرنګه چې په هغه وخت کې اسامه بن لاندن په افغانستان کې اوسیده، نو د امریکا حکومت د طالبانو څخه بیا په ټینګه وغوښتل چې اسامه بن لادن، ټول پاتې عربان او په افغانستان کې د القاعدې ټول غړي دې د امریکا دولت ته وسپاري. د افغانستان په خاوره کې دې ټول کمپونه وتړي. امریکایانو ته دې ټول واکي ورکړل شي چې دغه کمپونه وپلټي او ویې څیړي.

طالبانو د امریکا پورتنیو غوښتنو په تړاو وویل چې موږ تر اوسه داسې شواهد او اسناد په لاس نه لرو چې د اسامه بن لادن تورن توب په دې تړاو ثابت کړي. کچیرې تاسې اسناد او شواهد لرئ نو څرګند یې کړئ. بله داچې طالبانوامریکا ته درې ځله وړاندیز وکړ چې په دې تړاو اسناد یو اسلامي ملک کې اسلامي محکمې ته وړاندې کړي. د طالبانو دغه غوښتنه درې ځلې رد شوه. دا چې طالبانو اسامه امریکا ته تسلیم نه کړ، نو پایله دا شوه چې په ۲۰۰۱-۱۰-۷ د امریکا ولسمشر پر افغانستان د یرغل کولو امر صادر کړ.

کله چې امریکا د خوست ژوره سیمه د کروز په توغندیو وویشتله، شهزاده تُرکي الفیصل د عربستان د استخباراتو ریس په قندهار کې د ملا محمد عمرسره ولیدل. د چای څښلو په

جریان کې یې دا ورته یاده کړه چې تاسو پخوا له موږ سره ژمنه کړې وه چې اسامه به موږ ته راسپارئ. امریکایان پوره باورمن دي چې د افریقا د بم چاودني تر شا د اسامه لاس دئ. ملامحمد عمر سخت په غصه شو، او سر یې په اوبو لوند کړ چې غصه یې کمه شي، بیا یې شهزاده تُرکي ته وویل: ولې دا زړور او وتلئ مسلمان نه پرېږدئ او ځوروئ یې؟ **کله چې په پیل کې طالبانو خپله عربستان ته ورتسلیم کاؤ، دوی نه غوښتل، اوس بیرته پسې راغلل.** *بلاخره شهزاده تُرکي په غصه پاځیده او ملا عمر ته یې وویل نور دې خبرو ته غوږ نه شم نیولئ او زیاته یې کړه، کوم څه چې ته نن کوې نه یواځې پر تا بلکې ټول افغانستان ته به ګرانه تمامه شي.*

لکه څنګه چې څرګنده ده په افغانستان، پاکستان، هندوستان، منځنۍ آسیا او حتا په ځینوعربي هیوادونو کې شته ترهګرې ډلې په پاکستان کې روزل شوي دي. په تیرو نژدې څلویښتو کلونو کې په پاکستان کې په زرګونو تش په نامه دیني مدرسې جوړې شوې. پرته له شکه چې په ټولو مدرسو کې به ترهګر نه روزل کیږي، خو په ډیرو دغو مدرسو کې د دیني مسأیلو ترڅنګ ترهګریزې زدکړې هم ورکول کیدې او آی اس آی جاسوسان روزل. دا لړۍ لا اوس هم جریان لري.

د امریکا په ګډون ټول بهرني هیوادونه په دې پوهیدل او پوهیږي چې د ترهګرو ځالې او مرکز په پاکستان کې دئ.

د یوولسم د سپتمر ۲۰۰۱ کال ترهګریزې پیښې څخه وروسته پاکستان دپاره تر ټولو بدترین او ګواښمن حالت راورسید.

د هغه وخت د امریکا د بهرنیوچارو وزارت معاون ریچارد ارمیتاج پاکستان ته په ډاکه وویل: *پاکستان باید انتخاب وکړي چې له موږ سره ولاړ دئ؟ که نه په ډاګه زموږ مخالف دئ.* په بله وینا چې یا به زموږ لوري ته دریږي او مرسته به کوي، که نه زموږ دښمن ګڼل کیږي. پاکستان په ډیره بیړه د امریکا ترڅنګ ودرید، او ملاتړئ یې شو. ځکه خو یې ملا عبدالسلام ضعیف د هغه وخت د افغانستان اسلامي امارت سفیر په پاکستان کې لوڅ سر او پښې امریکا ته تسلیم کړ، همدارنګه ملا عبدالغني برادر یې هم امریکا ته تسلیم کړ.

لکه څنګه چې د تیر څلویښت کلونو څرګندیږي پاکستان په بهرني سیاست کې د خپلو ملي ګټو په خاطر ښه دیپلوماسي چلولې. په هرحال په دې وخت کې پاکستان ته نژدې د لسو لویدیځو هیوادونو څخه سیاسي مشران او د یپلوماتان راغلل، چې د القاعدې او ترهګرۍ په وړاندې د پاکستان ملاتړي خپله کړي.

د پاکستان مړی بیا غوړه شوه، (تیر ځلي یې د شورویانو د یرغل څخه د امریکا او عربو څخه میلیاردونه ډالر ترلاسه کړل) پاکستان د انزوا څخه راووت. کوم هسته یې بندیزیونه چې پرې لګول شوي ۋ لرې کړئ شول. ځکه خو پاکستان عالي دیپلوماسي وچلوله.

موږ تاسو ولیدل، لس کاله وروسته چې القاعدې مشر اسامه په ابټ آباد کې د امریکایانو له لوري ووژل شو، پاکستان ته نه امریکا او نه هم کوم بل د ناټو غړي هیواد څه ګوتڅنډنه یا نیوکه وکړه.

39

په هر حال اصلي موضوع ته بیرته راځو، هغه ورځ (۱۱-۹-۲۰۰۱) چې په نیویارک کې سوداګریزمرکزباني باندې تروریستی برید وشود په امریکا کې سهار، خو په افغانستان کې ماسختن ۋ. ملا محمد عمرته دطالبانو د بهرنیوچارو وزیر د عبدالوکیل متوکل له خوا تلیفون وشو او د دې جریان څخه یې خبر کړ. عبدالوکیل متوکل خبري کنفرانس غونډه راوبلله. متوکل د ملاعمر په استازیتوب وویل چې دغه برید موږ غندو او خپله خواخوږي یې څرګنده کړه. متوکل په دې تړاو د اسامه بن لادن لاس درلودل رد کړل، زیاته یې کړه چې دا په لوړه سطحه تنظیم شوئ برید دئ.

هالندۍ لیکواله بیتي دم د خپل کتاب دښمن په لټه چې د ۲۴۶ مخ څخه پیل کیږي لیکي د دې برید په تړاو په ۱۵-۹-۲۰۰۱ په پاکستان کې د سي آی ای مامور **روبرت ګرینیر** د آی اس آی دفتر له لیارې د دطالبانو د یوپلاوي سره د پاکستان په کویټه کې ولیدل. دغه پلاوي د ملا عمر استازیتوب کاؤ.

د طالبانو د پلاوي مشري ملا عثماني کوله. عثماني وویل اسامه زموږ او ستاسو د پاره ستونزه ده، د حل لاره به ورته ولټوؤ. د سی آی ای مامور دا وړاندیز ۋ چې ملا عمر ته وویل شي چې ماته (عثماني) اسناد اوشواهد راوښودل شول چې د اسامه لاس درلودل په کې ثبوت کیږي. ځکه نو ملا عمر به اسامه امریکایانو ته په لاس ورکوي چې محکمه شي. پس له ډیرو ساعتونو او ستونزمنو خبرو څخه ملا عثماني ومنله چې سمه ده موږ به ملا عمر ته ورشو، خو زه ګمان نه کوم چې ملا عمر دې دا ومني. په دې تړاو په کابل کې ۳۰۰ ملایانو غونډه وکړه. پایله دا شوه چې د ملګروملتونو څخه دې غوښتنه وشي چې دغه برید وڅیړي او ښه وپلټل شي چې دچا دلوري شوئ دئ. برسیره پردې ملایانو

---

39

Op zoek naar de Vijand (Bette Dam) د دښمن په لټه د دښمن په لټه – لیکونکي بی۲۰۲۱ ز کال چاپ)

وویل چې اسامه بن لادن دې خپله زموږ له خاورې ووځي، په زور دې نه کاږل کیږي. که چیرې په دې اړه امریکایان پرموږ برید وکړي نو د هغوی په آند به جهاد اعلان کړو.

د سپټیمبر په آخرو شپو کې د امریکا له لوري یو پاکستانۍ پلاوۍ (زما په آند آی اس آی غړي) او پاکستاني مفتیانو(دوی به هم د آی اس آی معاش خوړونکي ؤ) په ګډون چې ویل کیده د ملا عمر سره یې ښې اړیکې درلودي قندهار ته راغلل او ملا عمر سره یې ولیدل، ملا عمر له پیله ورسره چنداني ښه چلند نه درلود، او رد ځواب یې هم ورکړ.

په دویم د اکتوبر د همدې کال بیا روبرت ګرینیر د وهم ځل د پاره ملا عثماني سره ولیدل. روبرت عثماني ته وویل دا سمه ده چې امریکا د شوروي د وتلو څخه وروسته افغانستان یواځې پرېښود، خو که اوس طالبان اسامه او نور عربان امریکایانو ته پلاس ورکړي برسیره پردې چې د سفیرپه کچه به ورسره استازولي ولري د ډیرو زیاتو مرستو امکانات شته چې د افغانستان سره به وشي. عثماني ژمنه وکړه چې بیرته به روبرت ګرینیر ته احوال ورکوي، خو احوال ورنه کړل شو.

ځینو طالبانو داسې ویل چې خبرشوي ؤ چې القاعده بیا کوم برید کوي. د یو چا دخولې خبره ده چې عبداوکیل متوکل د طالبانو د بهرنیوچارو وزیر په پاکستان کې د امریکا سفارت ته احوال ورکړۍ ؤ چې اسامه بیا کوم برید په امریکا کوي، موږ د خپل لوري تاسې خبر کړۍ. روبرت ګرینیر هم په دې آند ؤ چې ګمان کوم چې ملا عمر د یولسم د سپتمبر په هکله خبرتیا **نه** درلوده.

دا زما په آند هم د منلو نه ده چې اسامه دې دغه غټ پلان د ملا عمر سره شریک کړۍ وي. د دوی ترمنځ د ړومبۍ یاد شویو شواهدو پر بنسټ دومره انډیوالي نه وه چې دغه غټ راز دې ورته ووایي. خو د دې تر څنګ څنګه ځیني طالبان لکه عبدالوکیل متوکل څه ناڅه خبر ؤ او په پاکستان کې یې د امریکا سفارت ته خبر ورکړۍ ؤ؟ (که دا خبره ریښتیا وي، ځکه شواهد نشته)

د امریکا د سي آی آی د وخت  ریس جورج ټینیټ دا څرګنده کړه چې امریکا د یوې تروریستي ډلې، ګروپونه، ځیني خلک او ځیني ملکونو سره په ۹۲ ملګونو کې جګړه او مناقشه کې دي، لکه  طالبان د افغانستان، صدام حسین دعراق، قدافي د لیبیا دوی ټول د تروررستي ډلو سره په اړیکه ؤ.

# دریم څپرکی

# حامد کرزئ

## حامد کرزئ څوک دئ؟[40]

حامد کرزئ دخیرمحمد خان لمسئ او د عبدالاحد خان کرزي زوی په ۱۹۵۷-۱۲-۲۴ د قندهار د کرز په ولسوالی کې وزیږید. پلار یې د قومي مشرانو له ډلې څخه ؤ چې په شپیتمو زیږدیز کلونوکې د پارلمان د ریس معاون ؤ.

حامد کرزي ابتدایه ښوونځئ د محمود هوتکي په ښوونځي، منځئ ښوونځئ د سیدجمال الدین په ښوونځي کې ولوست او د حبیبیې له لیسې څخه په ۱۹۷۶ ز کې خلاص شو. د لوړو زدکړو له پاره هندوستان ته ولاړ او د سیاسي علومو او د بین المللي اړیکو برخه کې یې دماسټرۍ ډیپلوم د شمله د پوهنتون څخه د هیماچال پرادیش ښار په ۱۹۸۳ ز کې تر لاسه کړ.

حامد کرزي ته په ۲۰۰۲ ز کال کې د همدې پوهنتون له خوا د دکتورا افتخاري ډیپلوم ورکړشو. (*د یادولو وړ ده چې پس له هغې چې دلویې جرګې له خوا ۲۰۰۲-۶-۱۳ م ولسمشر انتخاب شو، له دې وروسته په بیلابیلو هیوادونو کې یې د دکتورا افتخاري دیپلومونه ورکړل شوي دي)*.

د نورو افغانانو په شان دحامد کرزي کورنۍ هم پاکستان ته کډوال شوي ؤ. حامدکرزئ د ملي نجات جبهې په ګوند کې چې مشري یې صبغت الله مجددي درلوده غړئ ؤ.

کله چې مجاهدین په ۱۹۹۲ ز کې واک ته ورسیدل، نو حامد کرزي د بهرنیوچارو وزارت کې د لنډې مودې له پاره د سیاسي معین دنده درلوده. خو کله چې د جهادیانو ترمنځ خپل منځي جګړې پیل شوې او کابل ښار وران ویجاړ شو، دې هم بیرته پاکستان ته ولاړ او په کویټه کې استوګن شو.

د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر میاشت کې ارزګان سیمو ته راغئ ، هلته یې قومي مشرانو سره لیده کاته پیل کړل هڅه یې کوله چې د طالبانو پروړاندې پرځان خلک راټول کړي. په

---

40 د بی بی سی له سایت څخه اخیستل شوئ
https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2009/07/090710_a-af-election-profiles-karzai

دسمبر د ۲۰۰۱ ز کې د بن په کنفرانس کې د ګډونوالو له خوا د شپږو میاشتو د پاره د افغانستان موقت حکومت ریس وټاکل شو.

کله چې حامد کرزي په ۲۰۰۲ کې بیړنۍ لویه جرګه د بن دکنفرانس پر بنسټ راوبلله، دې جرګې هم حامد کرزئ د دو کلونو دپاره د افغانستان د انتقالي دورې ولسمشر وټاکه.

په ۲۰۰۴ ز کال د افغانستان په تاریخ کې د لومړي ځل د پاره د ولسمشرۍ ټول ټاکنې وشوې او د ټاکنو ګټونکئ لومړنئ ټاکل شوئ ولسمشر حامد کرزئ ؤ. حامد کرزي د ۲۰۰۴ کال د اپریل په میاشت کې د نړۍ په کچه ترټولو بریالئ ولسمشر وپیژندل شو.

حامد کرزئ بیا هم د ۲۰۰۹ کال د ولسمشرۍ د تولټاکنو ګټونکئ ؤ. حامد کرزئ د ۲۰۱۴ سپټمبر پورې د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر پاتې شو.

# د بن کنفرانس او اړوند مسایل

41

که څه هم امریکایانو شمالي ټلوالي ته ویلې ؤ چې د طالبانو له وتلو څخه وروسته کابل ښار ته داخل نه شي، ځکه چې امریکایان د نوي یمو زیږدیز کلونو په شان د چور او تالا کیدو ویره لرله. خو پردې برسیره د نظار شورا ډلې د قسیم فهیم په مشرۍ د کابل په ښار راننوتل. فهیم هغه کابل ښار ته هغه وخت راننوت چې د طالبانو حکومت ړنګ شوئ ؤ، او طالبان د کابل څخه وتي ؤ.
خو د فهیم په ګمان چې د کابل ښار هغه (فهیم) فتح کړئ. کومه فتح؟ (فاتح کابل!!!) نو ځکه د کابل فاتح ته بلاخره مارشالي ورکړل شوه (البته چې ورکړل شوې نه وه خو په زور یې واخیسته. لکه څنګه چې جنګسالار دوستم په زور واخیسته).

څرنګه چې د سیاسونو له خوا دا فیصله شوې وه چې یو کنفرانس به دایر شي چې په دې کنفرانس کې د جنګ ټولې خواوې پرته د طالبانو څخه ګډون وکړي. همداشان اړونده هیوادونه به هم په دې غونډه کې ګډون ولري.
پوښتنه دا وه چې چیرته باید دا کنفرانس دایر شي. څرنګه چې پاکستان، عربي متحده ایالات او عربستان چې د طالبانو حکومت یې په رسمیت پیژانده باید په دې هیوادونوکې دایر نشي. لنډه داچې د جرمني د بن ښار غوره شو.

د ملګرو ملتونو د سازمان له خوا د پیترس برګ پنځه ستوري هوټل مدیر ته چې ډیرئ ترټولو لوړپوړي چارواکي د یو هیواد راځي (لکه پادشاهان یا ولسمشران) تلیفون وشو چې په راتلونکي کې خپل ټول بوکینګ لغو کړي. د ۲۰۰۱ ز کال د نوفمبر- دسمبر په میاشت کې دلته د افغانستان د پاره یوستر کنفرانس دایر کیږي.

---

41

https://www.dw.com/ps/د-بن-تر-لومړي-کنفرانس-وروسته-د-افغان-حکومت-لاسته-راوړني/a-15554420

د بی بی سی او دویچویله د سایت څخه اخیستل شوي

https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2011/12/111128_k01_bonn2_agreement_review

د بن ناقص کنفرانس په ۲۰۰۱-۱۲-۱۳ پس له ۹ ورځو مشاجرو او بحثونو څخه په يوه هوکړه سره سلا شول او هوکړه ليک يې لاسليک کړ.
دغه کنفرانس د جرمني د بهرنيو چارو وزير يوسکا فيشر په وينا پيل شو. تر هغه وروسته د افغانستان دپاره د ملګروملتونو د ځانګړي استازي لخدر براهيمي دوهم وينا کوونکئ ؤ.
براهيمي وويل مخکې له دې چې کومې فيصلې ته سره ورسيږو د رسنيو سره په دې هکله په جزياتو خبرې مه کوئ.

په دې کنفرانس کې دغو څلورو افغاني ډلو شتون درلود: شمالي ټلواله (۲۲ تنه) چې مشر يې يونس قانونی ؤ. د روم هيت شپاړس تنه د هيت مشري يې عبدالستار سيرت کوله. د پيښور هيت پير سيد احمد ګيلاني او د قبرس هيت همايون جرير.

هيڅ ښځې او ځوانانو ته په دې کنفرانس کې بلنه نه وه وکړل شوي. ښځو او ځوانان ډير راټول شوې ؤ او مظاهرې يې وکړې، ترڅو بلاخره يوه ورځ مخکې دکنفرانس څخه فاطمه ګيلاني، ميرمن سيما ولي، صديقه بلخي، رونا منصوري او آمنه افظلي کنفرانس ته راوبلل شوې.

داسې ويل کيده چې په کنفرانس کې د ګډونوالو جنجال په دؤ مهمو مسلو ؤ. يود قومونو ترمنځ د قدرت ويش او بل د موقت دولت رياست.

ګډونوال ډيرئ په دې آند ؤ چې عبدالستار سيرت دې د موقتې ادارې ريس وي. بلاخره يولس رايې ستارسيرت ته ورکړل شوې، دوه رايې حامد کرزي ته او يوه رايه هدايت امين ارسلا ته ورکړل شوه. په دې ډول ستار سيرت ته د هغه رايه ورکوونکو مبارکي ورکړه، ځينو نورو په حيرانتيا سره ورته کتل. خو د زلمي خليل زاد هڅه حامد کرزي لوري ته وه. هغه د ستار سيرت سره خبرې وکړې، چې په کابل کې هم وضع خراپه ده، شمالي ټلواله کابل ته راننوتي کيدای شي وضع نوره هم کړکيچنه شي.

ويل کيده چې په دې ترڅ کې خپله پخواني پادشاه محمد ظاهرشاه تليفون وکړاود ستار سيرت سره وغږيده، ويې ويل چې حامد کرزئ لکه زما زوی دئ. هغه اوس هم په افغانستان کې دئ. ستار سيرت ډير په غصه ؤ.

د دې دپاره چې ستارسيرت خوښ کړئ شي نو د زلمي خليل زاد له خوا په افغانستان کې د درې پوستونو وعده ورکړ شوه. قاضی القضات، وزير دعدليې او يا هم وروسته رياست د لويې جرګې چې بيا به دايره شي، خو ستار سيرت ټولې رد کړې. بلاخره همدې ته يې غاړه کيښوده چې حامد کرزئ دې د موقتې ادارې ريس وي.

د ملګروملتونو د استازي لخدر براهيمي او د افغانستان دپاره د امريکا د حکومت ځانګړي استازي جيمز دوبين په وينا چې حامد کرزئ د موقتي اداري دپاره مناسب شخص ؤ. بلاخره د کنفرانس پر ګډونوالو د امريکايانو او د هغوی د پلويانو له خوا ومنل شو چې حامد کرزئ به د موقتي اداري ريس وي. حامد کرزي خپله په دغه کنفرانس کې ګډون نه درلود او په ارزګان کې يې د قومي مشرانو سره ليده کاته درلودل.

42

حامد کرزي هڅه کوله چې پرځان د قوم مشران راټول کړي او د طالبانو پر وړاندې ورسره ودريږي. هغه همداسې هم وکړل. او د يو غټ لښکر سره د ارزګان ولايت د يو کلي څخه مخ په ترين کوټ روان شو. ترين کوټ د حامد کرزي د لښکر له لوري فتح شو، مخ په قندهار روان ؤ.

په دې ترڅ کې حامد کرزي ته خبرراغئ چې د بن په کنفرانس کې دئ (حامد کرزئ) د افغانستان د موقتي اداري ريس وټاکل شو. د بن دکنفرانس مناقشې او مذاکرې مخ په خلاصيدو وې، لخدر براهيمي وويل چې يوبل څوک هم شته چې څه خبرې کول لري ي د دغې ستر تالار په منځ کې يو تور سيم د تالار د پنځلس شل متر لوړ چت څخه، سره د مايکرافون د غټ ميز په سر زوړند ؤ، په ناڅاپي توګه د حامدکرزي غږ واوريدل شو.

حامد کرزي د ارزګان څخه د ستلايت تليفون له لياري زنګ وهلئ ؤ. ځينو ګډونوالو ته خو لا درواغ ښکاريده. حامد کرزي نږدې شپږ دقيقې وينا وکړه. حامد کرزي په لنډ ډول وويل چې خوښ يم چې کنفرانس په بريالی توګه پايلې ته رسيدلئ او ټول هيوادوال به وروسته د لويې جرګې له طريقه خپل زعيم ټاکي.

حامد کرزي مخکې د يولسم د سيپتمبر څخه د پاکستان په کويټه ژوند کاؤ. حامدکرزي لا د طالبانو په حکومتولی کې په پاکستان کې د امريکا له سفارت سره په اړيکه کې ؤ. په

---

42

Expeditie Uruzgan

De weg van Hamid Karzai naar het Paleis

((ارزګان نظامي سفر يا تلل - د ارګ په لور د حامد کرزي لار (ليکونکې: بيټې دم – چاپ کال – ۲۰۰۹ ز))

سفارت کې یوه څانګه د سي آی اې هم وه. حامد کرزئ به په وار وار د امریکا سفارت ته (سي آی اې) ته ورته.

لنډه داچې امریکایانو د حامد کرزي سره مالي مرسته وکړه چې پرځان د لوی قندهار قومي مشران راټول کړي، چې بیا قومي مشران په وار سره د خپلو قومونو سره وغږیږي او د حامد کرزي پلوي وکړي.

دا تصادف ؤ چې په دې ترڅ کې یولسم د سیپټمبر تروریستي پیښه هم وشوه اوس نو د حامد کرزي منډې تړړې نورې هم پسې تودې شوې.

پایله دا شوه چې حامد کرزئ په موټرسایکل د کویټې څخه چمن او بلاخره ارزګان ته راننوت. له هغه وروسته بیا د امریکا ځانګړي ځواکونو دولس تنه د حامد کرزي سره یوځای شول. په دې ترڅ کې د بن کانفرانس دایرشو.

په هر حال پدغه کنفرانس کی د اسلامي جمعیت ګوند او یا نظار شورا استازولي یونس قانوني کوله. لخدر براهیمي یونس قانوني (د اسلامي جعیت ګوند، او یا هم په اصطلاح نظار شورا) ته د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت، بهرنیو چاروزارت او امنیت لوی ریاست وعده وکړه. ګواکې ټول کلیدي پوستونه. کڅه هم په کنفرانس کې د یونس قانوني ډلی شپیته سلنه دولتي واک ځانونو ته بیل کړل، خو په دې یې قناعت نه درلود او د یو کوڅې سړي په توګه یې د واک دپاره چنې وهلې. په وار وار به یې د برهان الدین رباني او قسیم فیهم سره تلیفوني خبرې کولې. ځکه هغوې ورسره دغه شپیته سلنه نه منله. هغوی یا ۸۵ سلنه برخه غوښته. یونس قانوني ورته وویل چې له دې زیاته نوره چنه وهل امکان نلري. د جمعیتیانو په وینا چې دوی یو ***پراخ بنسټه*** دولت تشکیل کړ، په اصطلاح دغه پراخ بنسټه دولت کې نه یوائې د نورو جهادي تنظیمونو او یا هم د دغه جنګ ښکیلې ډلې ګوښه کړې بلکې حتا د طالبانو مخنیوئ یې په زغرده سره وکړ.

په دې ناقصه کنفرانس کې د جنګ ښکیلو ډلو څخه نه یوائې طالبانو ته بلنه د ګډون حق نه ؤ ورکړ شوئ، بلکې ګلبدین حکمتیار ته هم بلنه نه وه ورکړل شوې. دا چې د کومې ډلې جنګ په حق او نا حق ؤ او چا ډیرملکي خلک وژلي او یا چا د کابل ښارپه کنډواله بدل کړل، ټولو ته څرګندده ده چې په نوی یمو کلونو کې څو ستړې ډلې او ګوندونه لکه د برهان الدین رباني په مشرۍ د جمعیت اسلامي ګوند، د عبدالرب رسول سیاف په مشرۍ د حزب اتحاد اسلامي ګوند، د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د اسلامي حزب ګوند او د هزارګانو اتو ګوندونو د کابل ښار په کنډواله بدل کړ. زه د هیڅ دغو ډلو پلوي نه کوم. خو کچیرې د جنګ ټولې ډلې د بن کنفرانس ته رابلل شوې وئ د طالبانو او حکمتیار ډلې په ګډون، کیدای شوئ چې اوس دومره سترو ستونزو سره نه وئ مخ شوي.

دلته د تبصرې نه تیرېږو، خو دومره ویل ضرور په کار دي چې په دغو جنګونو کې اتیا زره د کابل ښار بې ګنا وګړي ووژل شول. د ځینو سرچینو له قوله د ۸۰ زره او یولک تر منځ کابل ښاریان وژل شوي دي. ددې بې ګناه وژل شویو مقصرین ټول پورتني غټ جهادي تنظیمونه دي. ځکه نو ویلۍ شو کچیرې دا د افغانانو د پاره کنفرانس ؤ نو ولې باید د جنګ ټولي ښکیلي ډلي نه وای رابلل شوي. د ګلبدین حکمتیار او د طالبانو پرته دا کنفرانس ناقصه شو. بیا به نودا په ځای وي چې ووایو د افغانستان دغې اوږدې غمیزې د یونیم لک بهرني سرتیرو او نژدې دوه لکه مسلح قوا په شتون سره جګړې شل کاله نور هم دوام وموند، پایله دا چې بهرني سرتیري په ۲۰۲۱ ز کال کې ووتل، او بیرته د همدې امریکایانو له لوري د اشرف غني حکومت ضعیفه او له بنسټ څخه له منځه یو وړ او بیا یې طالبانو ته واک په لاس کې ورکړ.

43

په هرحال د بن کنفرانس ګډونوال په یوشپږمیاشتني موقت حکومت صلاح شول. او ویې منله چې په افغانستان کې  به د سولې بین المللي ساتونکي مستقر کیږي. په همدغې بنسټ حامد کرزي کابینه جوړه کړه. کابینه د حامد کرزي په مشرۍ ۳۰ کسیزه وه. په دې کابینه کې دوه ښځې (سیما سمر او سهیلا صدیق) هم شاملې وې.

## د بن د کنفرانس مهم ټکي

د بن دهوکړه لیک مهمو ټکو کې د افغانانو ټولنیزي آزادي لکه د بیان آزادي، د ښځو او بشر حقوق، او دې ورته ځینې نور مسایل شامل ؤ.

هوکړه لیک کې راغلي ؤ چې د افغانستان د خلکو حق او ټولنیز عدالت په دموکراتیکه توګه او د اسلام د اصولو پربنسټ تضمین شي. د ملګروملتونو ادارې ته صلاحیت ورکړشوئ ؤ چې په افغانستان کې دبشرد حقوقو نقض وڅیړي او خپل وړاندیزونه له دوی سره شریک کړي. همداشان د ملګرو ملتونو په سازمان کې د افغانستان د دایمي

43

https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2011/12/111128_k01_bonn2_agreement_review

د بی بی سي له سایت څخه اخیستل شوي دي

استازي څوکۍ منل هم د دې هوکړې یوه برخه وه. د ټولو غیرې مسؤلو کسانو څخه سلاح راټولول او د ټول هیواد کنترول باید موقت حکومت په لاس کې وي.

**انتقالي اداره**

ددی هوکړه لیک پر بنسټ موقته اداره کې به دیرش کسیزه کابینه، دخپلواکې بیړنۍ لویې جرګې تدویر، مرکزي بانک او ستره محکمه شامل ؤ. همدا ډول هوکړه وشوه چې یو عدلي کمسیون د عدلي او قضایي مسایلو دپاره د اسلامي قواعدو په نظر کې نیولو سره تشکیل شي. د انتقالي ادارې د ریس د ټاکلو او انتقالي اداری دپاره به بیړنۍ لویه جرګه رابلل کیږي. همداشان بله لویه جرګه به رابلل کیږی چې نوئ اساسي قانون په کې تصویب شي.

**د بین المللی سرتیرو شتون**

د بن په هوکړه لیک کې د ملګروملتونود ادارې څخه غوښتنه شوې وه چې د بین المللی سرتیرو

ISAF International Security Assistance Force

شتون په کابل او نورو سیمو کې ورسره ومني .

دوی به د افغانستان د امنیت ساتلو په برخه کې مرسته کوي. د بن د کنفرانس ګډونوالو هوکړه وکړه چې په هغه سیمه کې چې بین المللی سرتیرې ځای پر ځای کیږي، د ټولوافغاني ډلو سرتیري به هغه سیمه پریږدي. همدا ډول هوکړه شوئ وه چې د سیمې د ضرورت په اساس به سرتیرې لیږل کیږي.

افغانستان ته د بین المللی سرتیرو شمیره او وخت نه ؤ ټاکل شوئ چې کله به څومره سرتیري راځي.

## حامد کرزئ څنګه واک ته ورسید

44

لکه څنګه چې دمخه هم ورته اشاره شوې ده، بتي دم هالندۍ لیکواله چې څه پاسه اته کاله یې په افغانستان کې تیرکړي، د افغانستان په هکله څو کتابونه لیکلي. بتي دم دغه کتاب **(یو سړئ او یو موټر سایکل)** د حامد کرزي په هکله لیکلئ.

داکتاب په ۲۰۱۳ ز کې په انګلیسي ژبه ولیکل شو او کال وروسته بیا په پښتو او دري هم ترجمه شو. بتي دم د حامدکرزي سره د درې مصاحبو جزیات لیکلي. همدارنګه ۱۵۰ نورې مصاحبې په ارزګان، قندهار او مزار کې د افغانانو سره لیکل شوي. بیتی دم خپله وایی چې زما کتاب به د ولسمشر په هکله د افغانستان د تاریخ یوه برخه شي. هغه څه چې د دې کتاب ځانګړتیا ده، هغه داده چې ټول واقعیتونه یې د خلکو دخولې لیکلي دي او ددې خپل شخصي نظر په کې نشته.

---

44

یو سړئ او یو موترسایکل (بیتي دم)

A MAN AND A MOTOR CYCLE

How Hamid Karzai came to Power

45

<u>ولې یو سړئ او یو موټرسایکل؟</u>

بتي دم د امریکاغږسره په مرکه کې دې پوښتنې ځواب ته چې ولې د کتاب نوم یو سړئ او یو موټرسایکل انتخاب کړئ ویلی ؤ، ما غوښتل پوه شم چې ولی حامدکرزئ کله چې افغانستان ته راننوځي د موټرسایکل څخه کار اخلي.

سي آی اې د طالبانو د رژیم ړنګیدو دپاره حامد کرزي ته پیسي ورکړې وې چې افغانستان ته ننوځي. حامد کرزئ د آی اس آی او طالبانو له خوا شارل کیده. حامد کرزئ د پیسو سره چې ترشا یې تړلې وې د پاکستان د کویټې څخه مخ په قندهار حرکت وکړ.

بتي دم د واقعیتونو راټولو دپاره ارزګان او قندهار ته سفر وکړ. د کرزي نورې کورنۍ غړو سره یې ولیدل او هم یې د کرزي مخالفینو یا سیالانو سره چې په قندهار او ارزګان کې اوسیدل مصاحبې وکړلي او د هغوی معلومات یې په دې کتاب کې رانغښتي دي.

د پورته یاد کتاب ځینې مهم محتویات ما په لاندې ډول ترې اخیستي دي

د کرزي مشوره د ډیپلوماتانو ته په ۱۹۹۴ کې داوه چې د طالبانو حمایت یا ملاتړي اوسي. ریچارد سمیت امریکایي ډیپلومات او په پیښور کې سر قنسل ویلې ښه مې په یاد دي چې کرزئ به دفتر ته راته هغه ښه انظباط لري، هغه د نورو پشان د ډلګیو (ګروه) په اساس منځ ته نه دئ راغلئ.

(فارسی ترجمه ۳۰ مخ)

کرزئ د ۱۹۹۶ تر آخره په دې هڅه کې ؤ چې د طالبانو په حکومت کې کار وکړي.

(فارسی ترجمه۳۱ مخ)

کله چې د لومړي ځل د پاره طالبان په ۱۹۹۴ کې د صحنې پرمخ را څرګند شول، کرزئ د دې غورځنګ لیواله ؤ. کرزي سلاح، مهمات او ۵۰ پځوس زره دالر نویو مشرانو (طالبان) ته ورکړل.

*(فارسی ترجمه۳۷ مخ)*

---

45

https://www.darivoa.com/a/2683985.html

د امریکا غږ له سایت څخه اخیستل شوئ

*کرزي غوښتل د ټولو سره ملګرئ اوسي: د امریکا، پاکستان، طالبان، پخواني جنګسالاران او شاهي کورنۍ.*

*کرزي به په منظمه توګه په اسلام آباد کې د امریکا سفارت ته ورته، ډیرئ وخت به خپل خلک ورسره مل ؤ لکه جان محمد، حاجی بهادر او شیرمحمد آخندزاده (د ارزګان او قندهار).*

*(فارسی ترجمه ۴۱ مخ)*

*د بهرنیو د ډیپلوماتانو پر وړاندې حامد کرزئ یو تحصیل کړئ سړئ ؤ، په انګلیسي ژبه یې ښې رواني خبرې کولې. د امریکا د سفیرانو له خوا به ورته د نوي کال د مبارکی کارتونه استول کیدل. په افغانستان کې حامد کرزئ بل ډول سړئ ؤ، جنګي جنایتکارانو، زورمندانو او جنګسالارانو سره یې ایتلاف کاؤ. احمد شاه مسعود به د القاعدې په هکله خپل ټول اطلاعات سي اي اې ته استاؤ.*

*(فارسی ترجمه۴۲ مخ)*

*امریکایانو به ټل کرزي ته ویل (پس له ۱۹۹۶ کلونو څخه) تاسو ښه روڼ فکر یاستئ، ښه ده چې ولاړ شئ د طالبانو سره معامله وکړئ.*

*(فارسی ترجم ۴۴ مخ)*

*د ۱۱ د سپټمبر ۲۰۰۱ څخه ورسته کله چې پیسې (ډالر) شمال (شمال د افغانستان) او اسلام آباد ته را سر شوې، حامد کرزي د نورو مشرانو (رهبران) په شان په کویټه کې د سي آی سره پټ لیده کاته لرل.*

*(فارسی ترجمه۵۷ مخ)*

*ګریک چې وروسته په کابل کې د سی آی اې ریس شو، حامد کرزي ته یې پیسې او ستلایت تیلیفونونه ورکول. یو تن د ګریک د همکارانو څخه چې بیا وروسته په شمال کې د سي آی اې د تیم غړئ ؤ څرګنده کړه چې په ریښتیا هم سې آی اې کرزي ته مشوره ورکړه چې د امریکا د کماندو تیم تر راتلو صبر وکړي (افغانستان ته داخل نه شي). کرزي پخپله مصاحبه کې د لیکونکي سره : ما د دوی (امریکایانو) څخه مرسته وغوښته، ما سي آی اې ته خپل دقیق د حرکت ورځ (ارزګان ته) و نه ویله.*

*د سي آی اې له خوا په منظم ډول ۸۰ اتیا زره دالر او یا هم یولک دالر ورکول کیدل. د پیسو کمئ نه ؤ. په داسي حال کې چې کرزئ په ارزګان کې ؤ، احمد ولي کرزي (د حامد کرزي اندري ورور) هر څه ته چې حامد کرزي اړتیا درلوده د کویټې څخه به په اسلام آباد کې د سي آی اې دفتر ته تګ او راتګ کاؤ.*

*سي آی اې به خپل پیټي (ستلایت تلیفونونه، پیسې او ځینې وسایل...) احمد ولي کرزي ته به د ځمکې لاندې پارکینګ کې ورکول، کله هم په هغه جاده کې چې ډیره ګڼه ګوڼه وه د سرک غاړې ته به موټر ودرید بل موټر ته به یې د کړکۍ څخه هرڅه ورکړل او دواړو*

موټرونو به ژر حرکت وکړ. (پس له هغه چې حامد کرزئ ارزګان ته په ۲۰۰۱ داخل شو، احمد ولي کرزي په  مصاحبه کې (لیکونکې) ته څرګنده کړه چې پیسې د سي آی اې له خوا ورکول کیدې.

(فارسي ترجمه ۸۵ مخ)

کرزي سي آی اې ته خبر ورکړ چې د مرستې ته اړتیا ده، په هماغه شپه دوه څرخي الوتکې د څلورتنو امریکایانو سره راورسیدل. یوه څرخي الوتکه په هوا کې ولاړه (معلقه) وه او دوهمه په ځمکه کښیانسته. هماغه ؤ چې د حامد کرزي د یوې میاشتې مخکې پیل شوي کار همدلته پایله ومونده.

(فارسي ترجمه ۱۰۴مخ)

په هغه شپه ګریک د سي آی اې مامور په دوړو او خاورو ککړ ؤ چې څرخي چورلکه یې د غرونو په سر په یوه هموارہ سیمه کې کښیناسته او دئ (ګریک) ور څخه راکښته شو. نوموړي د شپې په دوربین کې هغې خوا دې خوا نظر واچاؤ او کرزئ یې لټاؤ. کرزئ هم پر یوې ډبرې ولاړ ؤ، هماغلته یې ده ته (کرزي) په نوم سره غږ وکړ چې تاسو هلته یاستی؟ او له هغه عالي جناب څخه یې تود هرکلئ وکړ.

(فارسي ترجمه۱۰۶ مخ)

کرزئ باید په بیړه او په پټه (د ارزګان څخه) د څلورو یا پنځو ساعتو په منځ کې د امریکایانو اډې ته د پاکستان په یعقوب آباد کې اوسي. دونالد رامسفلد د امریکا د وخت دفاع وزیر وویل چې موږ دئ (کرزئ) د یوې مذاکرې دپاره د هوا له لیارې (په الوتکه کې راوست.

(فارسي ترجمه ۱۰۷ مخ)

د دې دپاره چې وخت ضایع نه شي، څرخي الوتکو ته د حرکت امر وشو. ګریک د سي آی اې مامور موضوع افغانانو ته واضع کړه، دوی ته وویل شول چې په بیړه ارزګان ته ولاړشي او هلته یوه اډه جوړه کړي، کرزئ او دولس تنه امریکایي ځانګړي سرتیري (کومندو) او د سي آی اې تیم به هم بیا ورسته له دوی سره هلته یوځای شي.

(فارسي ترجمه ۱۱۴ مخ)

ځینې د طالبانو څخه ډاریدل او ځینو بیا په کرزي باور نه درلود. حامد کرزي د دوی څخه یو تن (افغانانو) ته وویل : آسمان ته وګوری امریکایان به اوس او په ډیر لنډ راتلونکي کې وګوری. هغوی دلته موږ سره مرسته کوي، خو هغوی ته به (امریکایانو) سپین بیرق د موټر د کړکیو څخه وریوی  چې پیلوت تاسې وګوري.

(فارسي ترجمه ۱۲۰ مخ)

*لنډه داچې امریکایې کوماندویانو تر مخه، کرزئ او د سي آی ای مامورین ورپسې ؤ، په دوی پسې بیا لسګونه تنه افغانان ترین کوټ ته ننوتل.*

*(فارسي ترجمه۱۲۱ مخ)*

*څرنګه چې د امریکا ځانګړو پوځیانو په ارزګان کې هر یو ته (افغانانو) بې حسابه پیسې ورکولې، احمد ولي هم زیاد ډالر او ستلایت تلفونونه ویشل. د امریکایانو خلاف هغه (احمد ولي کرزی) ټول دقیق لیکلي ؤ چې چا ته څومره څشئ ورکړ شوي دي. یو ۸۰ زره دالره، بل ۵۰ زره دالره، بل ۱۰زره دالره اخیستي دي. هغه (احمد ولي) خپله دغه ارقام تعین کړي ؤ.*

*(فارسي ترجمه۱۴۶ مخ)*

*قیوم کرزي (مخکې د ۱۱ د سپټمبر څخه) په امریکا کې رستورانتونه خلاص کړي ؤ. برسیره پردې هغه د خپلې کورنۍ په استازیتوب د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، سی آی اې او پنتاګون سره په اړیکه کې ؤ.*

*(فارسي ترجمه۱۵۶ مخ)*

*د طالبانو د سقوط څخه (۲۰۰۱) وروسته شمالي ټلوالي په کابل کې وضع ډیره خرابه کړې وه. دوی (شمالي ټلوالي) به خلک پټ وژل، دا حالت باید دریدلئ وئ.*

*(فارسي ترجمه ۱۵۸ مخ)*

*کله چې ما د حامد کرزي سره په ۲۰۰۸ کې مصاحبه وکړه، هغه وویل چې امریکایانو د حد څخه زیاد ملکي وګړي وژل. ځکه چې هغوی به ناسمو معلوماتو څخه استفاده کوله.*

یقیناً چې دا یې رینښتیا ویلې. امریکایانو به د داسې خلکو څخه هم معلوماتو اخیستل چې شخصي دښمني او یا سیالي به یې ورسره وه، او دا ریښتیني اطلاعات نه ؤ. ځکه خو زیاد ملکي وګړي وژل کیدل.

*خو حامد کرزي به بیا د خپل حکومت په کارمندانو چې هغوی به ډیرئ ناسم اطلاعات ورکول، کوم ګوت نیونه (انتقاد) نه کوله.*

*(فارسي ترجمه ۱۷۷ مخ)*

*څنګه دغه زورواکي د امریکایانو په ملاتړ او تشویق سره د منطقي پادشاهان شول او واک یې تر لاسه کړئ.*

*(فارسي ترجمه ۱۸۰ مخ)*

*زما په لومړنۍ مصاحبه (د کتاب لیکونکې ) کې حامد کرزي د سي آی اې دخالت رد کړ. کله چې افغان مرستنه کوونکو د سي اي اې د مامور نوم چې دوی سره په سفر کې مل ؤ او مرستنه یې ورسره کوله څرګند کړ، بیا نو په دوهمه مصاحبه کې د سی آی ای*

*مامور ګریک نوم تاید کړ. پس له هغه یې دا عکس چې هغه او ګریک په ۲۰۰۱ په ترین کوټ کې اخیستي ؤ راوښود. خو هغه وغوښتل چې د خبرو موضوع یې څرګنده نه شي.*

## حامد کرزئ څنګه د ارزګان څخه ارګ ته راغئ

46

په هغو شپو ورځو کې چې حامدکرزئ په ارزګان کې د قومي مشرانو سره په خبرو اترو بوخت ؤ، د امریکا د ځانګړو ځواکونو یو ټولي (دولس تنه) حامد کرزئ ساته. د دوی ټولئ مشر**امرین** نومیده او د سي آی اې مشرېږ ګریک ؤ. د ارزګان مرکز ترین کوټ لا د طالبانو په ولکه کې ؤ.

په داسي حال کې چې شمالي ولایتونه یو په بل پسي د شمالي ټلوالي ولکي ته لویدل، خو په جنوبي سیمو کې طالبان په کلکه په جنګ بوخت ؤ.

حامد کرزئ د ترینکوټ څخه شل کیلومتره لرې په یوه قلا کې ځای پرځای ؤ. کرزي هڅه کوله چې قومي مشران د ځان لوري ته راواړوي او خبرې یې ورسره کولې چې خبر راغئ یو لښکر د طالبانو نژدې څلوېښت تنه مخ په دې خوا (حامدکرزي لوري ته) راروان دئ چې حامدکرزئ ووژني او یا یې ژوندئ ونیسي. خو د طالبانو لښکر د امریکایانو د چورلکو په واسطه ټول له منځه یووړل شول، ډیر لږي یې وتښتیدل.

د امریکایانو او حامدکرزي پلویانو له خوا بلاخره د ترینکوټ ښار فتح شو. په دې جګړه کې ډیرئ پاکستانیان اوعرب ډیر په کلکه جنګیدل، دا ځکه چې دوی افغانان نه ؤ او یواځې دجنګ دپاره راغلي ؤ.

کرزي به تل امریکایانو ته ویل چې که دطالبانو ډلګۍ درې موټره یا کم وي چې بم پرې وانچول شي، ځکه د عامو خلکو وژنې امکان پکې ډیر دئ.

حامد کرزي په طالبانو زړه سوئ درلود، ځکه خپل هیوادوال یې ؤ.

د روژې مبارکه میاشت هم پیل شوې وه، په هرحال خلک جوپه جوپه حامد کرزي ته راتلل. ډیرئ داسې خلک راتلل چې تر پرونه طالبان ؤ، خو اوس د حامد کرزي په لوري

---

46

Expeditie Uruzgan
De weg van Hamid Karzai naar het Paleis
ارزګان نظامي سفر یا تلل - د ارګ په لور د حامد کرزي لار (لیکونکې: بیتي دم – چاپ کال – ۲۰۰۹ ))
((ز

دي. برسیره پرعامو وګړو چې تر پرونه د مجبوریت له مخې د طالبانو پلویان ؤ اوس د حامد کرزي پلویان شول.

حامد کرزي هغه وخت په غوڅ ډول د تلیفون له لیارې واوریدل چې دئ (حامدکرزئ) د افغانستان د موقت دولت ریس ټاکل شوئ چې د دوی لښکر د ترین کوټ څخه مخ په قندهار روان ؤ. په لاره کې د طالبانو سره څه سپکه او درنه جګړه هم وشوه، البته دا لمړنئ ځل ؤ چې دوه تنه امریکایان په مخامخ جګړه کې ووژل شول او په لسګونه د حامدکرزي لښکر او کیدای شي چې سلګونه طالبان وژل شوي وي.

حامد کرزي ډیرئ تسلیم شوي طالبان له ځانه سره وساتل چې له دوی سره بیا قندهار ته ولاړشي. د حامد کرزي لښکر اوس ډیر شوئ، په داسې حال کې چې څواونۍ وړاندې ډیر لږشمیر خلک ؤ. حامدکرزي غوښتل چې ړومبئ د ارزګان څخه قندهار ته ولاړشي او د قندهار څخه به وروسته کابل ته ځي. حامد کرزي ترین کوټ (ارزګان) معلم رحمت الله ته وسپاره، په بله وینا د ارزګان والي معلم رحمت الله شو. ځینې پخواني طالبان یې بیرته په دندو وګمارل.

پس له څه مودې د حامد کرزي خبروړونکئ او راوړونکئ (سعید یا سید) بیا راښکاره شو. ټولو دا ګمان درلود چې وژل شوئ، خو هغه ځان چیرته د ملګري کره د طالبانو له ویرې پټ کړئ ؤ. سعید چې د حامد کرزي سره ډیره مرسته کړې وه، هرخبر به د هغه پواسطه لیږدول کیده، دا تمه وکړه چې د ارزګان والي به دئ وي. خو حامد کرزي د دوه لکه کلدارو په بدل کې آرامه کړ، ځکه خو اوس سعید هم د دوی د لښکرسره یوځآی د قندهار په لور روان دئ.

د حامد کرزي لښکر چې شاولي کوټ ته راورسیدل د حامدکرزي سره امریکایي ټولئ مشر امرین او د ده راهود پخوانئ مجاهد بري ګل (*چې زما په ګمان به ببرئ ګل وي*) له نژدې دیرش تنو سره د کرزي د لښکر څخه جلا شول او مخته ترې ولاړل. (*اوضاع وڅیړي او که څه معلومات ترلاسه کړي*) په دې ترڅ کې په تصادفي شکل د طالبانو د یوې ډلې سره مخ کیږي او په لومړي ځل دغه امریکایي ټولئ په افغانستان کې په مخامخ ځمکني جګړه کې اخته شو.

دغه امریکایي ټولئ مشر مخابره وکړه چې طالبانو سره مخ یو، جګړه پیل کیږي خوهوایي ځواک ته اړتیاه ځکه نشته، دا موږ خپله له منځه وړلئ شو ځکه چې په بمبارۍ کې عام وګړي له منځه ځي. دغه د طالبانو کوچنۍ ډلګۍ دوی خپله له منځه یووړه. وروسته بلې سترې ډلې سره مخ شول چې د هغه دپاره یې د هوایي ځواک څخه مرسته وغوښته. اوس نو د کرزي لښکر شاولي کوټ ته ورسیدل.

شاولی کوټ کې ملا نقیب الله (*د برهان الدین رباني د حکومت د قندهار د قول اردو قومندان چې بیا ورسته طالبانو ته ورواوښت*) اوس د حامد کرزي په پلویانو کې شامل دئ. ملانقیب الله اوس د تلیفون په لیکه شاه ولی کوټ کې حامد کرزي ته ښه راغلاست ووایه. د حامد کرزي لښکر نژدې درې زره تنه شاه ولی کوټ کې د سید علیم په کلي کې

شپه تیره کړه. یوه ناڅاپه انفجار وشو امریکایي ټولۍ مشر امرین هم سطحي زخمي شوئ ؤ، په لسګونو خلک په کې مړه شول. هوایي ځواک ته احوال ورکړ شوئ ؤ او د چورلکوغړونه رانژدې کېدل. درې امریکایان په کې ووژل شول. امریکایي ټولۍ مشر امرین چې زخمي شوئ ؤ سره د ځینو نورو جرمني کې د امریکایانو عسکري روغتون ته ولیږدول شول. د بري ګل ټول ډیرئ جنګیالي ووژل شول، د بري ګل نیمایي مخ په بم کې له منځه تللئ ؤ. خپله حامد کرزئ هم څه سطحي په سر زخمي شو، دئ هم د امریکایانو له لوري غره ته وخیژول شو. پوره څرګنده نه شوه چې څنګه دغه پیښه رامنځ ته شوه. د سي آي اې مشر ګریک په دې آند دئ چې دا یو امریکایي بم ؤ، د ځینو په قول چې په امریکایي ټولي کې چې اوس بل ټولئ هم ورسره یوځای شوئ ؤ، کومې ښځې څخه په ناپوهۍ کې دغه بم خلاص شوئ یا خلاص کړئ (د جګړې کمه تجربه لرونکي ښځه وه).

په هر حال په دې ترڅ کې بل خبر هم کرزي ته راورسید چې ګل آغا شیرزئ له دوی څخه دمخه د امریکایانو په مرسته قندهار ته نژدې شوئ دئ. حامد کرزي هڅه کوله چې ګل آغاشیرزئ تم کړي خو شیرزي لا دمخه د قندهار هوایي ډګر کې د طالبانو سره جګړه تیره کړې وه. شیرزئ قندهار ته رانژدې ؤ. په دې ترڅ کې بی بی سی راډیو د بن کنفرانس د غونډې پر بنسیت اعلان وکړ چې حامد کرزئ د افغانستان د موقتې ادارې ریس وټاکل شو، اوس نو ټولې نړۍ او په قندهارکې د طالب مشرانو هم داخبر واوریده.

د طالبانو مشرانو په قندهار کې خپله وروستۍ غونډه د ملا محمد عمر په شتون وکړه. په غونډه کې به نژدې لس دولس تنه طالب مشرانو ګډون درلود. چې له دې جملې څخه ملاراکتي چا چې ښې اړیکې حامد کرزي سره درلودې، ملا عبدالرزاق، ملا خیرالله خیرخواه، دوی هم د کرزي سره اړیکه لرله. ملا برادر چې په هغه وخت کې په ارزګان کې ستر قومندان ؤ (اوس د ریس الوزرا لومړئ مرستیال) څوک چې په ارزګان کې د کرزي او طالبانو ترمنځ منځګړتوب کاؤ، چا چې طالبان په دورژې کې د کرزي د مخې څخه په شا کړل.

طالب مشران ټول پوه شول چې نوره جګړه بابیزه ده، هسې بې ګناه وګړي په کې مري. نو د طالبانو پریکړه پر دې وشوه چې باید نور جګړه ونه کړي، او حامد کرزئ چې اوس د موقتې ادارې ریس ټاکل شوئ هغه ته تسلیم شي. نو لنډه دا چې طالبانو د ملا نقیب الله په منځګړتوب د کرزي سره اړیکه شوه. حامد کرزي ورسره ومنله چې طالبان دې نه جنګیږي او خبرې به سره وکړو. له دې وروسته بیا ملا عبیدالله د طالبانو د واکمنۍ د دفاع وزیر هم کرزي ته د استازي یا منځګړي په توګه د ملا عمر له خوا واستول شو. ملامحمد عمر چیرې پټ ځای ته ولاړ، البته ویل کیږي چې بیا وروسته ارزګان کې د چا په کور کې اوسیده.

ملا محمد عمر لیک هم لیکلئ ؤ چې د ملګروملتونو د بن د کنفرانس په بنست د طالبانو واکمني حامد کرزئ د افغانستان د ریس په توګه مني. پریکړه دا شوه چې پرته د جنګ څخه قندهارد طالبانو له خواحامد کرزي ته تسلیم شي. امریکایان دې بمباری ودروي، حامد کرزي هم پخپلوار سره د طالبانو مشرانو څخه غوښتنه وکړه چې په ملي راډیو کې دې دغه اعلان خپورشي چې په ساده اصطلاح طالبانو حامد کرزي ته بعیت وکړ، چې جنګ سمدستي ودریږي.

همداشان د بندیانو خوشې کیدل په ځانګړي ډول د حامد کرزي تکړه ملګرئ جان محمد چې مخکې د طالبانو د واکمنی څخه د ارزګان والي ؤ، په بیړه راخوشي شي، حتا داسې وویل کیده چې جان محمد دخوشې کیدو مخکې قندهار ته نه داخلیږو. لنده داچې جان محمد راخوشي شو، خو حامد کرزي دپاره د پیژندلو نه ؤ، ډیر زیاد ډنګر شوئ ؤ.

په هرحال، جان محمد سمدلاسه په لوړغږویل مړه دې وي طالبان! مړه دې وي طالبان!

*(دا چې جان محمد څوک دئ، وروسته به درته څرګنده شي).*

حامد کرزي جان محمد آرامه کړ او څوګړی یې ورسره خبرې وکړې، د هغه وخت ټول شرایط یې ورته واضح کړل او خپل موقف یې هم ورته څرګند کړ.

اوس هیڅوک نه پوهیږي چې په قندهار کې به څه تیرشي، آیا په ریښتنې به هم طالبان ونه جنګیږي؟ جګړه به رامنځ ته نه شي؟ لکه څنګه چې دمخه د ملانقیب الله او ګل آغا شیرزي ترمنځ په قندهار ښارکې جګړې شوې وې، نو آثار یې حامد کرزي خپله هم هغه وخت ولیدل چې حامد کرزئ قندهار ته راننوت. حامد کرزئ مخامخ د ملامحمد عمر دفتر ته ورغئ. د ملانقیب الله غوښتنه د حامد کرزي څخه دا وه چې د قندهار والي مقرر شي، خو لکه څنګه چې دمخه وویل شول ګل آغا شیرزئ لا دمخه قندهار ته راننوتئ ؤ، نو حامد کرزي نه غوښتل چې اوس یو بل وسله وال سره هم په جګړه شي، ځکه خویې ملانقیب الله آرامه کړ.

د ملا عمر په دفتر کې د لومړي ځل دپاره حامد کرزي د افغانستان د موقت ریس په توګه د سي ان ان د خبریالي کریستینه امانپور سره مصاحبه وکړه. له مصاحبې وروسته حامد کرزي ته د امریکایانو چورلکه ولاړه وه چې کابل ته ولاړشي. د حامد کرزي ټول لښکر غوښتل چې له ده سره کابل ته ولاړشي، خو هغه ورسره ونه منله یواځې د ګوتو په شمیر یو څو تنه یې له ځانه سره په چورلکه کې پورته کړل او کابل ته ولاړ.

کله چې حامد کرزئ کابل ته راغئ او خپله دننده یې پر مخ بیوله، څه موده وروسته د ارزګان والي معلم رحمت الله حامد کرزي کابل ته راوغوښت او ورته یې وویل چې ارزګان ته بل څوک د والي په حیث ورو‌پیژني اود (معلم رحمت الله) یې د ارزګان ولایت

معارف ریس مقرر کړ او هم یې هغه ته د شخصي جیب څخه دحج مبارک زیارت مصارف ورکړل. تردې ګړی ارزګان ښه امن ولایت ؤ، د دولت له لوري طالبانو ته چا څه نه ویل او نه زوروول کیدل. مهمه داچې طالبانو هم غیر قانوني کړنې نه ترسره کولې. ارزګان ښه په امن کې ؤ. د ارزګان نوی والي هماغه جان محمد مقرر شو، کوم چې د طالبانو له بندیخانې راووت او په لوړ غږیې ویل مړه دې وي طالبان، مړه دې وی طالبان.

***ملامحمدعمر او ملا برادر لا د ارزګان په ده راهود کې استوګن ؤ. خو د جان محمد په مقرریدو سره او ورپسې ځینې بمباری وشوې، ملاعمر او ملابرادرهم ځانونه چیرې پټ کړ. امریکایانو ته جان محمد پیژندل شوئ شخص ؤ چې د طالبانو په وړاندې سخت دریځ لري. امریکایانو د هغه (جان محمد) جنګیالیو ته جنګي زده کړې ورکولې او ښې اړیکې یې ورسره لرلې.*** د ارزګان ولایت د زراعت ریس عبدالعزیز چې پخوا د ارزګان ولایت د پولیسو کارکوونکئ (قومندان) ؤ هم د جان محمد په شان د طالبانو په وړاندې سخت دریځ درلود. د دوی دواړو (جان محمد او عبدالعزیز) ښې اړیکې د امریکایانو سره پیدا شوې وې.

روزي خان چې دجان محمد سره د ارزګان په ولایت کې د پولیسو قومندان ؤ، دا په ډاګه کوي چې جان محمد ډیره لنډه موده وروسته چې د امریکایانو سره اړیکې ټینګې شوې نو د ارزګان ولایت امنیت په خراپیدو شو.

جان محمد او عزیز به د امریکایانو سره ګرځیدل او هغوی ته به یې د طالبانو کورونه وربښودل. دې ته ورته توګه پیښې په نورو جنوبي ولایتونو کې هم شوې دي.

هغه قومي مشران چې هیڅکله یې هم د طالبانو سره اړیکه نه درلوده د امریکایانو د لوري به پلټل کیدل. په دې ډول امریکایانو د قومي مشرانو کرکه هم د خپل ځان کړه. د عام وګړو کرکه هم ورسره وه. ډیرئ قومي مشران او عام وګړي زوروول کیدل. ځینې به یې بندیان شول. ځینې یې کابل ته کډه کولو ته اړ شول، ځینې نور بیا پاکستان ته وتښتیدل.

*د ارزګان په ځینو ولسوالیو کې د کوکنارو کښت پیل شو، د هغې سیمې ولسوال به د جان محمد په مشوره د سیمیزو خلکو سره په اړیکه ؤ چې کوکنار وکري.* یواځې د چوره ولسوالی څخه به په کال کې دیونیم میلون ډالرو په ارزښت حاصلات پورته کیدل. دغه لړی بیا ځینو نورو ولسوالیو ته هم وغزیده.

*په دې ډول سوکه سوکه جان محمد یو ستر د مخدره توکو قاچاقچی شو.* ویل کیږي چې جان محمد په دې تړاو پلازمینې ته هم برخه ورکوله. جان محمد اوس د مخدره توکو په

یوه ستره مافیایي کړۍ کې ورګډ شو. *دا خبره هالندي عسکر چې په ارزګان کې ځای پرځای شوي ؤ هم تصدیقوي.* بلاخره د هالندي عسکرو د ډیر فشار له کبله د جان محمد پرځای عبدالحکیم مونیب د ارزګان والي مقررشو.خو جان محمد لا اوس هم پوره ځواک او خلک درلودل. خلک ترې ډاریده. زما په ګمان داځکه چې اصلاً خو د مخدره توکو مافیایي کړۍ دلته ریښې غزولې وې، نو سته یې ځکه ځواکمنه او پخه پاتې وه.

د امریکایانو له لوري د کورونو پلټل، زوروني، بمبارۍ اوهمدارنګه د کوکنارو د کښت لړۍ دا ټولې د ارزګان د ولایت څخه چې جان محمد یې والي ؤ پیل شوې چې بیا وروسته نورو جنوبي سیمو کې هم عیني همدغه کړنې پیل شوې.

په درواغو امریکایانو ته احوال ورکول چې په فلانه کورکې طالبانو ځانونه پټ کړي. په داسې حال کې چې د هغه کور غړي به نه طالب ؤ او نه به یې دطالب سره اړیکه لرله، خو د همدغې خبرورکوونکي شخصي دښمنۍ له کبله به پرې بمونه ګزار شول.

د دا ډول افغانانو په لمسون امریکایانو هم د افغانانو کورونه پلټل پیل کړل، دخلکو بې ځایه زوروني پیل شوې. د شخصي دښمنیو په بنسټ به د خلکو په ښادیو کې د امریکایانو له لوري بمونه اچول کیدل. امریکایانو پرته له دې چې د دولت سره مشوره وکړي، د سیمیزو ټیټپوړو دولتي کارکوونکو په خوله یې د خلکو په کورونو بمونه ګزار کړل.

دا او دې ورته پیښې د دې سبب شوې چې د امریکایانو او دولت په وړاندې د خلکو کرکه سوکه سوکه زیاته شي او بلاخره په نفرت بدله شوه. ډیرئ قومي مشران بندیان شول. ځینې قومی مشران به د شخصي دښمنیو په خاطر زورول کیدل. کورونو ته یې ورننوتل او بې عزتي یې کولې. د کورنو په پلټنو کې به ځیني خلک د امریکایانو له لوري د بګرام په بندیخانه کې بندیان شول، حتا ځیني یې د ګوانته ناموبې زندان ته واستول شول. نور قومي مشران چې خبریدل هغوی ته هم همدغه ویره پیدا کیده چې بندي کیږي، نو کابل یا نورو سترو ښارونو ته کډه شول، یا به هم پاکستان ته واوښتل.

لنډه داچې داسې څه هم د لوی قندهار په وګړو تیر شوي کوم چې د په نوی یمو کلونو کې د کابل په ښاریانو هم نه ؤ تیرشوي. د خلکو کرکه او نفرت دې کچې ته ورسید چې د هیڅ شي دپاره یې هم دولت ته مراجعه نه کوله.

په دې ډول د طالبانو څرک بیا را څرګند شو. طالبانو د دولت د دغه ضعیف موقف څخه استفاده وکړه، او د دولت خلاف یې عامو وګړو سره ښه چلند غوره کړ، تر خپل توان لوړې مرستې یې ورسره کولې. عام وګړو ته بیا طالبان هغه پخواني طالبان وګرځیدل کوم چې د مجاهدینو (جاهلینو) حکومت یې ړنګ کړ او خلکو په آرامه سره سا ایستله.

اوس هم د قضايي مسايلو او ځينو نورو دوديزو مسايلو د حل دپاره طالبانو ته مراجعه کوله. طالبانو هم په پوره ايماندارئ او امانتدارئ سره د خلکو قضيې حل او فصل کولې.

که څه هم حامدد کرزئ په دې باندې سخت خوابدئ کيده چې د خلکو په کورونو بمونه گزاريدل، په وار ورار يې امريکايانو ته دا وويل چې د دولت سره په مشوره بمبارئ وکړئ. خو هغوی خپل کار کاؤ. که څه هم په دې سره څوک حامد کرزي ته برات نه شي ورکولئ، خو لا اقل يو څه يې کول. دغه ډول کړنې سبب شوې چې طالب مشران ځانونه پټ کړي او بلاخره بيا دې ته وهڅول شول چې طالبان بيا سوکه سوکه يو لاس شي او بلاخره بيرته د پخوا پشان يو موټئ شي او د دولت په وړاندې بغاوتونه پيل کړي. چې همداسې هم وشول. د دولت او ولس ترمنځ واټن راپيدا شو.

## د حامد کرزي موقته او انتقالي دوره

د طالبانو د لومړنۍ حکومتولی په ړنګیدوسره د امریکایانو له خوا حامد کرزئ په یوې سیاسې څیرې بدل شو.

کله چې د بن په کنفرانس کې ۲۰۰۱-۱۲-۱۳ ز پس له ۹ ورځو جنجالي بحثونو څخه د کنفرانس په ګډون والو د امریکا له خوا ومنل شوه چې حامد کرزی دې د موقتې اداری ریس وي، نو هماغسې هم شول چې حامد کرزئ د بن د کنفرانس د ګډونوالو له خوا د شپږو میاشتو دپاره د افغانستان موقت ریس په توګه وټاکل شو.

د بن په کنفرانس عبدالستار سیرت (د محمد ظاهرشاه پلوئ) ګډون درلود، د ګډونوالو او ځینو نورو په وینا ټول په دې خوښ ؤ چې عبدالستار سیرت د شپږ.میاشتنې موقت حکومت ریس وي. خو دا چې حامد کرزي د بن په کنفرانس شتون هم نه درلود اوځنګه مخکې له مخکې حامد کرزئ لومړئ قندهار بیا ارزګان سیمو ته تللئ ؤ چې خلک په ځان راټول کړي دا د امریکا پالیسي وه او همدایي غوښتل. تش په نامه کنفرانس یې ترتیب کړ. په دې وخت کې حامد کرزئ په ارزګان کې ؤ چې خبر شو دئ د افغانستان د موقت حکومت ریس ټاکل شوئ.

حامد کرزئ د ارزګان څخه کابل ته راغئ. په یو ستر مطبوعاتي کنفرانس کې یې د امریکا او نړیوالو ټولنو څخه یې د مرستې غوښتنه وکړه. چې دغه غمیزه د افغانستان څخه ټوله کړي.

حامد کرزي په ۲۰۰۱-۱۲-۲۱ ز د تنظیمي مشرانو او نورو سیاسي څیرو په ګډون سره د لوړې مراسم تر سره کړل. د بن د کنفرانس د پریکړې پر بنسټ د شپږومیاشتو په ترځ کې به دولتي او غیر دولتي ارګانونه جوړیږي او زمینه به یوې لویې بیړنۍ جرګې ته چمتو کیږي.

برهان الدین رباني چې د طالبانو د لومړي ځل حکومتولۍ څخه دمخه د افغانستان ولسمشر ؤ واک حامد کرزي ته وسپاره.

کله چې حامد کرزي په خپلې دندې پیل وکړ، ړومبئ خو ډیرئ یا ټولو کابلیانو خپلې ږیرې وخرې یلې (ږیره زما واک یې د ملا) بنځې او سرې د قمچین یا درو وهلو خلاص شول. کابل وران ویجاړ پاتې ؤ.

کله چې حامد کرزئ د موقتې ادارې ریس وټاکل شو، دولتي ادارې، غیردولتي ادارې ، مسلح قوا ټول د ریښې څخه نابود شوي ؤ. هیڅ ادارې شتون نه درلود. که کوم چیرې

کومه اداره هم وه هغه غیر فعاله وه. د دولت ډیرئ مامورین خپل دفتر ته نه تله، ځکه برسیره پردې چې معاش به نه ورکول کیده نور به هم رټل کیدل.

لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه، حامد کرزي په لومړني مطبوعاتي کنفرانس کې د بهرنیو هیوادونو څخه د مرستې غوښتنه وکړه. په ریښتیا چې ډیر سخت حالت ؤ. هرڅه د صفر څخه پیلول او په پښو درول ډیره انرژی، ځواک او ډیر وخت په کار لري. خو لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده حامد کرزئ په دې وخت کې یو بی واکه ولسمشر ؤ. ځواکمن خلک یواځې شمالي ټلواله وه (په ځانګړي ډول قسم فهیم او د هغه نور ملګري). هرڅه د دوې په واک کې ؤ. لومړئ خو حامد کرزي داسې خلک څنګ کې ځان له سره نه درلودل چې پوه او دښې تجربې خلک وي.

که چیرې حامد کرزي په وزارتونو کې پوه او د کار اهل خلک درلودلئ، کار اهل کار ته سپارل شوئ وئ. بیا یې امکان ؤ چې هرڅه په ښه ترتیب سره له پیل څخه پرمخ تللې وئ او د بهرنیانو د شته امکاناتو څخه په ښه ضرفیت لرلوسره استفاده شوي وئ، په خواشینئ چې داسې نه وه.

پس د څومیاشتو بیړنئ لویه جرګه د لویې جرګې په تالار کې په ۲۰۰۲-۳-۲۰ ز کال دایره شوه چې د ټول هیواد څخه نژدې یونیم زر کسانو په کې ګډون کړئ ؤ. په دې کې په بهرکي افغان کډوالو وګړي هم ؤ شامل ؤ. همداراز ۵۰ پنځوس تنه د حامد کرزي له خوا انتسابي جرګې ته ورمعرفی شول.

کله چې حامد کرزي په ۲۰۰۲ کې بیړنئ لویه جرګه راوبلله، دې جرګې هم حامد کرزئ د د دو کلونو دپاره د افغانستان د انتقالي دورې ولسمشر وټاکه.

## جنګي جرمونه

**طالبان**: طالبان تریو حده جرایم ترسره کړي دي. هغه داسې چې په پټه به یې ځیني خلک ترور کړل، ځیني به یې په پټه ووژل. همداسې د ځینو مرستندویه ټولني کارکوونکي تښتول شوي ؤ، البته چې پوره دقیقه هم په دې خاطر نه ده چې کیدای شي چې بل چا تښتولي وي، خو لکه څنګه چې په هغه وخت کې څرګنده وه بل هیچا داسې جرئت نشو کولای، ځکه خو طالبان ګرم ؤ.

**شمالي ټلواله:** شمالي ټلوالي هم پخپل وارسره ډیر زیاد جنګي جرایم سرته رسولي دی. کله چې امریکایانو پر افغانستان یرغل وکړ. نو امریکایانو د شمالي ټلوالي څخه د میلیونونو ډالرو په بدل کې د ځمکني پوځ په حیث استفاده وکړه. شمالي ټلواله دې ته حاضره شوه چې د پیسو په بدل کې خپل هیوادوال ووژني. په مزارشریف کې د طالبانو، امریکایانو او شمالي ټلوالي ترمنځ سخته جګړه وشوه. په دې جګړې کې په زرګونو طالبان ووژل شول. برسیره د جنګ په ترڅ کې، په زرګونه نور طالبان شمالي ټلوالې ته تسلیم شول. په سلګونو طالبان پس له تسلیمدو ووژل شول او یوځایی قبرونو کې خښ شول.

همداشان ۳۰۰۰ څخه تر ۳۵۰۰ تسلیم شوي طالبان په کانتنرونو کې د ازبک جنګسالار عبدالرشید دوستم له خوا واچول شول چې انتقال یې کړي. وحشي دوستمیانو په ثقیله ماشیندارو سره کانتینرونه سورې کړل او خندل یې ورته، ویل به یې چې د دې دپاره چې هوا کانتنر ته وررننوځي سورې ورته پکي کوؤ، په داسې حال کې چې په مرمیو سره یې وژل. ځیني کانتنرونو کې طالبانو د هوا نه رسیدو له کبله مړ شول.

**امریکایان او د هغوی متحدین:** امریکایانو هم پخپل وارسره په فجیح او وحشیانه شکل سره جنګي جرمونه او جنایتونه په افغانستان کې د طالبانو په وړاندې سرته رسولي دي. د قندوز ولایت په یو روغتون په ۲۰۱۵-۱۰-۳ د آی اس آف ځواکونو د یو بم په غورځولو سره ۴۲ تنه ملکي کسان ووژل شول او نژدې ۳۰ تنه نور زخمیان شول. امریکایانو به طالبان ژوندي په خپلو سپیونیول او په سپو به یې خوړل (زخمي)، بربنډ به یې کړل، لاس او پښیې پرې تړلي خپلې میتیازې (ادرار) به پرې کول. داسې هم ویل شوي چې جنسي تیرئ به یې پرې کاؤ. بندیان طالبان به په الوتکوکې ګوانته نامو او ځینو نورو اروپایي هیوادونو کې زندانونو ته انتقالول، نو په الوتکو کې به یې څملول په زنځیر د لاسونو او پښو څخه کش شوي تړل.

## د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشرۍ لومړنۍ ټول ټاکنې ۲۰۰۴ز

افغانستان پخپل تاریخ کې لومړي ځل د پاره په ۲۰۰۴-۱۰-۶ ز د ولسمشرۍ ټول ټاکنې تجربه کړې.

په دې ټاکنو کې حامد کرزي ۵۵.۴ سلنه رایې تر لاسه کړې او د افغانستان ټاکل شوئ ولسمشر شو.

دې ټول ټاکنو کې اتلس نوماندانو ځانونه ولسمشرۍ ته نوماند کړي ؤ. که چیرې د ولسمشرۍ کاندید د ۵۰ سلنې څخه کمې رایې تر لاسه کړې نو بیا ټاکنې دوهم پړاو ته ختلې. په دې ټاکنو کې ۱۲ میلیونه وګړو د ټاکنو د شرایطو پر بنسټ ګډون درلود. حامد کرزي درې برابره د نورو ولسمشرۍ نوماندانو په پرتله رایې تر لاسه کړې وې. نژدې هر یو نوماند ځان دپاره د بل قوم څخه دوه معاونین ټاکلي ؤ، دا ددې دپاره چې د معاونینو په واسطه به یې رایې ډیرې شي.

دغې ولسمشرۍ ټول ټاکنو ته د اتلس نوماندانو څخه د درې تنو نورو نوماندانو نومونه اخلو:

لومړئ: محمد یونس قانوني (د جمعیت اسلامي حزب او شمالي ټلوالي جګپوړئ غړئ) چې ځان ته یې تاج محمد وردک او سیدحسین عالمي بلخي معاونین ټاکلي ؤ.

دوهم:عبدالرشید دوستم (د جنګي جرایمو سترسالار، د لیلي دښتې د ۳۰۰۰ انسانانو قاتل او د جنبش ملی افغانستان مشر) معاونین یې هر یو مصطفی کمال مخدوم او شفیقه حبیبي وه.

دریم: محمد محقق (د حزب وحدت اسلامي افغانستان مشر، چا چې د نوی یمو زیږدیز کلونو په خپلمنځي جګړوکې د خلکو په سرونو کې میخونه ټکوهل او د ژوندي انسانانو څخه یې سرونه پرې کړل، ویل به یې چې د مړي نڅا وګورئ) معاونین یې هر یو نصیر احمد انصاف او عبدالفیاض مهر آیین ؤ.

**حامد کرزئ**: معاونین یې احمد ضیا مسعود او محمد کریم خلیلي

د افغانستان لومړني ټاکل شوي ولسمشر حامد کرزي د تحلیف مراسم په ۲۰۰۴-۱۲-۷ ز ادا کړل.

### د حامد کرزي د حکومتولی په تړاو ځيني نورې خبرې

زموږ ټولنه ۶۴ ٪ بیسواده ټولنه وه او ده. بناءً داسې ټولنه ډیر ژر غولول کیږي. موږ له تیرتاریخ څخه زده کړه ونه کړه. تاریخ ښودلې ده که زموږ هیواد پرمختګ کوی او یا غښتلئ کیږي نو خپله د افغانانو له لاسه دئ. دا ځکه چې افغانستان داسې یو هیواد دئ چې مختلفې قبیلې په کې ژوند کاؤ او کوی. دغو ټولو قبیلو که لاس یوبل ته سره ورکړئ، اجنبي یې په منځ کی لاره نده کړې، نو که پردئ پال (د بهرنیانو لاس پوڅې) یې پخپل منځ کې پرې نه ښودل او یو موټئ ؤ نو هرومرو به پرمختګ کوي او هیواد به ودانیږي. هرکله چې موږ یو موټئ نه ؤ نو بهرنیانو زموږ د دغې ضعیف ټکي څخه استفاده کړې، زموږ منځ کې یې د نفاق تخم کرلئ او بدبختي مو په برخه شوې ده.

کچیرې تیرو نژدې شلو کلونو ته وګورو، بهرنیانو له موږ سره د خپلو موخو او ګټو په خاطر په میلیاردونو ډالره مرستې وکړې، په خواشینۍ چې موږ په سم ډول استفاده ترې ونه شوه کړئ. په بله وینا چې موږ له دې مرستو لومړنۍ نیمایي خپلو شخصي جیبونو کې واچول، یوه برخه مو بیرته همدې بهرنیانو ته رشوتونه ورکړل او دوی مو هم په دې فساد اخته کړل او څلورمه برخه به مو په کومه پروژه کې مصرف شوې وي. موږ ونه شو کولای چې دغو مرستو ته ضرفیتونه جوړ کړو. پردیو د پردیپالو پواسطه موږ کې لاره وموندله او د نفاق او بدبختی تخم یې را کې وکاره.

که وګورو غازی شاه امان الله خان چې په هیواد مین شخص ؤ او زموږ د هیواد خپلواکي یې په سیاسي فکر لرلو سره تر لاسه کړه. د پرمختګ په لور مو ګامونه اوچت کړي ؤ، خو بیا د وخت ستر بهرني ښکیلاکګر څنګه د ګډ ملا عبدالله په واسطه موږ کې د نفاق ریښه وزغلوله.

47

خو ګډملا عبدالله د درنو او ملا ماتوونکو زیانو په پای کې غلئ شو. خو پادشاه بیا د ۵۴ تنو د اعدام حکم د ګډملا عبدالله او ملا عبدالرشید په ګډون صادر کړ. پایله دا شوه چې امان الله خان ونه غوښتل خپل هیوادوال پخپلومنځو کې سره یو بل ووژني نو هیواد یې پریښود.

---

47 (( په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ - لیکونکئ: پوهاند عبدالحئ حبیبي - ژباړونکې پوهنمله رحیمه - چاپ ۱۳۸۲کال)).

همداشان د شهید سردار محمد داود خان په حکومتولۍ کې د بل بهرني ښکیلاکګر د ځینو کړیو له خوا په موږ کې نفاق واچؤ او همداشان بیا شیهد ډاکټر نجیب الله څنګه پردیو اجنټانو له خوا ووژل شو. دا درې تنه هغه کسان ؤ چې بهرنیان ترې په ډار ؤ.

زه بیا هم تکرار کوم چې که هرې ناخوالې زموږ په ګران هیواد افغانستان باندې تیر شوي او یا په راتلونکې کې تیریږي، زموږ دخپله لاسه دي چې یوموټئ، متحد او همغږي نه یو.

نژدې څلور ورستۍ لسیزې د جهاد ټیکه دارانو د اسلام د سپیڅلي دین څخه په استفادې سره، د بهرنیانو د ګټو په خاطر زموږ هیواد په کنډواله بدل کړل. هو! ځیني قومندانان او یا هم ټیټ پوړي قوماندان په دې نه پوهیدل چې زموږ مشران خرڅ شوي خلک دي په ریښتیا چې جهاد یې کاؤ. دوی ډیرئ ووژل شول. خو کله چې پوه شوي دي، بیا د افغاني جاسوسانو له خوا او یا هم د پاکستان د آی اس آی له لوري ترور شوي دي.

په غریبۍ کې شرم نشته ، خو ویلئ شم چې ډیرئ جهادی مشرانو او قوماندانانو به خپل په نامه په افغانستان کې یو کوچنئ ختین کور هم نه لاره ، خو اوس جهادی مشران خو پریږده، جهادی قومندانان، ورپسې ټیټ پوړي قوماندانان او پاتې د دوی د دورې سر تیري ګورو چې مانۍ لري. دوی په ترتیب سره د لکونو، میلیونونو او میلیاردونو ډالرو څیښتنان شول.

منم چې د کرزي په دولت کې فساد او رشوت شتون درلود، دعامو خلکو ځمکې او جایدادونه غصب شول، نه یواځې د عامو خلکو بلکې دولتي ځمکې هم غصب شوې. ځمکه خو غصب شوه، حتا ځُنډۍ هم غصب شوي خپل مړي یې په کې خښ کړل، او داسې نورې ډیرې نیمګړتیاوې وې . دبحر څخه راغلو هم زموږ خپل جیبونه ډک کړل، ځکه خو بیا د حامد کرزي حکومت هم خامخا په لوړه کچه په فساد کې ډوبیده.

خو د دې ترڅنګ کله چې وایو ښوونځي او پوهنتونونه ؤ، محصلین بحر ته د لوړو زدکړو له پاره واستول شول، مسلح قوا مو درلوده، درې ګونې قوا (مقننه، اجرایه، قضایه) درلوده، اقتصاد مو مخ په ودې روان ؤ، روغتونونه مو لرل، بهرني او کورني ډاکټران په کې شتون درلود، د بیان آزادي مو درلوده، راډیو، تلویزیون، (نژدې سل تلویزیوني شبکې) او پریمانه رسنۍ، مشرانو جرګه، ولسي جرګه، سیاسي احزاب، مخابراتي آسانتیاوې (انټرنټت ګرځنده تلیفون)...او داسې نور شتون درلود. دا ټول د حامد کرزي په واکمنۍ کې منځ ته راغلي. تر دې دمخه د طالبانو په حکومت کې هیڅ شئ هم نه ؤ. که ریښتیا ووایو نو تش په نامه یوه جغرافیه د افغانستان په نامه شتون درلود او بس.

## اداري فساد

48

د مجاهدينو يا د جهاد ټيکه دارانو د واک ته رسيدو څخه بيا د طالبانو تر دوهم ځل واکمنۍ پورې افغانستان په اداري فساد ککړ هيواد ؤ. د جهاد ټيکه دارانو څخه خو بله کومه تمه هم نه کيده ، د حامد کرزي حکومتولۍ څخه بيا د وخت په تيريدو سره د فساد کچه له يوې ورځې تربلې مخ په لوړيدو وه.

که څه هم په ظاهر کې خو حکومت هڅه کوله چې فساد کم کړي، خو د دې پليتې پديدې ريښې نه يواځې په جنګسالارانو بلکې بهرنيالو افغانانو او حتا خپله بهرنيانو پورې غزول شوې وې، ځکه خو د دې له منځه وړل ډيرګران کارؤ.

په بډو (رشوت) اخيستلو کې به يواځې خوار غريب د ډيرې ټيټې کچې مامور بندي کيده او د قانون منګلو ته سپارل کيده. ډيرۍ داسې قضيې هم وې چې ټيټ پوړۍ مامور به له ځانه خبر نه ؤ، رشوت به يې هم نه ؤ اخيستۍ. يا خو به د رشوت نه اخيستلو په منظور بندي شو، ځکه چې د نورو يا له د څخه لوړو مامورينو لاره بنده وه. او يا هم په دې خاطر چې بلاخره دولت څارنوالۍ ته څوک معرفي کړي او نړيوالو ته هم د خپل راپور ورکولو په خاطر سند ولري نو بيګناه شخص به څارنوالۍ ته وروپيژندل شو. څارنوالۍ هم د هغو اسنادو په بنسټ چې ورليږل شوي ؤ، محکوم به بيګناه بنديخانې ته واستول شو.

منځنۍ او لوړه کچه مامورين به يا خو اصلاً نه نيول کيدل او يا که نيول کيدل نور ډير ژر به د يو بل جګپوړي په تليفون سره راخوشې شو. د ځينو جګپوړو مامورينو دوسيې په څارنوالۍ کې د هيڅ ډول پوښتنې پرته نه څيړل کيدې اوپه جريان کې نه لويدې، ځکه د دې جرئت چا نه لاره.

زه يواځې کرزۍ شريک نه ګڼم دا ټول په کې شريک دي په تيره بيا لنډغره شمالي ټلواله او ځيني د بهرڅخه راغلي تکنوکراتان.

48

د کابل پرس سايت څخه اخيستل شوی

https://www.kabulpress.org/article148675.html

زما په آند په افغانستان کې د فساد او رشوت سرچينه امريکا او ځينې نور بهرني هيوادونه ۆ. دوی خپل لاسپوځي جاسوسان هيواد ته راوستول او د وزارت، معينيت، رياست، وکالت او ځينو نورو پوستونو کې يې وګمارل. دغو ګمارل شويو پرديپالو پرديو هيوادونو او خپلو جيبونو ته کار کاۆ. که چيرې هرڅوک د خپل جيبونو او خپلو بادارانو په غم کې اوسي نو پيريان خو به دا هيواد نه رغوي. ځينو لوړپوړو چارواکو برسيره پر دي چې معاش درلود، په رشوت اخيستلو کې ډوب ۆ، خو پر دې ټولو برسيره د بهرنيو هيوادونو د استخباراتو څخه هم په منظم ډول معاش ورکول کيده. ځينې نورلوړپوړي داسې خلک ۆ چې بهرنيانو پيژندل چې لاسونه يې د افغانانو په وينو سره دي، غاصب او په فساد کې ډوب شخص دئ، خو بيا هم بهرنيو هيوادونو د خپلو موخو په خاطر د هغه ملاتړ ي ۆ، ځکه له دننډو هم چا نشو لرې کولئ. دا لړی د محمداشرف غني واکمنۍ ته هم وغزيده، خو هغه دومره وکولئ شول چې صلاحيتونه ترې واخلي.

بهرنيانو په ځنګ د دې کې چې خپله هم وروسته په فساد کې ورډوب شول، خو په سلګونو ميلونه ډالر په دې لار کې مصرفول چې دغه پديده له منځه يوسي. د کرزي کورنۍ خپله په فساد کې ښکيل ۆ نو ځکه خو له منځه تلل يې ګران کار ۆ.

بله داچې بهرنيان هم د افغانانو له خوا په دې چټلي پديدې اخته شول. بهرنيانو چې البته د بهرنيانو څخه مې په ځانګړي توګه امريکا موخه ده، دوه مخئ چلند کاۆ، له يوې خوا يې پيسي لګولې چې د فساد ريښي وسپړي او له منځه يې يوسي، له بلې لوري يې خپله د افغانانو سره په فساد کې شريکدل.

49

حامد کرزي په دسمبر د ۲۰۰۹ کال کې په يو کنفرانس کې چې د موازی حکومت په وړاندې فساد په نامه جوړ شوئ ۆ داسيوويل:
ترڅو چې د افغانستان حکومت په واسطه موازی حکومت له منځه يونسو، فساد له منځه نه ځي. په په بله وينا زموږ په هيواد کې د بهرنيانو موازي حکومت جوړ کړئ. دا يو ستر عامل د فساد ګرځيدلئ دئ. هغه زياته کړه زموږ بهرني دوستانو په پوهاوی يا نا

---

49

https://www.dw.com/fa-af/کرزيحکومت-های-موازی-جامعه-جهانی-مسوول-فساد-اداری-درافغانستان-است/a-5016078 ديوچه ويله له سايت څخه اخيستئ شوی

پوهاوی (آګاهانه یا غیرآګاهانه) زموږ په حکومت کې بل حکومت جوړ کړئ. په داسې حال کې چې باید داسې نه وي.  د بېلګې په توګه د بهرنیانو له لوري افغاني دولتي کارکوونکو ته ضد د مرمۍ موټر او معاش ورکوي چې زموږ دولت ترې خبر نه دئ. دغه دولتي کارکوونکي په دولت بې اعتباره کوي، او دولت ورته ډېر ضعیف ځرګندیږي. دا د فساد عمده منشه ګرځي.
حامد کرزي وویل: اوس که څوک د چا کور ور وټکوي د کورڅیښتن راوباسي، ویې زوروي، بندي یې کړي، رشوت ځنې واخلي نو کولای شي. هم امنیتي ارګانونه ، څارنوالي، قضا دوی ټول دا کولای شي.
د حامد کرزي موخه دا وه چې دغه پورته یاد ارګانونه په فساد کې ډوب دي.

د حامد کرزي په حکومتولۍ کې د کابل ښاروال د فساد په تور د څلورو کلونو دپاره په بند محکوم شو، خو بیرته د کرزي له لوري خپلې دندې ته واستول شو. حامد کرزي په دې اړه څرګنده کړه چې *د ځمکو تاجران (غاصبین) د کابل ښاروال څخه دځمکو غوښتنه درلوده. ځرنګه چې دا غوښتنه رد شوه. نو دغو خلکو قضایي او د عدلي ارګانونو ته رشوت ورکړئ ؤ او دوسیه یې ښاروال ته جوړه کړه او بلاخره یې په فساد تورن او په څلورکاله بند محکوم کړ. چې البته دا ټول جهلي کار ؤ.* (اوس دې لوستونکي خپله قضاوت وکړي د کابل ښاروال چې یو لوړ مقام دئ، هغه ته په ناحقه دوسیه جوړیږي، نو څومره ټیټ پوړیو او بې وزلو ته به په ناحقه دوسیه جوړه شوي وي؟)
ځکه خو حامد کرزي بیرته ښاروال خپلې دندې ته استولئ.
په هر حال مرستندویه ټولنې بلاخره د حامد کرزي اداري ته شپږمیاشتې وخت ورکړ چې اداري فساد له منځه یوسي، او که نه نو په دې تړاو به خپلې مرستې بندې کړي، خو دې اخطار هم کومه ګټه ونه کړه.
د فساد ختمولو دپاره د اداري اصلاحاتو خپلواک کمیسیون په نامه اداره جوړه شوه، دا پخپل ذات کې د فساد زیاتولو دپاره یوه اداره وه. په دې اداره کې به رشوت ورکول کیده چې قضایي ارګانونو ته معرفي نه شي.

## فساد او رشوت په کومه کچه ؤ

د څو کلنو راهیسي افغانستان د فاسدو هیوادو په قطار کې ؤ، د روڼتیا نړیوال سازمان چې هرکال هیوادونه د روڼتیا په تله کې تلي، په ۲۰۱۲ ز کال افغانستان د نړۍ په فاسد ترینو هیوادونو کې لومړۍ مقام ترلاسه کړل. په داسې حال کې چې یو کال وړاندې د بن په دوهم کنفرانس کې حامدکرزي نړیوالو ته وعده ورکړه چې د فساد پرووړاندې به په کلکه مبارزه پیل کوي او یو ستر نوملړ(لست) به اعلان کوي. خوهیڅ یې هم ونه کړل.
زما په آند ولسمشر حامد کرزي داسې نه شو کولای چې د خپل ورور، ډیرئ د کابینې، ولسي جرګې ، مشرانو جرګې والیان او قومندانانو نومونه یې اخیستي وئ؟ ډیرئ دوی ټول په فساد کې ډوب خلک ؤ، نو دا خو ورته شونې نه وه. پټه دې پاتې نه وي چې د څو محدودو وزیرانو، ولسي جرګې، مشرانو جرګې والیان او ځینو نور به په ریښتنې او سپیڅلتیا هیواد ته ژمن، ملي ارزښتونو ته ژمن او بلاخره ځمکنی بشپړتیا ته ژمن هیوادپال ؤ، خو په ډیره خواشینۍ چې د سپیڅلو هیوادپالو غږ کله اوریدل کیده. ځکه چې په لږکیو کې راتلل.

په وسله وال ځواک او پولیسو کې خیالي کنډکونه رامنځ ته شول، چې معاش یې حواله کیده، په داسې حال کې چې کنډکونو شتون نه درلود. د دوی معاشونه د ګوتو په شمیر څو تنو جیبونو ته لویده. د دې ترځنګ خیالي ښوونځي هم جوړ شول، په داسې حال کې چې ښوونځي شتون نه درلود، د ښوونځي د پرسونل معاش به هم د څو تنو جیبونه ډکول. همدا دول زورواکانو یا ډیرئ والیانو د اړوند ګمرکاتو عواید مرکزي بانک ته نه، بلکې خپل شخصي بانک ته تسلیمول.
لکه څنګه چې څرګنده ده هرکال به امریکا په میلیاردونو ډالره مرسته د افغانستان سره کوله، خو دغو پیسو ته ضرفیت شتون نه درلود. ځینې ضرفیتونو جوړولو ته هم بهرنیانو په سر کې امریکا اجازه نه ورکوله چې جوړ شي.
په دې ډول میلینونو ډالرو ته د فساد زمینه خپله بهرنیانو مساعده کړه. زما ښه په یاد دي چې پخوانئ د مالیې وزیر عمر زاخیلوال په تلویزیون کې په یوه غونډه کې په ډاګه وویل چې *ما د مرستندویه دوستو هیوادونو څخه وغوښتل چې تاسې له موږ سره په بنسټیزو پروژو کې مرسته وکړئ چې افغانستان په ځان بسیا شي، خو د هغوی ځواب ماته منفي ؤ.*
بهرنیانو په پوهاوي (آګاهانه) توګه نه غوښتل چې زموږ سره په بنسټیزو پروژو کې مرستې وکړي، ځکه خو موږ هیڅکله د بهرنیانو د اړتیا څخه نه خلاصیږو، دوی هڅه کوله چې موږ تل په بې اتفاقۍ کې وساتي، دوه مخې لوبه یې کوله، دا د دې دپاره چې تل دوی ته اړ اوسو.

د یادولو وړ ده چې د بهرنیانو مرستي یواځې په کوچنیو پروژو هغه هم د انجیوګانو له طریقه وې. موږ تاسو په دري ژبه کې متل لرو: *کلوخ را بان (بګذار) تیر شو*. امریکایانو به چې بمباری وکړې، نو د بیا رغوني په پروګرام کې به یې د اینجیو ګانو له طریقه کله کله په کلیو کې چیرې یو کوچنۍ کاریز او یا به یې چیرې کوم کوچنۍ پل جوړ کړ. په انجیوګانو کې به هم وړې ګیدړان ناست ؤ، د اړوند پروژې د پیسو څخه به نیمې رشوت یا د چا جیبونه ته تلې او په پاتې به یې بې کیفیته پروژه جوړیده. د بیلګې په توګه یوه لویه پروژه د کابل قندهار سرک ؤ چې قیر شو. پس له یو یا یونیم کال څخه د دې سرک ځینې یا ډیرۍ ځایونه بیرته وران شول. نو په دې سویه بې کیفیته قیر شوي سرکونه جوړیدل. یوه کوچنۍ پروژه، زموږ په ولسوالۍ (د خوست ولایت نادرشاه کوټ ولسوالي) کې د بهرنیو موسسو په مرسته یو پُل جوړ شو، پس له نژدې درې یا څلورو کلونو څخه ونړیده. دا ډول ؤ د دوی د بیا رغوني بې کیفیته کارونه.
د افغانستان په درې ګوني قواو (مقننه، اجرایه، قضایه) کې په لوړه او ټیټه کچه کې مقرریاني په سیاسي معامله ګریو اوپه رشوت سره سرته رسیدلې. پوهه، لیاقت او د کار وړتیا هیڅ مهمه نه وه. دغه باد راوړلي ډالر به بیرته په حرامو لارو تلل. دوی او ځینو نور میلیاردر او ډیرمیلیونران والیان به د دوه شپو عیاشیو دپاره دوبۍ، ترکیې او نورو هیوادونو ته تلل. په داسي حال کې چې په ۳۰ متره واټن کې به یتیمانو دوه شپې ورځې ډوډۍ نه وه خوړلي. دوی اصلي مجاهدین ؤ!! د خدای او د رسول لاره یې تعقیبوله!! دوی هیر کړي ؤ چې رسول الله مبارک فرمایلي ؤ، ***هغه څوک زما د امت څخه نه شمیرل کیږي چې خپله په ډک نس ویدیږي، په داسي حال کې چې یو همیږي ګاونډۍ یې وږۍ دۍ.***
خو بیاهم تکرار کوم دغه ؤ ددوی جهاد، د همدې ورځې دپاره یې جهاد کړۍ ؤ **(د څوکۍ د پاره جهاد!!!)**

د فساد په هکله د کابل بانک فساد یې یوه ښه بیلګه ده. (چې بیا وروسته د نوي کابل بانک په نامه ونومول شو). که څه هم د کابل بانک د فساد موضوع د ولسمشر محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې په کار ولویده، خو د دې دپاره چې د حامدکرزي د حکومتولۍ د فساد کچه څرګنده شوي وې، لازمه ده چې په دې تړاو یو څه دلته تم شو.

د کابل بانک فساد موضوع چې څه دپاسه یو میلیارد ډالره ترې ایستل شوي ؤ. شیرخان فرنود، حسین فهیم د مارشال فهیم ورور، د حامد کرزي ورور او نور پکې ښکیل ؤ. د دولت له خوا په دې تړاو نژدې دوسوه کسان ښکیل وګڼل شول.

د دغو اشخاصو نومونه او پور اخیستلو اندازه د افغان پیپر سایت په دې ډول وښودله:

**د موضوع د حساس والي له کبله کټ مټ کاپي د شبکه اطلاع رساني افغانستان (افغان پیپر) له سایت څخه چې په فارسي ژبه ده را اخیستل شوي. کچیرې تیروتنې ولري، نو په پوهاوی توګه ندي اصلاح شوي.**

**50**

*بدهکاران کابل بانک*
*شیرخان فرنود - 279 میلیون دالر*
*حاجی عبد الحصین فهیم - 404 میلیون دالر*
*محمود کرزی - 16 میلیون دالر*
*حاجی محمد طاهر ظاهر - 16 میلیون دالر*
*غلام داوود نصیب - 9 میلیون دالر*
*صوفی نثار احمد - 14 میلیون دالر*
*شکرالله شکران - 2 میلیون دالر*
*حاجی خلیل الله فیروزی بدهکار از رهگذر ساختمان های شهرک استقلال - 22 میلیون دالر*
*حاجي خلیل الله فیروزی بدهکار 9 میلون دالر از رهگذر ویلای*

*(C29 و D9)*

*حاجی خلیل الله فیروزی بدهکار از رهگذر حساب شاهین - 5 میلیلون دالر*

*حیات الله نعمت الله - 1 میلیون دالر*
*گاز گروپ - 121 میلیون دالر*
*تأسیسات نفتی حیرتان - 30 میلیون دالر*
*کابل نفت - 21 میلیون دالر*
*شرکت هوایی پامیر - 98 میلیون دالر*

---

50

د افغان پیپر له سایت څخه اخیستل شوئ

http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=36456

*عبد الفقار داوی - 37 میلیون دالر*
*گلبهار حبیبی - 30 میلیون دالر*
*حاجب محمد ابراهیم فیوادوال - 6 میلیون دالر*
*کاکا جان اختر گل هاک جان محمد طاهرو سلطنت - 6 میلیون دالر*
*مشتریان عادی - 11 میلیون دالر*
*مشتریان شاهین - 22 میلیون دالر*
*گلبهار تاورز - 20 میلیون دالر*

همدارنګه کله چې بسم الله محمدي د حامدکرزي په حکومتولی کې د دفاع وزیر ؤ په میلیونه دالره فساد کې ککړ ؤ، او په لسګونو دې ته ورته غټې او وړې نورې قضیې هم وې.

د افغانستان عامو وګړو او د بهرنیانو د غولولو د پاره د فساد پروړاندې مبارزې اداره جوړه شوه. خو دا اداره یواځې ډیر تیټ پوړي چارواکي پیژني او عدلیي ارګانونو ته یې معرفي کړي دي. د فساد پروړاندې اداره خپله ډکه د فساد څخه وه. د لوړپوړو چارواکو څخه به یې رشوت اخیسته تر څو رسوا نه شي.
دا او دی ته ورته فساد په ولایاتو کې هم شتون درلود، هر څوک په خپله سطحه په فساد کې شامل ؤ. په ولسوالیو کې خلک ولې طالبانو ته خپلې قضیې وړاندې کولې؟ دا ځکه چې ړومبئ خو حکومت په حقه قضاوت نه کاؤ، ځکه چې مقابل لوري به رشوت ورکاؤ، او بې وزله د رشوت توان نه درلود. خلک مجبور کیدل چې طالبانو ته خپله قضیه وړاندې کړي او عدالت ترې تر لاسه کړي. دغې کړني او ورته نور فکتورونه ؤ چې د حکومت او ملت ترمنځ واټن رامنځ ته کړي او خلک د طالبانو پلوي شي.
د رونټیا نړیوال سازمان په ۲۰۱۰ کې ښودلې وه چې په افغانستان کې د هر ۷ تنو څخه یو ۱ تن باید رشوت ورکړي .
د یادولو وړ بولم، امریکا کله چې هر هیواد ته ننوتي، هغه هیواد یې د فساد او مافیایي کړیو مرکز ګرځولئ. دا ځکه چې وکولئ شي په آسانی سره ځانته جاسوسان او لاسپوڅي پیدا کړي. لکه څنګه چې وړاندې هم وویل شول دغه لاسپوڅي خو د پردیو موخو دپاره خپلې ملي ګټی تر پښو لاندې کوي او هیواد خرڅوي ، ځکه خو دوی ته ملي خاینین ویل کیږي.
کله چې خاین په حکومت کې ځای ولري، وطنپلورونکي وطن خرڅوي نو د هغه رژیم څخه اضافه څه بل شئ تمه هم نه کیږي.

# نشه يي توکي

نژدې نيمه پېړۍ دمخه دکوکنارو کښت يواځې د بدخشان په ځيو ولسواليو کې رواج درلود او هم د محدودو څو نورو ولايتونو په ډېرو کمو سيمو کې کښت کيده. دغه کښت د قاچاق کولو دپاره نه ؤ بلکې د هماغې سيمې د ځينو اوسيدونکو مصارف ؤ. په دې مانا چې په بدخشان کې به د خاشخاشو د تخم څخه په دوديزه توګه غوړ ايستل کيدل چې په پخلي کې به يې ترې استفاده کوله. د ډنډر څخه به يې د سون د توکي په حيث استفاده کوله. ډيرلږبه خپله کوکنار د افغانستان شمالي ولايتونو لکه ميمنه، بلخ، سرپل او ځينو نورو ولايتونو کې چې قاليني اوبدل کيدلې استفاده ترې کوله. قالين اوبودونکې چې ډيرئ به ښځې وې، دوی به ټوله ورځ قاليني اوبدلې.

ډيرئ دغه ميرمنې به د ملا په تکليف اخته وې. له دې کبله چې درد حس نه کړي نو لږ اپين به يې هم خوړل. حتا داسې هم ليدل شوي چې ميندو خپلو ماشومانو (يو يا دوه کلن) ته هم لږ اپين ورکول چې پرلپسې ويده وي او دوی وکولای شي چې خپلو قالين اوبدلو ته فارغه وي. د کوکنارو کښت يا د نشه يي توکو استعمال په ډيره ټيټه کچه يا حتا په صفر درجه کې ؤ.

کله چې شورويانو په افغانستان يرغل وکړ، نو په پاکستان او ايران کې روزل شوي، تمويل شوي، تربيه شوي او لاسپوڅي ( د څوکۍ مجاهدين خو په اصل کې جاهلين) د پاکستان او ايران له لوري تنظيمې ډلې جوړې شوې، نو سوکه سوکه د کوکنارو کښت هم ډير شو.

تنظيمي ډلو د مخدره توکو د توليد څخه خپل شخصي لګښتونه پوره کول. البته چې نور لګښت خو به د امريکا، عربستان، او ځينو نورو عربي هيوادونو له خوا ورکول کيده. دوی ته اوس د کوکنارو د کښت ګټې خوند ورکړئ ؤ چې ډيرې پيسې تر لاسه کولئ شي.

په دې هکله *(پيريانو جګړې ۷۵۹ مخ) ليکل شوي: د سي آی اې د مخدراتو ضد مرکز ريوټ ورکړ چې د احمدشاه مسعود سړيو اروپا ته ستره اندازه د اپيمو قاچاق ته دوام ورکاؤ. برتانويانو هم ورته رپوټونه لرل. هغوی ټولو (مسعود سره په ګډه) عملياتو د بربنډ کيدلو په صورت کې د ورځپانو سرليکونه انځورولئ شول « سي آی اې د افغان اپيوم سالار ملاتړکوي».*

کله چې تنظيمي ډلو په نوی يمو زيږديز کلونو کې کابل ونيوه، نو له دې څخه وروسته خو لا هم نوره بهتره زمينه دوی ته مساعده شوه چې مخدره توکي توليد کړي او په آسانه توګه يې قاچاق کړي.

خو کله چې بیا طالبانو د لومړي ځل د پاره کابل فتح کړ، طالبانو وکولای شول چې ډېر ژر په بې ساري توګه د کوکنارو کښت صفر ته را کښته کړي. چې البته دا د طالبانو ستره بریا وه.

بیا کله چې په ۲۰۰۱ دسمبر په میاشت کې امریکایانو په افغانستان یرغل وکړ او د طالبانو رژیم یې له منځه یووړ. د حامد کرزي په مشرۍ بیا د جهاد ټیکه دارانو(لنډغرو شمالي ټلواله) ته واک په لاس ورغئ ، نو د دغې ناولې پدیدې کښت ډیرژر په بې ساري ډول لوړ شو.

کڅه هم د حامد کرزي په حکومتولۍ کې د مخدره توکو پرضد مبارزې په نامه یو نوئ وزارت تاسیس شو، چې البته بیا وروسته د محمداشرف غني په حکومتولۍ کې بیرته د کورنیو چارو وزارت پورې تړاو وموند، خو بیل معینیت په همدغې نامه پاتې شو.

څرنګه چې د دې وزارت د وزیر څخه نیولې تر مامور پورې خپله په همدې مافیایي کړۍ او قاچاقبرۍ کې ډوب خلک ؤ، نو دغه وزارت په طول د دومر کلونو کې ونشو کولای چې د کوکنارو کښت صفر یا ټیټې کچې ته راولي.

یاد وزارت ته د بهرنیانو له لورې ځانګړې بودیجه معینه شوې وه، هم بودیجه مصرف کیدله او هم د کښت کچه نه ټیټدله. ټولې پیسې حیف او میل کیدې. دغې وزارت او معینیت خپله د فساد کچه ډیروله.

هیڅ پیسه د کوکنارو د کښت په کمیدو کې نه مصرف کیده. د دې وزارت ټولې کړنې یواځې نمایشي شکل درلود. که مخدره توکي به نیول کیدل هم نمایشي ؤ، که په تړاو به یې څوک نیول کیدل هم نمایشي ؤ. ځکه دوی بیرته خوشي کیدل، کیفیت لرونکي توکي یې بیرته قاچاق کیدل او بې کیفیته توکي به یې په نمایشي ډول د تلویزیون کمرې تر مخ وسوځول.

دولت باید د کوکنارو د کښت بدیل وړاندې کړئ وئ. ښه بیلګه یې د زعفرانو ګل دئ، چې یو څه رونق یې هم موندلئ ؤ. یا ځیني نور شنیلي. په وروستیو کلونو کې ما خپله د **الوفیره** بوټئ افغانستان کې ولید. یوه غټه پاڼه یې تر لس زره افغانۍ خرڅیدله. د دې بوټي څخه اوبه ایستل کیري او د انسان پوټکي (جلد) ته ګټور دئ. البته کابل کې راته وویل شول چې دوی د دې بوټي څخه اوبه راباسي او ډیرئ هندوستان ته استول کیږي چې په اغلب ګمان هلته تري کریم جوړوي. ښځینه د دې کریم څخه د مخ یا جلد غوړولو کې استفاده کوي. په هر حال ډیر به نور داسې شنیلي وي چې ارزښت یې لوړ وي. د کرنې وزارت په مشوره باید دې موضوع ته پاملرنه شوې وئ.

په هر حال، يو ستر لامل د افغانستان د نا امنيو همدغه د کوکنارو کښت ؤ. د افغانستان د اسلامي جمهوريت نظام مخالفينو هم له دې شومې پديدې څخه ستره ګټه پورته کوله.
همداشان سيميزو ولسوالانو، د امنيي قومندان ، والي او مرکزي دولت دوی ټول يو بل سره د مخدره توکو په توليد کې د زنځير تړلې کړۍ وې.

ځوځلي د بهرنيانو له لوري د کوکنارو د کښت حاصلات دواپاشي شول، خو د ځينو چارواکو له لوري به منع شول.

د دې ترڅنګ که موږ وګورو په ارزګان کې هالندي عسکر ځای پرځای ؤ. کچيرې حکومت غوښتلئ له دغو عسکرو او افغاني عسکرو په مرسته يې صرف د پنځه بلدوزر يا تراکتورونو په واسطه ټول ګلان شوي کوکنار په بل مخ اړولئ شول. د دې ترڅنګ په هلمند، قندهار او نورو جنوبي سيمو کې په زرګونه امريکايان او انګليسي عسکرو شتون درلود، که دوی غوښتلئ د يوې اونۍ په ترڅ کې يې ټول کښت له منځ وړل.

خپله د ياد وزارت لوړپوړي چارواکي د دې مافيايي کړۍ سره اړيکه درلوده او په کې ورګډ ؤ، نه يواځې د دې وزارت کارکوونکي ، بلکې ډير نور لوړ پوړي چارواکي په دې مافيايي کړۍ کې ورګډ ؤ. نو څنګه به چارواکو د مخدره توکو د کمښت، له منځه وړلو، يا داړوند خلکو بندې کولو اقدام کړئ وئ؟ په غير له دې چې ناحقه خلک نيول شوي وئ.

په ټيټه کچه قاچاقبران به که چيرته ونيول شول نو توکي به يې په نمايشي ډول ضبط شول او اړونده خلک به بنديان شول. توکي به د نوعيت تثبيتولو دپاره د څيړلو لابراتوار ته واستول شول. ټول توکي به زيرمتون کې ساتل کيدل، البته چې د ښه نوعيت توکي جلا او پاتې به جلا. مُهرلاک شوئ زيرمتون به خلاصيده د ښه نوعيت توکي ترې ايستل کيدل او پرځای يې بې کيفيته توکي ايښودل او بيرته به د زيرمتون دروازه مُهرلاک شوه. دغه ښه توکي به بيا د سترو قاچاقچيانو لاس ته ورتلل.

افغانستان په نړۍ کې تر ټولو اوچت د مخدره توکو توليد کوونکئ هيواد ؤ، ويل کيده چې نژدې ۷۵ ٪ د نړۍ مخدره توکي افغانستان کې توليد کيدل. حتا ورسته بيا نژدې ۸۰ تر ۹۰ سلنه مخدره توکي په افغانستان کې توليد کيدل. په نړۍ کې دغه توکي پس له پروسس څخه چې هيروين ترې جوړ شي د کال ۷.۵ څخه تر ۸ ميليارده ډالرو ارزښت درلود.

پوښتنه دا پيدا کيږي چې د دغو پيسو ضرفيت خو په هيڅ ډول افغانانو نه درلود، پرته له دې چې پانګوال ملکونه پکې شريک نه وي. ځکه خو به دا وينا سمه وي چې لويديځه نړۍ او امريکا خپله په دې مافيايي کړۍ کې ورګډ ؤ.

ماته خپله چا دغه خبره کابل کې کړې وه چې د کابل په هوايي ډګر کې به الوتکه ناسته وه. بهرني سرتيري به د الوتکې چاپېر ولاړ ؤ. ستره د بهرنيانو عسکري لارۍ به راغله او تړلي پلېټونه به يې الوتکې ته ورپورته کړل (البته چې عسکري لارۍ نه پلټل کېده). د ډېرو په ګمان دا مخدره توکي ؤ چې په لوړه کچه د بهرنيانو له لوري لېږدول کېده.

د بهرنيانو پرته، د حامد کرزي په حکومت کې لوړ پوړي چارواکو (وزيرانو او نورو لوړ پوړو چارواکو) همدغه کړنې کولې. د ميدان درې ګونې قوا (مسلح قوا) ته به تيلفون وشو چې فلانۍ نمبرپليت موټرونه مخامخ الوتکې ته پرېږدۍ چې ډيپلوماتيکه پوسته ده (ډيپلوماتيک پوسته نه پلټل کيږي). بکسونه به پرته له پلټنې مخامخ الوتکې ته پورته شول.

دالړۍ د قندهار او هلمند په هوايي ميدانونو کې هم په منظمه توګه روانه وه. د هلمند او قندهار ميدانونه خو يواځې د بهرنيانو په واک کې ؤ چې هروخت به غټې غټې پيټۍ د مخدره توکو د بهرنيانو الوتکوته پورته کيدل، هرډول واک د دوی خپل په لاس کې ؤ. برسيره پر دې د دغو سيمو د مخدره توکو قاچاق (د ګل آغا شيرزي، جان محمد، حامد کرزی ورور او انډيوالانو) پاکستان او ايران ته کيده. له هغه ځايونو څخه بيا نورو هيوادونو ته قاچاق کيدل.

د تخار په ولايت کې هم د حاجي ظاهر له خوا مخدره توکي د تاجکستان ورپسې منځنۍ آسيا او بلاخره اروپا ته قاچاق کيدل. نوموړۍ د مارشال قسيم فهيم له خوا د جنرال داود په واسطه وشړلئ شو. په دې ډول داسيمه يواځې د قسيم فهيم او د هغه ملګرو په واک کې پاتې شوه، خوهماغه ؤ چې د همدې مافيايي کړۍ له کبله جنرال داود ترور شو. په همدې ډول په قندهار کې د حامد کرزي ورور هم د مخدره توکو د قاچاق مافيايي کړۍ له خوا د خپلو ساتونکو په واسطه ووژل شو. همداراز د ځينو نه تأييد شويو سرچينو له قوله د بدخشان له لياري مخدره توکو قاچاق د فوزيه کوفي (د ولسي جرګې غړې) د ورونو پواسطه منځنۍ آسيا هيوادونو ته ترسره کيده. په ننګرهار کې هم ګل آغا شيرزي او د حاجی قدير د ورڼو پواسطه مخدره توکي پاکستان او له هغه ځايه نورو هيوادونو ته قاچاق کيدل.

د مخدره توکو د بيا پيل په تړاو ښه ده چې دغه لاندينۍ ليکنه چې البته د دې کتاب اړوند څېرکې کې هم ليکل شوې دلته يادونه وکړم.

کله چې طالبان لومړي ځل واک ته ورسيدل د کوکنارو د کښت کچه صفر ته ورسيده. خو پس له هغې چې حامد کرزئ په دسمبر د ۲۰۰۱ کې د افغانستان د موقتې ادارې ريس شو، نو په ارزګان کې جان محمد څوک چې يوه اونۍ دمخه د طالبانو د اسلامي امارت

حکومت سره په ترین کوټ کې بندي ؤ، د حامد کرزي له لوري د دې ولایت (ارزګان) والي مقرر شو.

*څه موده وروسته د ارزګان په ځینو ولسوالیو کې د کوکنارو کښت پیل شو، د هغې سیمو ولسوالانو به د جان محمد په مشوره د سیمیزو خلکو سره په اړیکه ؤ چې کوکنار وکري. داسې وخت راورسید چې یوائې د چوره ولسوالی څخه به په کال کې دیونیم میلون ډالرو په ارزښت حاصلات پورته کیدل. دغه لړی بیا ځینو نورو ولسوالیو ته هم غزیده.*

*په دې ډول سوکه سوکه جان محمد یو ستر د مخدره توکو تولید کې ښکیل شخص شو. ویل کیږي چې جان محمد په دې تړاو پلازمینې (کابل) ته هم برخه ورکوله. جان محمد اوس د مخدره توکو په یوه ستره مافیایي کړی کې ورګډ شو. دا خبره هالندي عسکر چې په ارزګان کې ځای پرځای شوي ؤ هم تصدیقوي. بلاخره د هالندي عسکرو د ډیر فشار له کبله د جان محمد پرځآی عبدالحکیم مونیب د ارزګان والي مقررشو.خو جان محمد لا اوس هم پوره ځواک او خلک لرل، خلک ترې ډاریده. زما په ګمان داځکه چې اصلاً خو د مخدره توکو مافیایي کړی دلته ریښې غزولې وې، نو ځکه یې ځواکمنه پاتې وه.*

د پورته دلایلو او ښکاره مثالونو او څرګندونو پر بنسټ ویلئ شو چې نه د افغانستان اسلامي جمهوري حکومت غوښتل چې دا پدیده له منځه یوسي، نه په افغانستان کې میشتو بهرنیانو، نه هم لویدیځې نړی، نه هم زموږ ګاونډیانو او بلاخره نه هم سیمیزوبزګرو غوښتل چې د کوکنارو کښت کم یا ورک کړي. دوی ټول د مخدره توکو په قاچاق او مافیایي کړی کې ورګډ شوي او حتا ډوب شوي ارګانونه او خلک ؤ.

ځکه خو نا شوني وه چې مخدره توکي له منځه تللي وئ. د دې ترڅنګ کله چې د طالبانو رژیم نسکور شو، طالبانو هم د کوکنارو د کښت څخه خپل مالي لګښتونه پوره کول. مخدره توکې د نړیوالو او نړیوالې مافیایي کړی ضرورت دئ. د دې له منځه وړل ډیر ستونزمن کاردئ، خو اوس چې شل کاله وروسته بیا طالبان واک ته رسیدلي وبه لیدل شي چې طالبان به د کوکنارو کښت صفر ته او یا هم ډیر راټیټ کړئ شي که نه؟ البته چې په دې شلو کلونو کې دا مافیایی کړی ډیره ځواکمنه شوې ده، ستونزمن کار دئ خو داسې هم نه ده چې شوني دې نه وي.

## حامد کرزئ د دوهم ځل د پاره په ۲۰۰۹ ز کال کې ټاکل شوئ ولسمشر اعلان شو

په ۲۰۰۹-۸-۱۸ ز کال د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسمشری دوهمه ټول ټاکنه پیل شوه. په دې ټاکنو کې د حامد کرزي ستر سیال عبدالله عبدالله ؤ. په پیل کې حامد کرزي ۵۵٪ سلنه رایه ترلاسه کړه، خو د ځینو درغلیو او یا هم د تیروتنو له کبله د ۵۰٪ څخه کمه شوه، ځکه ټاکنې دوهم پړاو ته ووتې. د حامد کرزي سیال عبدالله عبدالله اعلان وکړ چې د کمیسیون او د حکومت د درغلیو له کبله په دوهم ځل ټاکنو کې برخه نه اخلي.

د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو دویم پړاو لغوه اعلان کړ. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مشر عزیزالله لودین یوې خبري غونډې ته وویل چې دا پرېکړه یې د ټاکنو د اساسي قانون د ۱۵٦ مادې او د ټاکنو د کمیسیون د ٤۹ مادې له مخې وکړه. لودین وویل د ټاکنو په دویم پړاو کې د زیات لګښت د مخنیوي او د دې پروسې د اوږدوالي د مخنیوي په موخه یې حامد کرزی د دویم پړاو د پاره د افغانستان ولسمشر اعلان کړ.

<u>دلته د یادونې وړ بولم چې:</u>

په ۲۰۱۴-۴-۵ ز د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشری ټول ټاکنو لړۍ رسماً پیل شوه. که څه هم دا موضوع په اړوند څپرکي کې په تفصیل سره یاده شوې ده، خو دلته د موضوع د تړاو په خاطر هم لنډه یادونه لازمي بولم.

حامد کرزي د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر، په دې ورځ خپله ټاکن پاڼه د ټاکنې په صندوق کې خپل راتلونکي ټاکل شوي ولسمشر ته واچوله.

همداشان حامد کرزي د افغانستان د ټولو وګړو څخه وغوښتل چې د هرډول ستونزو سره سره راشئ خپله رایه په سري ډول خپل راتلونکي ټاکل شوی ولسمشر ته په صندوق کې واچوئ.

په دې ولسمشریزو ټولټاکنو کې اته تنه نوماندانو ځانونو نوماند کړي ؤ له اته تنو نوماندانو څخه محمد اشرف غني د حامدکرزي د حکومتولی مالیي وزیر، زلمئ رسول د

حامد کرزي په حکومت کې د بهرنیو چارو وزیر او عبدالله عبدالله د حامد کرزي د انتقالي دورې د بهرنیو چارو وزیر درې وتلي نوماندان ؤ.

د پورتنیو درې تنو نوماندانو څخه محمد اشرف غنی او عبدالله عبدالله سیالۍ ته پاتې شول.

په افغانستان کې د ستونزو سره ډکې ټول ټاکنې وشوې. د تقلب ډیرې ادعاوې لامل شوې چې ټاکنې د ملګرو ملتونو د ادارې له خوا وڅیړل شي. دواړو نوماندانو (محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله) پس له څو اونیو خبرو او جنجالونو څخه وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر او ملګروملتونو د ادارې په منځګړتوب د ملي وحدت حکومت رامنځ ته کړ. پخواني ولسمشر حامد کرزي دغه سولیز د قدرت انتقال وستایه.
حامد کرزي چې کله خپلې کابینې سره مخه ښه کوله او بله ورځ یې دولت په سولیزه توګه ټاکل شوي ولسمشرمحمد اشرف غني ته سپاره، نو د خپل اتکل دیارلس کلونو ولسمشرۍ د لومړیو ورځو خاطره یا تجربه یې خپلو وزیرانو سره شریکه کړه، هغه وویل: *یو ساده مکتوب به د بل هیواد یو لوړ مقام ته لیږل کیده هغه به مې خپله څو ځله لوسته او غلطۍ به مې اصلاح کولې.* (په بله وینا، څرنګه چې کار اهل کار ته نه ؤ سپارل شوئ، نو د ولسمشر د دفتر ریس او نور اړوند کارکوونکي د پوهې او تحصیل سویه داسې وه چې املایې او انشایي غلطۍ یې خپله ولسمشر سمولې). *همدارنګه ولسمشر حامد کرزي وویلې ؤ چې هند، جاپان، چین، المان پرته له دې چې کومه ځانګړې موخه ولري افغانستان سره یې مرسته وکړه، خو ځینو نورو غربي هیوادونو د خپلو موخو په خاطر د افغانستان سره مرسته کوله.*

**سوله او جنګ**

په کال ۲۰۰۴ کې درې کاله وروسته طالبانو بیا سرراپورته کړ او نا امني پیل شوې. د هرې میاشتې او هرکال څخه بل کال نا امني او افغان وژنه ډیریدله.
ولسمشر کرزي وویل چې په وروستیو کلونو کې مې خپلې ډیرې هڅې وکړې ترڅو سوله په هیواد کې ټینګه شي، ګټه یې ځکه نه کوله چې دافغانستان سوله او جنګ د بهرنیانو په لاس کې دئ او په خواشینۍ چې قربانیان یې افغانان دي. **ولسمشر کرزي په ډاګه وویل چې پاکستان په افغانستان کې د سولې په بدل د ډیورند کرغیرنې کرښې**

**رسمي پيژندل او د بهرني سياست واک غواړي، خو افغانستان ددې شرطونو قبلول نه مني.**
بې ځايه به نه وي چې د ديورند معاهدې په هکله دغه لاندې څو ټکي هم ياد کړم چې ديورند څوک ؤ او څه يې وکړل.

*Henry Mortimer Durand*

*هنري مورتيمر ديورند په کال ۱۸۹۳ ز کې د بريتانوي هند د بهرنيوچارو پيژندل شوئ ديپلومات ؤ. نوموړئ افغانستان ته د بريتانياوي هند د مذاکراتي تيم ريس په ۱۲-۱۱-۱۸۹۳ ز کې کابل ته راغئ او معاهده يې لاسليک کړه. ځکه خودغه معاهده د ديورند د معاهدې په نامه ياديږي.*

51

*انګليسانو درې لکه عسکر چمتو کړل چې پر افغانستان يرغل وکړي. د افغانانو د چمتووالي له کبله يې د يرغل څخه صرف نظر وکړ خو په همدې ګواښ سره يې پر امير دغه معاهده تحميل کړه. د انګليسانو وړانديز دوه فقرې درلودې، يوه د انګليسانو طرح منل دوهمه اړيکي غوڅيدل او د جنګ پيل. عبدالرحمن خان برسيره پردې چې چمتوالئ يې درلود د انګليسانو طرحه يې ومنله.*

*محمد ابراهيم عطايي دخپل کتاب تاريخ معاصر افغانستان په ۱۹۱-۱۹۲ مخ کې داسې ليکي:*

*په ۱۸۹۳ ز کې انګليسانو د افغانستان په لور يوه ستره قوا سوق او امير (امير عبدالرحمن خان) ته يې يو يادښت هم وليږه چې د جنرال رابرتس سياسي هيت د يوې فرقې عسکرو سره په جلال آباد کې ومني. امير عبدالرحمن خان عصباني شو او يولک عسکر يې چمتو کړل تر څو د دوې په وړاندې د جهاد اعلان وکړي. کله چې انګليسانو دغه غبرګون وليد، نو پښې يې ويستې. انګليسانو په همدې قناعت وکړ چې خپل سياسي مامور په سيپټمبر د ۱۸۹۳ ز کې مورتيمر ديورند د پنځلس تنو سره کابل ته واستوي. ديورند پس له ډيرو مذاکراتو څخه په ۱۲-۱۱-۱۸۹۳ معاهده باندې لاسليک وکړ.*

د يادولو وړ بولم چې د ديورند د کرښې په هکله زياد معلومات په دې خاطر نه ليکم چې د دې کتاب د موضوع څخه ډير لرې ځو، ځکه خو مې په همدومره ليکنې اکتفا وکړه.

---

ديورند، ديورند، ديورند ليکونکئ: داکتر محيي الدين مهدی- چاپ کال:۱۳۸۸ ل

بیرته خپلې موضوع ته دوام ورکو.
حامد کرزي وویل شل ځلي پاکستان ته ولاړم ترڅو سوله هیواد ته راوړم خو امریکا یې نه غواړي.
ولسمشر کرزي وویل چې په دې خاطر یې د امریکایانو سره د امنیتي تړون لاسلیک نه کړ چې امریکا سوله زموږ هیواد کې ټینګه نه کړه، که امریکا وغواړي چې په افغانستان کې سوله ټینګه شي دا شونې ده. حامد کرزي په ډاګه وویل چې په افغانستان کې دسولې کلي د امریکا او پاکستان په لاس کې ده.
بلاخره حامد کرزئ پوه شو چې امریکا د افغانستان په وړاندې دوه مخئ سیاست پرمخ بیایي. نور یې نو دامریکایانو خبرې نه منلې، لکه د امریکایانو سره امنیتي او ستراتیژیک تړون نه لاسلیک کول، د ځینو طالب بندیانو نه خوشې کول او ځینې نور مسایل ؤ.

## د امریکایانوسره دفاعی او امنیتی تړون نه لاسلیک کول

52

د ۲۰۱۳ کال د نوفمبر په میاشت کې د ټول افغانستان څخه ۲۵۰۰ کسان په کابل کې مشورتي لویې جرګې ته راوبلل شول. دغه جرګه د دې دپاره دایره شوه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړي که نه؟

ولسمشر حامد کرزي د مشورتي جرګې په پرانسته غونډه کې وویل چې امریکا د کابل په بګرام، هرات، شینډنډ، هلمند، ننګرهار، کندهار، مزار او ګردیز ولایتونو کې پوځي اډې غواړي.

حامد کرزي نه غوښتل چې دغه تړون لاسلیک کړي. حامد کرزي دلیل دا ؤ چې زما دحکومتولی دوره ختمیږي. دا تړون دې شپږمیاشتي وروسته یعني د راتلونکو ټولټاکنو څخه وروسته راتلونکئ ولسمشر لاسلیک کړي. امریکایان پرته له دلیل څخه دا نه منله. ټینګار یې پر دې ؤ چې ډیر ژر دې لاسلیک شي.

لنډه داچې د جرګې پریکړه په غوڅ اکثریت سره دا وه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت دې د امریکا سره ستراتیژیک امنیتي تړون لاسلیک کړي. د دې تړون په بنسټ به د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د امریکا زرګونه سرتیري په افغانستان کې پاتې شي. خو جرګه والو د امنیتي تړون په بدل کې په افغانستان کې د سولې او امنیت راوستل د دغه تړون د لاسلیکېدو مهم شرط وباله.

د کابل- واشنګټن ترمنځ امنیتي تړون به د افغانستان د ملي شورا له لوري هم تصوبیبږي.

د تړون له مخې له ۲۰۱۴ کال وروسته به ۱۵۰۰۰ بهرني سرتېري په افغانستان کې پاتې کېږي، که څه هم امریکا په افغانستان کې د خپل حضور په اړه لا څه نه ؤ ویلي.

هغه ځواکونه چې له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې پاتې کېږي، لویه برخه به یې افغان ځواکونو ته روزنه او سلا مشورې ورکوي.

خو ځیني ځانګړي ځواکونه به د ترهګریزو فعالیتونو په له منځه وړلو کې برخه اخلي.

---

52

د بي بي سي له سایت څخه اخیستل شوي.

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2013/11/131124_as_jirga_last_update

په دې ډول لويې مشورتي جرګې په غوڅ اکثريت له امريکا سره د امنيتي تړون لاسليک کېدل تاييد کړل او له ولسمشر کرزي يې وغوښتل چې دغه تړون د ۲۰۱۳ کال تر پايه لاسليک کړي.

بلاخره جرګې پايله وموندله او ولسمشر حامد کرزئ د مشورتی لويې جرګې پايلزې غونډې ته ورغلئ ؤ. همدارز د امريکا د سفير په ګډون نور بهرني ميلمانه هم تالار کې شتون درلود. حامد کرزي د مشورتي لويې جرګې ګډونوالو ته خپله وينا واوروله، دغه وينا په خپل زات کې يو خبردارئ ؤ!!!

<u>د حامد کرزي د خبرو مهم ټکي کټمټ داسې ؤ:</u>

*امريکايان سر له نن څخه عمليات نه شي کولای او د خلکوکورونو ته ورتلئ نشي. که يو وار بياهم امريکايان د خلکو کورونو ته ورغلل دا تړون نه کيږي. نو سر له نن څخه د امريکا عمليات خلاص شول.*

حامد کرزي د تيرو دوه اونيو امنيتي راپور دوسيه راوکښله چې *په دوه اونی کې يوائې يو پوليس وژل شوئ.* **حامد کرزي مخامخ ګوته نيغه د امريکا سفير لوري ته چې په تالار کې پورته د حامد کرزی د خبرو پرمحال کيڼ لاس ته ناست ؤ ونيوله** او ورسره يې زياته يې کړه!!! *چې د تړون وروسته هم غواړو چې په همدی ډول زموږ د ملکی او نظامي وګړو تلفات نه وي.*

حامد کرزي وويل چې *ما د دې جرګې په پرانستې غونډه کې ويلي ؤ چې د افغانستان دسولې کلې لومړئ د امريکا او بيا د پاکستان په لاس کې ده. دا ماته ثابته شوې ده، اسناد راسره شته. او فريمانه اسناد لرم. په لسګونه دلايل شته. په دې هکله مې امنيتي ارګانونو (مسلح قوا) سره هر اړخيزې خبرې کړي. زياد تفصيل نه ورکوم، وخت ډير نيسي. او بله داچې د زموږ بين المللي دوستانو سره چې وروسته تړون لاس ليک کوؤ، د هغوی د خوابدئ سبب ګرځي.*

حامد کرزي په قطر کې د طالبانو د فتر دپرانيستلو په تړاو وويل چې *امريکايانو سره مو ډير بحث وکړ چې **دا دفتر بيا داسې نه وي چې يو زموږ د افغانستان اسلامي جمهوريت وي، او بل د طالبانو اسلامي امارت*** (په بله وينا چې داسې نه وي چې تاسې زموږ رسمي جمهوريت څنډې ته کړی او د طالبانو اسلامي امارت په رسميت وپيژنی) *. زموږ دپاره مهه نه ده چې جمهوريت وي يا امارت. خو يو واحد افغانستان وي. ما لا پخوا هم د دوی په کړنو شک درلود، ځکه مې د امريکايانو څخه وغوښتل چې په دې تړاو موږ ته يو اطمينانيه ليک راواستوي. د امريکا جمهور ريس لطف وکړ او ليک يې لاسليک کړئ*

*راواستاؤ. خو ومو ليدل چې طالبانو په قطر کې د اسلامي امارت بيرق پورته کړ. ما خو مخکې له مخکې دغه اطمينانيه ليک تر لاسه کړئ ؤ، که نه موږ بايللې وه!!. ځکه مې دوی ته وويل چې موږ يې نه منو. هماغه وه چې دا موضوع پاتې شوه.*

*حامد کرزي زياته کړه موږ ته د امريکايانو له لوري مستقيم او غير مستقيم وړانديزونه شوي ؤ چې که تاسې يو ولايت يا ولسوالي طالبانو ته ورکړئ. ما ورته وويل چې که دولت ته راننوځي زموږ ورونه دي هرکله دې راشي. يو ولايت يا ولسوالي نه بلکې ټول هيواد دې واخلي خو د هيواد څنډه نه ورکوؤ. بيا مې مولوی عبدالسلام ضعيف راوباله دا جريان مې ورته ووېلې، هغه وويل چې زموږ څخه هم امريکايانو دا تقاضا کړې وه، ما ورته وويل (حامدکرزي) چې ستاسو ځواب څه دئ؟ ضعيف وويل موږ يې رد کوؤ* (ځواب **نه** دئ). *ورته مې وويل آفرين، اوس نو په قطر کې طالبانو ته هم دا احوال ورکړه، چې ونه غولېږي بلاخره په قطرکې شته طالبانو بيا اعلاميه ورکړه چې موږ يو واحد افغانستان غواړو.*

*حامد کرزي زياته کړه چې د جرګې په پرانسته غونډه کې مې تاسو ته وويل چې افغانان جنګ ګټې خو د سياست ميدان بايلي. نو ماته وخت راکړئ زه د امريکايانو سره سياست کوم او چنې وهم.*

*حامد کرزي وويل له امريکا سره د امنيتي تړون لاسليکېدل يوه سخته چاره ده افغاني غيرت مې نه منې، خو شرايطو مجبور کړي يو چې تړون وکړو.*

د ولسمشر کرزي د خبرو ډېر تمرکز پر دې ورټول و، چې بايد د امنيتي تړون له لاسليکېدو سره سم په افغانستان کې سوله راشي، که نه په خبره يې دا تړون ګټه نه لري.

# د توکیوکنفرانس

جولای ۲۰۱۲

53

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د جوړیدو څخه نژدې یولس کاله وروسته په ۸-۶-۲۰۱۲ ز کال د افغانستان سره د اقتصادي مرستو دپاره د جاپان په پلازمېنه توکیو کې یو کنفرانس جوړ شو. تر پورتنۍ نیتې افغانستان ډیر د بهرنیو دوستانو په تیره بیا د امریکا د ملاتړ څخه برخه من ؤ. د امریکا او د هغوی د متحدینو د پام وړ ؤ. په لس کلونو کې دیارلس ځله نور کنفرانسونه هم د افغانستان دپاره جوړ شوي.

د ځینو شنونکو په باور چې تر دې دمه په نړۍ کې هیڅ داسې هیواد نشته چې د لسو کلونو په ترڅ کې دیارلس ځله پرله پسې ستر کنفرانسونه ورته جوړ شوي وي. د یادونې وړ ده چې یواځې د دسمبر د ۲۰۱۱ څخه تر جولای د ۲۰۱۲ پورې یعنې په ۷ میاشتو شپږ ورته کنفرانسونه د افغانستان دپاره جوړ شول (د دوهم بن کنفرانس، شیکاګو، ریګا، د آسیا زړه، د ډهلي د پانګونې اینبودنې کنفرانس او ورستۍ همدغه د توکیو کنفرانس) دا په نړۍ کې بې سارۍ دۍ.

د توکیو په کنفرانس کې نژدې ۶۰ هېوادونو او ۲۰ نړېوال سازمانونو ګډون کړۍ ؤ. افغانستان دولت د توکیو په کنفرانس کې د خپلو اقتصادي پروژو د ملاتړ دپاره په کال کې د نړېوالې ټولنې څخه نژدې د ۴ میلیارده ډالرو غوښتنه وکړه. د افغانستان دولت دغه کنفرانس ته ۲۲ بېلا بېلې اقتصادي پروژې وړاندې کړې.

د دغه کنفرانس ارزښت په دې کې ؤ چې د نورو کنفرانسونو په پرتله اوږد محاله اقتصادی پروژو ته ځانګړۍ شوۍ ؤ. د افغانستان د حکومت له لورې وویل شول چې تر ۲۰۲۵ ز کال پورې به افغانستان یو سولیز او د اقتصادي ثبات لرونکۍ هیواد وي. مهمه دا چې پخپلو عایداتو به متکي وي. (کومه چې زما دپاره د خندا خبره وه او ده).

په کنفرانس کې د دغو دوه سترو پروژو یادونه وشوه:

---

53 https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2012/07/120707_l09_tokyo_conference_deferent

د بی بی سی له سایت څخه اخیستل شوی

لومړئ: د معادنو او طبعي موادو د استخراج په نتیجه کي د عایداتو لوړوالئ، د هغه جغرافیایي موقعیت سره چې موږ یې لرو د ترانزیت او انرژی لیږد او هم د اورګاډي پټلۍ.

دوهم: په مصارفاتو باندې غوڅ کنترول، چې د اقتصاد د لوړ والي سبب ګرځي او په وارداتي توکو کموالئ کوم چې افغانستان یې خپله د تولید وړتیا لري.

په ډيرې خواشینۍ سره باید ووایم نپوهیږم چې په دې تیرو کنفرانسونو کې هیڅ بهرني هیواد او مرستندویه ټولني له افغانستان حکومت څخه پوښتنه نه کوله چې په هغو ژمنو مو چې موږ ته په تیرو کنفرانسونو کې کړې وې کومې یې پوره شوي دي؟ کومه پروژه پرې بشپړه شوې ده؟

آیا چا د افغانستان د حکومت څخه د تیرو مرستو حسابغوښتنه درلوده، چې اوس دومره لوړې (منځ تشې یا میان تهي) خبرې او ژمني کولې چې دیارلس کاله وروسته به یو سولیز، با ثباته او پخپل ځان متکي افغانستان ولرو؟

د افغانستان د حکومت په قول چې تر هغې ګړۍ جولای د ۲۰۱۲ د افغانستان کلني عایدات ۱۸ میلیارده ډالر ؤ، دوی غوښتل چې په ۲۰۲۵ کي کلني عایدات ۴۰ میلیاردو ته لوړ کړي. *(دا هم زما په آند د خندا خبره وه. په هغه کچه فساد چې د حامدکرزي په حکومت کې شتون درلود څنګه دومره پرمختګ وشي چې عایدات په دیار لسو کلونو کې څه دپاسه ٪۱۰۰ لوړ کړي. لکه چې حامد کرزي خپل وړي لیوان نه پیژندل، چې ۶۰ ٪ مرستې خوبه د دې لیوانو جیبونو ته تلې، نو څنګه به د ۱۸ میلیاردو څه ۴۰ میلیاردو ته عایدات لوړ تللي وئ؟)*

## کورنۍ سیاست

د ولسمشر حامد کرزي د حکومتولۍ دوره تر ټولو یوه ښه سیاسي دوره وه.

دا په دې مانا چې د حامد کرزي په حکومتولۍ کې د ولسواکۍ له برکته ډېر سیاسي احزاب رامنځ ته شول. په تیره نژدې یوه پیړۍ کې دومره سیاسي احزاب نه ؤ رامنځ ته شوي، د هغې څخه دمخه خو احزابو شتون نه درلود. لکه د حامد کرزي په حکومتولۍ کې.

حامد کرزي خپلو سیاسي مخالفینو سره په ډېره حوصله مندۍ چارچلند کاو. نه د یو جابر حاکم په شان. دا په ریښتیا د ولسواکۍ نښه وه. تر یو حده یې حکومت مشروعیت درلود، خو نه داسې چې لازم وي. د دې ترڅنګ د کورني سیاست ځینې ښستیز رُکنونه چې ځمکنۍ بشپړتیا، دملی حاکمیت ساتل دي، کوم چې هیڅ او یا هم ډېرکم شتون درلود. د هماغې مودې تر اوسه (طالبانو دوهمه واکمني) په کُنړ د پاکستان بې شمیره توغندي لګیږي، د افغانستان اسلامي جمهوریت هیڅ هم ونه کړل. له هغې مودې تر ننه په بشپړډول د افغانستان حکومت په ټولو ولسوالیو حاکمیت نه لري.

حامد کرزي هڅه کوله چې ټول شموله حکومت ولري. د هغه په حکومتولۍ کې په ریښتیا چې ټول قومونو د خپل د تناسب څخه ډېر په حکومت کې برخه لرله (پرته د پښتون).

که د واقعیتونو څخه سترګې پټې نه کړو حامد کرزي به تل هڅه کوله چې یو وزارت کې وزیر، معین او ریس د پښتون تاجک، هزار او د ازبک له قوم څخه وي، پرته له دې چې د هغې څوکۍ وړتیا ولري. خو بیا هم په هغه تل دا تور لګیده چې یواځې پښتانه په لوړو پوستونو کې ګماري، خو واقعیت داسې نه ؤ. لکه څنګه چې ټولو ته څرګنده ده د یوې کوچنۍ ولسوالۍ څخه ۷۰۰ جنرالان شوي ؤ، خو بیا هم چا قناعت نه درلود. زه د حامدکرزي پلوي نه کوم، بلکې هغه څه لیکم، کوم چې ریښتینې ؤ. په هر حال په دې هکله د موضوع د حساس والي له کبله ډېره تبصره نه کوم په همدومره لیکلو سره بسنه کوم.

بله داچې په خواشینۍ سره چې کار اهل کار ته نه ؤ سپارل شوۍ، او نه سپارل کیده. دا ځکه چې د افغانستان جهادی تنظیمونه هم سیاسون ؤ، جنګسالاران هم سیاسون ؤ، غله او داړه ماران هم سیاسون ؤ، بلاخره ستره مافیایي کړۍ هم سیاسون ؤ.

حامد کرزی مجبور ؤ چې همدغو خلکو ته یې په حکومت کې ځای ورکړئ وئ. دوی ټول د بهرنیو هیوادونو (ځینو په ښکاره او ځینو په پټه) استازولي کوله. په بله وینا جاسوسان ؤ. د هر بهرني هیواد دلته خپلي موخې وې. ډیر لږ کسان داسي لیدل کیدل چې دبهرنیانو سره یې اړیکې نه وې، نو که څومره دغو خلکو خپل غږ پورته کاؤ کومه ټاکونکي لاسته راوړنه یې نه شوئ درلودلئ.

اداري فساد، د کوکنارو د کښت مخنیوئ، رونتیا په کار کې..... او داسي نور. په دې ټولو نیمګړتیاؤ کې چې په افغانستان کې شتون درلود، موږ افغانان پرته له شکه ملامت یو، خو له موږ څخه بهرنیان دوه قدمه مخکې ؤ.

د حامد کرزي په وروستیو څو کلونو کې د حکومت او ملت ترمنځ ستر واټن رامنځ ته شو. دا واټن میاشت په میاشت او کال په کال زیاد کیده. د ولس په حکومت باندی نا باوري په زیادکیدو شوه. ټول سیاسي احزاب او اپوزیزسیون، اپوزیزسیون شول. داسې ښاغلو هم شتون درلود چې هم د حکومت جګپوړي غړي ؤ او له دې سره جوخت موقف یې د اپوزیزسیون یا مخالف ؤ. ټول حکومتي غړي چې د حکومتي څوکی لرې کیدل نو سمدلاسه مخالفین ؤ، په حکومت پسې بد ویل او نیوکې پیل کیدې. په داسې حال کې چې تر پرون خپله د حامد کرزی د حکومت وزیر ؤ.

## بهرنئ سیاست او نړیوالی دیپلوماتیکی اړیکی

د افغانستان د وخت اسلامي جمهوریت د ملګرو ملتونو، امریکا او د اروپایي اتحادیې په ګډون د نړی ډیرو هیوادونو سره د سفارت او یا قنسلګری په کچه استازولي درلوده. په داسي حال کې چې د طالبانو لومړني ځل حکومت یواځې پاکستان، سعودي عربستان او متحده اماراتو په رسیمت پیژانده.

د افغانستان د اساسي قانون په پام کې نیولو سره د افغانستان بهرنئ سیاست ولسمشر ټاکه. لکه څنګه چې څرګنده ده افغانستان سره د امریکا متحده ایالاتو او د هغوی پلویانو (لویدیځو هیوادونو) اوچته مالي مرسته کوله. د ټولو وزارتونو معاشونه د هغوی له خوا ورکول کیدل. نو څرګنده ده چې واک هم د بهرنیانو ؤ. په بله وینا چې په بهرني او کورني سیاست کې حامد کرزئ خپلواک نه ؤ. نه یواځې حامد کرزئ خپلواک نه ؤ بلکې د محمد نادرشاه د پادشاهی څخه بیا تر اوسه ټول پادشاهان او ولسمشران پرته د شهید محمد داود خان څخه خپلواک نه ؤ. البته چې یو د محمد داود خان د وژلو سبب هم همدغه ټکئ ؤ.

حامد کرزي وکولئ شول چې د بین المللي ټولنې مرسته او حمایت ځان ته راجلب کړي، په ځانګړې توګه د امریکا او لویدیځې نړۍ. په میلیاردونو ډالر افغانستان ته راواستول شول، خو د ضرفیت نه لرلو له کبله حیف او میل کیدل. د دې په بدل کې چې په افغانستان کې بنسټیزې پانګونې پرې شوي وئ، مجلل شپږ پوړي شخصي مانۍ ګانې پرې جوړیدې. کله چې په کابل، او ځینې نورو ښارونو کې ګنجایش نه ؤ او یا یې نه غوښتل، نو په دوبې، عماراتو، قطر، ترکیه او نورو لویدیځو هیوادو نو کې شخصي مانۍ واخیستلې او ډالر د سویس او ځینو نورو ملکونو په بانکونو کې زیرمه شول.

په داسې حال کې چې د افغانستان په تاریخ کې هیڅکله هم دومره بهرنۍ مالي مرسته د افغانستان سره نه وه شوې. پوره ښه فرصت له لاسه ورکړل شو، کوم چې باید نه وئ شوي. د افغانستان د پاره ډیر یو ښه طلایي چانس په لاس ورغئ چې امریکا، لویدیځ هیوادونه افغانستان ته د مرستې لاس ورکړ.

دا باید ومنو چې په سیاست کې که راکړه غواړې، نو ورکړه به کوې. امریکا او د هغه متحدینو هیوادنو د خپلو هیوادونو د ګټو په خاطر موږ سره مرسته کوله. دا زموږ د حکومتي چاروکو کار ؤ چې په بدل کې د خپل هیواد دملي ګټو په پام کې نیولو سره، ضرفیتونه ایجاد کړي وئ او ددې طلایي فرصت څخه یې په مناسب ځای کې ګټه پورته کړي وئ، کوم چې په ډیرې خواشینۍ سره و نه شول.

دا باید ومنو چې حامد کرزئ مجبور ؤ هغه څه ومني چې د بهرنیانو له خوا ورته ویل کیدل. ښه به وي چې ووایو هرهغه څه چې بهرنیانو غوښتل وکړي هغه یې کول. خو ښاغلي حامد کرزي باید داسې سیاست غوره کړئ وئ چې زموږ د ملي ارزښتونو اود دواړو خواؤ د ګټو په پام کې نیولو سره د هغوی خبرې منلئ.

حامد کرزي د مغرض او مضر پاکستان او ایران په هکله هیڅکله هم ښکاره سیاسي خط مشي څرګنده نه کړله. ګاونډیانو ته یې دوست ورنو خطاب کاؤ. دغو دوست ورور هیواد ایران کې زموږ سلګونه کډوال هیوادوال په ناحقه توګه زورول، بندي کیدل، وژل او، حتا د سوریې جنګ ته ولیږل شول.

همداراز دوست هیواد پاکستان پرموږ توپونه او توغندي ورول، او تر اوسه لا غلي شوي نه دي، خو ځواب یې پټه خول پاتي کیدل ؤ. کله به چې رسنیو کې ډیر شکایتونه وشول نو بلاخره به په هیواد کې دننه سفیر ته د بهرنیو چارو وزارت له لوري سپاریښتنلیک وسپارل شو، او بس. دا لړۍ تر اوسه د طالبانو په دوهمې واکمنۍ کې هم روانه ده.

زموږ ولسمشر د پاکستان او ايران د کړنو پر وړاندې دومره نرم سياست غوره کړئ ؤ چې دغو دواړو هيوادونو دا درک نه کړه چې کله حامد کرزئ غصه او کله خوښ دئ. نوره ورته مهمه نه وه.

د ګاونډيو هيوادونو پر وړاندې دغه سياست او په کور دننه د جنګسالارانو او ځواکمنو پر وړاندې د حامد کرزي دغه نرم چلند سبب شو چې په ټول ولس کې خپل محبوبيت له لاسه ورکړي.

د پاکستان په اړه د حامد کرزي په سياست کې کوم رغنده بدلون را نغئ. حامد کرزي د نړيوالې ټولنې په ځانګړي ډول د امريکا څخه دا تمه درلوده چې په افغانستان د پاکستان له لوري د توغنديو باران په وړاندې به د پاکستان سره وجنګيږي او که نه نو لااقل توغندي ويشتل خو به پرې مطلق بند کړي.

حامد کرزي د امريکا او ناټو څخه تمه لرله، هرچيرې چې د ترهګرۍ ځالې وي، د ځالو له منځه وړلو کې ورسره وجنګيږي يا لااقل مرسته ورسره وکړي. لکه څنګه چې څرګنده ده د ترهګرو ځآلې په پاکستان کې وې او دي، کوم چې نه يواځې ناټو يا امريکا د ترهګرو ځالې ورانې نه کړې او ورسره ونه جنګيدل، بلکې د افغانستان حکومت يې هم نه پريښود چې ترهګرو سره وجنګيږي. برسيره پردې دغه ځالې غټې شوې، نو خامخا بچي هم ډير شول.

د حامد کرزي په حکومتولۍ کې افغانستان دهغو هيوادونو چې خپل ثبات يې زموږ په بې ثباتۍ کې ليد، د جګړې ميدان وګرځيد.

بلاخره حامد کرزئ په دې پوه شو چې امريکايان د ترهګرو او د هغوی د ځآلو له منځه وړو دپاره نه دي راغلي.

د حامد کرزي په آند چې افغانستان د امريکا او پاکستان د معاملې قرباني دئ. د دوی ترمنځ بدبينی پيداشوې.

دا او دې ته ورته ځينې عوامل د دې سبب وګرځيدل چې حامد کرزئ د ناټو او امريکا ځينې خبرې ونه مني. يو د هغو مهمو مضوعاتو څخه هم د امريکا سره د افغانستان ستراتيژيک تړون لاسليک مسئله وه چې حامد کرزي د مشورتي لويې جرګې او د ولسي جرګې د پريکړې خلاف لاسليک نه کړ.

پټه دې پاتې نه وي چې پاکستان له زيږيدو سره سم (۱۹۴۷ ز)، د افغانستان پر وړاندې تل خپل بهرنئ سياست د درواغو او غولونکو خبرو سره پرمخ بيولئ دئ. ترڅو چې

بلاخره حامد کرزي وويل چې د سولې کلي د امریکا او پاکستان په لاس کې ده، که هغوی وغواړي سوله کیدای شي او که ونه غواړي نشي کیدئ.

حکومتي لوړ پوړي او ټیټ پوړي چارواکي د بهرنیانو پروړاندې او په بهرني او کورني سیاست کې نه یواځې هم غږي نه ؤ بلکې یو دبل خلاف خبرې یې کولې. په داسې حالت کې څنګه د بهرنیانو څخه ګیله وشي. څرنګه چې موږ خپلو منځو کې سره یوه خوله او یو غږ نه ؤ نو دا سبب شوه چې بهرنیانو به هم زموږ خبرو ته اهمیت نه ورکاؤ.

حامد کرزي هڅه کوله چې ګاونډیو هیوادونو سره اړیکې ښې وساتي. پاکستان، ایران، ترکیې او منځینۍ آسیا ته په هغو غونډو کې ګډون کاؤ چې د تروریزم او ترهګرۍ په ضد مبارزې د پاره جوړیدل.

حامد کرزي د خپلې حکومتولۍ په ترڅ کې بر سیره پرګاونډیو هیوادونو نورو هیوادونو ته په دې موخه سفرونه وکړل چې د افغانستان دوستي د بل هیواد سره، دریم ګړي هیواد ته ضرر هیڅکله نه لري.

په لنډه کې ویلئ شو چې حامد کرزئ په بهرني سیاست کې هم بریالي نه شو.

په بهرني سیاست کې حامد کرزي زما په آند یوه دقیقه او مشخصه پالیسي او برنامه نه درلوده. هره اونۍ او میاشت به په بدلون کې وه. زما په آند که یې پالیسي او برنامه هم درلودئ، حامد کرزي نه شو کولای چې پلي یې کړي. ځکه د بهرنیانو له لوری یې دومره واک نه درلود.

## د حامد کرزي د حکومتولۍ لاس ته راوړنې او نیمګړتیاوې

داچې ولسمشر حامد کرزي نژدې دیارلس کاله حکومتولي کړې ده، د دومره کلونو ځواکمن او ضعیف ټکي په څو کرښو کې لیکل به منصفانه نه وي. خو بیا هم هڅه به وکړم چې تر توانه دواړه ځانګړو مسأیلو (ضعیف او ځواکمن) ته په لنډ ډول اشاره وکړم.

**لاسته راوړني:**

کله چې حامد کرزي د ۲۰۰۱ ز کال د دسیمبر د میاشتي په وروروستیو کې د افغانستان ولسمشر شو، نو په افغانستان کې هرڅه ټول وران او ویجاړ ؤ. په یوه لنډه جمله کې ویلئ شو چې تورتم ؤ، هرڅه وران ویجاړ او کنډواله ؤ. د کابل ښار د نورو ښارونو په ګډون تشي کنډوالي وې. یواځې بې وځلو وګړو په کې شتون درلود. چا چې ډیر لږ مالي امکان او توان درلود د افغانستان څخه بهر تللي ؤ. ډیرئ افغانان د پخوا په شان پاکستان او ایران ته کډوال شول.

ښوونځي، پوهنتونونه، روغتونونه لنډه داچې ټولې عام المنفعه ودانۍ وراني یا نیمه ورانې وې. دولتي ودانۍ ډیرئ ورانې شوې وې. په دغه ډول چاپیریال کې حامد کرزي د نړیوالې ټولنې په تیره بیا د امریکا په مرسته د ولسمشرۍ په صفت دننده پیل کړه.

ځینې افغانان نیوکه لري چې حامد کرزي په ۱۳ کلونو کې هیڅ شئ ونه کړل. زما په آند دا خبره هم منصافانه نه ده. لکه څنګه چې یادونه وشوه، هرڅه په کنډواله بدل شوي حامد کرزي ته پاتې شول. کچیري د شهید ډاکټر نجیب الله د حکومت په شان یو ځواکمن حکومت، کوم چې مجاهدینوته وسپارل شو، حامد کرزي ته سپارل شوئ وئ او همدغه مرستې چې نړیوالې ټولنې په تیره بیا امریکا د افغانستان سره وکړې، کړي وئ، بیا پر ځای او په حقه وه چې په حامد کرزي مو ډیرې نیوکې کړې وئ.

حامد کرزئ د نورو په شان کوم جهادي رهبر نه ؤ چې د پخوا څخه یې یو تنظیم جوړکړئ ؤ او خپل ځانته یې جنګیالي درلودل. (البته چې دا ډیره ښه هم وه، چې داسې نه ؤ). خو برسیره پر دې حامد کرزي وکولئ شول چې د نړیوالې ټولنې په تیره بیا د امریکا پاملرنه افغانستان ته جلب کړي. په دې ډول د نړۍ ځینو هیوادونو او نړیوالې مرستندویه ټولنو میلیاردنو ډالر افغانستان ته د مرستې په توګه واستول.

په افغانستان کې د پانګو اچونو د **نه** مدیریت په شتون کې موږ ډیر طلایي فرصتونه له لاسه ورکړل. د میلیاردنو نو ډالرو مرستو سره نه د افغانستان وګړوغوښتنې او نه هم د مرستندویه ټولنو غوښتنې پوره شوې.

په دومره مرستو سره چې افغانستان سره وشوې هیڅ ضرفیتونه جوړ نه شول چې د مرستو څخه په بنسټیزه توګه استفاده وشي. ځکه خو دې خپله د فساد دپاره زمینه مساعده کړه او فساد پیل شو.

حامد کرزي د نړیوالو په مرسته وکولئ شول چې ډیر ژر په پیل کې څو زره کسیزه اردو جوړه کړي. البته چې بیا وروسته خو مسلح قوا اټکل دوه لکو ته ورسیده.

**ښونه او روزنه:** لکه څنګه چې د یوهیواد ستر بنسټیز پرمختګ ښوونځئ او پوهنتون دئ، ځکه خوحامد کرزي ډیره پاملرنه ښوونې او روزنې ته واړوله. په زرګونو دولتي او شخصي ښوونځي جوړ شول. په سلګونو شخصي پوهنتونونه جوړ شول. په میلیونو زده کوونکي او محصلین ښوونځیو او پوهنتونونو ته روان شول. دې لړۍ لا حتا د ولسمشر محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې دوام درلود.

د شپاړس کلونو په ترڅ کې د لومړي ټولګي زده کوونکئ بلاخره پوهنځئ خلاصوی او په کار ګمارل کیږي. چې د حامد کرزي د حکومولۍ څخه تر ولسمشر محمداشرف غني د حکومت پیل پورې نژدې ۱۳ کاله تیر شول، نو د لومړي ښوونځي زده کوونکئ به د دولسم ټولګي څخه خلاص شوئ وې، ځیني به څورلسم پاس شوي وي او ځیني نور به لا په پوهنتونونو کې خپلو زدکړو ته دوام ورکاؤ. دا یوائحنۍ ستره لاس ته راوړنه او یوائحنۍ غټه پروژه وه.

پټه دې پاتې نه وي ځیني افغانان وایي د حامد کرزي په حکومتولۍ کې بنسټیز کار نه دئ شوئ. دا سمه ده. خو د حامد کرزي په حکومتولۍ کې یوائحنۍ بنسټیزه پروژه چې ښوونځیو او پوهنتونونو فعالول ؤ، پلې شوه.

په هغه وخت کې خو لکه څنګه مې چې پورته یادونه وکړه تورتم ؤ. هیڅشي شتون نه درلود.

لنډه داچې هر څه د پیل د نقطی څخه په حرکت شو او خپل د پرمختګ مزلونه یې ووهل او لا د مزلو وهلو په درشل کې ؤ.

**د بیان آزادي:** د ولسمشر کرزي په حکومت کې موږ د بیان د آزادۍ څیښتنان شؤ په داسې حال کې چې د طالبانو او د هغه څخه دمخه جهادی تنظیمونو په حکومتولۍ کې د بیان آزادی شتون نه درلود.

د افغانستان په تاریخ کې د حامد کرزي تر حکومتولۍ پورې داسې د بیان آزادي نه وه پلې شوې لکه د حامد کرزي په حکومتولۍ کې. بې ساري رسنۍ رامنځ ته شوې (تلویزیونونه، راډیو، ورځپاڼې او داسې نور....).

همدارنګه په بی ساري ډول احزاب رامنځ ته شول. افغانستان هیڅکله هم دومره احزاب نه درلودل.

**رسنۍ:** د ولسمشر کرزي په حکومت کې موږ پرته د ملي راډيو تلويزيون څخه د ډېرو خصوصی راديو ګانو او تلويزيونوشبکو شاهد يو. ويلئ شو چې نژدې تر سلو زياد تلويزيوني او راډيويي شبکو فعاليت درلود. په داسې حال کې چې د مجاهدينو حکومتولۍ په دوران کې يواځې ملی راديو تلويزيون هغه هم دکورنی جګړو له کبله سخت زيان من شوئ ؤ. زموږ رسنۍ د سيمې په کچه په هر اړخيزه توګه تر نورو ښې وې. نو په لنډه کې ويلئ شو چې د بيان آزادۍ په هکله مو د سيمې په کچه ډېر ښه پرمختګ کړئ ؤ. او دا لړۍ لا د ولسمشر محمد اشرف غني حکومتولۍ ته هم وروغزيده، حتا نور پرمختګ يې هم وکړ.

**وسله وال ځواک:** د مسلح قوا (استخبارات، پوليس، اردو) څېښتنان شؤ. نژدې دوه لکه ته يې اصلي شمير، او خيالي مسلح قوا خو درې نيم لکه وه.

د دې تر څنګ درې ګونې قوه (مقننه، اجرايه او قضايه) جوړه شوه. نژدې د سيمې په سطحه حکومت جوړ شو. دا چې څه نيمګړتياوې (اداري فساد، رشوت، مخدره توکي، ترهګر...) لرې دا بيا بيل بحث دئ.

**قانون:** موږ د نوی اساسي قانون څېښتنان شو، د داسې يو اساسي قانون چې جامې، هراړخيز او سيمې په کچه ډېر ښه قانون ؤ. ولسمشر حامد کرزي هڅه کوله چې قانون په افغانستان کې پلئ او حاکم کړي، په داسې حال کې چې د طالبانو او د مجاهدينو په رژيم کې چا قانون نه پيژانده. دا منم چې قانون پلئ شوئ نه دئ، او مجرمينو ته سزا نه ده ورکړل شوې. دا هم جلا بحث دئ چې ولې نه ؤ پلي شوئ.

په لنډه کې ويلئ شو چې موږ تاسو د سيمې په کچه تر ټولو ښه قانون څېښتنان شؤ، خو قانون په ټولو يوشان پلي شوئ نه دئ. په دې هکله د زياتو ليکنو څخه ځکه ډډه کوم چې په اړوند ځای کې پرې بحث شوئ دئ.

**د بشر حقوق:** د بشر د حقوق مسئله د حامد کرزي په حکومتولۍ کې مطرح شوې ده. دا د نړيوالو سازمانونو، لويديځې او ختيځې نړۍ هيوادونو د پاره مهمه موضوع وه. حتا په ځينېو ختيځو هيوادونو کې لا تراوسه په دې هکله خبرې نه کيږي. داچې په افغانستان کې د بشر دحقوقو ناقضيونو سره قانوني چلند نه دئ شوئ، دا بيا بيل بحث دئ، خو په دې هکله په قانون کې ورته ځای ورکړل شوئ دئ.

د ولسمشر کرزی د حکومتولۍ په ترڅ کې د ښځو حقوقو ته درناوئ او دوی ته د کار زمينه برابره شوه، حتا د ښځو د پاره بيل يو وزارت تشکيل شو. په تيرو ديرشو کلونو کې د لومړي ځل د پاره د بشرحقوقو ته پاملرنه وشوه.

د ښځو او کوچنيانو حقوق ته پاملرنه شوې ده. ترممکنه حده کوښښ شوئ چې ولسواکي حاکمه کړي، که څه هم د بشر د حقوقو ناقضين او مجرمينو ته سزا نه ده ورکړل شوې او که شوي هم وي دومره لږه وه چې د يادولو نه ده. خو د دې ترڅنګ د حامد کرزي په وروستيو کلونو کې د بشر د حقوقو وضعيت د اندېښنې وړ ؤ. دحامد کرزي پاملرنه د

بشر دحقوقو په وضعيت هروخت وه، خو هرڅه هم باید د یو ولسمشر څخه تمه ونه شي، ځکه چې هر ارګان ځانته وزارت لري، بیا خو د اړونده وزیر څه مسولیت ؤ؟

د ښځو د حقوقو په هکله ریښتیا ډیره ناغیرې شوې ده. ډیر زیاد د ښځو په هکله تاوتریخوالئ ثبت شو. دا چې څومره پاملرنه ورته لازمه وه نه ده شوې. په داسې حال کې چې د طالبانو د حکومتولی په وخت کې ښځې بندې وې. دا چې پر ښځو څه تیریدل، د ویلو څوک ؤ؟ او که دا ځکه چې د اوریدلو څوک نه ؤ.

**کلتور**: غزني ښار د اسلامي نړۍ پلازمینه ، د باختري طلا ننداره، او نوي کال ورځ په رسمي توګه دملي جشن په نامه پیژندل د حامد کرزې فرهنګي برخه کې لاس ته راوړنې دي. باختري طلا د ننداري د پاره اروپا ته استول شوې وه. ما خپله هم د هالند په ننداړتون کې ولیده او یو لوی رنګه کتاب ترې چاپ شوئ ؤ، هغه مي رانیوه.

**سپورت**: همدا ډول د کرکټ لاس ته راوړنې او د دې تیم لاره موندل نړیوال جام ته د حامد کرزي د حکومتولی په ترڅ کې شوي دي. په همدې توګه جنوبي آسیا کې د افغانستان د فوتبال د تیم اتلولي د حامد کرزي د حکومت لاس ته راوړنې بلل کیږي. که څه هم ورزش کونکو ته په مالي برخه کې هیڅ مرسته نه ده شوې. په داسې حال کې چې نورو بهرنیو هیوادونو کې دملي تیمونو ورزشکارانو ته په لکونو ډالره د میاشتې ورکول کیږی. زموږ خوار ورزش کوونکي به دړې وخته ښه خوراک هم ونه لري. په داسې حال کې چې د ځینو ښاغلیو زامن لوبې په بهرنیو هیوادونو کې محصلین دي په لکس موټرو کې چې یولک ډالر به یې قیمت وي پو هنتونونو ته ورځي او ځان ښوونه کوي. پداسې حال کې چې خلک یې پیژني چې دا موټر په کومو پیسو اخیستل شوئ دئ.

**سوله**: بله ستره او مهمه هڅه د حامدکرزي دا وه چې افغانستان ته سوله راولي.

البته دایې د زړه غوښتل خو په افغانستان کې هغه وخت سوله راتلئ شي چې ثبات موجود وي بیا په وار سره په افغانستان کې هغه وخت ثبات راتلئ شي کله چې پاکستان غواړي، دا په دوه شکله کیدای شي.

یو داچې په غښتلي ځواک پاکستان دې ته اړایستل شي، چې دا اړایستل د افغانانو له خوا د هغه وخت په شرایطو کې شوني نه ؤ. بله لاره یې سیاسي، دیالوګ او ښه بریالۍ دیپلوماتیکه کړنلاره ده. وروستۍ کړنې ته موږ ټول افغانان یعني ملت او حکومت یوموټئ، یوه خوله، یوغږ او یوه ژبه **نه** ؤ او لا تراوسه هم نه یو.

لکه څنګه مې یادونه وکړه لومړنۍ کړنه (غښتلئ ځواک) اوس شوني نه وه او دوهمه تګلاره بیاهم د د ګاونډیانو د لاسپوڅو پواسطه د ګوتوهنو له کبله شوني شوې نه وه او نه هم اوس ده.

ګاونډیان خو د خپلو ملي ګټو او موخو په خاطر لاسپوڅي دې ته هڅوي چې موږ یو موټئ، یوه خوله او یو غږ نه شو، خو ګیله مې د خپلو افغانو څخه ده چې د ګاونډیانو د موخو له پاره یې د خپل هیواد ملي شتمنۍ، ملي ارزښتونه او ځمکنۍ بشپړتیا د پښو لاندې

کړې. دا کړنې يواځې د خپل شخصې ګټو په خاطر شوي دي. کله چې څوک د يو هيواد ملي شتمنۍ، ملي ارزښتونه او ځمکنۍ بشپړتيا د پښو لاندې کړې، هغه شخص هغه هيواد ته ملي خأين ګڼل کيږي. ځکه خو زه دوی ته ملي خأينين وايم.

**نيمګړتياوې**

لکه څنګه چې څرګنده وه د حامد کرزي حکومتولي يوه مصلحتګره دوره وه، د دې ادعا د تائيد دپاره لانديني څو ټکې اړين بولم.

زما په آند د حامد کرزي حکومتولي په څو برخو کې د ګوتنيونې وړ ده:

لومړئ: د بهرني سياست په اړه د يوې ځانګړې او دقيقې برنامې نه شتونوالئ. په ځانګړي ډول د پاکستان پروړاندې د يو ناسم سياست تګ لاره. کله پاکستان ورور هيواد ؤ او کله هم په واضح الفاظو کې پاکستان د افغانستان دښمن ؤ.

د پاکستان د لاسپوڅو او د کورنيو جاسوسانو (په اصطلاح د هغه وخت سياسون) له کبله د يوې نه همغږۍ شتون. همداډول مخالفينو ته کله خوابدئ ورور، کله هم دښمن ويل کيدل.

دوهم: په کورني سياست کې هم اپوزيسيونو سره د دوی د ناسمې غوښتنو سره ملي ارزښتونه ګواښول. که څه هم دوی اپوزيسيون نه ؤ. اپوزيسيون هغه چاته ويل کيږي چې ملي ارزښتونو کې حکومت سره هم غږي اوسي، کوم چې دوی نه ؤ.

دريم: د ټولنيزو مسايلو په هکله يو محافظه کارانه غبرګون.

څلورم: سيميزو زورواکو ته تن ورکول. د دوی سره په ډيره نرمه ژبه خبرې او ډير پڅ غبرګون. حتا هغوی ته يې په درنښت سره هم واک او قدرت ورکاؤ.

موږ وليدل چې ځينې واليان دومره ځواکمن او غښتلي شول چې حتا په بل ولايت کې يې د والي په حيث مقررې نه غوښتله. حتا د وزارت څوکۍ يې نه منله. (اسماعيل خان، عطامحمد نور او نور) له دې څرګنديږي چې په هغه ولايت کې دا ښاغلي والي د څومره شخصې عايداتو څيښتن شو؟ دغو واليانو خپلې منګولې په هماغه ولايت کې خښې کړې، ترڅو چې هيواد نژدې ملک الطوايفي بڼه يې ځانته غوره کړه.

دغو وړو تړو ليوه ورته واليانو مرکزي دولت ته د ولايت ټوله شوې ماليه نه تسليموله. د خپل ولايت واکمن انسان ؤ. دوی دومره غښتلي او واکمن شول چې حامد کرزي حق نه درلود چې څه ورته ووايي، حتا حامد کرزي به هغه ته صاحب، صاحب وايه. دوی ټوله

شوې ماليه، د ماليې وزارت ته نه تسليم کوله، يا هم ډيره کمه يې تسلم کوله. دې ته ورته کړنې په پلازمينه کې هم جريان درلود. (وزير، معين، ريس او حتا مدير). په داسې حال کې چې دې ډول اشخاصو سره بايد غوڅ عمل شوئ وئ، چې دايې ونه کړل او يا يې نه شوۀ کولئ.

په دې ډول ويلئ شو چې حامد کرزی په دوديزه توګه حکومتولي کوله. په داسې حال کې چې په پيل کې امريکا او متحدين يې لاس او خبرو ته غوږ نيوه، نو پکار وه چې يو مدرن او ملي حکومتولي يې رامنځ ته کړي وئ.

حامد کرزي ونه کړئ شول چې اقتصادی او ټولنيزې بنسټونه غښتلي کړي، خو پرځای يې کوم ولايت کې کوچنۍ پروژې (د انجيوګانوله طريقه) هغه هم په ټيټ کيفيت سره سر ته رسولې.

دغو ټکو ته په کتو سره پايله دا وه چې فقر، لوږه، نا امني، بې کاري، غلا او نور منځ ته راشي او يا هم ډير زياد شي.

په ميليارډونو ډالر سره چې افغانستان ته راتلل، بايد سترې بنسټيزې پروژې جوړې شوې وئ لکه په شمال، جنوب، ختيځ او لويديځ کې د بريښنا اوبيز بندونه جوړ شوي وئ. له کبله يې سلګونه فابريکې جوړيدې چې ورسره په لکونو خلکو ته په کې د کار زمينه پيدا کيده، پايله به لوږه، نا امني، بې کاري، غلا او ډيرې نورې ستونزې کمې يا ورکې شوې وئ.

په خواشينۍ چې په ميليارډونو ډالر يو څو تنو د ګوتو په شمير خلکو جيبونو ته لويدل، حيف او ميل کيدل، بلاخره لامل يې داشو چې دوی په بين المللی مافيايي کړۍ کې ډوب شي. د دې ترڅنګ ډيره برخه د جهاد ميراث خورو ته ځکه ځانګړې کيده چې دوی راضي وساتل شي. کله به چې څه ور ونه رسيدل يا کم رسيدل نو سمدلاسه به د حکومت ضد اشخاص او ډلي وې. د دې ترڅنګ تش په نامه جهادی مشران او جنګسالارانو (شمالي ټلواله) ته بيا واک په لاس ورکړل شو.

پخواني جنګسالاران او نيمڅواندو موږکانو څخه يې وړي ليوان جوړ کړل چې پايله يې د ځان بلا وګرځيده، فساد او رشوت خواره روږدي شول، بيرته په لوړه کچه مسلح شول کابل ښار او ولايات يې چور کړ. نور په وطن کې څښئ پاتې نه شول چې خپل يې کړي، نو په بهرنيو هيوادونو کې يې مانۍ ګانې واخيستې.

لکه څنګه چې دمخه هم ورته اشاره وشوه حامد کرزي هڅه کوله چې ټول شموله حکومت ولري. د هغه په حکومتولۍ کې په ريښتيا چې ټول قومونو د خپل د تناسب څخه ډير په حکومت کې برخه لرله (پرته د پښتون)، خو په خواشينۍ چې کار اهل کار ته نه ۀ سپارل شوئ، او نه سپارل کيده. دا ځکه چې د افغانستان جهادی تنظيمونه هم سياسون ۀ، جنګسالاران، غاصبين او دمخدره توکو مافيايي کړۍهم سياسون ۀ. غله او داړه ماران هم سياسون ۀ. بلاخره ستره مافيايي کړۍ هم سياسون ۀ. حامد کرزی مجبور ۀ چې همدغو خلکو ته په حکومت کې ځای ورکړئ وئ. دوی ټول د بهرنيو هيوادونو

(ځينو په ښکاره او ځينو په پټه) استازولي کوله. د هر بهرني هيواد دلته خپلې موخې وې. ډير لږ کسان داسي ليدل کيدل چې دبهرنيانو سره يې اړيکې نه وې، نو که څومره دغو خلکو خپل غږ پورته کاؤ کومه ټاکونکي لاسته راوړنه يې نه شوئ درلودلئ.

اداري فساد، د کوکنارو د کښت مخنيوئ، روڼتيا په کار کې، د ترهګرو په وړاندې مبارزه.... او داسې نور. په دې ټولو نيمګړتياؤ کې  چې په افغانستان کې يې شتون درلود، موږ ټول افغانان پرته له شکه ملامت يو، خو له موږ څخه بهرنيان (امريکا) دوه قدمه مخکې ؤ.

په لنډه کې حامد کرزي څه ډول حکومت له ځانه راتلونکي ولسمشر ته په ميراث پريښود:

د حامد کرزي حکومتولي په تيره يوه پيړۍ کې تر ټولو ښه سياسي دوره وه. ولسواکي تجربه شوه، په لسګونو سياسي احزاب رامنځ ته شول، او د بيان آزادي پلې شوه.

په زرګونو ښوونځي او په سلګونو پوهنتونونه جوړ شول او ورغيدل، په ميليونونو  زده کوونکي (نجونې او هلکان) او لکونو محصلينو (نجونې او هلکان) زده کړې کولې. دې لړۍ لا دوام درلود.

اساسي قانون جوړ شو. درې ګونې قوا (مقننه، قضايه، اجرائيه) رامنځ ته شوه. مشرانو جرګه او ولسي جرګه رامنځ ته شوه.

د افغانستان وګړي به د حامد کرزي حوصله مندي هيره نه کړي.

د پورتنيو بدلونونو ترڅنګ د هرسياسي، اپوزيسيون او حتا د دښمن پر وړاندې ډير نرم سياست کله خو هم هيڅ غبرګون نه ښود.

ولسمشر حامد کرزي تر يوې اندازې وکولئ شول چې د بين المللي پانګوالو پاملرنه جلب کړي. خو د هغو فرصتونو په اندازه ډير کم ؤ کوم چې بايد شوي وئ. ځکه زموږ د هيواد جيوپوليتيک موقعيت په درلودو سره ونشو کولئ چې د يوې سترې پشتوانې په توګه ترې استفاده وکړو. په افعانستان کې بنسټيز کار ونشو. فابريکې جوړې نه شوې، معدن استخراج نه شول. لکه څنګه چې څرګنده ده د هرډول بنسټيزو پروژو او هر ډول فابريکو دپاره بريښنا لومړنئ اړين فکتور دئ.  په دومره ميلياردونو سره چې افغانستان ته راغل څو قوي د بريښنايز د اوبو بندونه جوړ نه شول چې افغانستان پرې ځان بسيا شي. حتا پلازمينه کابل د څلورويشت ساعته بريښنا ځيښتن نه شو. ډيره لږه وارداتي بريښنا لرو، خو د شته اوبو څخه د بريښنايز بندونو په جوړولو کې استفاده ونه شوه. ځکه خو افغانستان يواځې يو وارداتي هيواد پاتې شو.

کوم منفي ځيزونه چې  ولسمشر حامد کرزي، ولسمشر محمد اشرف غني ته په ميراث ورپريښودل هغه ، په فساد کې ډوب رژيم، د مخدره توکو توليد او قاچاق، ناامني، زورواکي او جنګسالاران په واک کې ساتل. د دې ترڅننګ بې کاري او غربت خو لا د ډير پخوا د افغانانو لمن نه ده پريښې.

# څلورم څپرکئ

## محمد اشرف غني

54

### محمد اشرف غني څوک دئ

محمد اشرف غني د شاه جان احمدزي زوی په ۱۹۴۹-۵-۱۹ د لوګر په ولایت کې وزیږید. ابتدایه زده کړې یې په لوګر او بیا وروسته د استقلال په ښوونځي کې پرمخ بوتلي. په کابل کې د حبیبیې لیسې څخه خلاص شو. د سیاسي علومو پوهنځئ یې د بیروت په امریکایي پوهنتون کې ولوست اولومړنی ماستري یې تر لاسه کړه.
په کال ۱۹۷۴ ز کې بیرته هیواد ته راستون شو او د اجتماعي علومو په پوهنځي کې د استاد په حیث وګمارل شو. په کال ۱۹۷۷ ز کې امریکا ته ولاړ او د نیویارک د کولمبیا په پوهنتون کې د بین المللی اړیکې پوهنځي څخه یې خپله دوهمه ماستري تر لاسه کړه.
یو کال وروسته یې په همدې پوهنتون کې خپله دکتورا د انسان پیژندني په څانګه کې واخیسته.
له دې وروسته محمد اشرف غني دوه نورې افتخاري دکتوراوې تر لاسه کړي، یوه یې په کال ۲۰۰۷ د امریکا د سکرانتین له پوهنتون څخه ترلاسه کړه او بله یې په کال ۲۰۰۸ د کانادا د ګیلف له پوهنتون څخه ترلاسه کړي.
ښاغلي محمد اشرف غني د امریکایي تفت پوهنتون څخه یوه عالي نړیواله جایزه تر لاسه کړه. دغه نړیواله جایزه ډیر لږ کسان لاس ته راوړئ شي.

---

54

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-51542364

د بی بی سی د سایت څخه اخیستل شوئ

محمد اشرف غني د کابل پوهنتون، دنمارک کې د آروس یا آهوس په پوهنتون، په کال ۱۹۸۳ د امریکا د بریکلي پوهنتون او بیا د ۱۹۸۳ څخه تر ۱۹۹۱ د امریکا په نامتو پوهنتون جانز هاپکینز کې د استاد په حیث درس ورکړئ.
محمد اشرف غني په کال ۱۹۹۱د نړۍ وال بانک د ستراتیژۍ جوړولو په یوه مهمه څانګه کې ۱۰ کاله دنده ترسره کړې، چې پنځه لومړني کلونه یې د جنوبي او شرقي آسیایې هیوادونو دپاره کار وکړاو پنځه وروستي کلونه یې هر اړخیزو نړیوالو اقتصادی ریفورمونو دپاره کار کړئ. د ۲۰۰۱ کال څخه وروسته محمد اشرف غني د دې اداری څخه بې معاشه رخصت واخیست.
د وخت د ملګروملتونو سرمنشي ښاغلي کوفي عنان په ۲۰۰۱ د محمد اشرف غني څخه وغوښتل چې د افغانستان د کړکیچ دپاره د هغه ځانګړي استازي ښاغلي لخضدر براهیمي سره د ستر سلاکار په حیث کار وکړي. محمد اشرف غني دغه غوښتنه ومنله، هماغه ؤ چې دبن کانفرانس دهمدی کال په وروستی میاشتو کې ترتیب شو، چې په پایله کې د افغانستان موقته اداره رامنځ ته شوه. کله چې حامد کرزئ د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر شو نو محمد اشرف غني د هغه ځانګړی سلاکار وټاکل شو. څه موده وروسته بیا د حامد کرزي په حکومتولۍ کې د مالیې وزیر ؤ. په دې وخت کې د تیرو کلونو د جنګونو له کبله د افغانۍ ارزښت په بی ساري توګه کښته شوئ ؤ، خو دکتورمحمد اشرف غني د پولي (افغانۍ) او مالي سیاست په برخه کې یې بنستیز اصلاحات رامنځ ته کړل. افغانۍ بیرته خپل ارزښت وموند او دهماغې وخت څخه بیا تر هغه دمه چې محمد اشرف غني د هیواد څخه ووت (اګست ۲۰۲۱) افغانۍ خپل ارزښت ساتلئ ؤ. محمد اشرف غني د شپږومیاشتو په ترڅه کې د ګمرکاتو عواید مرکزي بانک، د ګمرکاتي تعرفو اصلاحات او نور ګټور کارونه د مالیې په وزارت کې رامنځ ته کړل.
همداشان محمد اشرف غني کله چې دمالیې وزیرؤ د افغانستان مالیاتي سیستم دپاره یې پرمختللي پلانونه ترتیب کړل. همدې پلانو نړیوال قانع کړئ شول چې د افغانستان سره مرسته وکړي. په کال ۲۰۰۴ ز دافغانستان دپاره د برلین کنفرانس دایر شو، نړیوالو غوښتل چې یواځې یومیلیارد دالر مرسته وکړي، خو د محمد اشرف غني دهڅو او زیارونو پایله داشوه ۲.۸ میلیارده دالره مرسته وکړي.
د محمد اشرف غني دهڅو له کبله ؤ چې په کال ۲۰۰۳ په آسیا کې د بریالي مالیې وزیر په توګه وپیژندل شو چې د هغه کال د بریالي وزیر جایزه یې تر لاسه کړه. په کال ۲۰۰۴ کې محمد اشرف غني د ولسمشر حامد کرزي څخه په ځینو مسایلو نارازه شو، ښاغلي غني غوښتل په بانکونو او ځینو نور ادارو کې اصلاحات راولي خو ولسمشر کرزي دا نه غوښتل.( *ویل کیږي چې بانکونو کې ډیر په لوړه کچه فساد پیل شوئ ؤ، غني غوښتل اړونده کسان اصلاح او یا عدلی ارګانونو ته معرفي کړي* ) له همدې کبله محمد اشرف غني د مالیې وزارت استعفا واخیستله او د کابل پوهنتون ریس شو. اشرف

غني په کال ۲۰۰۶ کې د بین المللی مقامونو څخه د ملګروملتونود سرمنشي څوکی ته کاندید شو چې بیا دا وړاندیز د افغانستان د اسلامي جمهوریت څخه هم رسماً ملګرو ملتونو ته وړاندې شو. خو بیا ***بان کي مون*** د ملګرو ملتونو د سازمان عمومي سر منشي وټاکل شو.

په کال ۲۰۱۰ کې د افغانستان حکومت د محمد اشرف غني څخه وغوښتل چې د کابل دکنفرانس تنظیمولو مشري په لاس کې واخلي، کوم چې محمد اشرف غني ومنله او هرڅه په ښه شان سره سرته ورسیدل. دې کنفرانس کې د ۴۵ بهرنیو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیران کابل ته راتلل او د افغانانو د پاره یې ملي ارزښت درلود. همداشان په نوفمبر د ۲۰۱۰ کې ولسمشر حامد کرزي د محمد اشرف غني څخه وغوښتل چې د بین المللی قواؤ څخه امنیتي مسولیت مسلح قوا ته ولیګدوي. څرنګه چې محمد اشرف غني دغه یو ملی مسله بلله، ځکه خو یې دغه مسولیت په غاړه واخیست. په دې هکله محمد اشرف غني ۳۴ ولایاتو ته په ټوله کې ۱۴۰ ځله سفرونه وکړل.د یادولو وړ ده چې محمد اشرف غني دا او دی ته ورته دندې پرته د معاش یا د کوم مالي امتیاز څخه سرته سول.

**عبدالله عبدالله څوک دئ**

**55**

خبرګزاری میزان له سایت څخه اخیستل شوئ

عبدالله عبدالله د غلام محی الدین خان زوی په کال ۱۹۶۰ ز په کابل کې وزیږید. پلار یې د محمد ظاهر شاه د پادشاهۍ په دوران کې د قندهار ولایت انتسابي سناتور ؤ.

عبدالله عبدالله د غازی محمد ایوب خان په ښوونځي کې ابتدایه زده کړې سرته ورسولې او دنادریې لیسې څخه په کال ۱۹۷۶ ز بکلوریا ترلاسه کړه. په کال ۱۹۷۷ ز د طب په پوهنځي کې شامل شو او په ۱۹۸۳ ز کې د طب د پوهنځي څخه خلاص شو. په کال ۱۹۸۴ ز کې د نور (سترګو روغتون) په روغتون کې د سترګو ډاکټر په حیث دنده پیل کړه. په همدې کال کې پاکستان ته مهاجر شو او په پیښور کې د سید جمال الدین افغاني په روغتون کې د ډاکټر په حیث دنده ومونډله. په کال ۱۹۸۵ ز پنجشیر ته راغئ او د پنجشیر په جبهه کې د روغتیایي څانګې سرپرست ؤ، چې بیا وروسته د احمد شاه مسعود سلاکار، ترجمان او ویاند ؤ، تر څو چې ۱۹۹۲ ز د مجاهدینو په واسطه کابل فتح ، او احمدشاه مسعود د دفاع وزیر شو. د ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۶ پورې د دفاع د وزیر د دفتر

---

55

https://www.mizan.news/574974/بیوگرافی-کامل-عبدالله-عبدالله-تصاوی/

ریس او ویاند ؤ. په کال ۱۹۹۷ کې د بهرنیو چارو وزارت کې د معاون دنده درلوده. په کال ۱۹۹۹ کې د همدې وزارت سرپرست وزیر ؤ.

د حامد کرزي  په موقتې اداري او د انتقالي ادارې (۲۰۰۱ تر ۲۰۰۵ ز) کې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر وګمارل شو.

په  جولای د ۲۰۱۴ ز کې د اشرف غني سره په یوه سیاسي معامله کې د ملي وحدت حکومت رامنځ ته شو او نوموړئ د افغانستان اجرایه ریس وګمارل شو. په اپریل د۲۰۲۰ز کې د ملي مصالحې د عالي شورا ریس شو، چې تر ۱۵-۸-۲۰۲۱ ز پورې په همدې دننده کې پاتې شو.

**یادونه:**

د لوستونکو د آسانتیا او د موضوع روښانتیا دپاره لومړئ د امریکا او ناټو سره د افغانستان امنیتي تړون لاسلیک او ورپسې د محمد اشرف غني د لومړي او دوهم ځل د ولسمشرۍ ټول ټاکنو بحث پیوست یو په بل پسې لیکل شوي دي.

## د امریکا او ناټو سره د افغانستان امنیتي تړون لاسلیک

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري وویل چې امریکا هیله لري چې د افغانستان او امریکا ترمنځ دوه اړخیزه امنیتي تړون به پس له اوږد ځنډ څخه لاسلیک شي.
دغه امنیتي تړون باید چې د ۲۰۱۳ ز کال په آخره کې حامد کرزي سره لاسلیک شوئ وئ. حامد کرزي دغه تړون لاسلیک نه کړ. هغه مشورتي لویه جرگه راوبلله او د ملت سره یې مشوره وکړه. د جرگې گډونوالو د مشورې خلاف حامد کرزي دغه تړون لاس لیک نه کړ. حامد کرزي وویل دا تړون دې د افغانستان نوئ دولت د امریکا سره لاسلیک کړي.

56

کله چې د افغانستان نوي ټاکل شوي ولسمشر ښاغلي محمد اشرف غني په ۲۰۱۴-۹-۲۹ کې خپل د لوړې مراسم تر سره کړل نو سبا ته یې د افغانستان او امریکا تر منځ امنیتي تړون لاسلیک شو. دغه تړون د امریکا له لوري په افغانستان کې د امریکا سفیر جیمز کننگهم او د افغانستان اسلامي جهموریت له لوري د ولسمشر د امنیتی سلاکار محمد حنیف اتمر لاسلیک کړل. همدا شان یو بل امنیتي تړون د ناټو د ځانگړي استازي مورس یوخین سره هم محمد حنیف اتمر لاسلیک کړ.

د تړون په لاسلیکېدو به افغانستان کې تر ۲۰۱۴ وروسته امریکایي پوځیانو ته د پاتې کېدو اجازه ورکړل شي.

پته دې پاتې نه وي د دې تړونونو د لاسلیکولو پر محال د نورو مشرانو په گډون حامد کرزي هم شتون درلود، څوک چې نه یې غوښتل دغه امنیتي تړون لاسلیک کړي.

د تړونونو د لاسلیک څخه وروسته ولسمشر محمد اشرف غني وویل چې په دې هوکړه لیک به زموږ، د سیمې او د نړۍ د خلکو ثبات وي. هغه زیاته کړه چې نړیوال قراردادونه باید د مشخصو قوانینو پربنسټ کار وکړي.

---

56

د بی بی سی د سایت څخه اخیستل شوئ

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2014/09/140929_hh-afghan_us_security

نوي ولسمشر محمد اشرف غني وويل چې د بهرنيانو سره زموږ د تړونونو لاسليکول زموږ ګاونډيانو ته هيڅ ګواښ نه پيښوي.

د هغوی انديښنې بې ځايه دی. دا تړون يواځې د افغانستان د ثبات او ښيګڼې د پاره دئ. نړيوال به د هغه څه په دفع کې له موږ سره مرسته کوي، چې موږ او نړۍ ته ګواښ وي. محمد اشرف غني زياته کړه چې د وخت شرايط او د ملي ګټو په پام کې نيولو سره دغه تړونونو کې بدلون راوستل ممکن دي. دواړه لوري کولای شي د دوؤ کلونو په ترڅ کې تړون لغو کړي، خو له دې سره جوخت يې زياته کړه چې شايد اړتيا يې نه وي.

محمد اشرف غني د افغانانو هغې انديښنې ته هم اشاره وکړه، چې ګواکې د تړون له لاسليکېدو سره به ملکي تلفات يا بندي کېدل ډېر شي، يا د قوا استعمال به بيا پيل شي، او يا هم د شپې له لورې د کورونو تلاشۍ او داسې نور.... چې دا د انديښنې وړ خبرې دي.

محمد اشرف غني خپلو هيوادوالو ته ډاډ ورکړ چې د بهرني سرتيرو کړنې به داسې نه وي. د تړون دواړه لوري به پرخپلو ژمنو ټينګ وي. مخکې چې ستره قوا پرته وه، هغه دوره تيره شوه. ولسمشراوباما د مهال ويش له مخې په دوؤکلونو کې به د امريکايي ځواکونو ستره برخه ووځي. ډيرلږ شمير سرتيري به يې د امريکا په سفارت کې (د سفارت او د سفارت کارکوونکو خونديتوب له پاره) پاتي کيږي. ولسمشر غني زياته کړه چې دا تړون د افغانستان په ګټه دئ، د سولې زمينه برابروي، نه داچې د سولې مخه ونيسي.

<u>د تړون د ځينو مادو مهم ټکي:</u>

د پريکړه ليک په څلورمه ماده کې ويل شوي چې امريکا بايد د افغانستان د قوانينو، د افغانانو دين او دود ته په جدي ډول درناوی وکړي.

د پريکړه لېک په ۱۱ ماده کې راغلي چې امريکايان نه شي کولی کورونو ته ننوځي، عمليات وکړي او د خلکو کورونه تلاشي کړي.

په ۲۹ ماده کې ويل شوي چې د ګوانتانامو زندان بنديان دې افغان حکومت ته وسپارل شي.

د دې پريکړه ليک په ۳۱ ماده کې راغلي چې امريکا نه شي کولای په افغانستان کې د هستوی وسلو پاتي شونې ښخ کړي.

## د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د لومړني ځل ټولټاکنو پایله

57

په ۲۰۱۴-۴-۵ ز د ولسمشرۍ ټول ټاکنو لړۍ رسماً پیل شوه. حامد کرزي د افغانستان د اسلامي جمهوریت ولسمشر، په دې ورځ خپله ټاکن پاڼه د ټاکنې په صندوق کې خپل راتلونکي ټاکل شوي ولسمشر ته واچوله.

حامد کرزي د افغانستان د ټولو وګړو څخه وغوښتل چې د هرډول ستونزو سره سره راشئ خپله رایه په سري ډول خپل راتلونکي ټاکل شوی ولسمشر ته په صندوق کې واچوئ.

په دې ولسمشریزو ټاکنو کې اته تنه نوماندانو ؤ، چې له دوی څخه محمد اشرف غني د حامدکرزي د حکومتولۍ مالیې وزیراو عبدالله عبدالله د حامد کرزي په حکومتولۍ کې د بهرنیو چارو وزیر سیالۍ ته پاتې شول.

د انتخاباتو خپلواک کمیسیون مشر ښاغلي احمد یوسف نورستاني په ۲۵-۴-۲۰۱۴ ز اعلان وکړ چې د لومړني شمیرل شویو رایو په بنسټ عبدالله عبدالله ۴۳.۸ ٪ او محمد اشرف غني ۳۲.۹٪ رایې ترلاسه کړې. په دې مانا چې دویم ځل ټاکنې به د مئ د میاشتې په آخره کې تر سره کیږي.

بلاخره په ۷-۷-۲۰۱۴ د انتخاباتو خپلواک کمیسیون اعلان وکړ چې پایلیزو ټاکنو کې محمد اشرف غني ۵۶.۴۴٪ او عبدالله عبدالله ۴۳.۵۶ ٪ رایې تر لاسه کړي دي. په دې بنسټ محمد اشرف غني د دې ولسمشرۍ ټاکنو ګټونکۍ اعلان شو.

---

57

https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/07/140707_k03_af2014_election_commision_announced_run-off_prelimenary_result

د بی بی سی د سایت څخه اخیستل شوي

دا په داسي حال کې وه چې عبدالله عبدالله دغه ټول ټاکنې ونه منلې. د عبدالله عبدالله
پلويانو مدني اعتراضونه پيل کړل.

ترڅو چې په ۲۰۱۴-۷-۱۳ جان کيري د امريکا د بهرنيو چارو وزير کابل ته راغئ د
افغانستان ولسمشر حامد کرزي، محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله سره يې وکتل.
دواړو خواؤ په ټاکنو کې د درغلۍ تور يو پر بل لګاؤ. محمد اشرف غني او هم عبدالله .
عبدالله دواړو ځانونه ګټونکي بلل. تر څو چې د جان کري په منځګړتوب پس له درې
مياشتو بلاخره د يوې سياسي معاملې په ترڅ کې دواړو خواؤ د ملي وحدت حکومت
رامنځ ته کړاو واک سم دوه ځايه وويشل شو. په دې مانا چې د افغانستان اسلامي
جمهوريت کابينه ۵۰ سلنه د محمد اشرف غني او ۵۰ سلنه د عبدالله عبدالله ټيم څخه جوړه
شوه.
په پايله کې محمد اشرف غني د افغانستان د اسلامي جمهوريت ولسمشر او عبدالله عبدالله
د افغانستان د اسلامي جمهوريت اجرايه ريس وګمارل شو.
د امريکا د بهرنيو چارو وزير جان کيري په اعلاميه کې وويل چې د دې هوکړه ليک
لاسليک يوه فوق العاده ښه حکومتولي ده، چې د افغانستان په تاريخ کې د ملي وحدت
حکومت سره به پيل کيږي. همدارنګه جان کيري زياته کړه چې د دې هوکړه ليک په
لاسليک سره د واشنګتن او کابل ترمنځ به د يوې نوې اړيکې پيل وي.
*(زما په آند چې په رينښتيا هم يوه فوق العاده هوکړه ليک ؤ، چې د امريکا له لوري په
افغانستان تحميل شو. پر يوه څوکۍ يې دوه مشران کښينول، کوم چې سارئ يې په نړۍ
کې نه ؤ).*

د محمد اشرف غني او د عبدالله عبدالله د هوکړې څخه وروسته د سپينې ماڼۍ وياند
ښاغلي جوش ايرنست وويل د امريکا متحده ايالات د افغانستان د حکومت د دغې هوکړې
هرکلئ کوي. د دغې هوکړه ليک لاسدليک د افغانستان اوسني سياسي بحران پايله ګني. د
سپينې ماڼۍ وياند زياته کړه چې موږ دې ته ژمن يو چې د نوي حکومت ملاتړي او
همکار اوسو.

## د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د دوهم ځل ټولټاکنو پایله او اړوند مسایل

58

د ۲۰۱۹ ز کال د افغانستان د ولسمشریزو ټولټاکنې د سپتمبر په ۲۸ پیل شوې. ویل کیده چې د دې ټاکنو پایلې به د اکتوبر په ۱۴ اعلان شي. خو دغه اعلان هروار د هراړخیزو ستونزو له کبله ځنډیده. تر څو چې ۲۲-۱۲-۲۰۱۹ ز د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشرې میرمن حوا علم نورستاني اعلان وکړ چې د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې ښیی چې محمد اشرف غني ۵۰.۶۴ ٪ او عبدالله عبدالله ٪۳۹.۵۲ رایې ګټلي دي.

په دې ډول محمد اشرف غني بیا د دوهم ځل دپاره د افغانستان اسلامي جمهوریت ولسمشر شو. عبدالله عبدالله بیا دا شمیرنې ونه منلې دټاکنو خپلواک کمیسیون یې په درغلۍ تورن کړ.

### د ۲۰۱۹ ز کال د ولسمشرۍ د ټاکنو د پایلې د اعلان څخه وروسته د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله څرګندونې

**عبدالله عبدالله**

څو شیبې وروسته عبدالله عبدالله د ټاکنو دغه پایلې ونه منلې او ځان یې خپله د ټول ټاکنو د پایلو بریالۍ وګانه.

پر دې برسیره یې د کورنیوچارو وزارت څخه وغوښتل چې د ټاکنو کمیسیونونو غړي دې نه پریږدي چې د هیواد څخه ووځي. د کورنیو چاروزرات د عبدالله عبدالله په غبرګون کې وویل چې د ممنوع الخروجۍ صلاحیت یواځې عدلیې وزارت او سترې محکمه لري، نه بل څوک.

58

د بی بی سي له سایت څخه اخیستل شوئ

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-50886033

عبدالله عبدالله په افغانستان کې دننه سفارتونو او بهرنيو موسساتو ته د يو ليک په ترڅ کې څرګنده کړې وه چې د اعلان شويو ټولټاکنو پايلې ملاتړ نه اوسي. په دې ليک کې په لنډه توګه په درنښت سره له دوی څخه هيله شوې وه چې دغه غيرقانوني او د درغليو ډکې ټاکنو پايلې دي، نو په دې هکله دې دوی خپل ناپېيلتوب وساتي.

همدارنګه عبدالله عبدالله د اروپايي اتحاديې د مبارکۍ ليک ته چې محمد اشرف غني ته يې راليږلۍ ؤ، په غبرګون کې د اروپايي اتحادیې د بهرني سياست مسؤل ښاغلي جوزف بورل ته په يو ليک کې څرګنده کړه چې په حيرانتيا سره مې خبر ترلاسه کړ چې تاسو متقلب تيم ته د مبارکۍ پيغام استولۍ. دا د افغانستان د خلکو د تمې خلاف ؤ. هيله ده چې په کابل کې د اروپايي اتحاديې محترم هيت به په دې هکله لازم توضيحات ورکړي او خپله دريځ به د افغانستان دخلکو سره شريک کړي.

پر دې ټولو برسيره په رسنيو کې د محمد اشرف غني په ضد د يوې ټيټې سويې شخص په ډول خبرې کول، کوم چې په ريښتيا هم يو سياسي شخص ته نه ښايي. برسيره پردې د عبدالله عبدالله د ټيم ځينو خلکو په تلويزيونونو او رسنيو کې تر عبدالله هم په ټيټه کچه د محمد اشرف غني په ضد خبرې پيل کړې. زه نه غواړم چې اضافه تر دې په جزياتو سره يې وليکم.

### محمد اشرف غني

پس له هغه چې د ټول ټاکنو پايلې اعلان شوې، ولسمشر محمد اشرف غني خپلو پلويانو ته په ارګ کې وينا وکړه، د افغانستان ملت او خپلو پلويانو ته يې مبارکي ورکړه.

ولسمشر محمد اشرف غني زياته کړه چې د ټاکنو لړۍ بلاخره ختمه شوه. محمد اشرف غني په خپله وينا کې  خپلوسيالانو او ټولو خلکو ته په ډاګه کړه چې د ټاکنو پايلې دې ومني او په راتلونکي کې دې د دولت په جوړولو کې همکار اوسي.

ولسمشرغني دا بريا د خلکو او جمهوريت وبلله، همدارنګه غني د ټاکنو کميسيون څخه مننه وکړه. محمد اشرف غني د عبدالله عبدالله د خبرو او غبرګون خلاف په ډيره حوصله مندۍ، په ښه او آرامه لهجه  وويل چې موږ يووالي ته چمتويو **اوهيچاته د سيال په سترګه نه ګورو. نورنو د سيالي او مخالفت لړۍ ختمه شوه.**

ولسمشر محمد اشرف غني وويل چې ددې وخت رارسيدلۍ دۍ چې سوله په هيواد کې ټينګه شي، زموږ تيم دې ته چمتو دۍ چې ټول افغانستان ته سوله راولي.

د ټول ټاکنو په پایله کې د ټاکل شوي ولسمشر محمد اشرف غني پر وړاندې د عبدالله عبدالله بابیزه لجاجت او سیاسي مخالفتونه د دې سبب شول چې طالبان له دې فرصت څخه نوره هم ګټه پورته کړي. دغو مخالفتونو لا جریان درلود چې څو میاشتې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پیمپیو کابل ته راغئ.

## د امریکا بهرنیوچارو وزیر مایک پیمپیو په یوناڅاپي سفر کابل ته راغئ

59

ولسمشر اشرف غني په ۹-۷-۲۰۱۸ ز کابل کې د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر سره په ګډه خبري ناسته کې څرګنده کړه، چې په افغانستان کې د جنوبي آسیا له پاره د امریکا د اداري ستراتیژۍ ستري اغېزې کړی دی. همداشان د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پیمپیو وویل، چې امریکا اوس د افغانانو ترڅنګ د یو تلپاتي شریک په توګه ولاړه ده.

پیمپیو دا هم څرګنده کړه، چې د امریکا ستراتیژي طالبانو ته یو ښکاره پیغام لري، چې نشي کولی له پوځي لارې ګټونکي شي او مونږ یې د جګړې په ډګر کې د هڅو کمیدل وینو. پیمپیو دغه راز ویلي ؤ، چې نن موږ د رښو ټاکنو د بریاوو لیدونکي یو. مونږ له افغان ځواکونو څخه د خلکو له خوښې سره سمې د ډاډمنو او رښو ټاکنو د ترسره کولو له پاره د آسانتیاوو له برابرولو مننه او ملاتړ کوو.

ښاغلی پیمپیو په دې سفر کې له خپلو ځواکونو د ملاتړ تر څنګ له افغانستان سره د همکاریو په اړه او د حکومت له لوړپوړیو چارواکو سره هم خبرې اترې لرلې.

د پورتنۍ لیکنې پر بنسټ ویلئ شو چې امریکا هروخت خپل دوه مخئ سیاست پرمخ بیولئ.

---

59

https://ariananews.af/ps/o-ouou-58/

د آریانا نیوز له سایت څخه اخیستل شوئ

## دوه ځایه د لوړې مراسم

په ۹-۳-۲۰۲۰ ز په کابل کې دوه ځایه (ارګ او سپیدار ماڼۍ)  د ولسمشرۍ د لوړې مراسم تر سره شول.

60

د ولسمشر غني د لوړې مراسم په ولسمشرۍ ماڼې کې د سلګونو کسانو په ګډون ترسره شول. په دې مراسمو کې د افغان سیاسونو او لوړپوړو چارواکو په ګډون برسیره ډیرۍ بهرني میلمنو هم ګډون درلود. چې په بهرنیو میلمنو کې په افغانستان کې دامریکا سفیر، د غوڅ ملاتړ ماموریت قومندان جنرال سکاټ میلرد، زلمي خلیلزاد او په افغانستان کې د ډیرو نورو بهرنیو هیوادو سفیرانو ګډون درلود.

د نړۍ په تاریخ کې به یو هیواد کې په یوه ورځ او په نژدې سل متره واټن کې دوه د ولسمشرۍ لوړې مراسم نه وي پر ځآی شوي. خو موږ ولیدل چې  د۲۰۲۰-۳-۹ ز په ارګ کې محمد اشرف غني او سپیدار ماڼۍ کې عبدالله عبدالله د لوړې مراسم تر سره کړل.

په زړه پورې وه چې د مراسمو په ترڅ کې څو پرلپسې د توغندیو غږونه واوریدل شول. محمد اشرف غني د خپلې کُرتۍ تڼۍ خلاصې کړې او سپین کمیس یې راښکود چې دا زرې (ضد دمرمۍ) کمیس نه دئ.

ولسمشر محمد اشرف غني په ۲۰۲۰-۳-۱۱ز د ملی وحدت ختمیدل اعلان کړل او ورسره د عبدالله اجرایه ریاست هم لغو شو. همداشان عبدالله اعلان وکړ چې د اشرف غنې فرمانونه نور د اعتبار وړ نه دي.

---

60

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-51797576

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-51804788

د بی بی سي د سایت څخه اخیستل شوئ

د یوناما مشر محمد اشرف غني ته د مبارکی ترځنګ د ګډکار چمتووالئ ځرګند کړ. د یوناما په اعلامیه کې راغلې ؤ چې د دولسمشرغني د هغو ژمنو هرکلئ کوي چې ټول شموله حکومت به جوړوي.

همداډول د اروپايي اتحادیې د بهرني سیاست مسؤل جوزف بورل هم د تلیفون له لیارې محمد اشرف غني ته مبارکې وویله. همدارنګه نوموړي زیاته کړې وه چې اوسنئ لومړیتوب په یووالي کې دئ چې د سولې د لړۍ ملاتړي اوسي. څکه خو دغه اتحادیه د افغانستان د سولې د لړۍ سره خپله پوره همکاري ځرګندوی او وايي چې دغه په لاس راغلئ فرصت له لاسه لاړ نه شي.

د دې ترځنګ ډیرئ د بهرنیو هیوادونو ولسمشرانو او صدراعظمانو ولسمشر محمد اشرف غني ته د مبارکي پیغامونه واستول.

**د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله جوړجاړی**

61

پس له نژدې درې میاشتو سیاسي ناندرویو څخه وروسته په ۱۸-۴-۲۰۲۰ ولسمشر محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله بلاخره د ځینو سیاسي مشرانو په منځګړتوب یوې سیاسي هوکړې ته ژمن شول او دغه سیاسي هوکړه لیک یې یو بل سره لاسلیک کړ . هغه داسې چې ولسمشر محمداشرف غني به لکه د پخوا په شان ولسمشر وي او عبدالله عبدالله به د مصالحې د عالي شورا مشر یا ریس وي. د دې ترځنګ به دعبدالله عبدالله د ټیم غړو ته په کابینه کې هم ځای ورکول کیږي. که څه هم د عبدالله عبدالله د ټیم غړو ویلي ؤ چې ۵۰٪ به په کابینه کې ځای ولري، او هماغسې هم شول.

61 د آریانا نیوز له سایت https://ariananews.co/news/اشرف-غنی-عبدالله-عبدالله-قدرت.html/ څخه اخیستل شوئ

## کورنۍ سیاست

ولسمشر محمد اشرف غني د غازي امان الله خان او شهید محمد داود خان په شان د وطن سره لیونۍ مینه درلوده، ځکه خو یې د هغوی د حکومتولۍ ځینې تګلارې پر مخ بیولې. د اصلاحاتو په تړاو د امان الله خان تګلاره او د کار په جدیت کې یې د محمد داود خان تګلاره درلوده. دا چې له یوې لورې بهرنیانو د خپلو شومو موخو په خاطر د محمد اشرف غني خبره نه منله او خپلې موخې یې پر مخ بیولې، له بلې لورې یې ۵۰ سلنه حکومت په واک کې نه ؤ او وروستۍ دا چې حکومت ډوب په فساد کې ؤ، ځکه ډېر ژر او زیاد پرمختګ نه ؤ شوئ او چنداني مشروعیت یې نه درلود. خو پر دې ټولو برسیره بیا د کابل ښار لوټماران او غاصبین، د عطا نور د شمال امپراتور، د غرب لوټوال اسماعیل، د شرق زورواکۍ قدیر او د جنوب ګل آغا شیرزۍ دوی ته ورته نور زورواکې د وخت په تیریدلو بې واکې کړل. چې البته د مشروعیت نه ترلاسه کولو ډېرۍ لامل هم همدوی او ځینې نورې کړۍ وې.

د یادولو وړ بولم چې نه یواځې د کورنیو چارو وزارت په خپلو دندو کې خپلواکه نه ؤ، بلکې مسلح قوا (د دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د امنیت ملي ریاست) مشران هم خپلواکه نه ؤ. د دې وازرتونو واک هم ډېرۍ د محمد اشرف غني سره ؤ.

په لنډه کې ویلای شو د افغانستان ټول واک په محمد اشرف غني او څو تنو نورو پورې محدود شو. محمد اشرف غني هم خپل ځانته دلایل درلودل. برسیره پردې چې ۵۰ سلنه وزیران د عبدالله عبدالله دټیم له لورې تعین کیدل. دوی د افغانستان خیرښګڼې ته کار نه کاؤ، یواځې د خپل مشر (عبدالله عبدالله) عاقلانه او غیرعاقلانه خبرو ته غوږ شوي ؤ. د دې ترڅنګ پوهیدل چې څه محدود وخت د پاره وزیر یم څنګه باید ملي شتمني د پښولاندې کړم او خپل جیب ډک کړم.

محمد اشرف غني سوکه سوکه پخپلو وزیرانو هم بې اعتماده شو. رشوت او فساد خپلې آخرۍ کچې ته ورسید. د کوچني مامور څخه نیولې تر خپله وزیر پورې رشوت اخیستل کیده. خبره یې نه منل کیده. ځکه خو به دې ته اړ کیده چې د هغوی واک هم خپله واخلي.

محمد اشرف غني هم ډېر ژر درک کړه چې د حامد کرزي په شان د ده خبره هم د امریکا له لوري نه منل کیږي. د بهرنیانو له لورى به خلک ورمعرفي کیدل چې په لوړو پوستونو کې وګمارل شي. هغوی به داسې خلک ؤ چې په فساد او مافیایي کړۍ کې ورګډ ؤ. خو مجبور ؤ چې په دننده وګمارل شي، همدغه لامل شو چې سوکه سوکه ټول واک یې خپل لاس کې واخیست.

همدا ډول بل لورئ دعبدالله عبدالله تیم په مطلقه توګه په محمد اشرف غني بې باوره ؤ.

د دواړو تیمونو بې باوري ورځ تر بلې زیاتیده. د دې ترڅنګ د عبدالله د تیم په لمسون ځیني نور تش په نامه سیاسون پرته له دې چې عاقلانه فکر وکړي د محمد اشرف غني مخالفت کاؤ.

دغه د دؤ تیمونو د نظر اختلاف، او تش په نامه سیاسونو نه هم غږي د دې باعث شوه چې درې ګونې قوا کې (قضایه، مقننه، اجرائیه) خپلې دندې په ناهیلۍ سره پرمخ بوځي. برسیره پردې چې پخپله درې ګونې قوا کې هم ډیرې نیمګړتیاوې او نا خوالو شتون درلود.

بلاخره دا وضعیت په ملت ستره اغیزه لرله. په دې ډول ملت هم په ټوله کې د حکومت د کړنو ناراضه شو او لامل د دې شو چې د حکومت او ملت ترمنځ ستر واټن رامنځ ته شي. په بلا وینا د ملت مشروعیت د پوښتنې لاندې راغئ. ملت هیڅکله د عبدالله عبدالله او سیاسونو پلویان نه ؤ. په بله وینا ټول سیاسون د عبدالله عبدالله د تیم پلویان ؤ، پرته د یو څو تنو څخه.

بله اړینه خبره دا وه چې د دغو تش په نامه سیاسونو د سیاسي مخالفتونو له کبله د طالبانو سره د سولې پروسه د حکومت په زیان پای ته ورسیده. ټولې شل کلنې لاس ته راوړنې خاورې شوې.

محمد اشرف غني د افغانستان د ولسمشر په صفت د هرڅه مسؤلیت درلود. خو په خواشینۍ چې د محمد اشرف غني ټول تش په نامه سیاسي مخالفین د دې مسؤل دي چې د سولې پروسه ناکامه شوه.

تل به ملت دا چیغې وهلې چې دا د سولې پروسه به هم لکه د شهید ډاکټرنجیب الله د مصالحې په شان سبوتاژ شي، چې بلاخره همداسې هم شول. تل به ملت دا چیغې وهلې چې بیا به زموږ مسلح قوا او حکومت له ریښې څخه د شهید ډاکټر نجیب الله د حکومت په شان درړې وړې شي، چې په خواشینۍ همدغسې شول. خو موږ به کله د تیرو ترخو تجربو څخه درس واخلو.

لوی دلیل یې دا ؤ چې ټول د محمد اشرف غني مخالفین (سیاسي مشران) پردی پال ؤ دوی د بهرنیانو جاسوسان ؤ.

د شخصي ګټو په خاطر یې ملي ارزښتونه، ځمکنۍ بشپړتیا د پښو لاندې کړه، د محمد اشرف غني هر معقول دلیل یې نه مانه. دوی هغه خلک ؤ چې کله پاکستان، ایران او د روسیې لمنې نیولې، تګ راتګ یې درلود.

دا ټول يواځې او يواځې په دې خاطر ؤ چې که طالبان دولت سره يوځای شي، يا واک دوی ته انتقال او يا هم واک په زوره تر لاسه کړي نو دوی (سياسي مشران) ته به بيا په حکومت کې ځای ورکړل شي. په دې ډول به بيا دوی د خلکو وينې وزبيښي.

دغو سياسي مشرانو هيره کړې وه چې ملت نور د دوی څخه کرکه او نفرت لري.

طالبان هم دوی پيژندل په دې پوهيدل چې دوی په ټولنه کې منفوره کتله ده. نور يې څوک نه مني.

موږ تاسو وليدل کله چې طالبان واک ته ورسيدل دوی ته يې په حکومت کې ځای ورنه کړ (تراوسه)!.

لکه څنګه مې چې پورته يادونه وکړه چې دوی د بهرنيانو جاسوسان ؤ، د طالبانو د واکمنۍ څخه څو مياشتې وروسته لويديځو هيوادونو مګر له طالبانو و نه غوښتل چې بيا هماغه منفورو څيرو ته په حکومت کې ځآی ورکړي؟ هغوی ۱۵ تنو نومونه نه ؤ ورکړي؟

ډاډه يم چې اوس دغه سياسون وايي چې تر دې ښه ؤ چې د محمد اشرف غني حکومت مو پخپل هم غږی، يو موټي توب او يو لاسی سره پياوړئ کړئ وئ.

# بهرنۍ ساست

لکه څنګه چې څرګنده وه مونږ نژدې شل کاله ډیرۍ د پاکستان، امریکایانو او متحدینو سره په خبرو کې ؤ، ځکه خو زمونږ بهرنۍ سیاست هم ډیرۍ په دغو هیوادو پورې څرخیده.

د امریکا او پاکستان پر وړاندې بهرنۍ سیاست:

د اساسي قانون په پام کې نیولو سره د افغانستان بهرنۍ سیاست ولسمشر محمد اشرف غني ټاکه، چې البته د ولسمشر حامد کرزي په حکومتولۍ کې هم همداسې وه.

ځیني تفاوتونه د ولسمشراشرف غني او حامد کرزي په منځ کې شتون درلود.

د ولسمشر حامد کرزي په حکومتولۍ کې د بهرنیوچارو وزارت په دیپلوماتیکه ساحه کې واکمن یا اقلاً نیم واکمن ؤ. په داسې حال کې چې د ولسمشر محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې د بهرنیو چاروزارت ته واک نه ؤ ورکړ شوئ چې په کور دننه او بهر سفارتونو ته ستراتیژیکه پالیسي ورکړي. د پاکستان پر وړاندې ولسمشر محمد اشرف غني او د امنیت شورا خپلو ستراتیژیکو موخو لاس ته راوړلو ته په کتو سره تصمیم نیوه. چې په دې هکله دواړه ولسمشران بریالي نه ؤ.

نړیوالې ټولنې شل کاله په افغانستان کې حضور درلود. لکه څنګه چې بهرنیانو ویل دوی د دوه سترو موخو دپاره راغلي ؤ، د القاعدې شبکې او د تروریزم له منځه وړل. البته چې دغه دواړه پدیدې نه یوازې ورکې او کمې نه شوې، بلکې ډیرې شوې. دواړه پدیدې د افغانستان د پولې هغې خواته شتون درلود، نه په افغانستان کې.

په تیرو شلو کلونو کې د افغانستان دولت ډیرې هڅې وکړې چې د پاکستان سره صادقانه خپل مناسبات او اړیکې لکه د دوه نیکو ګاونډیو هیوادونو په څیر څرنګه چې باید وي وساتي. خو پاکستان بلمثل چلند نه لاره او دوه مخۍ ؤ.

په ټوله کې افغانستان کې ثبات د ګاونډیانو ثبات دۍ. او بلاخره د سیمې ثبات دۍ. نو که افغانستان نا آرامه وي، ګاونډي او سیمه به نارامه وي. ځکه خو د بې ثباتۍ څخه ټول متضرره کیږي. خو پاکستان د تل په شان په خوله هو کوله، د کاغذ پرمخ یې لاسلیک کاؤ او عمل نه ؤ.

بربنډ یې ووایم چې پاکستان نه غوښتل او نه به یې هم هیڅکله وغواړي چې افغانستان ځواکمن او با ثباته نظام ولري. نه غواړي ثبات دلته شتون ولري او یو سوکاله افغانستان وي. د پاکستان ثبات او ګټې زمونږ په بې ثباتۍ کې نغښتي دي. ځکه خو پاکستان تل هڅه

کړې چې زموږ هیواد بې ثباته کړي، خو ډاده یم یووخت به دغه بې ثباتي د پاکستان په ضرر تمامه شي.

بله داچې زموږ ښستیزه ستونزه د پاکستان سره لاینحله پاتې وه. پاکستان د یوې لورې تروریستي ډلې تمویلولې، او له بل لورې د افغانستان حکومت سره د سولې او ثبات په هکله درواغجنې خبرې کولې. په داسې حال کې چې په ریښتینې ډول داسې نه وه.

په ریښتیا سره هم حامد کرزي سم ویلې ؤ چې د سولې کلي د امریکا او پاکستان په لاس کې وه.

حامد کرزي د امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک نه کړ، خو محمد اشرف غني په دې هیله د امریکا سره ډیر ژر امنیتي تړون لاس لیک کړ، چې ګوندې امریکا به په افغانستان د پاکستان له لوري توغندیو ویشتلو په وړاندې د پاکستان سره وجنګیږي او یا به په پاکستان دا ومني چې نور په افغانستان توغندي ونه واروي، کوم چې داسې هیڅکله ونه شول. حتا اوس هم د پاکستان له لوري توغندي په افغانستان ویشتل کیږي (طالبانو دوهم ځل واکمنۍ کې).

د شرم ځای خو لا دا ؤ چې له یوې لوري د امریکایانو سره تړون لاسلیک کیده او له بلې خوا د پاکستان لوري زموږ پر خاوره توغندي ویشتل کیدل. بیا نو دا تړون د څه دپاره ؤ؟

زما په آند دا ډیره مهمه موضوع وه چې محمد اشرف غني مخکې له دې چې د امریکا سره ستراتیژیک تړون لاسلیک کړي، په ټینګه ورسره د پاکستان د راکټي بریدنو او د ترهګرو د ځالو له منځه وړلو په هکله یوې فیصلې ته رسیدلي وئ، چې ونه شول.

پوښتنه پیدا کیږي چې څنګه په افغانستان کې ثبات راتلئ شي.؟

برسیره پر دې چې په افغانستان کې بهرنۍ سیاست یو د جګړې د لاملو څخه دئ خو تر ځنګ یې د دې کشالې د حل یو فکتور هم دئ. همدا ډول د افغانستان اسلامي جمهوریت بهرنۍ سیاست د کورني سیاست څخه اغیزمن شوئ ؤ. همدا ډول بلمقابل کورنۍ سیاست د بهرني سیاست څخه څه نا څه اغیزمن ؤ.

په افغانستان کې د ثبات راوستلو دپاره پکار وه چې په بهرني سیاست ژوره بیا کتنه شوې وئ. دا سیاست باید بدل شوئ وئ.

باید هیرنه کړو چې یواځې غښتلئ بهرنۍ سیاست کولئ شي په افغانستان کې ثبات رامنځ ته کړي. خو ترڅنګ یې همدغه بهرنۍ سیاست د شخړې د اوږدولو سبب هم دئ. ځکه خو ویلای شو چې دا شخړه باید درک کړو د هغې په اساس بهرنۍ سیاست پرمخ ولاړشي.

د رژیم په ړنګیدو سره کورنۍ جګړې، تروریزم بې موخې بنسټپالي له منځه نه ځي. خو پرته له شکه چې اړین فکتورونه دي. دوی یو بل سره اړیکې لري. ښه دا ده چې د شخړې زړئ ښه وڅیړل شي او د بهرني سیاست په رڼا کې ورته د حل لاره او د پای ټکئ کینودل شي.

د ګاونډیانو له لوري یرغلګر راغلل جګړه وه او دا لړۍ لا دوام لري. د تروریزم او ترهګرو په وړاندې مبارزه یو مفهوم لرلئ شي. په دی مانا چې د دواړو سره به په شخړه کې اخته یو. خو د سیاست له اړخه، په تیره بیا د بهرني سیاست له لیدلوري باید یوشان نه وي. که وګورو تر ۲۰۰۷ م پورې به ویل کیدل چې د تروریزم پر وړاندې مبارزه. له هغې وروسته بیا دغې اصطلاح تغیر وموند د شورشیانو پر وړاندې مبارزه. وروسته چې کله طالبانو سره د سولې خبرې پیل کیدې نو د خوابدو ورڼو اصطلاح کاریدله.

ډیرئ وخت د یو مملکت پر وړاندې دوه ډوله جګړه وي.

یوه دا چې کومه ډله یا ډلي عملاً د مملکت پر ضد جنګیږي. باید وپلټل او وڅیړل شي چې موخه څه ده. وپلټل شي چې څه ډول تاوان هیواد ته رسوي او پروړاندې یې څه ډول غبرګون وشي. دا جګړه لکه څنګه چې د نوم څخه یې ښکارې ساده جګړه ده. او پر وړاندې به یې جګړه کیږي، بهتره ده ووایم چې پر وړاندې یې شرایطو ته په کتو سره جګړه کیږي.

دوهمه سیاسي جګړه ده. د دې ډول جګړې بنسټ باید وپلټل او وڅیړل شي.

لومړنۍ جګړې ته یواځې جنګیالي په کار وي. خو سیاسي جګړې ته پوهه او سیاست ستر بنسټیز عنصر دئ. په ساده ژبه زه سیاست، په یو لغت کې، غولول تعریف کوم. په بله وینا سیاست باید چل او غولول وي.

د نړۍ سیاسونو دا ښودلي ده چې ضعیف سیاست هغه دئ چې تل پاتې دښمن ولري. دا به هغه وخت وي چې ضعیف سیاست لوبول شوئ وي. ځکه خو دغه تیوري هم سمه بریښي چې په سیاست کې تل پاتې دوست او دښمن نشته. البته چې دا موږ سره امریکا ډیر ژر په اثبات هم ورسوله.

هندوستان د ښکیلاکګر انګلیس له لوري په ۱۴ د اګست ۱۹۴۷ په دوه برخو وویشل شو (هند او پاکستان). انګلیسانو د دغه ویش راهیسې تر اوسه په هندوستان او پاکستان کې داسې د نفاق او کرکې تخم یو پر بل کې وکاره چې بیا هیڅکله هم هند او پاکستان سره یوځای نه شي.

پاکستان چې کله د انګلیس څخه وزیږد بیا تر ننه پورې د افغانستان پر وړاندې غولونکۍ سیاست پرمخ بیولۍ، او تر ننه بریالۍ دۍ. نه یواځې پخپل دغه سیاست کې د افغانستان پر وړاندې بریالۍ دۍ، بلکې نور نړیوال یې هم غولولي او لا هم بریالۍ کیږي.

کچیرې د افغانستان تیر څلویښت کلن بهرني سیاست ته وګورو نو په دې به ډاډمن شو چې دغه سیاست د شخړې او تیري ؤ، ځکه خو کورنۍ او بهرنۍ سیاست د یو بل څخه متاثره ؤ او دي.

پر افغانستان د پخواني شوروي یرغل څخه وروسته امریکا، سعودی عربستان، ځینوعربي هیوادونو او ځینو نورو نړیوالو هیوادونوافغانانو ته د پاکستان له لیارې پیسي، سلاح او مهمات ورکړل چې د افغانستان رژیم (د دوی په قول ګُفري رژیم) پر وړاندې وجنګیږي. پاکستان لکه وږې ګیدړه، مخې ته یې غوړه مړۍ کیښودل شوه. پاکستان ښکاره دۍ چې په ورین تندي دا ومنله. پاکستان په دې وخت کې څو ګټې پورته کړې.

لومړۍ داچې افغانان یې چاڼ کړل. ویې پیژندل چې کوم افغان د پاکستان ګټې په پام کې نیسي او خپلې ملي ګټې تر پښولاندې کولای شي. هر چا چې خپل افغانان ډیر وژلۍ شو، ملي شتمنۍ یې ورانولۍ شوې، وطن یې په کنډواله بدلوۍ شو، هغه د پاکستان آی اس آی، اردو او صدراعظم ته نژدې خلک ؤ. ډیرې پیسې سلاح او مهمات دوی ته ورکول کیدل. په دې ډول یې پر دوی د مجاهد !!! نوم کیښود.

موږ تاسو ولیدل چې تنظیمونه یې جوړ کړل. په دې اړه دلته ډیره تبصره ځکه نه کوم چې اړوند ځای کې پرې مفصل لیکل شوي.

62

دوهم پاکستان ته که هرڅومره مرسته (مالي اونظامي) رارسیدله، نیمایي حتا تر نیمایي زیاته برخه پاکستان ځان ته ترې بیلوله، پاتې یې په تنظیمونو ویشلې. حتا وروسته دا ثابته شوه چې د آی اس آی مشر یا ځینو لوړپوړو چارواکو په سویس کې شخصي بانکونو ته پیسې لیږدول شوي وې.

دریم د انګلیس سیاست کوم چې هغوی په هندوستانیانو او پاکستانیانو تدبیقاؤ، هغه سیاست پاکستان پر دغو مجاهدینو او ورسته بیا دننه په افغانستان کې پلۍ کړ. په دې مانا چې پر افغانانو کې یې د بې اتفاقۍ ویروس لکه اوسنۍ کرونا خپور کړ.

---

62

د آی اس آی مشر جنرال اختر عبدالرحمان په سویس کې خپل شخصي بانک حساب ته پیسې انتقال کړي
http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=169777

ځلورم ځانته یې کافي جاسوسان وروزل. که دوی زړیږي او مري، نو ځامن یې د پلار لاره پرمخ بیایي.

پنځم پاکستان داسې افغاني جاسوسان وروزل چې اوس خپله د خیر په غونډۍ ناست دئ، هرڅه ورته پرته له ستونزي د جاسوسانو له لوري سرته رسیږي.

وروستۍ او تر ټول مهمه دا چې پاکستان د افغانانو له برکته د اتمي سلاح څیښتن شو (البته دا بیا ډیر کلونه وروسته ؤ). پاکستان وکولۍ شول چې د امریکا، انګلیس او ځینې نورو اروپایي هیوادونو د موخو پوره کولو په خاطر په دغو هیوادونو داومنله چې پاکستان باید اتومي سلاح ته لاسرسۍ وموميِ. همداسې هم وشول، په کوم چې اوس ځینې اروپایي هیوادونه پښیمانه دي.

پاکستان خپل ځمکنی بشپړتیا، جغرافیه، ثبات او سوکالي د افغانستان په بې ثباتۍ او ضعف کې ګوري. دا هرڅه د دې دپاره دي چې موږ تش په نامه دا کرغیړنه د ډیورند کرښه په رسمیت وپیژنو.

**پاکستان خپله او د هغه لاسپوڅي جاسوسان دې پر دې پوه شي چې دا خوب دئ، خیال دئ او مهال. د جنرال ضیا په شان به دا ارمان درسره ګور ته یوسی!!!.**

کله چې پاکستان تاسیس شو، افغانستان د ملګروملتونو په سازمان کې پاکستان په رسمیت ونه پیژانده. د افغانستان د وخت دولت د خپلې خاورې غوښتنه وکړه او دغه کرغیړنه د دیورند کرښه یې هم په رسمیت ونه پیژندله.

لکه څنګه مې چې پورته یادونه وکړه چې ضعیف سیاست هغه دئ چې تل پاتې دښمن ولرې. نو موږ د ۷۰ کلونو را په دې خوا د پاکستان سره دښمني لرو. څنګه مو کولای شول چې دغه سیاست بدل کړئ وئ.

محمد اشرف غني بهرني سیاست ته بدلون ورکر؟

د نړۍ په هیوادونو کې ولسمشر یا صدراعظم بدلیږی، خو بهرنۍ سیاست پخپل ځای پاتې وي. د لغمان ولایت پخوانۍ والي محمد آصف ننګ په وینا د بهرني سیاست بدلول ډیر ګران کار دئ، په دې اړه څو فکتورنوته اړتیا وي. له دې فکتورونو څخه مشرتابه (رهبر)، جوړښت او سیاسې پوهه ډیر اړین دي.

د بیلګې په توګه، پخواني شوروی اتحاد ولسمشر ګورباچوف د یو سیاسي مشر(رهبر) په صفت د سوسیالستي نظام په بدلون کې د سیاسي پلوه ستراو ټاکونکۍ شخص ؤ. د ګرباجوف د پوره سیاسي پوهې سره په حکومتولۍ کې د شوروي اتحاد بهرني سیاست هم بدلون وموند.

د ایران اسلامي انقلاب په راتلو سره ۱۹۷۹ ز کې د نظام جوړښت په تمامه مانا بدل شو، او ورسره بهرني سیاست یې ۱۸۰ درجې بدلون وموند.

د افغانستان په تیرو شلو کلونو کې داسې نه وه. که څه هم دغو دریواړه فکتورنو بدلون وموند خو ګټه یې ونه کړه. دلیل یې دا ؤ لکه څنګه چې څرګنده ده نه یواځې موږ د بهرني سیاست، بلکې د کورني سیاست خپلواکې هم نه درلوده، او لا تراوسه دا لړۍ روانه ده.

لکه څنګه چې د مخه ویل شوي ؤ په افغانستان کې د سولې په هیله حامد کرزي شل ځلې پاکستان ته سفر وکړ، خو ګټه یې ونه کړه.

په یواځې توګه بهرنۍ سیاست په افغانستان کې د امن اوثبات فکتور نه دئ، خو د دې ترڅنګ یو د منازعې د محصول فکتور کیدای شي.

محمد اشرف غني د پاکستان او امریکا پر وړاندې د حامد کرزي سیاست تعقیب نه کړ. البته چې ورته څرګنده شوي وه ګټه یې نه کوله، نو ضرورت یې نشته چې بیا په دې لاره لاړ شو.

په وروستیو کلونو کې د ولسمشر حامد کرزي اړیکې د امریکا سره خړې شوې، خو د ولسمشر محمد اشرف غني واک ته رسیدو سره د امریکا او متحدینو سره یې اړیکې بیرته ورغولې او بهرني سیاست کې تر پخوا بدلون راغئ، خو دې هم ډیر پایښت نه درلود.

محمد اشرف غني غوښتل چې د امریکا او متحدینو مرستې له لاسه ورنه کړي نو مجبور ؤ چې ژر د امریکایانو او ناټو غړو سره ستراتیژیکي تړونونه لاسلیک کړي.

د امریکایانو او متحدینو ملاتړ یې تر لاسه کړ، همدا سبب شو چې په مختلفو بهرنیو هیوادونو کې د کنفرانسونو په ترڅ کې افغانستان ته مرستې راټولې کړې.

هغه څه چې مهم ؤ د پاکستان پر وړاندې د محمد اشرف غني د بهرني سیاست ؤ.

محمد اشرف غني پاکستان ته د حامد کرزي دسیاست خلاف په بربنډو الفاظو وویل چې افغانستان د پاکستان له لوري د یوې نا اعلام شوي جګړې سره مخ دئ. دا جګړه د پاکستان له لوري پر افغانستان تپل شوې ده.

محمد اشرف غني په وار وار وویل چې د هرڅه دمخه سوله باید د افغانستان او پاکستان ترمنځ ټینګه شي. دا د حامد کرزي د سیاست په نسبت ښکاره د پاکستان پروړاندې یو ستر د سیاست بدلون ؤ. دا په ښکاره پاکستان ته خپل دریځ ښودل ؤ. دا په ښکاره د ستونزې وړاندې کول ؤ چې څنګه باید د حل لار ورته وموندل شي.

که څه هم په افغانستان کې هروخت دا خبرې کیدې چې پاکستان دې د افغانستان پروړاندې خپل سیاست بدل کړي. زه وایم دا خو په بهرني سیاست کې زموږ بیرته پاتې توب په ډاکه کوي، ولې موږ خپل سیاست د پاکستان پر وړاندې بدل نه کړو؟

کله چې د آسیا زړه پنځم کنفرانس په دسمبر د ۲۰۱۵ په اسلام آباد کې دایر شو. په دې کنفرانس کې نژدې د ۳۱ هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو او ۱۱ بین المللي سازمانو ګډون کړئ ؤ. د یادولو وړ ده چې په دې کنفرانس کې د هند د بهرنیو چارو وزیر، د افغانستان او پاکستان دپاره د امریکا ځانګړي استازي هم ګډون درلود.

د افغانستان له لوري خپله محمد اشرف غني هم ګډون درلود. زموږ ولسمشر ته یوه ښه موقع پلاس ورغله چې د افغانستان د سولې په هکله پاکستان ته خپل دریځ ښکاره کړي.

بلاخره بیا همدا سبب شو چې د سولې په هکله د خبرو اترو څلور اړخیزه (افغانستان، پاکستان، امریکا او چین) پروسه پیل شي. خو دغو ډول کړنو ډیر لنډ عمر درلود.

اشرف غني ډیر ژر درک کړه چې امریکا ورسره په چل کې ده، ځکه خو یې په ځینو مواردو کې دامریکا خبره نه منله.

په همدې ډول بلمثل امریکا د اشرف غني خبرې نه منلې. ډیر ژر په اشرف غني هم دغسې حالت راغئ لکه چې پر حامد کرزي راغلئ ؤ. امریکا او افغانستان یو دبل خبرې نه منلې. تر څو مطلق د بې اعتمادئ فضا رامنځ ته شوه.

ځیني سیاسي افغاني او پاکستاني شنونکي په دې باور دي چې محمد اشرف غني ډیر هندوستان ته ورنژدې شو. په کوم چې پاکستان ډیر خوابدئ کیږي.

هند او پاکستان د هند د تجزیې څخه راپه دې خوا د انګلیسي ښکیلاکګر له لوري یو د بل دښمنان پاتې شوي او څو ځله یې په خپلو کې جګړې کړي. ځکه خو پاکستان د ترهګرو او طالبانو د ملاتړ څخه لاس په سر نه شو او دې لړۍ لا دوام وموند.

زه په دې عقیده یم چې حامد کرزئ خو هندوستان ته هم ډیر نه ؤ ورنژدې شوئ، برسیره پردې شل ځلې يې پاکستان ته سفر وکړ، نو بیا ولې د پاکستان په تګ لاره کې بدلون رانغئ؟

بناءً زما په آند دا تش په نامه خبرې وې، پاکستان درواغجن دئ، پلمې لټوي. پاکستان ته خپل ملي ارزښتونه او ځمکنۍ بشپړتیاه تر هرڅه ډیره اړینه او ارزښتمنه ده.

پاکستانیان زموږ د افغاني سیاسونو (ډیرئ پردېپال او جاسوسان) په شان نه دي چې ملي ارزښتونه او ځمکنۍ بشپړتیا ورته د خپلو شخصي ګټو څخه مهمې وي.

پاکستان به هیڅکله هم د ترهګرو د ملاتړ څخه لاس وانخلي. کله يې چې یوه ترهه ګره پروژه پای ته ورسوله، بله به خامخا پیل کیږي. پاکستان ترڅو چې توان لري په افغانستان کې بې ثباتي جوړوي. پاکستان د سیمې او نړۍ څخه د ترهګرو د منځه وړلو په نامه په سلګونه میلیونه ډالر تر لاسه کوي. نو ولې به پاکستان دغه سلګونه میلیونه ډالر له لاسه ورکړي؟

دا لړۍ به ترهغو روانه وي چې ترڅو نړیوال هیوادونه په ځانګړې توګه امریکا او انګلیس په پاکستان کې د ترهګرو پروژې جوړې نه کړي. په بله وینا ترهګر امریکا او انګلیس زیږوي، روزنه او پالنه بیا په پاکستان کوي.

ښکاره ده کله چې امریکا او انګلیس دغه پروژه ودروي، د پاکستان څخه په ټینګه وغواړي، چې نور موږ په دې هکله مرستې نه کؤ، نور ترهګر مه روزه.

دا به هغه وخت وي چې دامریکا موخې لاس ته راغلي وي. دا چې د امریکا موخې کله پوره کیږي؟ دا به راتلونکئ وخت ثابت کړي. موږ باید تم شو.

د دې ترڅنګ اړینه بولم لکه څنګه چې پورته یادونه وشوه چې سیاست تل پاتې دوست او دښمن نه لري. نو که امریکا خپلو موخو ته ونه رسیږي، کیدای شي چې د پاکستان بل دوست چین او یا روسیه ورته شان غوښتنې د پاکستان څخه ولري. ځکه دوی پوهیږي چې د ترهګرو په روزنه کې پاکستان په نړۍ کې لومړئ درجه هیواد دئ. خو بیا هم باید راتلونکي ته تم شو.

د افغانستان د اساسي قانون پربنسټ، ولسمشر بهرنئ سیاست تعین کوي. دا په دې مانا وه چې خپله د بهرنیوچارو وزیر په دې هکله ډیر خپلواکه نه ؤ. په مسلح قواؤ برسیره ځینې نور وزارتونه هم خپلواکه نه ؤ. ترڅوبلاخره پوله دې ته راورسیدله چې د افغانستان د کورني او بهرني سیاست چلوونکي محمد اشرف غني او دهغې کوچنۍ کړۍ وه.

که څه هم امریکا خپله او هم د زلمي خلیل زاد په وجود کې د افغانستان سره دوه مخئ سیاست پرمخ بیوه، خو ولسمشر محمد اشرف غني ونه توانیده چې د دا ډول سیاست پرورړاندې سیاست وکړي. او یا یې د دې ډول سیاست کولو امکانات نه درلودل؟

د افغانستان او امریکا ترمنځ د بې اعتمادیو له کبله پاکستان بیا ګټه پورته کړه. کیدای شي دغه کړنې په پوهاوي توګه د پاکستان له لورې د انګلستان په وجود کې تر سره شوي وي چې د افغانستان او امریکا مناسبات خړپړشي او پاکستان به د تل په څیر ترې ګټه پورته کړي.

لکه څنګه چې دتل په شان پاکستان د هر مملکت سره دوه مخئ سیاست کړئ، حتا امریکا هم په ظاهر توګه ونه توانیده چې د ترهګرو په تړاو پر پاکستان زیاد فشار راوړي. په اصل کې خو خپله امریکا نه غوښتل چې پر پاکستان فشار راوړي. خو کله چې د خپل ملت له لوري مجبور شوئ، بیا یې په ریښتینې ډول فشار راوړئ دئ.

بد ترین حالت د پاکستان دپاره د یولسم د سپتمبر تروریستي پیښه وه. امریکا پاکستان ته اخطار ورکړ چې له موږ سره یوځآی شه! پاکستان سملاسي ومنله. ملا عبدالسلام ضعیف او څو تنه نور یې لوڅ سر امریکا ته په لاس ورکړ. په داسې حال کې چې اسامه بن لادن د پاکستان په ابت آباد کې د امریکایانو له لوري لس کاله وروسته ووژل شو. امریکا لس کاله مخکې هم پوهیده چې اسامه چیرته دئ.

یولسم د سپتمبر په پیښه کې چې د امریکا له لوري وویل شول د القاعدې مشر اسامه بن لادن له خوا دغه تروریستي پیښه شوې ده او نژدې درې زره خلک په کې ووژل شول، خو بیا هم نه امریکا او نه هم کوم د ناتو هیواد په پاکستان فشار راوړ او نه هم کوم خاص ډول بندیزونه پرې ولږیدل.  د وخت په تیریدو سره بیا په پاکستان کې ترهګرو ځالې پیدا کړې، حتا داعش هم را څرګند شو.

دا سمه خبره ده چې موږ تل وایو چې د افغانستان پر وړاندې د پاکستان سیاست خصمانه او مغرضانه دئ. پاکستان خو ښه کوي چې د خپلو موخو په خاطر سیاست د خپلو ګټو په لور څرخوي. خو موږ تل د خپلو تش په نامه سیاسونو ( په اصل کې د پردیو جاسوسان) له شتون څخه ونه توانیدو چې د پاکستان پر وړاندې د خپلو ګټو په لور سیاست وڅرخو.

په هر حال څو دلایلو شتون درلود چې محمد اشرف غني د پاکستان او د ترهګرۍ پر وړاندې بیرته پاتې شو:

لومړئ: ورځ تر بلې د امنیتي وضع خرابیدل. د ترهګرو حملې او د داعش راڅرګندیدل.

دوهم: کابینه، پارلمان او اپوزیسیون (تش په نامه سیاسون) د ځمکنی بشپړتیا، ملي ارزښتونو او د هیواد خیر ښیګڼې په هکله له حکومت سره په یوه خوله او هم غږي نه ؤ. ځکه ورته د حکومت مخالف ویل شم، نه سیاسون. سیاسون هغه څوک دي چې په لومړي قدم کې ملي ارزښتونه ورته د هرڅه ارزښتمن دي. په هیواد کې د خپلو سیاسي موخو د پاره د ملي ارزښتونو او ځمکنی بشپړتیا په نظر کې نیولو سره د حکومت په کړنو نیوکه لري. د ملي ارزښتونو او ځمکنۍ بشپړتیا په هکله ټول یو غږ، یو موټې او واحد نظر لري، دې ته سیاسون ویلئ شو، کوم په ډیره خواشینی په افغانستان کې شتون نه درلود. دلیل هم دا ؤ چې په فساد او مافیایی کړی کې ښکیل ؤ. له څوکیو یې ګوښه کولی نه شول، خو واک یې ترې اخیستئ ؤ. ځکه خو ویل کیدل چې اشرف غني ټول واک پخپل لاس کې نیولئ. په بله وینا بې اعتمادی رامنځ ته شوه.

دې موضوع د پاکستان په ګډون نورو بهرنیانو ته هم داجرئت ورکاؤ چې د دوی خبرو او غوښتنې په پام کې ونه نیسي. برسیره پردې د نظام مخالفین (طالبان) هم په دې پوه شول، ځکه خو د حکومت سره خبرو ته نه کښیناستل.

دریم: د ملت او حکومت ترمنځ د بې اعتمادئ فضا رامنځ ته کیدل. پټه دې پاتې نه وي چې د ولسمشر حامد کرزي په حکومتولی کې لا د ملت او حکومت ترمنځ د بې اعتمادئ فضا رامنځ ته شوې وه، دا میراث یې محمد اشرف غني ته پریښود.

څلورم: د عبدالله عبدالله له لوري لجاجت او په بې بنسټه دلایلو سره د ټولټاکنو د پایلې نه منل چې بلاخره یې د ټولنیزو رسنیو له لوري د ګل مرجان نوم وروبښل شو (ګلمرجان یې نه مني!). د ټولټاکنو په لړی کې په اصطلاح د کورني سیاسونو بې ځایه پاڅونونه. دا خپله یوه بې اعتمادي وه چې د عبدالله عبدالله له لوري خپلو پلویانو او سیاسونو ته د خپلو سیاسي موخو په خاطر په کاذب ډول ورکړل شوې وه.

پنځم: حکومت بشپړ نیمایي شو. ۵۰ سلنه حکومت ؤ. چې بیا ۵۰ سلنه په خپل وار ټوټه شوئ ؤ. بناأ حکومت عملاً څو ټوټې شوئ ؤ. ډیر یو ضعیف حکومت ترې جوړ شوئ ؤ.

امریکا په لوی لاس همدغه حالت رامنځ ته کړ. که چیرې امریکا غوښتئ نو په یوه ورځ په یو هیواد کې په سل متری واټن کې دوه ځایه د ولسمشری د لوړې مراسم نه تر سره کیدل. دا په نړی کې تر اوسه بې سارئ دئ.

بناأ امریکا په پوهاوی توګه د ولس او حکومت ترمنځ د بې باوری او بې اعتمادی فضا رامنځ کړه. ځکه خو محمد اشرف غني هم د حامد کرزي په شان په امریکا نا باوره شو. امریکایانو یې خبرو او غوښتنو ته پاملرنه نه کوله.

د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد به محمد اشرف غني ته یو ډول خبره کوله، عبدالله عبدالله ته بل ډول او پاتې سیاسونو ته بل ډول. په خواشینۍ چې دا خوسا شوي سیاسون به بیا ډیر ناوخته په ځان پوه شوي وي.

لکه څنګه چې ولسمشر حامد کرزئ په امریکایانو بې باوره شو او د بې اعتمادۍ فضا رامنځ شوه، داسې ولسمشر محمد اشرف غني هم په امریکایانو بې باوره شو. د بې اعتمادۍ فضا رامنځ ته شوه.

عاملین یې هم په فساد او مافیایي کړۍ کې ښکیل کسان ؤ چې عرج مرج ته یې لمن وهله او خپله بقا یې په همدا ډول حالت کې لیدله. (اوبه یې خړولې، ماهیان یې نیول) دوی ته یواځې خپل شخصي ګټې مهمې وې. ملي ارزښتونه ورته مهم نه ؤ، څکه خو د اشرف غني سیالان ؤ. دوی ډیرئ خرڅ شوي د پردیو جاسوسان ؤ.

موږ تاسو ولیدل چې ځینې یې یوه ورځ مخکې له دې چې نظام سقوط وکړي، د پاکستان لمنه نیولې وه. همدغو ښاغلو به چیغې هم وهلې چې پاکستان زموږ دښمن دئ، خو د نظام د سقوط سره سم د پاکستان په لمن کې ور ولویدل.

په دې ډول د پورتنیو دلایلو په بنسټ د محمد اشرف غني لاسونه تړلي پاتې شول، څکه خو د امریکا او پاکستان پر وړاندې یې بریالۍ سیاست و نه شو لوبولئ.

پرته له شکه چې افغانستان هروخت باید خپلو ګاونډیانو د سیمې هیوادونو او د نړۍ هیوادونو سره نیکې اړیکې ولري، خو هغه وخت چې ملي ارزښتونو او ځمکنۍ بشپړتیا ته ګواښ وي، د حل لار باید وپلټل شي او پرې عمل وشي.

په لنډه کې ویلئ شم چې پاکستان خپلې موخې ته ورسید. پاکستان د خپل ځان په هکله ښه او بریالۍ سیاست ولوبه ؤ.

امریکا او پاکستان د افغانستان شته نظام او شل کلنې لاس ته راوړنې په سین لاهو کړې. ترڅو چې په ۱۵-۸-۲۰۲۱ محمد اشرف غني نظام سقوط وکړ، او خپله هم د هیواد څخه ووت.

## د پاکستان او امریکا پر وړاندې څه کول پکار ؤ

**پاکستان:**

لکه څنګه چې ټولو ته پته ده پاکستان د افغانستان سره یوه ستره او عمده ستونزه لري، هغه د ډیورند کرښې رسمي پیژندل دي.

لکه څنګه مې چې ړومبۍ ورته اشاره وکړه، افغانستان یو وخت په سیاسي لحاظ په داسې موقف کې ؤ چې پاکستان یې په رسمیت نه پیژانده، او بیایې د خپلې خاورې ادعا پرې وکړه او د دیورند کرښه یې د یوې رسمي سیاسې پولې په توګه ونه پیژندله.

افغانستان تراوسه هیڅګله داسې یو قوي موقف ته نه دئ رسیدلئ چې دا ستونزه د پاکستان سره په هرامکان چې وي حل کړي. بناءً نورې لارې باید پلټل شوې وئ. که د نورو لارو څخه امکانات مساعد نه ؤ، نو دا موضوع لکه څنګه چې ترهغې دمه ټپه پرته وه اوس دې هم پرته وئ.

دا هم یو منل شوئ حقیقت دئ چې افغاني طالبان چې هرڅول دي، د دې خاورې بچیان دي. دوی ته د پاکستان له لوري مرسته رسیده. زموږ سیاسونو ونه شو کولای چې افغاني طالبان د پاکستان د ولکې خلاص او په دولت کې یې له ځان سره شریک کړي.

البته چې دا ستره تیروتنه د بن لومړي ناقص کانفرانس څخه راپیل شوې وه. هغه وخت کې هم امریکایانو او شمالي ټلوالي نه غوښتل چې طالبان په کنفرانس کې ګډون وکړي. همدارنګه په وروستیو کلونو کې هم امریکا ونه غوښتل چې حکومت مخامخ طالب سره کښیني او یو جوړ جاړي ته سره ورسیږي. ځکه خو طالبانو هم ښکاره ده چې په زور واک ته رسیدل انتخاب کړل.

پاکستان هڅه کوله چې د افغانستان مرکزي حکومت له منځه یوسي، خو له دې سره یې جوخت په تاکتیکي توګه د سولې له پروسې څخه ملاتړ (تش په نامه) کاؤ. که څه هم امریکا کله په ښکاره او کله هم په پټه پاکستان د ترهګرو ځاله بللې خو په کلکه یې اقدام نه کاؤ، ځکه اصلاً یې نه غوښتل.

پاکستان هغه څه چې په تیرو څه د پاسه اویا کلونو کې نشو کولاې، وکړئ شول چې زموږ په پوله اغزن سیم ولګوي. تر اوسه هیڅ داسې اسناد نه دي ځرګند شوي چې محمد اشرف غني په پټه د اغزن سیم د لګولو هوکړه لیک ورسره لاسلیک کړئ وي. هغه څه چې په اویا کلونو کې نه ؤ شوي، د امریکایانو سره د امنیتي تړون څخه ورسته وشول.

پرته له شکه ویلئ شو چې د امریکا او متحدینو د فشار له کبله د پاکستان دغه غوښتنه پوره شوه. بلمثل کومې چې زموږ غوښتني وې د امریکا له لوري قطعاً په پام کې ونه نیول شوې.

د ۲۰۰۱ کال د سیپتمبر ترهګریزې پیښې څخه وروسته د لویدیځې هیوادونو اټکل لس مشران پاکستان ته راغلل ترڅو د القاعدې پر وړاندې د پاکستان ملاتړ خپل کړي. دا پخپله هم د دې ګواهي ورکوي چې القاعده او ترهګر پاکستان کې ؤ چې دغه مشران پاکستان ته راتلل. پاکستان په دې ډول وکولای شول چې هم لویدیځې نړۍ څخه میلیاردونه ډالر مرسته ترلاسه کړي. برسیره پردې ځان د انزواتوب او بندیزونو څخه خلاص کړي. د دې ټولو ترڅنګ مهمه داچې هیڅ کومه رغنده کړنه یې د ترهګرو او القاعدې پر وړاندې سرته ونه رسوله. ترهګرد پخوا په پرتله ډیر زیاد شول او لس کاله وروسته امریکا پخپل ځواک سره اسامه بن لادن د پاکستان په اسلام آباد کې له منځه یو وړ. موږ تاسو ولیدل چې هیڅ یو د دغو لویدیځو هیوادونو پاکستان ته ونه ویل چې لس کاله اسامه دلته ؤ او تا موږ غولولو؟ دا خپله د دې ګواهي ورکوي چې هرڅه د امریکا او انګلیس په خوښه روان ؤ، دا هرڅه د دوی ټولو په همغږۍ سرته رسیدل.

موږ تاسو ګورو همدا اوس د طالبانو د اسلامي امارت په حکومتولۍ کې ترهګرشتون لري، القاعده فعالیت لري او مهمه دا چې پاکستان تراوسه پر موږ توغندي اوروي. که وګورو د مجاهدینو د حکومتولۍ څخه بیا تر ننه پورې د پاکستان پر وړاندې زموږ د ویرې یو مبهم سیاست چلریږي.

په هرحال محمد اشرف غني د ولسمشرۍ په پیل کې هڅه وکړه چې د سولې موضوع د پاکستان سره مطرح کړي او د دوی د طریقه یې حل کړي، کوم چې بهرنیانو په پوهاوۍ ډول وغوښتل دا موضوع اوږده کړي او همداسې هم شول.

ښه او یواځنۍ لار دا وه چې د پاکستان سره د خبرو له لارې جوړ جاړي ته رسیدلي وئ. ټول سیاسون په یوه خوله او هم غږۍ سره یو ډول سیاست پرمخ بیولئ، کوم چې په

خواشینی دا نه کیدل. حکومت به یوه خبره کوله، سیاسون به بیا پاکستان ته وتښتیدل بل څه به یې ورته ویلې. زما په آند پاکستان د افغانستان څخه دوه مشخصې غوښتنې درلودې او تل به یې ولرې.

لومړۍ ډیورند د کرغیرنې کرښې په رسمیت پیژندل. دوهم د هندوستان سره اړیکې شلول. لکه څنګه چې په سیاست کې راکړه ورکړه اړینه ده، نو موږ باید د پاکستان د دغو دؤ غوښتنو په هکله څنګه سیاست لوبولئ وئ؟

د لومړۍ غوښتنې په هکله لکه څنګه چې دمخه هم وویل شول، چې موږ په تیر څه د پاسه ۳۰ کلونو کې داسې سیاسي او نظامي موقف کې نه ؤ چې د ډیورند کرښه مو ورسره مطرح کړې وئ. موږ هغه وخت دغه موضوع د پاکستان سره مطرح کولئ شو چې پاکستان په سیاسي او نظامي لحاظ په اوسني حالت کې پاتې وي او هیڅ پرمختګ هم ونه کړي. موږ (افغانستان) برعکس په سیاسي، نظامي او اقتصادي لحاظ د پاکستان څخه دوه برابره ځواکمن شو. برسیره پر دې نړیوال ځواکمن هیوادونه هم زموږ ترڅنګ ملاتړي او موږ ته اړتیا ولري. په دې حالت کې موږ کولئ شو چې د پاکستان سره د یورند کرښه مطرح کړو او خپله څه د پاسه سل کلنه د لاسه تللې خاوره لاس ته راوړو. دا هغه څه دي چې زه ګمان نه کوم چې موږ دې موقف ته ورسیږو. یا اقلاً راتلونکي ۲۵ کلونو کې دې موقف ته نشو رسیدلئ.

د پاکستان بله ستونزه د هندوستان سره ده. دا ستونزه د افغانستان په وجود کې پوره کول غواړي. پاکستان غواړي چې موږ دې د هندوستان سره ډیپلوماتیکې اړیکې وشلؤ. په دې مانا چې پاکستان نه غواړي موږ دې هیڅ ډول اړیکې د هند سره ولرو. که یې ولرو نو هغه باید په ټیټت ترینه ډیپلوماتیکه کچه وي. اضافه تر دې اړیکې ونلرو. دا ځکه چې ویریږي ګواکې هند به د ځینو افغانانو په وجود کې د هند او پاکستان په پوله د هند په ګټه وجنګیږي. یا دا چې د افغانانو په مټه هند ته جاسوسي وکړي. یا داچې خپل لاسپوڅې افغانان د افغانستان په حکومت کې په دننډو وګمارل شي، چې بیا دوی د هند په ګټه خپلې موخې پرمخ بوځي.

لکه څنګه مې چې پورته اشاره وکړه که موږ د پاکستان په پرتله دوه برابره ځواکمن اوسو، نوبیا دهندوستان مسئله به خپله حل وي. دوهمه لار یې کومه چې اوس او هربل وخت د امکان څخه لرې نه وه او نه ده، هغه اوچته او غښتلې دیپلوماسي ده. موږ لومړئ باید د نړۍ ځواکمن هیوادونه په سر کې امریکا او انګلیس په دې معتقد کړو چې موږ

هیڅکله هم ترهګر ندي روزلي او نه به يې وروزو. موږ د ګاونډيانو سره د يو نيک ګاونډي په شان متقابلې اړيکې غواړو. کله مو چې دوی معتقد کړل، بيا د دوی په منځګړتوب پاکستان ته د خبرو او ديالوګ له لیارې دا واضع کړو چې موږ هيڅکله هم نه ترهګر او نه هم جاسوسان د هند او پاکستان ترمنځ پولې ته استولي. موږ اصلاً ترهګر نه لرو او نه يې روزو. ستاسو او دهند ترمنځ مناسبات په تاسو اړه لري. له دې سره جوخت بيا موږ بايد د پاکستان څخه وغواړو چې ته هم زموږ خاورې ترهګر او جاسوسان مه رالیږه.

امريکا:

دا چې حامد کرزي د امريکايانو سره امنيتي تړون لاس ليک نه کړ، نومحمد اشرف غني بايد سياست کړئ وئ. نوموړي په کافي اندازه وخت درلود چې سياسون يې په ځان راټول کړي وئ. ټول يوه خوله او هم غږي شوي وئ. امريکايان سخت اړ ؤ چې امنيتي تړون ورسره لاس ليک شي. نو امريکايانو ته يې ويلي وئ چې د لاسليک څخه دمخه زموږ درې غوښتنې دي:

يو د پاکستان له لوري په کلکه سره د ترهګرو مخنيوئ او په پاکستان کې د هغوی ځآلې له منځه وړل. دوهم د پاکستان له لورې د افغانستان په خاوره د توغنديو ويشتلو پرته له ځنډه درول. دريم طالبان دې ته اړ کړئ شي چې د افغان دولت سره يوځای شي او په حکومت کې برخه واخلي.

ځکه خو ويلئ شو چې د امريکايانو سره د تړون په لاس ليک کې بيړه وشوه. د امريکايانو سره امنيتي تړون لاسليک شو. هغه تړون چې بايد افغانستان د بهر څخه خوندي ساتل شوئ وئ، نه يواځې خوندي يې ونه ساتلو، د پاکستان له لوري توغندې ويشتل کيدل، بلکې د انګليسانو او امريکا په مشوره پاکستان وتوانيده چې تش په نامه د افغانستان او پاکستان په پوله اغزن سيم هم ولګوي.

نو ويلای شو چې تيرو تجربو ته په کتو سره او همدارز لکه څنګه چې دمخه هم ورته اشاره وشوه، زموږ ټولو سياسونو په يوه خوله او هم غږی سره په سر کې د بهرنيو چارو وزارت داسې سياست ونه لوباؤ چې زموږ ځمکنی بشپړتيا، ملي شتمني او ملي ارزښتونه په ټينګه ساتل شوي وئ. که څه هم د بهرني سياست واک د ولسمشر ؤ، خو که يو غښتلئ کار پوه ديپلومات په دې دننده ګمارل شوئ وئ، خامخا به ولسمشر هغه ته

پوره واک ورکړې وې. د دغو څو ټکو په پام کې نیولو سره، کوم چې په خواشینۍ شتون نه درلود، موږ کولای شول چې نه یواځې د پاکستان، بلکې نړیوالو دوستانو پر وړاندې هم یو بریالۍ سیاست لوبولۍ وې. اوس به دومره سترو ستونزو سره مخ نه وې. هم به د امریکایانو موخې (دا که هرې موخې دپاره راغلي ؤ) او هم به زموږ لوړې موخې د هغه وخت دیارلس کلنې لاسته راوړنې او اوسنۍ شل کلنې پر ځای وې.

ولې ټول سیاسیون هیڅګه هم غږي او یوه خوله نه ؤ؟

عُمده دلیل دا ؤ چې ټول سیاسون پرته د څو ګوتو په شمیر فاسد او د مخدره توکوپه مافیابي کړۍ کې ګډ انسانان ؤ. ځکه خو افغانستان د نړۍ په کچه د فاسدو هیوادونو په سر کې پروت ؤ، همداراز د نړۍ ۸۰ سلنه مخدره توکي دلته تولید کیدل.

دغه ملي خائینین برسیره پر دې ډیرې له دوی څخه په ښکاره او پټه د ګاونډیانو، د سیمې او د نړۍ هیوادونو لاسپوڅي او جاسوسان ؤ. ځینې چې په هغه وخت کې ښکاره نه ؤ، اوس څرګنده شوه چې جاسوسان ؤ. دوی ټولو ملي ګټې او ملي ارزښتونه د خپلو شخصي ګټو په خاطرد پښو لاندې کول. ځکه خو ورته خائینین وایم. ځکه خو د خپلو ګټو په خاطر دغه ښاغلي سیاسون نه یوه خوله او نه هم غږي کیدل.

نو دغو ناکامیو ته په کتو سره ویلۍ شو چې نه حامد کرزۍ او نه هم محمد اشرف غني بریالۍ بهرنۍ او کورنۍ سیاست ولوباؤ.

پرته له شکه چې محمد اشرف غني یو سپیڅلۍ، په هیواد لیونۍ مین، د پوهنتون تکړه استاد او اقتصاد پوه ؤ. د فساد، او رشوت خوړلو څخه سپیڅلۍ انسان ؤ.

## اداري فساد

63

لکه څنګه چې څرګنده وه د ولسمشر حامد کرزي څخه ولسمشر محمد اشرف غني ته په فساد کې ډوب حکومت په میراث پاتې شو. په همدې بنسټ ولسمشر محمد اشرف غني د خپلې حکومتولۍ په پیل کې ویلي ؤ چې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه او رونتیا به د هغه د حکومتولۍ لومړي توبونه وي.

همدارنګه څنګه چې څرګنده ده محمد اشرف غني هغه وخت و لسمشر شو چې د بین المللي ټولنو په راپورونو کې افغانستان د نړۍ ترټولو فاسد هیواد په نامه پیژندل کیده. د دې ترڅنګ محمد اشرف غني د بین المللي ټولنې د مالي مرستې راټولولو له پاره اړین ؤ چې د دغې پلیدې پدیدې (اداري فساد) پر وړاندې غوڅه مبارزه وکړي. کڅه هم په دې تړاو د ملي وحدت حکومتولۍ په ترڅ کې ځینې اړین ګامونه پورته شول، خو د ځینو مختلفو دلایلو پر بنسټ یې بیا هم ډیرې نیمګړتیاوې درلودې. ځکه خو دغه اخیستل شوي ګامونه ډیر بریالي نه ؤ.

زما په آند د اداري فساد پر وړاندې مبارزه هغه وخت پلي کیدئ شوئ چې د حکومتوالو شتمني رسماً ثبت شوي وئ او د بودیجې په اړه هرې درې میاشتو کې حساب ورکړل شوئ وئ.

ولسمشر محمد اشرف غني د خپلې لومړنۍ څلورکلنې حکومتولۍ په پیل کې اعلان وکړ چې لادینیو موضوعات ته به په کلکه پاملرنه کوي:

---

63

https://www.nunn.asia/132821/

د نن آسیا له سایت څخه اخیستل شوئ

د عدليې وزارت، لويه څارنوالي، محاکم او پوليسو کې جدي اصلاحات.

په شرعي او قانوني توګه د شتمنيو ثبتول.

د دولتي قراردادونو بيا کتنه.

دغير قانوني صادراتو او قاچاقو مخنيوئ.

د بندرونو ټينګ کنترول.

د دولتي پوستونو خرڅولو په وړاندې کلکه مبارزه.

محمد اشرف غني يوه نوې با صلاحيته اداره د **عدلي او قضايي مرکز** تر عنوان لاندې جوړه کړه. دغې ادارې وکولای شول چې ځيني لوړ پوړي چارواکي لکه د نظامي څارنوالی يو جنرال، د کورنيو چارو وزارت يو معين، د جنوبي ولايت د يوې قول اردو قومندان او د ملي شورا پخوانی وکيلې خاوند (ميره) څارنوالی ته معرفي کړي.

محمد اشرف غني د خپلو وعدو پر بنسټ لومړنئ کار د اداري فساد په هکله د کابل بانک قضيه وه چې پيل شوه.

کابل بانک چې په ۲۰۰۴ ز کې د شيرخان فرنود له لوري تاسيس شوئ ؤ. د دې بانک څخه نژدې يو ميليارد ډالرايستل شوي ؤ. له دې کبله په کال ۲۰۱۰ کې د جدي سقوط د ګواښ سره مخ ؤ، ځکه خو د مرکزي بانک له لوري واخيستل (راونيول) شو. د کابل بانک په تړاو د اداري فساد پر وړاندې د محمد اشرف غني په حکومتولی کې دغه لانديني اقدامات سرته ورسيدل:

**لومړئ**: ځيني پوراخيستونکي ونيول شول. هغه اشخاصو چې وزيرانو او يا نورو ډيرو لوړپوړو سياسونو کورنی غړي او يا هم ټينګه پيژندګلوي درلوده، د همدغو بناغلو په ضمانت د بند څخه مستثنا شول. د ځينو نورو تورنو خلکو شتمني کنګل شوله، په ځينو تورنو اشخاصو د افغانستان څخه بهر ته د تلو بنديز ولګيد.

څرنګه چې دکابل بانک د قضيې څخه دمخه افغانستان د فاسدترينو هيوادونو په نوملړ کې دوهم ځآی درلود، د کابل بانک د قضيې څخه وروسته د روڼتيا بين المللي سازمان له لوري د افغانستان نوم څلورم ځاي ونيوه.

په کال ۲۰۱۵ کې د کابل بانک د پور اخيستونکو څخه يواځې ۲۲۸ ميليونه ډالره بيرته بانک ته ورکړل شوې. خو د دې ترڅنګ د کابل بانک د قضيې په تړاو يو مهم متهم خليل الله فروزي د ډيرو لوړپوړو په خواهش له بنده خوشې شو. دې ته ورته کړنې د دې سبب شوې چې د روڼتيا د بين المللي سازمان له لوري افغانستان بيرته خپل پخواني مقام يعنې دوهم ځای ونيسی.

**دوهم:** په ۲۰۱۶ ز کال کې د فساد پر وړاندې ځينې موثر ګامونه پورته شول، لکه د قانون د پلي کولو، او د اداري فساد پروړاندې مبارزې دپاره يو شورا جوړيدل.

**دريم:** د حکومتوالو د شتمنيو رسمي ثبتول، ۶۰۰ مفسد قاضيان، ۲۰ څارنوالان او ۲۵ ٪ د ګمرکونو مامورين له دندې ګوښه کول. نژدې د ۱۰۰ تنو لوړرتبه حکومتوالو پاسپورتونه ظبطول. همداشان په ۱۲۵۰ قراردادونو کې ۲۲۰ ميلونه دالرو د اختلاس مخه نيول.

دا په ادراي فساد کې د محمد اشرف غني ستري لاسته راوړنې يادولئ شو. همدا لامل شو چې بيا د روڼتيا بين المللي سازمان له لوري افغانستان د اداري فساد د دويم مقام څخه اتم مقام ته راټيټ شو.

**څلورم:** په ۲۰۱۸ م کال کې بيا هم يوه اداره د لوړپوړو چارواکو د فعاليتونو د پلټنې په منظور جوړه شوه. چې يواځې او يواځې يو وزير په علني توګه محکمې کې حاضر شو. د محمد اشرف غني د حکومتولۍ په ترڅ کې د اداري فساد او مخدره توکو د توليد او قاچاق په وړاندې مبارزې دپاره نوي ادارې يا کميسيونونه ايجاد شول، په داسې حال کې چې دې ته ورته ادارو شتون درلود. د دغو ډول ادارو نوئ تشکيل خپله د فساد، اداري شوې.

زما په آند شخصاً محمد اشرف غني يو سپيڅلئ انسان ؤ. نوموړئ په امريکا کې د پوهنتون استاد ؤ. په مادي او معنوي لحاظ يې څه ته اړتيا نه وه. په جنګ کې ښکيلو ډلو او جهادي (جاهلي) تنظيمونو پورې تړلئ نه ؤ. د نورو سيالانو او جهاديانو پشان يې

لاسونه په وینو ککړ نه ؤ. برسیره پردې د هغه سن هم دا ایجاب نه کاؤ چې په فساد کې دې ورګډ شي یا ورګډ وي. پرته له شکه یې د خپل هیواد سره لیونی مینه درلوده. غوښتل یې چې افغانستان لااقل دسیمې په کچه پیاوړئ او خپلواک هیواد وي.

خو لکه څنګه چې زموږ تاریخ ثابته کړې ده، د هیواد دپرمختک او خپلواکی په لوري ګامونه د ګاونډیانو، سمیزو، او پاتې نړیوالو هیوادونو د سترګو اغزئ ګرځي. څکه خو دوی د لاسپوڅو افغان جاسوسانو په لټه کې شي، ترڅو د دوی په وجود کې خپلې کرغیړنې موخې لاس ته راوړي او زموږ د هیواد د پرمختګ خنډ ګرځي.

د دې ترڅنګ د محمد اشرف غني سیالان په فساد کې ډوب خلک ؤ. هرډول سیاسي مفاهمه، مذاکره او سیاسي راکړه ورکړه یې نه منله. صرف څوکۍ یې غوښتې. لکه د ماشوم په شان چې څښئ غواړي او هغه نه ورکول کیږي، ترهغو په ژړا او انګولا وي ترڅوچې خپله غوښتنه ترلاسه کړي. د محمد اشرف غني نه یواځې سیالان بلکې ډیرئ لوړپوړي چارواکي او لوړپوړي سیاسون د اداري فساد، د مخدره توکو تولید، قاچاق او په مافیایي کړۍ پورې تړل شوي خلک ؤ. دغه مافیایي کړۍ بیا پخپل وار سره په بین المللي مافیایي کړۍ پورې تړلي ؤ.

64

محمد اشرف غني په ۲۰۱۶-۳-۲۵ ز کې د جي جمع ۷ په کنفرانس کې چې کابل کې دایر شوئ ؤ وویل چې د اداري فساد پر وړاندې مبارزه یواځې په ویلو سره بسیا نه کوي، باید عملي ګامونه په دې اړخ کې پورته شي. ولسمشر په ډاګه وویل چې ډیرئ لوړپوړي چارواکي او لوړپوړي امنیتي ارګانونه په اداري فساد کې اخته دي. څرنګه چې دوی نه مجازات کیږي (د نه مجازات کولو عاملین یې بهرنیان او لوړ پوړي چارواکي ؤ) نو د عامو وګړو بې اعتمادي په حکومت ډیره شوې ده.

---

64

د افغانستان ما له سایت څخه اخیستل شوی

http://www.dailyafghanistan.com/national_detail.php?post_id=135746

## د اداري فساد او د نشه يي توکو توليد او قاچاق لامل څه ؤ

**لومړئ** داچې د محمد اشرف غني د حکومتولی په ترڅ کې د اداري فساد او د نشه يي توکو د توليد او قاچاق پر وړاندې مبارزه بريا نه منوندله، يو ستر دليل يې دا ؤ چې دغې شومې کرغيړنې پديدې ۱۳ کاله په افغانستان او بهر کې پټې او ښکاره ريښې غزولې وې. په دې مانا چې تش د اشخاصو په تبديلولو سره، يا د دې دواړو پديدو پر وړاندې نوې اداري تشکيلاتو کومه ګټه نه لرله. اړينه دا وه چې ريښې يې ورکې او وچې شوې وئ. ريښې يې لوړپوړي چارواکي او بهرنيان ؤ، چې دا ناشونې وه.

وګورئ د۲۰۲۲ ز د مارچ په پيل کې طالبانو حکومت اعلان وکړ چې زموږ څخه بهرنيانو غوښتي چې *که تاسو ځينې پخواني سياسون يا لوړپوړي چارواکي په حکومت کې شريک کړئ نو دا امکان شته چې د لويديځې نړئ له خوا په رسميت وپيژندل شئ.*

بهرنيانو طالبانو ته يو پنځلس کسيز نوملړ ورکړئ ؤ. د طالبانو پر وينا دا پنځلس تنه هغه کسان ؤ چې په تيرو ۲۰ کلونو کې لوړ پوړي کسان پاتې شوي ؤ. هغه کسان چې پرديو ته ډيره ښه جاسوسي کولئ شي او په لوړه کچه د مخدره توکو په مافيايي کړئ کې ورګډ خلک ؤ. دا يو ستر ثبوت دئ چې بهرنيانو په تيرو۲۰ کلونو کې زموږ هرڅه په خپل واک کې اخيستئ ؤ. دوی خپل جاسوسان درلودل او دوی خپله د مخدره توکو په قاچاق او فساد کې ګډ ؤ.

**دوهم** داچې محمد اشرف غني په يواځې توب نه شو کولئ چې دغه د زنځير پشان تړلې کړئ يو له بله وشلوي. دا ناشوني وه. په تيره بيا هغو هيوادونو چې افغانستان يې په اداري فساد کې ډوب باله، همدغو بهرنيو هيوادونو له بلې خوا د اداري فساد او د مخدره توکو په قاچاق کې ښکيل ؤ. په بله وينا له يوې لورې به يې ميليونونو ډالر مصرف کول چې د دې پديدو پر وړاندې (تش په نامه) مبارزه وکړي، له بلې لوري به خپله په کې ښکيل ؤ.

**دريم** داچې د دواړو سياسي مشرانو (محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله) په تيره بيا د عبدالله د سياسي ناندريو سبب دا شو چې فساد او قاچاق ورځې تر بلې لوړ شی. که څه هم لکه څنګه مې چې يادونه وکړه د فساد او قاچاقو په وړاندې مبارزې دپاره اداري اُرګانونه جوړ شول. حتا عينې اداري به شتون درلود بله به جوړه شوه. دا پخپله د فساد يوه بله

سرچینه جوړیده. دغه جوړې شوې ادارې غښتلې او با صلاحیته ادارې نه وې. له یوې لورې به مفسد ونیول شو، له بل لوري به را خلاص شو. په لوړه او ټیټه کچه ګمارل شوي حکومتوال خپل آمر ته ځواب ورکوونکي نه ؤ. هغوی هغه چا ته ځواب او حساب ورکاؤ، د چا د لوري چې مقرر شوي ؤ. د وطن او ملت دپاره چا کار ونه کړ. صرف د مقررکوونکي دپاره یې کاؤ.

# نشه يي توکي او قاچاق

**د نشه يي توکو ارزونه، کښت، د حکومت هلې ځلې او روږدي کسان**

65

په کال ۱۹۸۷ ز کې د ملګرو ملتونو د سازمان له لوري شپږويشتم د جون د مخدره توکوپروړاندې د مبارزې نړيواله ورځ ياده شوې ده. په افغانستان کې يوه اونۍ د ۲۶ د جون څخه د ملي يوالي د مخدره توکو پروړاندې مبارزې ورځ اعلان شوې وه. د حکومت موخه دا وه چې يوه موثره لاره چاره وپلټل شي چې په دې تړاو ښه مبارزه وکړي.

ويل کيږي چې د مخدره توکو استعمال، توليد او قاچاق په نړيواله کچه يو ناورين بلل شوئ دئ. په ۲۰۱۹ کال کې چې د ملګروملتونو د سازمان د مخدره جرايمو ادارې د يو راپور له مخې په نړيواله کچه ۲۵۰ ميليونه خلک په مخدره توکو روږدي دي. دا يوه نړيواله ستونزه ده ځکه خو يې دې ته ناورين وويل.

په افغانستان کې په مخدره توکو روږدو انسانانو شمير په دقيقه توګه نه دئ څرګند شوئ خو ويل کيږي چې اټکل يو ميليون افغانان روږدي دي. چې په روږدو کسانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي.

کوکنار په افغانستان کې د ۱۹۷۸ ز کال څخه دمخه ډير لږو کرونګرو کښت کاؤ. (دمخه ورته اشاره شوې) پر افغانستان د شورويانو د يرغل څخه وروسته، په اصطلاح مجاهدينو د دغې بدمرغې پديدې کښت ته د خپلو شخصي ګټو په خاطر زور ورکړ.

---

65

https://csrskabul.com/?p=5410

مرکز مطالعات ستراتيژيک و منطقوی د سيات څخه اخيستل شوی

دهرکال څخه تر بل کال پورې د کوکنارو کښت مخ په لوړېدو ؤ. حتا داسې وخت شو چې د ترياکو توليد هم پيل شو. که څه هم مجاهدينو ته امريکا، سعودي عربستان، ځينو عربي هيوادونو، او ځينو نورو هيوادونو مادی او نظامي مرستي ورکولي.

په نوی يمو زيږديزو کلونو کې د مخدره توکو توليد په افغانستان کې په بې ساري ډول لوړ شو، د نړۍ ډيرۍ مخدره توکي په افغانستان کې توليدل. د بيلګې په توګه په کال ۱۹۹۷ ز کې ۲۸۰۸ ټنه مخدره توکې افغانستان توليد کړي ؤ. په داسې حال کې چې دوه کاله وروسته ۱۹۹۹ ز کې ۴۵۶۵ ټنه ؤ. په ۲۰۰۱ ز کې د طالبان د حکومتولی په وروستي کال کې د ملا محمد عمر د فرمان په بنسټ دغه ارقام ډير زياد راټيټ شول، حتا د په ځينو سيمو کې د کوکنارو کښت صفر ته راورسيد.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د يو راپور په قول چې په کال ۲۰۲۰ کې تر ۲۰۱۹ کال ډير کوکنار کرل شوي ؤ. حتا په داسې ولايتونو کې چې کوکنار هيڅ نه کرل کيدل، هلته هم وکرل شول. په تيرو نژدې ۲۰ کلونو کې د کوکنارو پرضد مبارزه کې سلګونه افغان پوليسان ووژل شول، په زرګونه ټنه مخدره توکې ضبط او له منځه يووړل شول، په لسګونو د مخدره توکو قاچاق وړونکي نيول شوي دی.

په نژدې تيرو شلو کلونو کې افغانستان د نړۍ د اپينو تر ټولو ستر صادرونکی او توليد کوونکۍ هيواد ؤ، خو د نړۍ د مخدره توکو ستر ضبطونکی او د قاچاقبر نيونکی هيواد نه ؤ.

د ملګرو ملتونو د سازمان د راپورنو له مخې، تر افغانستان آن شل ځلې ډير په ګاونډې ايران کې مخدره توکي ضبط کيږي. ايران په ۲۰۱۹ ز ډير کسان د مخدره توکو د قاچاق په جرم اعدام کړل. افغانستان کې د مخدره توکوقاچاقبرانو ته د مرګ يا عمري بند سزا نه ورکول کيده، بلکې ډير ژر د خپلو ملګرو (جګپوړي او ټيټپوړي) په تليفون کولو سره را خوشې کيدل. يا هم مخکې له دې چې دوسيه ورته جوړه شي خپله امنيتي ارګانونو له خوا خوشې کيدل. البته چې يواځې ډير بيچاره کسان چې هيڅ پيژندګلوي ونه لري هغه هم په ډيره کمه پيمانه قاچاق کول، هغوی بلاخره زندان ته تلل او رسنيو کې هم خپريده. په دې ډول د مخدره توکو توليد او قاچاق د نورو ستونزو تر څنګ يوه ستره زمينه، اداري فساد ته برابره کړه.

66

د ملګرو ملتونو هغه اداره چې له نشه يي موادو سره مبارزه کوي له افغان چارواکو سره يي شريک کړي معلومات ښيي، چې ۲۰۱۷ کال کې د نشه يي توکو توليد ۸۷ سلنه او کښت يې ۶۳ سلنه لوړ شوي ۀ.

څېړنه کې له هلمند وروسته کندهار، بادغيس، فارياب،ارزګان، ننګرهار، فراه، بلخ، نيمروز او بدخشان هغه ولايتونه بلل شوي، چې ډېر نشه يي توکي توليدوي.

په ۲۰۱۷ کال ټول هېواد کې پر ۳۲۸ زره هکتاره ځمکه کوکنار کرل شوي ۀ، دا کښت د ۲۰۱۶ کال پرتله ۶۳ په سلو کې ډېروالی وښود، دا لوړوالی نوې خبره وه. په ټوليز ډول په ټولو هغو ولايتونو کې د کوکنارو کښت ډېر شوی ۀ چې کوکنارو پکې کرل کېدل. د کښت د لوړې شوې شمېرې نژدې نيمايي برخه کوکنار هلمند کې کرل شوي ۀ، دغه ولايت کې د ۲۰۱۶ کال پرتله ۶۳ زره او ۷ سوه هکتاره کښت اضافه شوی ۀ.

67

د سي آر اس ويب پاڼې په حواله، د کوکنارو کښت په کال ۲۰۱۶ ز کې نسبت د ۲۰۱۵ ز څخه لوړ والی ښودلئ. چې ۲۰۱۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي ۀ او ۴۸۰۰ ټنه ترياک توليد شول. همدارنګه په کال ۲۰۱۷ ز کې نسبت د ۲۰۱۶ ز ډېر زياتوالئ ښودل شوئ. چې په کې ۳۲۸۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي ۀ، او ۹۰۰۰ ټنه ترياک توليد شول. په کال ۲۰۱۸ ز کې ۲۶۳۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنار وکرل شول او ۶۴۰۰ ټنه ترياک توليد شول. دغه کموالئ د نامساعدې هوا او د شنيليو د مرض له کبله ۀ.

---

66

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-42048983

د بی بی سي له سايت څخه اخيستل شوې

67

https://csrskabul.com/?p=5410

مرکز مطالعات ستراتيژيک و منطقوي د ويب سايت څخه اخيستل شوئ.

68

د آزادئ راډیو دقوله ولسمشر محمد اشرف غني په ۲۰۱۷-۱۱-۳۰ د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او تنظیم شوېو جرایمو ضد د مبارزې له اداري ځخه وغوښتل چې د افغانستان د نشه يي توکو د کښت، تولید او قاچاق په اړه معلومات راټول کړي. همدارنګه محمد اشرف غني د ملګروملتونو ځخه وغوښتل چې د افغانستان د مخدره توکو د قاچاق ارقام له دوی سره شریک کړي. د دې ترځنګ هغه ارقام چې کوکنار، افغان کروندګر يې په افغانستان کې او د نشه يي توکو تولیدکونکي او قاچاقبران يې د ترانزیټ پر لاره په پرتو هېوادونو کې ترلاسه کوي له دوی (افغانستان دولت) سره شریک کړي.

په کال ۲۰۱۷ م کې محمد اشرف غني د آزربایجان پلازمینه باکو کې د اسیا د زړه د کنفرانس د بهرنیو چارو د وزیرانو غونډې ته وینا کوله د حکومت وروستۍ کړنې يې یادې کړې، خو دا يې هم وویل چې افغانستان په وچه کې پروت هېواد دی، ځکه نو مخدر توکي يې هم د ګاونډیو هېوادونو له لارې بهر ته قاچاق کېږي.

ولسمشر محمد اشرف غني یادونه وکړه چې د مخدره توکو د تولید پر مرکزونو باندې عملیات ترسره شوي دي. په دې تړاو مخالفینوته د ۵۰ ځخه تر ۷۰ میلیونه ډالرو په ارزښت تاوان اوښتئ دئ. محمد اشرف غني زیاته کړه د ۲ ټنه زیات هیروئین، له ۶۴ ټنه زیات مورفین، ۴۰۰ ټنه تریاک، ۲۵ ټنه چرس او له زر کیلو زیات هغه کیمیاوي توکي چې د مخدره توکو په پروسس او تولید کې کارول کېږي له منځه وړل شوي دي. د ښاغلي غني په وینا د ضبط شویو مخدرو توکو ټول ارزښت ۳۵۲ میلیون ډالر اټکل شوی دی.

---

68

https://pa.azadiradio.com/a/28890849.html

د آزادئ رایدو له سایت ځخه اخیستل شوی

69

د بی بی سی په حواله چې په ۲۰۱۷-۱۱-۱۵ کې يې دغه خبر خپور کړئ ؤ، ليکي چې په همدغې کال کې د کوکنارو کښت ۶۳ سلنه لوړ شوئ دئ. د افغانستان حکومت او ملګروملتونو د سازمان د جرايمو دفتر خبرداری ورکړئ چې په افغانستان کې د مخدره توکو توليد ۸۷ سلنه ډيروالئ موندلئ. دغه راپور کې راغلي ؤ چې په ۲۰۱۷ ز کال کې اټکل توليد شوي مخدره توکي به ۹ زره ټنه وي، په داسې حال کې چې په د۲۰۱۶ کې ۴۸۰۰ ټنه ؤ. د دغه راپور پر بنسټ په ټوليزه توګه د کوکنارو کښت مساحت کوم چې ۲۰۱ زره هکتاره ځمکه وه، اوس به ۳۲۸ زره هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل شوي وي. د ملګروملتونو د سازمان د مخدره توکو جرايم دفتر د راپور پر بنسټ د افغانستان په سهيلي سيمو کې ډيرئ کوکنار کرل شوي ؤ. د يادولو وړ ده چې يواځې په هلمند کې د ټول افغانستان نمايي کوکنار کرل شوي ؤ. ورپسې بيا بلخ، قندهار، نيمروز، ارزګان ولايتونو کې کوکنار کرل شوي ؤ.

همداراز د (۲۰۱۷ز) څخه دمخه په هغو ۱۳ ولايتونو کې چې د کوکنارو کښت صفر ؤ، په دی کال کې ۲۰۱۷ ز کې ۱۰ ولايتونو ته راټيټ شو. په دې مانا چې په ۳ نورو ولايتونو کې هم کوکنار کرل شوي ؤ.

په ۲۰۱۷ ز کال د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت په يوه خبرپاڼه کې کښلي ؤ چې دغې وزارت په همدې کال کې ۷۵۰ زره هکتاره ځمکه د کوکنارو د کښت څخه پاکه کړې وه.

د دې د پاره چې پوه شو په ۲۰۲۱ ز کال کې څومره ترياک توليد شوي، دغه لاندينی ليکنه کټمټ د المان د يويچه ويله د سايت څخه کاپي را اخيستل شوې.

---

69 https://www.bbc.com/persian/afghanistan-41994135

د بی بی سي ويب سايټ څخه اخيستل شوئ

70

**د ملګرو ملتونو سازمان له مخدره توکو او جرایمو سره د مبارزې دفتر د یوه رپوټ پر بنسټ، په افغانستان کې د تاریاکو تولید ډېر شوی او بیه یې لوړه شوې ده.**

UNODC

په ۱۶-۱۱-۲۰۲۱ **یو ان او دی سي** د ملګرو ملتونو سازمان له نشه يي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر په ویانا (اطریش) کې وویل چې افغانستان د تاریاکو د فصل د راټولولو په وخت کې چې په جولای میاشت کې پای ته رسیدلئ دئ ۶۸۰۰ ټنه تاریاک تولید شوي دي چې دا د تیرکال د همدې مودې په پرتله ۸ سلنه زیاتوالئ ښیي.

د افغانستان تاریاک د نړۍ پر غیر قانوني بازار تسلط لري. طالبان چې په اګست میاشت کې په افغانستان کې واک ته رسیدلی، په افغانستان کې د مخدره توکو د کاروبار اصلي ګټه پورته کوونکې ګڼل کیږي.
د ملګرو ملتونو سازمان له نشه يي توکو او جرمونو سره د مبارزې دفتر د رپوټ پر بنسټ په روان عیسوي کال (۲۰۲۱ز) کې په افغانستان کې له ۱،۸ څخه تر ۲،۷ میلیارده ډالرو پورې د مخدره توکو کاروبار شوی دی.
د افغانستان د اقتصاد راکړې ورکړې یو پر لسمه برخه پر تاریاکو تکیه کوي.
د ملګرو ملتونو د رپوټ په حواله: «د ۲۰۲۱ز کال له اګست میاشتې راهیسې دوامداره ناڅرګند وضعیت د دې سبب شوی دی چې د اګست او سپټمبر په میاشتو کې د تاریاکو بیې ډیرې لوړې شي او د کوکنارو کښت ته هڅونه لا زیاته شي.» له همدې امله د ملګرو ملتونو بیړنیو مرستو ته اړتیا ده، څو په سیمه کې د کوکنارو کښت د کمولو له پاره بدیلې پروژې پرې تمویل کړای شي، ځکه بزګران اوس د راتلونکي کال د فصل له پاره چمتوالئ نیسي.

70

د دویچه ویله د سایت څخه اخیستل شوئ
https://www.dw.com/ps/crime-opium-opium-narcotics-afghanistan/a-59842856
17/11/2021

<u>د کوکنارو د کښت ښه بدیل:</u>

د کوکنارو دکښت ښه بدیل د زعفران ګل ؤ. یواځې په هرات کې د دې ګل کښت رواج ومووند، همداراز یو څه په ځینو نورو ولایتونو کې هم د زعفران ګل کښت شو، خو پرته د هرات څخه، په نورو ولایتونو کې یې تراوسه کومه د پام وړ پرمختیا ونه کړه. زما په آند د مخدره توکو مافیایي کړۍ ډیره ځواکمنه ده، ځکه خو د زعفران ګل چنداني نه کرل کیږي. حتا ځینو سیمو کې ویل کیدل چې د زعفرانو د ګل بزګران ګواښل شوي ؤ (خامخا د مافیایي کړۍ له لورى).

په افغانستان کې مخدره توکو د قاچاق مافیایي کړۍ په سر کې امریکا نه غوښتل چې د مخدره توکو تولید لږ شي، ځکه خو یې د زعفران ګل کښت ته رونق ورنه کړ. که د تولید شویو مخدره توکو د عایداتو سلمي برخي څخه هم په افغانستان کې کرونګرو ته د زعفرانو او یا دې ته ورته د کوم بل نبات د کښت زمینه مساعده شوي وئ، هیڅکله به نړۍ د دې ستونزې سره مخ نه وه. ځکه خو کولاى شو په زغرده ووایو چې امریکا او متحدینو یې دا نه غوښتل.

## **د نشه یي توکو تولید او قاچاق په وړاندې مبارزه ولې بریالۍ نه وه**

د امریکا او د هغه متحدینو په نظر دوى د خو ځانګړو چارو دپاره افغانستان ته راننوتل. یو له هغو څخه هم د مخدره توکو تولید او قاچاق ؤ. لکه څنګه چې د بین المللي ټولنې له خوا ویل شوې ؤ د نړۍ نژدې ۷۵-۸۰ سلنه مخدره توکي په افغانستان کې تولیدیدل. پوښتنه داده چې دغه د مخدره توکو تولید او د دې قاچاق د دوى دراتګ څخه وروسته مخ په زیاتیدو شول. په داسي حال کې چې باید کم شوئ وئ. *(په دې اړه دمخه هم په تفصیلي ډول ولیکل شول، خو دلته یې تکرار کیداى شي اړین وي)*

که چیرې راننوتي بهرنیانو په ټینګه غوښتلئ چې د کوکنارو کښت له منځه یوسي، نو . هرولایت ته یواځې د کښت شویو ځمکو دپاره سل تنه بهرني عسکر بسیا کوله. هرولایت ته ۵ تراکتوره په کار ؤ چې د ۵ تراکتورونو قیمت اټکل دونیم لکه ډالره کیږي. د کوکنارو کښت دې ټول په بل مخ کړئ وئ. او یا بهرنیانو په خپلو الوتکو سره د کوکنارو کښت د دوا شیندنې په واسطه له منځه وړئ وئ.

بله داچې ګاونډیانو، سیمې او نړیوالې ټولنې کولۍ شول چې د قاچاقچیانو بانکي حسابونه کنګل کړي چې نه یې کول. څکه خو ویلۍ شو تش په نامه یې مبارزه کوله، اصلاً نه غوښتل چې د مخدره توکو تولید کم شي.

کیدای شي چې نور مختلف عوامل به هم د دې سبب ګرځیدلي وي چې د دغې پدیدې په وړاندې مبارزه بریالۍ نه وه. زه به په ډیر لنډ ډول څو لاندینیو ټکو ته اشاره ولرم چې د مخدره توکو تولید او قاچاق پر وړاندې مبارزه ولې بریالۍ نه وه:

**لومړۍ**: دبهرنیو ټولنو تش په نامه مبارزه. بهرنیانو نه غوښتل چې په ټینګه اراده او غوڅه توګه مبارزه وکړي.

**دوهم** : ناامني، د اړوند ولایتونو د مسؤلینو درواغجنې ژمنې (دوی خپله پکې ښکیل ؤ).

**دریم**: په کور دننه، ګاونډیانو، سیمیزو او بین المللي مافیا ښکیلوالۍ.

**څلورم**: په بهرنیو هیوادونو کې په تیره بیا لویدیځې نړۍ کې د مخدره توکو تقاضا.

**پنځم**: په کور دننه د لوړپوړو چاروکو څواک، رول او په مافیايي کړۍ پورې تړاو.

**شپږم**: د افغانستان په تاریخ کې په بې ساري کچه اداري فساد.

**اوم**: په کور دننه بې کاري اوغربت (دا دومره عمده ټکۍ نه ؤ، خو د یادونې وړ ټکۍ دۍ).

لکه څنګه چې دمخه هم یادونه شوې وه، زما په آند د کورنیو چارو وزارت (ځانګړۍ معینت) څخه نیولې بیا د سیمې تر ولسوال او علاقدار پورې د کوکنارو د کښت او د تریاکو په تولید کې سره د زنځیر په شان تړلي کړۍ وې. نه یواځې دغه وزارت بلکې نور وزارتونه لکه عامې روغتیا وزارت، کرونډې وزارت اود مسلح قوا لوړپوړي چارواکي او لوړپوړي سیاسون په دغې زنځیري کړۍ کې تړلي ؤ. برسیره پردې هیواد ته راننوتي بهرنیان هم په دې مافیايي کړۍ کې ګډ شوي ؤ.

پورته یاد شویو ټکو ته په کتوسره ویلۍ شو چې د دې کرغیړنې پدیدې ریښې ډیرې ژورې غزیدلې وې، څکه خو له منځه وړلو ته یې اوږدمحاله او غوڅه مبارزه اړینه وه، کوم چې دا هغه وخت کې نا شونې وه.

## د افغانستان د تولید شویو نشه یي توکو عایدات چیرته په مصرف رسیدل

71

72

د ملګروملتونو د مخدره توکو د جرایمو پروړاندې مبارزې دفتر (**یو ان او دي سي**) د خپور شوي احسایې په په بنسټ د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۰ ز کلونو کې یواځې د افغانستان څخه **۷۰ میلیارده ډالرو** په ارزښت مخدره توکي تولید شوي. چې له دې جملې څخه **۶۸ میلیارده** ډالر یې د افغانستان څخه بهر مافیایي کړیو او قاچاقچیانو لاس ته ورغلي.

همداراز یواځې ۲۰۰ میلیونه د دولت مخالفینو لاس ته ورغلي ؤ، او ۲ میلیارده یې کرونګرو قاچاقبرانو ترلاسه کړي ؤ.

زما په آند دغه دوه میلیارده ډالر به زموږ په کور دننه لوړپوړو او ټیټ پوړو چارواکو جیبونو ته لویدلي وي، نه د کرونګرو او قاچاقبرانو جیبونو ته. ښکاره ده چې کروندګرو او قاچاقبرانو هم خپله برخه اخیستې، خو زر ځله لږه، نه دومره چې یادونه یې شوې ده.

دغه د ۷۰ میلیاردو ډالرو عاید د افغانستان د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت هم تأیید کړئ ؤ. د افغانستان د مخدره توکو پروړاندې مبارزې معاون ابراهیم ازهرویلي ؤ چې د ۷۰ میلیاردو ډالرو یواځې ٪۵ یې د افغاني بزګرو او ټیټ پوړیو قاچاقچیانو جیبونو ته لویږي.

پورتنئ راپور بي بي سي په ۲۰۱۲-۴-۲۹ کې راپور خپور کړ.

---

71 https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2012/04/120429_k01_afghan_drug
د بی بی سی له سایت څخه اخیستل شوئ

72 https://csrskabul.com/?p=5410
مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوی د سیات څخه اخیستل شوی
(سرچشمه ای برای تمویل جنگ در افغانستان)

## د حامد کرزي او محمد اشرف غني د حکومتولۍ ځینې تفاوتونه

73

ډیره اړینه ده چې په ښکاره باید وویل شي مخکې د حامد کرزي د حکومتولۍ څخه موږ افغانان د تورتم په یوه کوټه کې په خوندې توګه زنداني ؤ. هرڅه چې موږ تاسو له هغه وروسته د محمد اشرف غني تر حکومتولۍ څیښتنان شؤ، د حامد کرزي د حکومتولۍ برکت دئ.

لکه څنګه چې څرګنده ده امریکا په افغانستان کې په دې ډول یرغل وکړ چې هوایي ځواک د هغوی (امریکایان) ؤ او زموږ د خپلو هیوادوالو (شمالي ټلواله) څخه یې د ځمکنۍ قوا په شکل د میلیونونو ډالرو په بدل کې استفاده وکړه. امریکایانو د هغو افغانانو څخه چې ډیرئ یې په ګاونډیو او ځینو نورو هیوادونو کې ژوند کاؤ په اړیکه کې شول. دوی ټول په جنګي جنایاتو تورن او د بشري حقوقو ناقضین ؤ( شمالي ټلواله، محقق، دوستم، ګل آغا شیرزئ، تورن اسماعیل، عطا محمد نور، حاجي قدیر او نور پاتې پخواني جنګسالاران، د عامو خلکو د ځمکو، جایدادونو او شتمنیو غاصبین).

حامد کرزي واک ته د رسیدو څخه وروسته دغه پورتني محترمین ډیر ځواکمن کړل. حامد کرزئ د شمالي ټلوالي لنډغرو څخه ویریده. ګمان به یې کړئ وي چې بیا به د شورای نظار(د قسیم فهیم) له لوري وډبول شي. په هرحال دوی ټول د پخوا څخه په وار وار زیاد ځواکمن او غښتلي شول، له موږکانو څخه په ترتیب سره پیشوګانې، ګیدړې او زمریان جوړ شول. پایله یې د اداري فساد او مخدره توکو تولید او قاچاقو مافیایي کړۍ شوه.

---

73 http://afghanpaper.com/nbody.php?id=133591
د شبکه اطلاع رسانی افغانستان له سایت څخه اخیستل شوی

ښه به دا وئ چې حامد کرزي په پیل کې دامریکایانو په مرسته یې ډیرژر دغه ځواکمنان بې واکه کړي وئ. په خواشینۍ چې دا ونه شو. خو محمد اشرف غني پس له څو کلونو وتوانیده چې ډیرئ د دوی څخه (دوستم، شیرزئ، تورن اسماعیل، عطا محمد نور، قدیر او ځنې نور) بیواکه کړي.

حامد کرزي بلاخره پس له څو کلونو وکولای شول چې د طالبانو په وړاندې د امریکایانو شپیني عملیات، او بمبارۍ ودروي.

حامد کرزي طالبانو ته ورڼو خطاب کاؤ. کڅه هم د محمد اشرف غني د خپلې حکومتولۍ په وروستیو کلونو کې افغاني طالبان د افغانستان وګړي وبلل، خو په پیل کیې یې القاعده، داعش او طالب زموږ د هیواد دښمنان بللي ؤ.

حامد کرزي د امریکایانو سره د مشورتي لویې جرګې او د ولسي جرګې د پریکړې خلاف امنیتي تړون لاسلیک نه کړ، خو محمد اشرف غني واک ته رسیدو سره سمدلاسه د امریکایانو سره امنیتي تړون لاسلیک کړ.

لکه څنګه چې څرګنده ده په افغانستان کې د سولې او امنیت په تړاو حامد کرزي د شل ځلو څخه هم زیاد پاکستان ته ولاړ. خو محمد اشرف غني خپلې اړیکې د پاکستان سیال ملک هندوستان سره ټینګې کړې. د حامد کرزي په حکومتولۍ کې د مصالحې شورا ایجاد شوه، خو چنداني لاس ته راوړني یې نه درلودې. په داسې حال کې چې محمد اشرف غني وکولای شول چې ګلبدین حکمتیار د جګړې څخه لاس واخلي او کابل کې یې په ډاډمنه توګه ژوند پیل کړ.

د یادولو وړ ده چې محمد اشرف غني د حکومتولۍ په ترڅ کې طالبان هم ډیر غښتلي شوي ؤ. ځانمرګي بریدونه هم ډیر شول. د امریکایانو له لوري په آګاهانه ډول افغان حکومت ضعیف پاتې شو، بلمقابل طالبانو ته لوړ سیاسي پرستیژ ورکړ شو. حتا طالبانو وکولئ شول چې بهرنیو هیوادونو ته رسمي سفرونه وکړي.

دا ؤ یو څو لنډ د حامد کرزي او د محمد اشرف غني د حکومتولۍ ځینې تفاوتونه. خو د دې ترڅنګ دا هم ضرور د یادونې وړ ده چې د امریکا له لوري د دغو دواړو ولسمشرانو په وړاندې څه ډول چلند ؤ؟

امریکا ته دا مهمه نه وه چې په افغانستان کې څوک باید ولسمشر وي. هغوی ته دخپل هیواد ګټې ارزښت لري. دغه ګټې که د هر چا په وجود کې ورته حاصلې شوې وئ مهمه نه وه، ځکه خو یې د دواړو (حامدکرزي او اشرف غنی) سره د دوه مخیتوب او په افغانانو کې د بې اتفاقۍ د تخم شیندلو چلند غوره کړئ ؤ.

زلمئ خلیل زاد که څه هم په افغانستان کې زیږیدلئ او حتا دولسم ټولګئ یې په افغانستان کې لوستئ. په دې مانا چې خاپوړې او ځلمیتوب دوره یې په افغانستان کې وه. خو دا څرګنده شوه چې هغه یو امریکایئ دئ. دا باید ومنو چې نوموړئ باید هم د امریکا ګټو ته ژمن وي. خو د دې ټولو ترڅنګ دا یې په وس کې ؤ چې لا اقل د افغانانو ترمنځ یې د بې اتفاقي تخم شیندله نه کولئ، بلکې هم غږی یې رامنځ ته کړې وئ. موږ تاسو ولیدل چې زلمي خلیل زاد د افغان حکومت او د طالبانو ترمنځ د سولې په تړاو هر افغان (تش په نامه سیاسون) ته بل ډول خبره کوله. ضد او نقیص خبرې یې کولې. بلاخره دا افغانان هم پخپلو منځو کې پوه شول چې زلمئ خلیل زاد دوه مخئ سیاست پرمخ بیایي. د امریکا دغه چلند اوس هم د طالبانو د اسلامي امارت پر وړاندې په هماغه ډول دوام لري.

## د امریکا او طالبانو ترمنځ د مذاکراتو پیل

امریکایانو دا درک کړله، په دې ډول چې دوی (امریکایان) په افغانستان کې پرمخ درومي، د امریکا د پاره به دا جګړه د ویتنام د جګړې څخه هم اوږده شي. (همداسې هم شوه). امریکایانو د دې دپاره چې په اصطلاح د ځان دپاره د اوږو پزه پرېښودلې وي، دا تش په نامه هڅه کوله چې افغانان (حکومت او طالبان) پخپلو منځنو کې سره جوړ شي.

دا چې د حکومت او ولس ترمنځ ډېر واټن رامنځ ته شوئ ؤ، نو د ولس بې اعتمادي د دې سبب شوه چې طالبانو ته ترجع ورکړي او دطالبانو پلویان اوسي. دا چې د حکومت او ولس ترمنځ ولې واټن رامنځ ته شو، دې هم خپل ځانته عوامل درلودل چې په اړوند ځای کې پرې بحث شوئ. له بله پلوه طالبانو هم دا درک کړې وه چې ولس د حکومت څخه واټن نیولئ، نو جګړې ته یې شدت ورکاؤ.

د نیویارک تایمزد خپور شوي راپور په بنسټ چې د ملګرو ملتونو د سازمان خپور کړ، ویلي ؤ چې د په ۲۰۱۷ ز کال په ترڅ کې د ځای پرځای شویو بمونو له کبله څه د پاسه ۱۰۴۵۰ تنه مړه او ټپیان شوي ؤ. په دې ډول امریکایانو د ۲۰۱۷ ز په ورستیو او ۲۰۱۸ په لومړیو میاشتو کې نژدې ۳۰۰۰ بمونونه په هغو سیمو کې چې طالبانو شتون درلود ګزار کړل. امریکایانو طالبان دې ته اړ کړل چې بلاخره د ډیالوګ لاره غوره کړي (د امریکایانو سره). طالبانو هم د خپلو افغانانو سره نه، بلکې امریکایانو سره د ۲۰۱۸ ز کال په مني کې خبرې پیل کړې.

74

د بی بی سی د راپور په حواله چې په ۲۹-۲-۲۰۲۰ خپور شوئ ؤ په لنډیز کې یې، د امریکا او طالبانو ترمنځ د ماذکراتو لاندیني څو پړاونه په ګوته کړي ؤ:

---

74

https://www.bbc.com/pashto/live/afghanistan-51687030

د بی بی سي له سایت څخه اخیستل شوئ

**لومړی** ځل د امریکا او طالبانو ترمنځ په ۱۴-۱۰- ۲۰۱۸ ز دقطر په دوحه کې مذاکرات پیل شوې.

**دویم** ځل دا خبرې د۱۱-۱۶ ۲۰۱۸ ز بیا د قطر په کوربه توب په دوحه کې وشوې.

**دریم** ځل په ۱۷-۱۲ ۲۰۱۸ ز د متحده عربي اماراتو ابو ظبي کې ترسره شوې، چې درې ورځې یې دوام وکړ او طالبانو افغان پلاوي ته خبرو کې د ګډون اجازه ورکړه. (وګورئ د یو ډلګی قوي موقف ته، دا کوم مملکت نه ؤ).

**څلورم** ځل د ۲۰۱۹ کال جنورئ میاشت کې د قطر په دوحه کې وشوې.

**پنځم** ځل په ۲۵-۲-۲۰۱۹ ز په دوحه کې سره جرګه شول، زلمي خلیلزاد په لومړي ځل د طالبانو د تحریک له مرستیال ملا عبد الغني برادر سره دوحه کې وکتل.

**شپږم** ځل په دوحه کې نهه ورځې خبرې وشوې او په ۹-۴ ۲۰۱۹ ز پای ته ورسېدې. دواړو خواوو اعلان وکړ چې دا ځل خبرو کې ډېر پرمختګ وشو.

**اوم** ځل خبرې په۳۰-۶- ۲۰۱۹ بیا دوحه کې پیل شوې او څو ورځې یې دوام وکړ. د دې پړاو په خبرو کې دواړو خواوو نور پرمختګ هم وکړ او پر ځینو مسلو یې نظرونه سره یو شول.

**اتم** ځل په ۳-۸-۲۰۱۹ پیل شوې، د زلمي خلیلزاد په وینا، له طالبانو سره یې خبرې ګټورې وې او پر تخنیکي جزییاتو یې خبرې وکړې.

**نهم** ځل په دې پړاو کې چې په ۲۲-۸- ۲۰۱۹ پیل شوې او د سپتمبر تر لومړئ یې دوام وکړ. په دې خبرو کې امریکایانو او طابانو په اصولو کې یوې خپلمنځي هوکړې ته ورسېدل.

**لسم** ځل دا پړاو د ۲۰۲۰ کال د جنورئ پر ۲۰ تر نورو هغو په ځنډ پیل شوی، چې د طالبانو د ادعا له مخې، امریکا د تاوتریخوالي کمولو له پاره د طالبانو غوښتنه منلې ده. ترڅو چې بیا د فبرورئ ۱۰، قطر کې طالبانو وویل، طالب او امریکایي استازي په دوحه کې د سولې خبرو پر پایلو او راتلونکو ګامونو غږېدلي دي.

د دې ترڅنګه په ۷-۷-۲۰۱۹ د قطر په دوحه کې د افغانستان د مدني جامعي غړو او په اصطلاح سیاسي پیژندل شویو څیرو (ډیرئ هغه څیرې وې چې هماغه وخت او اوس هم ولس ترې نفرت او کرکه لري. خو دوی ته د بهرنیانو له لوري ورکړل شوي ځواک سره ځآنونه سیاسي مشران پیژندل) له لوري ۵۰ کسیزپلاوئ د طالبانو د پلاوې سره د سولې په تړاو خبرې پیل کړې. د دې ترڅنګ په دوحه کې د امریکایی پلاوي او د طالبانو د پلاوي ترمنځ هم خبرې دوام درلود. چې څنګه کولئ شي په افغانستان کې د امریکایانو حضور ته پایله وبښي.

بلاخره په ۲۹-۲-۲۰۲۰ د امریکا له لوري زلمي خلیل زاد او د طالب پلاوي له لوري ملا عبدالغني برادر ترمنځ په دوحه کې هوکړه لیک لاسلیک شو.

**د امریکا او طالبانو د خپلمنځي هوکړې ځلور مهمې برخې**

75

اړینه ده چې د امریکا دوه مخي سیاست ته په دې ډول یو ځل بیا یادونه وکړم چې په هماغه ورځ (۲۹-۲-۲۰۲۰) کله چې د زلمي خلیل زاد او د ملا عبدالغني برادر تر منځ په دوحه کې هوکړه لیک لاسلیک شو، له دې سره جوخت په همدې ورځ په ارګ کې د ناتو عمومي منشي ینس استولتنبرګ او د امریکا د فاع وزیر مارک سپیر خبرې وکړې. دا په ښکاره د افغانستان حکومت او د طالبانو پر وړاندې دوه مخي وه. په دې مانا چې که د طالبانو سره یې په دوحه کې تړون لاسلیک کړ نو د افغان دولت ملاتړي هم ؤ.

په هرحال په دغه تړون کې په صراحت سره راغلي چې امریکا طالبان د یو دولت په صفت نه پیژني.

د امریکا او طالبانو د خپلمنځي هوکړې ځلور مهمې برخې دادي:

**لومړئ**: د افغانستان خاوره به د امریکا او د امریکا د کوم بل متحد پر ضد نه کارېږي، او دې هوکړه کې په دې تړاو تضمین او د عملي کولو مېکانیزم یاد شوي.

**دوهم**: له افغانستان څخه د ټولو بهرنیو ځواکونو د وتلو په تړاو تضمین او د دې چارې د عملي کولو مېکانیزم هم په دې هوکړه کې یاد شوی.

---

75
د بی بی سی له سایت څخه اخیستل شوي
https://www.bbc.com/pashto/live/afghanistan-51687030
https://www.bbc.com/persian/51677036

**دریم:** کله چې پورته دواړو برخو کې د نړیوالو شاهدانو پر وړاندې تضمین ورکړل شي او اعلان وشي، د طالبانو اسلامي امارت، چې امریکا یې د یو دولت په توګه نه پېژني او طالبان یې بولي، له افغان حکومت سره د راتلوکي مارچ میاشتې پر لسمه نېټه به خبرو ته کښیني.

**څلورم:** په بین الافغاني مذاکراتو کې به بشپړ او دایمي اوربند په اجنډا کې وي، او دواړه خواوې به یې پر مېکانیزم خبرې کوي.

په دغه هوکړه لیک کې راغلي ؤ چې امریکایان به د ۱۴ میاشتو په ترڅ کې یعنې د ۱ مئ د ۲۰۲۱ څخه دمخه باید د افغانستان څخه ووځي. خو بلاخره په دې سلا شول چې د ۲۰۲۱ ز کال د اګست تر آخره به امریکایان د افغانستان څخه ووځي، چې هماغسې هم وشول.

پېټه دې پاتې نه وي چې زلمي خلیلزاد په وار وار وویل چې د دغو پورتنیو څلورو ټکو څخه که کوم یو نه پلئ کیږي، نو بیا څلور واړه د اعتبار وړ نه دي. په بله وینا یا به څلور واړه عملي کیږي، یا به یو هم نه عملي کیږي. په داسې حال کې چې وروسته معلومه شوه چې داسې و نه شول.

د خواشینی ځای دا ؤ چې هیڅکله امریکا او طالبانو نه غوښتل چې د افغانستان حکومت غړي په دې ناستو کې ګډون ولري او خپلې ستونزې سره حل کړي.

**د ۵ زره طالب بندیانو خوشې کېدل**

د امریکا او طالبانو د هوکړه لیک یوه بله مهمه موضوع هم د طالبانو ۵۰۰۰ بندیانو خوشې کېدل ؤ. کڅه هم هوکړه لیک د طالبانو او امریکایانو ترمنځ لاسلیک شو او افغان حکومت څنډې ته کړل شوئ ؤ. دا په داسې حال کې وه چې طالب بندیان د افغانستان حکومت سره بندیان ؤ، نه د امریکایانو سره. ځکه خو ولسمشر محمد اشرف غني ویل:

*د طالب بندیانو خوشې کېدل موږ پورې (افغانستان حکومت) اړه لري نه امریکایانو پورې.* ترڅو بلاخره د افغانستان حکومت ورسره ومنله او طالب بندیان خوشې شول.

**76**

**د ۵ زره طالب بنديانو خوشی کيدو په هکله لاندينۍ مضمون کتمت کاپي د ټول افغان له سايت څخه را اخيستل شوئ. که څه تيروتني ولري په پوهاوی توګه ندي اصلاح شوي.**

د شمالي انتلانتيک سازمان يا ناټو ملکي استازی سر نيکولاس کی، وايي چې د طالب بنديانو د خوشې کولو مسله افغان حکومت پورې تړاو لري.

ښاغلي نيکولاس کی د چهارشنبې په ورځ د ۲۰۲۰ ز کال مارچ څلورمه (کب۱۴) امريکا غږ تهوويل: *د سولې بهير او بين الافغاني مذاکرات ضروري دي... دا مذاکرات به افغانانو پورې تړاو ولري او د افغانانو په رهبری به وي. دغه راز د بنديانو په اړه پوښتنه هم افغان حکومت پورې تړلې ده چې زندانيان په خپل بند کې لري.*

نوموړي ويلي، دی باور لري چې په دوحه کې د افغان حکومت استازي له طالبانو سره خبرو کولو ته تيار دي او د زندانيانو په اړه به هم بحث وکړي.

هغه زياته کړه: *فکر کوم طالبان بايد له هغوی سره خبرې وکړي. دا د افغانانو ترمنځ يو بحث دی. ناټو پورې هيڅ تړاو نه لري.*

د بين‌الافغاني مذاکراتو له پيل څخه مخکې د ۵۰۰۰ طالب بنديانو خوشې کول د امريکا- طالبانو ترمنځ د سولې د تړون يوه برخه ده.

خو د افغانستان جمهور رئيس محمداشرف غني ويلي چې د بنديانو خوشې کولو صلاحيت د امريکا نه بلکې يوازې د افغان حکومت واک دی. ښاغلي غني زياته کړې چې د بنديانو آزادول د سولې بين‌الافغاني مذاکراتو د پيل له پاره شرط نه دی.

د ناټو ملکي استازي په هلمند کې پر طالبانو د امريکا هوايي بريد ته په اشارې وويل چې دا حمله "د افغان ملي ځواکونو د دفاع" له پاره شوې او له طالبانو څخه يې وغوښتل چې د بين‌الافغاني مذاکراتو د پيل له پاره خپل بريدونه ودروي.

---

76 https://www.tolafghan.com/news/17556

د سر نیکولاس کی پر وینا په قطر کې د سولې د تړون له لاسلیک وړاندې د تاوتریخوالي د کمې اونی پر مهال طالبانو وښوده چې خپل جنګیالي کنټرولولی شي.

ښاغلي نیکولاس کی زیاته کړه چې ناټو د "افغانانو ترمنځ د سولې د تړون" تمه لري، خو په دغه تړون کې یې بشري حقونو، د ښځو حقونو او دموکراسۍ ته د درناوي په ګډون د ۱۹ کلونو د لاسته راوړنو پر ساتلو ټینګار وکړ.

77

کله چې امریکایانو د طالبانو سره خبرې پیل کړې، روسیه هم بې تفاوته پاتې نه شوه. د امریکایانو ترڅنګ د سیاسي پلوه روسیه هم لیواله وه چې د طالبانو سره اړیکې ولري، ځکه خو په  په ماسکو کې د روسیې له خوا یو کنفرانس ترتیب شو.

د ترویکا غونډې څلورو هېوادونو، روسیې، امریکا، چین او پاکستان په وروستۍ اعلامیه کې راغلي، په افغانستان کې سوله د خبرو او سیاسي توافق له لارې لاس ته راتلای شي. همداراز ویل شوي ؤ چې  د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۰۲۰ کال د ۲۵۱۳ پرېکړه لیک پر بنسټ چې په افغانستان کې د جګړې پای ته رسولو اړوند دی، دغه هېوادونه په افغانستان کې د **"اسلامي امارت"** بیا رامنځته کېدو ملاتړ **نه** کوي. په بله وینا هغه ډول اسلامي امارت کوم چې نژدې شل کاله د مخه د طالبانو له لوري پرمخ بیول کیده.

---

77

https://www.bbc.com/pashto/56441980
د بی بی سی له سایت څخه اخیستل شوئ

## کابل ته د امریکا د بهرنیوچارو وزیر دوهم ځلي یوناڅاپي راتګ

په ۲۰۲۰-۳-۲۳ د امریکا د بهرنیو چارو وزیر پمپیو په یو ناڅاپي سفر کابل ته راغئ. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله سره یې بیل بیل ولیدل. مایک پیمپیو د راتلو اصلي محور د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله سره د افغانستان سیاسي ناندریو اود طالبانو سره د سولې مذاکرات تشکیلول.
د یادولو وړ ده چې محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله دواړو په ۲۰۲۰-۳-۹ د ولسمشرۍ د لوړې مراسم تر سره کړل. په دې تړاو سیاسي هڅو مثبته پایله نه درلوده.

78

د ۸ صبح ورځپاڼې لیکلي ؤ چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پیمپیو د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله سره یوځای لیدلي.
لکه څنګه چې څرګنده ده د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پیمپیو لکه د جان کیري په شان د محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله  د منځګړتوب دپاره کابل ته راغلئ ؤ. خو پیمپیو په نا هیلی سره په داسې حال کې دکابل څخه بیرته خپل هیواد ته ستون شو، چې د هغه راتګ د عبدالله د لجاجت له وجې هیڅ کومه مثبته پایله ونه درلوده.

له دې وروسته د امریکا د بهرنیو چارو وزارت یوه اعلامیه خپره کړه چې په کې ویل شوي ؤ، موږ به د افغانستان سره د خپلو همکاریو په برخه کې بیا کتنه وکړو. موږ به د افغانستان په هکله دپولوپروژو او برنامې چې د کارلاندې لرو بیا کتنه وکړو. همدا شان د نورو اقداماتو تر څنګ به افغانستان ته  د ۲۰۲۰ کال دمرستې څخه یومیلیارد ډالر کم کړو، او  د ۲۰۲۱ کال څخه به هم یو میلیارد ډالر کم کړو.

په اعلامیه کې افغان مشرانو (عبدالله عبدالله) ته اشاره شوې وه او دا پکې راغلي ؤ هرامنیتی عملیات چې سیاسي انګیزه ولري ملاتړي **نه** یو. همدارنګه په اعلامیه کې دا هم راغلي ؤ چې د موازي حکومت ملاتړي **نه** دي. (موخه یې د عبدالله عبدالله موازي حکومت کول ؤ).

---

78
https://subhekabul.com/انتخاب-سردبیر/decreas-of-us-aid-afghanistan/
د ۸ صبح کابل څخه اخیستل شوئ

**ولسمشرمحمد اشرف غني ته د امریکا د بهرنیو چارو وزیر انتوني بلنکین لیک**

79

ولسمشرمحمد اشرف غني ته د امریکا د نوي بهرنیو چارو وزیر انتوني بلنکین لیک استولئ ۈ. طلوع نیوز د دغه لیک کاپي موندلې وه.
انتوني بلینکن لیکلي ۈ چې موږ د ملګروملتو له سازمان څخه غواړو چې د افغانستان د سولې په هکله د امریکا، روسیې، چین، پاکستان، ایران او دهند د بهرنیو چارو وزیرانو په ګډون یوه غونډه جوړه کړي. همداراز نوموړي د ترکیې په کوربه توب د افغانستان حکومت او د طالبانو د استازو سره د سولې هوکړه لیک د وروستي کیدو د یوې غونډې خبر هم ورکړئ ۈ.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ویلې چې عبدالله عبدالله ته یې هم دغه شان لیک ور استولئ. نوموړي خبرداریځ ورکړئ ۈ چې د افغانستان په حکومت کې د سیاسي مشرانو بې اتفاقي د منلو وړ نه ده. دا ډول کړنو په نوی یمو کلونو کې ناورین رامنځ ته کړ، او دا باید بیا تکرار نه شي.

نوموړي زیاته کړې وه چې په واشنګټن کې د امریکا د سولې هوکړه لیک د بیاکتنې بهیر پای ته **نه** دی رسیدلئ، او اندېښمن دی چې د مې میاشتې تر لومړۍ نېټې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره به اوضاع خرابه شي او د طالبانو لاسته د ډېرو سیمو د ورلویدلو لامل شي.

79 https://tolonews.com/pa/afghanistan-170509
طلوع نیوز: مارچ میاشت ۲۰۲۱

# د محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې اقتصادي برخه او لس بنسټیزې پروژې

80

لکه څنګه چې څرګنده ده د نړۍ ټول هیوادونه په اقتصادی لحاظ د یوبل مشارکت ته اړتیا لري، حتا د نړۍ ډیر پرمختللي هیوادونه لکه امریکا، اروپایي اتحادیه چین،روسیه او نور.

دغه هیوادنه هم په یواځې توګه نه شي کولۍ چې خپل اقتصاد پرمخ بوځي. په لنډه کې ویلۍ شو چې د نړۍ ټول هیوادونه په یو ډول نه، یو دول یو بل ته اړتیا لري.

محمد اشرف غني برسیره پر امنیتي ستونزو په خپلو علمي اقتصادی پلانونو وکولۍ شول چې د نړۍ ډیرۍ هیوادونو سره مشارکت او تعامل وکړي، او لا یې هم هڅه کوله چې د دې مشارکت او تعامل اړیکي نورې هم پراخې او ټینګې شي.

څرنګه چې په پانګونه کې خوندیتوب یو اړین فکتور دئ، نو په داسې حال کې چې په افغانستان کې امنیتي ستونزه د پانګونې دپاره یو ستر خنډ ؤ خو بیا هم د محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې ځینې سیمیزې بنسټیزې او کورنۍ پروژې پیل شوي، ځینې نورې پروژې د پیلیدو په درشل کې وې.

لکه څنګه چې پورته اشاره هم ورته وشوه، ټوله نړۍ یو بل سره باید مشارکت او تعامل ولري، که نه په هر اړخیز انزوا کې پریوځي.

افغانستان د ډیر پخوا کلونو راهیسې په ترانزیتي لحاظ په انزوا کې پروت دئ. همدارنګه څرنګه چې زموږ هیواد د څلورخواؤ څخه په وچه کې پروت دئ، ځکه خو موږ تل د ګاونډیانو په تیره بیا د پاکستان او ایران احتیاجه یو.

موږ په وروستیو څه دپاسه درې لسیزو کې ولیدل، د تورخم دروازه د پاکستان په خوښه کله خلاصه او کله هم تړلې پاتې ده. زموږ میوې به په تورخم او چمن کې ورستې شوې. زموږ تجارتي توکې به د پاکستان په خاوره کې بند پاتې ؤ.

---

80

https://dawatmedia24.com/%d8%a7%d8%ac%d8%aa%d9%85%d8%a7%d8%b9%d9%8a-%d8%b3%db%8c%d8%a7%d8%b3%d9%8a/110274
د دعوت میډیا له سایت څخه اخیستل شوئ

خو د پاکستان توکي به منځنۍ آسیا ته رون ؤ. د دې د پاره چې زمونږ هیواد د پاکستان د انحصار څخه خلاصون ومومي، نو محمد اشرف غني هڅه وکړه چې شمالي ګاونډیو هیوادونو سره د مشارکت او تعامل اړیکې ټینګې کړي.

محمد اشرف غني یوه کمیته جوړه کړه چې د ګاونډیانو سره د ترانسپورتي او ترانزیتي ستونزې حل کړئ شي. د دې ترڅنګ دغه کمیته باید یو پلان جوړ کړي چې د هغې پلان پواسطه افغانستان منځنۍ اسیا سره ترانزیتي لاره پرانیزي.

د همدغې پلان په بنسټ موږ کولئ شو چې شمالي ګاونډیو هیوادنو سره دروازې پرانیزو، د هغوی او خپل هراړخیز توکي لیږد رالیږد کړو. په دې ډول د منځنۍ آسیا څخه بیا اروپا ته لار موندلئ شو.

د محمد اشرف غني د هڅو له برکته موږ د لاندې څو سترو سیمیزو او د کورنۍ پروژو د پیلیدلو او فعالیدلو شاهدان ؤ.

**لومړئ**: د کاسا یکهزار په نامه افغانستان ته، د قرغزستان او تاجکستان د بریښنا د پروژې عملي کار په ۲۰۱۹ کې پیل شو. د دغې سیمیزې پروژې لګښت څه د پاسه یو ملیارد ډالر اټکل شوئ ؤ. د یادولو وړ ده چې د دغې پروژې طرحه په کال ۲۰۰۸ کې شوې وه.

**دوهم**: د تاپي په نامه د ګازو پروژه چې د ترکمنستان ګاز د افغانستان او پاکستان له لیارې هند ته ولیږدوي. دا ډیره یو ستره سمییزه پروژه ده.

پته دې پاتې نه وي چې په ۱۹۹۷- ۱۹۹۸ ز کلونو کې د یو امریکایي شرکت یونیکال په نامه ورته پروژه مطرح شوې وه. د طالبانو په لومړنۍ واکمنۍ کې د یونیکال استازو د طالبانو سره ولیدل. خو کله چې د طالبانو رژیم نسکور شو، له دې سره جوخت دا پروژه هم نسکوره شوه.

په هرحال د تاپي پروژې له کبله به افغانستان دیرش کاله دری میلیارده مترمکعبه ګاز د دغې پیپ لین څخه استفاده وکړي. نژدې دیارلس زره ګارګران به په کار وګمارل شي. تر ټولو مهمه داچې هرکال به په میلیونو ډالر یواځې د ګازو د لیږد له کبله (حق العبور) افغانستان ته ورکول کیږي.

**دریم**: د ترکمنستان سره په ۱۴-۱-۲۰۲۱ درې پروژې د ویدیو کانفرانس له لورې د محمد اشرف غني او د ترکمستان ولسمشر قربان قلی بردی محمدوف تر منځ پرانیستل شوې.

لومړۍ د ۱۰۰۰ کیلوات برق پروژه ده. دوهمه د وسپنې پټلۍ پروژه د اندخوی او آقینه بندر. دریمه پروژه د ۲۵۰۰ میګابایت دلمریز فایبر له طریقه د انترنیت لیږد دترکمنستان دخاورې څخه بیا د هرات تورغندۍ پورې .

**څلورم**: د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اوسپنې پټلي ( ريل خط) پروژه د اتامراد – امام نظر ترکمنستان څخه پيل کيږي وروسې آقينه بندر، اوبيا قندز ته د شيرخان بندر سره يوځآی کيږي. دغه پروژه ولسمشر محمد اشرف غني په ۲۰۱۶ ز په ترکمنستان کې پرانيستله. د يادولو وړ ده چې دغه پروژه اصلاً د ولسمشر حامد کرزي د حکومتولۍ په ترڅ کې د ترکمنستان سره لاسليک شوې وه، د ځينو ستونزو له کبله يې کارونه پرمخ نه ؤ تللي.

**پنځم**: ولسمشر محمد اشرف غني په کال ۲۰۱۸ کې د وريښمنو او لاجوردو ترانزيتي لار پرانيسته. په دې توګه افغانستان خپل تجارتي توکي د فارياب ولايت د آقينه بندر او د هرات ولايت د تورغنډۍ بندر څخه هند، منځنۍ آسيا، ققفاز او د تورې بحيرې څخه بيا اروپا ته ليږدوي.

**شپږم**: د افغانستان او ايران (خواف او هرات) تر منځ د اوسپنې پټلۍ کار په ۲۰۱۸ ز کال کې پيل شو. د دې پروژې دوه برخې د افغانستان په خاوره او دوه برخې يې د ايران په خاوره کې پرمخ بيول کيږي.

د دې ترڅنګ يو بل هوکړه ليک هم د افغانستان، ايران او هند ترمنځ د ايران د چابهار بندر د توسعې د پاره په تهران کې لاسليک شو. چې په دې ډول افغانستان کولۍ شي نه يوازې د کراچۍ (پاکستان) بندر، بلکې د چابهار بندر څخه خپل تجارتي توکي د نړۍ نورو هيوادونو ته صادر او وارد کړي.

**اوم**: د سلما د بند پروژه چې په کال ۱۹۷۶ کې د شهيد محمد داود خان او د هند په مرستو پيل شوه. د دغې پروژې کارونه ټول په ټپه ولاړ ؤ. په ۲۰۰۵ ز کې بيا کارونه يو څه پيل شول، خو بيرته د ايران له لوري او د حامد کرزي د نرم چلند حکومتولۍ له کبله په ټپه ودريد.

د محمد اشرف غني دحکومتولۍ په ترڅ کې د دغې پروژې کارونه بيرته پيل شول او بلاخره په کال ۲۰۱۶ ز کې د ولسمشر محمد اشرف غني او د هند د ولسمشر نرندرا مودي له خوا د سلما بند پرانيستل شو. د هرات په ولايت کې دسلما بند ۴۲ ميګاواټ بريښنا ضرفيت لري. د دې ترڅنګ به دوه لکه جريبه ځمکه خړوب شي.

د سلمابند په پروژې نژدې ۳۰۰ ميليونه ډالره لګښت راغلئ چې د هند د بلاعوضه مرستوڅخه شميرل کيږي.

**اتم**: د نيمروز په ولايت کې د کمال خان بند پروژه په کال ۲۰۱۷ کې د محمد اشرف غني له خوا پيل شوه. محمد اشرف غني د ګاونډيانو (ايران) څخه وغوښتل چې د دې بند د جوړولو ملاتړي اوسي. بلاخره دغه پروژه هم په ۲۰۲۱ د ولسمشر محمد اشرف غني له خوا پرانيستل شوه. د کمال خان بند د ۹ ميګاواټه بريښنا توليد ضرفيت لري.

**نهم**: د خوست بين المللي هوايي ډګر په ۲۰۲۱ کې پرانيستل شو، د عربي متحده ايالاتو څخه الوتکه د خوست په هوايي ډګر کې کښيناسته او خپله محمد اشرف غني مسافرو ته

ښه راغلاست ووایه. زه خپله هم د خوست څخه کابل ته د پنجشنبې په ورځ په ۱۲-۸-۲۰۲۱ راغلم. په ریښتیا هم چې ښکلئ میدان ؤ.

**لسم**: د کابل ولایت د شکردرې په ولسوالۍ کې د بند شاه و عروس پروژه چې څو ځلې یې کارونه پیل او بیرته په ټپه ودریدل. بلاخره کارونه بیا پیل او تر جولای ۲۰۲۱ پورې یې نژدې ۹۰ سلنه کارونه بشپړ شوي ؤ. دغه بند به د ۱.۲ میګاواټه بریښنا ضرفیت ولري. د دې ترڅنګ به ۳۵۰۰ جریبه ځمکه خړوب شي.

## صادرات

هغه هیواد چې په نړۍ کې د مخدره توکو د تولید او قاچاق تر ټولو اوچت نوم درلود، سوکه سوکه راټیټیده، د کوکنارو د کښت ځای زعفران نیوه. د زعفرانو کښت په کال ۲۰۱۸ کې نژدې ۱۶ ټنه ته ورسید. ۹۰ سلنه د افغانستان زعفران بهرنیو هیوادونو ته صادر کیدل. ما خپله د هالند نامتو خوراکه پلورنځي (البرت هاین) کې د افغانستان زعفران رانیول.

برسیره په زعفرانو هینګ (دارویې ګیاه ده چې ډیرئ په بدخشان کې کښت کیږي) هم بهر ته صادره شوې ده. ارزښت یې د کوکنارو څخه لوړ دئ.

د شورویانو د یرغل څخه وروسته کله چې افغانان پاکستان او ایران ته کډوال شول، نو په دغو کډوالو کې ډیرئ قالین اوبدونکو هم پاکستان او ایران ته کډه شول. دوی خپلې دودیزې د قالین اوبدلو فابریکې او دستګاوې هم له ځانه سره پاکستان او ایران ولیږدولې.

تر نژدې اویایمو زیږدیز کلونو پورې زموږ د ګران هیواد افغانستان قالینې په نړۍ کې ډیرې مشهورې وې او ښه صادرات مو درلودل.

د تیر نژدې څه د پاسه دیرش کاله راهیسې د افغانستان قالینې به ډیرئ په پاکستان او په ایران کې جوړیدې (فابریکې، دستګاوې او پرسونل یې افغانان ؤ) او د پاکستان او ایران د قالینو په نامه به اروپا، امریکا او نورو هیوادونو ته صادر کیدلې. خو د خوښۍ ځای ؤ چې زموږ کلنې صادرات د محمد اشرف غني وروستي کال (۲۰۲۰ز) کې په ټولیزه توګه نژدې ۶۰۰ میلیونه ډالرو ته ورسید. داسې اټکل شوي ؤ چې په راتلونکو څولنډو کلونو کې به د افغانستان صادرات یومیلیارد ډالرو ته اوچت شي. ترټولو عمده دلیل یې د شمالي ګاونډیوهیوادونو، چین او ایران ته بندرونو د خلاصون ؤ. په بله وینا چې نور زموږ صادرات یواځې پاکستان پورې منحصر نه ؤ پاتې شوي.

## امریکایانو د کومو موخو له پاره پر افغانستان یرغل وکړ

کله چې د طالبانو رژیم د لومړي ځل د پاره په ۱۹۹۶ ز کال په افغانستان واکمن شو، نو د دوی حکومت د پاکستان او څو محدودو هیوادنو څخه پرته چا په رسمیت ونه پیژانده.

څه موده وروسته امریکا د طالبانو څخه وغوښتل چې د القاعده مشر اسامه بن لادن دې د امریکا دولت ته ځکه تسلیم کړي چې د امریکا دولت دپاره په مختلفو تورونو تورن دئ. خو طالبانو د امریکا دغه غوښتنه ونه منله. دلیل یې هم دا وړاندې کړ چې که تاسو د اسامه بن لادن په هکله کوم ثبوت لرئ نو په اسناد سره هغه موږ ته وړاندې کړئ. امریکا په هیڅ وجه دغه ثبوت طالبانو نه ورښکاره کاؤ. خو طالبانو ورسره دا ونه منله. په دې ډول د دوی حکومت چا په رسیمت ونه پیژاند.

د ۱۱ د سپتمبر ۲۰۰۱ د تروریستي پیښې څخه وروسته امریکا د افغانستان (طالبانو) اسلامي امارت رژیم څخه په ټینګه بیا وغوښتل چې اسامه بن لادن او د القاعده ټول غړي چې په افغانستان کې شتون لري امریکا ته وسپاري. طالبانو بیا دا غوښتنه ونه منله، او خپل پخوانۍ دلیل یې وړاندې کړ. پایله دا شوه چې امریکا پر افغانستان یرغل وکړل او د طالبانو اسلامي امارت ریژیم یې د دؤ میاشتو په ترڅ کې دړې وړې کړل.

د امریکا ولسمشرپه ۷ د اکتوبر د ۲۰۰۱ پر افغانستان د حملې فرمان صادر کړ.

نو ویلئ شو چې په ظاهره کې خو امریکا او دهغه متحدین د دوی په قول ځکه افغانستان ته راننوتل چې القاعده او تروریزم لمنځه یوسي. ځکه دا د دوی او سیمې دپاره ستر ګواښ ؤ. د دې ترڅنګ بیا وروسته د کوکنارو کښت ورسره جوخت د مخدره توکو تولید او قاچاق او وروستۍ اداري فساد له منځه وړل هم پرې ور زیاد شول.

په دسمبر د ۲۰۰۱ ز کال د بن کنفرانس دایر شو او حامد کرزئ لومړئ د افغانستان د موقتي ادارې ریس او ورپسې دلویې جرګې د پریکړې پر بنسټ د افغانستان د انتقالي دورې ریس وټاکل شو.

وبه ګورو چې په تیرو ۲۰ کلونو کې چې دوی دلته راغلي ؤ، کوم یو د دغو پورتنیو ژمنو څخه پوره کړئ شول.

**لومړئ القاعده او تروریزم:**

امریکا چې کله په افغانستان یرغل وکړ، چې ګواکي د القاعدې شبکه له منځه یوسی. البته په دې هکله تر یو حده بریالي شول، خو په غلط آدرس راننوتي ؤ. ځکه لس کاله وروسته په ۲۰۱۱ ز کې د القاعدې مشر اسامه بن لادن د پاکستان په ابټ آباد ښار کې د امریکا د سي آی اې د ځانګړو ځواکونو له خوا ووژل شو. ځکه نو ویلای شو چې تر یوې اندازې د القاعدې په له منځه وړلو کې بریالی شول.

په کال ۲۰۰۱ کې یوه تروریستي ډله د القاعدې په نامه په افغانستان کې فعاله وه خو القاعده نه یوازې په پوره توګه له منځه ولاړه نشوه، بلکې شل نورې لویې او وړې تروریستي ډلګۍ په افغانستان کې حضور وموند، چې له دې جملې څخه تر ټولو ستره او ځواکمنه اوس د داعش تروریستي ډله ده.

په دې اړه د افغانستان پخواني ولسمشر حامدکرزي د امریکا اشنا تلویزیون د پښتو څانګې سره په مرکه کې په ډاګه وویل چې: *داعش د امریکایانو له لوري په آګاهانه ډول پرېښودل شول چې افغانستان (شینوارو ولسوالی) ته راننوځي. د داعش پروړاندې د سیموخلک پاڅیدل او وسله وال غبرګون یې وکړ د جګړې په ترڅ کې امریکایانو پر افغانانو بمباری وکړې. امریکایانو زموږ په هیوادوالو د بمونو مور هم استعمال کړه.*

پوښتنه پیدا کیږي چې آیا دا د امریکا حکومت نه ؤ چې د پخواني شوروري اتحاد له منځه وړلو د پاره همدغه اسامه بن لادن (یا القاعده) او پنځلس اسلامي جهادي تنظیمونه په پاکستان او ایران کې ایجاد، حمایت، تقویت، هراړخیز ملاتړ یې وکړ چې د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په ضد وجنګیږي؟

آیا په دې کې شک شته چې ټول تش په نامه جهادي تنظیمونه (جهادي ټیکه داران) په سرکې د امریکا، سعودي عربستان، ایران، پاکستان او ځینو نورو هیوادونو له لوري تمویل، حمایت او ملاتړ کیدل؟

د شرم ځای خو دادئ چې دغو تنظیمونو د خپلو شخصي ګټو په خاطر همدغو هیوادونو ته لاسپوڅي او جاسوسي کوله. دوی هیڅکله د زړه څخه جهاد نه کاؤ. یوازې د شخصي ګټو پخاطر تش په نام جهاد ؤ. البته چې دا د نوی یمو زیږدیزوکلونو راهیسې ټولو ته ثابته شوه، زیاته تبصره پرې ځکه نه کوم چې په اړوند ځای کې پرې بحث شوئ دئ. ډیر د بدبختی ځای دا دئ چې همدا اوس هم دوی خپلو جاسوسیو ته دوام ورکړئ.

ځکه خوویلای شو چې دا امریکا او انګلستان ؤچې القاعده یې ایجاد کړه. تر هغه وخته چې تري ګټه پورته کیدله، ګټه یې ځنې واخیستله ، کله چې هرڅه بربنډ او رسوا شو. یولسم د سپتمبر (۲۰۰۱) کال تروریستي پیښه وشوه، نو یوازې پاتې نړی نه بلکې خپله د امریکا عام ولس په دې پوه شو چې القاعده د امریکا او د هغه متحدینو دپاره ګواښ دئ،

نو مجبور ۇ چې غوڅ اقدام یې کړئ وئ، که څه هم لس کاله نور یې ورته وکتل بیا یې په ۲۰۱۱ کې اسامه له منځه یووړ چې خپل ولس ته جوته کړي ګواکې موږ په رېښتیني توګه د القاعدې په ځپلو پسې یو او دا دئ اسامه بن لادن مو له منځه یووړ.

**دوهم نشه یي توکي:**

د کوکنارو کښت او د مخدره توکو تولید او قاچاق د امریکا او متحدینو په راننوتلو سره کال په کال په بی ساري ډول زیاد کیدل.

81

د ملګروملتونو د مخدره توکو د جرایمو پروړاندې مبارزې دفتر (**یو ان او دي سي**) د خپور شوي احسایې پر بنسټ د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۰ م کلونو کې یواځې د افغانستان څخه ۷۰ میلیارده ډالرو په ارزښت مخدره توکي تولید شوي. چې له دې جملې څخه ۶۸ میلیارده ډالر یې د افغانستان څخه بهر مافیایي کړیو او قاچاقچیانو جیبونو ته لویدلي.

همداراز یواځې ۲۰۰ میلیونه د دولت مخالفینو لاس ته ورغلي ۇ، او ۲ میلیارده یې قاچاقبرانو او کرونګرو ترلاسه کړي ۇ.

که چیرې راننوتي بهرنیان په ټینګه غوښتلئ چې د کوکنارو کښت له منځه یوسي، نو هرولایت ته یواځې د کښت شویو ځمکو دپاره سل تنه بهرني عسکر بسیا کوله. هرولایت ته ۵ تراکتوره په کار ۇ. د کوکنارو کښت دې ټول په بل مخ کړئ وئ. او یا بهرنیانو په خپلو الوتکو سره د کوکنارو کښت د دوا شیندني په واسطه له منځه وړئ وئ. ځکه خو ویلئ شم چې بهرنیانو تش په نامه مبارزه کوله، خو اصلاً یې نه غوښتل چې د مخدره توکو تولید کم شي بله داچې نړیوالې ټولنې کولئ شول چې د قاچاقبرانو بانکي حسابونه کنګل کړي وئ، چې دا یې نه کول.

بهرنیانو ځکه نه غوښتل چې په دغو توکو کې کمئ راشي، ځکه دوی ورته خپله اړتیا درلوده. د فارمسي په فابریکوکې د دواګانو په جوړښت کې همدغه مخدره توکي استعمالیږي.

---

81 https://csrskabul.com/?p=5410
مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوی د سیات څخه اخیستل شوی
(سرچشمه ای برای تمویل جنګ در افغانستان)

**دريم اداري فساد:**

اداري فساد د حامد كرزي په ډېر پوست (نرم) سياست چلولو سره ايجاد شو. حامد كرزئ مخكې له دې چې امريكايان په افغانستان يرغل وكړي، له هغه وخته تر ننه (فبروری ۲۰۲۲) پورې داسې سياست مخته وړي چې هيڅ افغان له ځانه نه خوابدئ كوي. دا ډېره ښه خبره ده چې څوک له ځانه خوابدئ نه كړي. خو نه دومر نرم چلند چې له كبله يې د افغانستان نوم په نړۍ كې وشرماؤ.

په خواشينۍ چې حامد كرزي په پيل كې د جنګي جرمنو سلار عبدالرشيد دوستم، محمد محقق، قسيم فهيم، عطا محمد نور، اسماعيل ، حاجي قدير، ګل آغا شيرزئ په ټوليزه توګه شمالي ټلواله دومره ونازوله چې د نيمژواندو پيشوګانو څخه يې غښتلي زمريان جوړ كړل.

همدغه زورواكي فاسده ډله وتوانيده چې ټول واک پخپل لاس كې واخلي او حامد كرزئ يواځې تش په نامه ولسمشر ؤ. واک ټول په ځانګړي ډول د قسيم فهيم ؤ. په پيل كې امريكايان او متحدين د حامد كرزي  پوره ملاتړي ؤ، خو ويې نشو كولای پس له هغې چې د انتقالي دورې ولسمشر شي او ياهم د ټول ټاكنو ( ۲۰۰۴ز) څخه وروسته دغه فاسدې څيرې د واک څخه بيواكه كړي.

په پوره ډاډ سره ويلای شم چې كه حامد كرزي دغه ډلې ټپلې بې واكه كړې وای او كار د كار اهل ته سپارل شوئ وئ، هم به امريكا او متحدين خوښ وئ هم به زموږ هيواد د فساد څخه پاک وئ. نه به مافيايي كړيو دلته حضور موندلئ وئ، نه به زموږ هيواد د نړۍ فاسدترين او نشه يي توكو ستر توليد كوونكئ وئ. نه به مفسدين او ميلياردرانو شتون درلودئ. ضرفيتونه به ايجاد شوې وئ او بلاخره به افغانستان د پرمختګ د ګلانو په بڼ كې غوړيدلئ وئ.

بې ځايه به نوي چې دلته هم يادونه وكړم چې يواځې حامد كرزي هم د دغو جنګسالارانو او غاصبينو ته واک نه ؤ وركړئ، اصلاً خو په سر كې امريكا همدغه ډلې ټپلې راټولې كړې او ډېر واک، پيسې او سلاح يې وركړه. په شمال كې شمالي ټلواله جمع دوستم، په سهيل كې ګل آغا شيرزئ او انډيوالان يې، په ختيځ كې د قدير كورنۍ او په لويديځ كې اسماعيل.

امریکا خو لوړ تحصیل کړي په هیواد مین خلکو ته چې هیڅ واک یې هم نه درلود او لاسونه یې هم د خپلو هیوادوالو په وینو سره نه ؤ واک نه ورکاؤ. امریکایانو خو همداسې خلک په کار ؤ لکه چې پورته یې یادونه وشوه.

امریکا او محتدینویې د تیلو پمپ په شان ډالر افغانستان ته را استول. دلته په هیڅ وجه دومره ضرفیت د ډالرو مصرفولو شتون نه درلود. د هر مالي کال په پایله کې به چې شمیرنه کیده، نو هیڅ وزارت شتون نه درلود چې خپله کلنۍ بودیجه یې مصرف کړي وي. لومړئ خو دا چې وزیر او نور مامورین یې خامخا مسلکي خلک نه ؤ چې بنسټیزې پروژې ایجاد کړي. په داسې حال کې چې د ښو اوږد محاله او لنډ محال پلانونو طرحه کولو سره، نه یواځې کلنۍ بودیجه یې مصرف کړې وئ حتا باید کمښت په کې راغلئ وئ.

په دې ډول د ضرفیت نه شتون لرلو سبب دا شو چې ډالر اضافه پاتې شي، او یا خو په پوهاوي بودیجه نه مصرفیده او دې خپله یوه غټه ضمینه د فساد ایجاد کړه.

بله دا چې که چیرې کومه کوچنۍ پروژه په یو وزارت کې ایجاد کیدله نو په ډاډ سره ویلئ شم چې ۶۰٪ سلنه بودیجه حیف او میل کیدله او پاتې یې په یو بې کیفیته پروژه کې په مصرف رسیدلې.

دا هم په ډاډ سره ویلئ شم چې هیڅ وزیر (پرته د ګوتو په شمیر، لکه رمضان بشر دوست او څو نور) تر وړوکي مامور پورې یوه عریضه یا مکتوب پرته د رشوت څخه نه لاسلیک کاؤ. همدا ډول هیڅ ټیټ پوړئ مامور تر والي پورې په ولایت کې پرته د رشوت څخه نه مقرر کیده. او بلاخره د ولسي جرګې او مشرانو جرګې وکیلان پرته د لکونو ډالرو په رشوت سره نه مقرر کیدل (پرته د څو ګوتو په شمیر وکیلان).

بلاخره پایله دا شوه چې وزیران، د وزیرانو ځیني ورونه او د دوی خپلوان، والیان، وکیلان، جنګي قومندانان، دجنګي جنایتونو ناقضین، د عامو خلکو د ځمکو، کورنو او نورو شتمنیو غاصبین ترې جوړ شول. دوی ټولو په لسګونو او سلګو میلیونونو ډالرو څیښتنان شول، حتا د شمال امپراطور خو پکې میلیاردر شو. په افغانستان کې څه پاتې نه شول چې راویې نیسي. خبره بهر ته شوه، په دوبئ، ترکیه، جرمني او ځینې نورو هیوادو کې یې کورونه او پانګونې وکړې.

په دې ډول کله چې خبره بین المللي شوه، نو پخپل زات کې مافیایي کړۍ کې ورګډ شول، ځکه خو ویل شو چې دغه ښاغلي د مافیایي کړۍ غړي شول.

نو ویلئ شو چې په دې ډول په اداري فساد کې ډوبه حکومتولي محمد اشرف غني ته په میراث پاتې شوه.

دا ډیره ګرانه وه او ده چې په دې کچه فاسد رژیم د فساد څخه په آسانه یا ژر خلاص کړئ شي. په داسې حال کې چې ټول واک او ځواک د یو هیواد د مافیایي کړۍ په لاس کې وي.

ستر عامل یې بیا هم بهرنیان ؤ. دا ځکه چې که اشرف غني به کوم فاسد شخص له دندې ګوښه کاؤ، نو د بهرنیانو په مداخلې سره به بیرته وګمارل شو. دې ته ورته ډیرې نورې بیلګې هم شته. په دې مانا چې د اداري فساد زمینه هم بهرنیانو تقویه کړه او هم د بهرنیانو له لوري حمایه کیدله. ځکه خو اداري فساد هم د بهرنیانو له برکته له منځه ولاړ نه شو.

موږ ولیدل چې القاعده له منځه ولاړ نه شوه. د بهرنیانو د راننوتلو په وخت کې که یوه تروریستي شبکه (القاعده) موجوده وه، اوس شل نورې تروریستي ډلې پیدا شوې.

په افغانستان کې وروستي څلویښت کلونه ثابتوي چې د پاکستان هیواد تروریستي ډلې جوړوي، حمایه، تقویه او ملاتړي یې کوي. دوی ته ځوک سلاح او مهمات ورکوي. دا سلاح او مهمات د کومو ملکونو دي. دا جوته ده بیا بحث پرې نه کوم.

همدارنګه مخدره توکي نه یواځې ورک یا کم نه شول، بلکې د امریکا او متحدینو په راننوتلو سره په بې ساري ډول زیاد شول. حتا د نړۍ تر ټولو ستر د مخدره توکو تولید کوونکئ هیواد ثابت شو. د نړۍ نژدې ۹۰-۸۰ سلنه مخدره توکي افغانستان کې تولیدل. یواځې دا شرم د افغانستان د پاره نه ؤ بلکې په فساد کې هم د نړۍ په کچه فاسدترین هیواد وګرځید.

په داسې حال کې چې دغه عناصر (القاعده -تروریزم، مخدره توکي، اداري فساد) باید کم شوي وئ چې ونه شول.

***په لنډه توګه ویلای شو چې دغه نظریه چې امریکایان او متحدین یې د القاعدې، تروریزم، مخدره توکي او اداري فساد د منځه وړلو دپاره راننوتي ؤ غلطه ثابته شوه.***

دا وه پایله د امریکا او د هغه د متحدینو چې پر افغانستان راننوتل او د دوی په بې مسوولیته وتلو سره د کابل په هوایي ډګر، بګرام او ځینو نورو نظامي اډو کې هرڅه وران، ویجاړ او په کنډواله بدل پریښودل شول.

دوهم ځل کابل ته د طالبانو په راننوتلو سره زه خپله په کابل کې وم او په ۲۵-۸-۲۰۲۱ کله چې د کابل هوايي ډګر ځخه راوتلم نو ما هرڅه په خپلو سترګو ولیدل، چې امریکایانو په څه وحشیانه توګه هرڅه وران کړي ؤ.

ځکه خو تکرار وایم دا چې امریکا او متحدین یې افغانستان ته د القاعده - تروریزم، مخدره توکي او اداري فساد له منځه وړلو دپاره راغلي ؤ، بلکل غلطه ثابته شوه.

په دې هیله چې په افغانستان کې یو غښتلۍ او با ثباته حکومت رامنځ ته شي، نو بیا دې د افغانستان حکومت د ملګروملتونو د سازمان او نورو نړیوالو سازمانونو له لیارې د امریکا ځخه دا پوښتنه وکړي، د څښي د پاره چې تاسې راغلي وی، هغه خو مو لا پسې ډیر کړل، بناءً باید امریکا د شل کلن جنګ چې په لس ګونو زره افغانان یې ووژل. کلي یې بمباردمان کړل. روغتونونه یې بمباردمان کړل. ښارونه یې بمباردمان کړل. په دې ډول باید د امریکا څخه د جنګ غرامت غوښتنه وکړي. د دې بابیزه جنګ قیمت دې ترې وغواړي.

امریکایان باید دې ته ځواب ووایي چې د څه دپاره دلته راغلي ؤ؟ امریکا او متحدینو یې ولې زموږ پر هیواد یرغل وکړ؟

د یولسم د سپتمبر ۲۰۰۱ کال پیښه کې که القاعدې لاس درلود، نو مشر یې اسامه بن لادن خو لس کاله نور په پاکستان کې ژوند وکړ. د امریکایانو پخپله وینا چې په دغه برید (۱۱-۹-۲۰۰۱) کې له ۱۹ تنو ځخه یو هم افغان ثابت نه شو.

نو بیا یې پرموږ ولې بمبارۍ کولې؟ ولې یې پاکستان نه بمبارد کاؤ؟ چې د القاعده ځالي او مشر یې هلته اوسیده؟

امریکا یو ځبر ځواکۍ هیواد دۍ. هرڅه چې په هر هیواد کې وغواړي هغسې کوي او کړي یې هم دي. لکه څنګه مو چې وویل امریکا ځبرځواک هیواد دۍ، نو د خپل ځان د پاره د امکان په صورت کې بل ځواکمن سیال په سیمه کې نه پرېږدي.

امریکا پرعراق، سوریه او لیبیا باندې یرغلونه وکړل، هسې پلمې یې ورته لیدلې، په یوه او بله پلمه یې نړیوال له ځان سره متحد کړل او په دغو هیوادنو یې یرغل وکړ.

امریکا نه غواړي چې یو بل ځواکمن هیواد په نړۍ کې شتون ولري. دغه پورتني درې عربي هیوادونه په عربي نړۍ کې ستر نظامي ځواکمن هیوادونه ؤ. پاتې عربي هیوادونه خو د امریکا لاس پاکي دي.

د دغو درې عربي هیوادونو څخه د ټولو پاتې عربي هیوادونو ویره کیدله. ښکاره خبره ده چې د نورو عربي هیوادونو په خوښه امریکا ددغو درې هیوادونو اقتصاد د خاورې سره خاورې کړل. په لکونو مسلمانان ووژل شول او په میلینونو ټپیان شول. پس له هغې لکه زموږ هیواد ترې ووتل او هر څه یې هماغسې ککړ پرېښودل. په ډاډ سره ویلئ شم چې په راتلونکي ۲۵ کلونو کې به دغه درې عربي هیوادونه بیرته خپل پخواني حالت ته راونه ګرځي. په همدې ډول زموږ هیواد هم.

په نړۍ کې هیڅ داسې هیواد نشته چې په نظامي لحاظ دې د امریکا سره ډغرې ووهي. یواځې روسیه ده. روسیه یې هم د اوکراین په وجود کې په جنګ کې ککړه کړه. په دې تړاو اړوند څېرکي کې پرې بحث شوئ دئ.

لکه څنګه چې د نړۍ تاریخ ښودلي ده که د یو ځواکمن هیواد څخه یو ضعیف هیواد جوړیږي، نو سبب یې په سرکي خپل هیوادوال دي. دوی ته هیوادوال نه، بلکې پردیپال ویلئ کیږي. دغو پردیپالو هیوادوالو سره بهرنیان مالي مرسته کوي. پایله داشي چې د شخصي ګټو په خاطر ملي ګټې او ملي شتمنۍ، ځمکنۍ بشپړتیا د پښو لاندې شي.

په افغانستان، عراق، لیبا او سوریه کې ټول د ستر ښکیلاکګر امریکا همدا یو ډول سناریو په کار لویدلي ده.

په عربي نړۍ کې که عراق، لیبیا، او سوریه ځواکمن نظامي ملکونه ؤ، خو زموږ هیواد ګران افغانستان ځواکمن نظامي هیواد نه ؤ. نو ولې یې زموږ پر هیواد یرغل وکړ؟

***زما په آند امریکا او متحدینو یې په دې لاندینیو دلایلو سره زموږ په هیواد یرغل وکړ:***

82

**لومړئ**: لکه څنګه چې څرګنده ده هر هیواد خپل ځانته لنډ محاله او اوږد محاله پلانونه لري. په تیره بیا ښکیلاکګر هیوادونه لکه امریکا او انګلستان ډیر اوږد محاله راتلونکي پلانونه لري.

ښکیلاکګر هیوادونه د خپلو ملي ارزښتونو او ګټو په پام کې نیولو سره د نورو هیوادونو سره هوکړې کوي. کله چې د هوکړې څخه وروسته دوی ته څرګنده شي چې په دې هوکړه کې د دوی ګټه لږه ده، یا هم کوم تاوان شته او یا هم تر دې په بل څه کې ورته

82 http://afghanpaper.com/nbody.php?id=11294
شبکه اطلاع رسانی افغانستان څخه را اخیستل شوئ

ډېره ګټه شته نو بیا هیڅ ډول هوکړې ته هم ژمن نه پاتې کیږي او په ډیره سپینسترګۍ په خپلو ژمنو پَل ږدي او مات یې کړي (لکه زموږ سره د بهرنیانو ژمنې).

زما په آند به د سپوږمکیو پواسطه ډیر پخوا د امریکایانو له لوري د افغانستان سهیلي او سهیل لویدیځو سیمواو یا ځینو نورو سیمو کې خام توکي کشف شوي ؤ. ښکیلاکګر هیوادونه کله په بې وزلو هیوادونو پیرزو وي چې شتمن هیواد شي. نو دا یې پلان کړه چې په څه ډول افغانستان ته ننوځي.

په کال ۲۰۱۰ کې د شبکه اطلاع رساني افغانستان (افغان پیپر) له قوله چې د امریکا د فاع وزارت ویلي د افغانستان  په جنوب او ختیځو سیموکي د لیتیوم، وسپنې، مس او طلا ستر بی ساري عظیم معادن کشف کړي دي. تر ټولو مهم فلز یې لیتیوم دئ. د پنتاګون په وینا چې دغه فلزات به د یو ترلیبیون ډالر څخه زیاد قیمت ولري. (*خو زما په ګمان چې کشف شوي عناصر به د یو ترلیبیون څخه ډیر زیاد وي، خو دا به راتلونکئ ثابت کړي چې څومره ؤ*).

دغه معادن د پنتاګون او د امریکایي ځمکه پیژندونکو له خوا پیژندل شوي دي. د دغه راپور په بنسټ افغانستان به د دغو فلزاتو درلودلو سره په نړۍ کې تر ټولو ستر صادر کوونکئ هیواد وي.

په همدی کال ۲۰۱۰ ز کې بیا د امریکایي او افغاني جیولوژستانو د ګډ کار په نتیجه کې دغه خبره ومنل شوه چې په رینتیا سره هم په همدغه پیمانه معادن شتون لري. د افغانستان لیتیوم دومره ډیر دي چې تر اوسه په نړۍ کې بل هیواد دومره لیتیوم نه لري. که چیرې په ښه ډول د دغو معادنو څخه استخراج وشي، نو افغانستان به انشاالله چې په اقتصادي لحاظ په خپلو پښو ودریږي. دا ځکه چې نن سبا دغه لیتیوم ته ډیره اړتیا شته. اوس پخوانۍ نړۍ نه ده هرڅه کمپیوترایز شوي دي. د لیتیوم څخه د لپ تاپ، ګرځنده تلیفون او ځینو نور بریښنایي وسایلو په بترۍ کې ترې استفاده کیږي. پر بریښنایي وسایلو برسیره په طبابت کې د مریض دیپریشن (ژور خفګان- افسردګي) توپ حالت کې هم ترې استفاده کیږي.[83]

همدارنګه د ۲۰۱۰ ز کال د جون په میاشت کې د هالند دولت د ان او اس د  راډیو / تلویزیون دا خبر د نیویارک تایمز ورځپاڼې په حواله خپور کړ چې په افغانستان کې د زرمیلیارده ډالرو څخه زیاد معادن (لیتیوم، طلا، مس، وسپنه) کشف شوي دي.

*زما یو اشنا (دوست) چې اصلاً د قندهار ولایت اوسیدونکئ ؤ، هغه ته یې یو دوست چې د امریکایانو اډې ته تګ راتګ درلود، د نن څخه لس دولس کاله دمخه را ته وویل چې*

[83] https://nos.nl/artikel/164435-afghanistan-rijk-aan-mineralen

*قندهار ته تللئ وم، او .... نوم يې نه اخلم، ورته قصه کوله چې د قندهار هوايي ډګر ته په امريکايي غټو موټرو کې غټې ډبرې او خاورې راوړل کيږي. ځکې غونډۍ ترې جوړې شې يوه يا دوه ورځې وروسته توري غټي امريکايي الوتکي راشي.، بيا دغه ډبرې او خاورې هم ورکې شي (له ځانه سره يې وړي). نپوهيږو چې دوی ترې څشئ جوړوي. د امريکايانو ساحې ته نژدې د ۵۰۰- ۱۰۰۰ متری ته لنډ ځوک نه ورپرېږدي. ساحه ټوله د دوی په لاس کې ده.*

*برسيره پر دې زموږ يو بل خپل او زما دوست چې په بدخشان کې اوسيده، د هغې د خولې قصه ده چې بدخشان ته به لويې لاری سره د بهرنې عسکرو (دوی نه پوهيدل د کوم هيواد) راغلې ډيرې غټې ډبرې به يې پکې بار کولې او يو به يې وړلې (د دوی په ګمان د لاجوردو، زمرتو او نور قيمتې غميو ډبرې).*

نو په هغه وخت کې هم د قندهار خلک په شک کې ؤ چې امريکايان څشې له دې سيمې څخه باسي.

همدارازد ناټو په کلنۍ غونده کې چې د اګست په پنځلسمه کال ۲۰۰۵ کې جوړه شوې وه د کانادا جنرال اندريو لېسلي

*Andrew Leslie*

داسي وويل: *په افغانستان کې داسې شيان شته چې د جنګ ارزښت لري. نوموړي زياته کړه چې هلته داسې شيان شته چې ځانونه پرې ووژنو او هم پرې نور ووژنو نو په دې خاطر مونږبايد خپل سرتيري لږ تر لږه ترشلو کلونو پورې هلته ولرو تر څو خپل ټاکل شوي اهداف تر لاسه کړو.* په تصادفي ډول او يا هم په پوهاوۍ توګه دوی شل کاله وروسته ووتل.

**دوهم:** زموږ د هيواد ستراتيژيک موقعيت د دې سبب ګرځيدلئ چې امريکا او متحدين يې پر موږ يرغل وکړي. دا په دې مانا ده چې موږ په وچه کې پراته يو. زموږ هيواد د هغو هيوادونو سره ګاونډيتوب لري چې د امريکا او دهغه د متحدينو د سترګو ازغي دي، لکه ايران، چين او روسيه.

که څه هم د روسيې سره زموږ پوله شريکه نه ده، خو د منځنۍ آسيا هيوادونه هم ټول تر ډيرې اندازې د اوسنۍ روسيې د اغيزې لاندې هيوادونه دي. نو امريکا غوښتل چې افغانستان ته راشي ترڅو پورته ياد هيوادونه دنژدې څخه تر خپلې څارنې لاندې وساتي.

**دريم:** لکه څنګه چې جوته ده چين د نړۍ د هرڅه بازار په خپل انحصار کې نيولي دئ. هرڅه نړۍ ته توليدوي، خو د لويديځې نړۍ جمع امريکا (ناټو هيوادونه) په پرتله ډير ارزانه دي. دا ځکه چې د کار مُزد په لويديځه نړۍ کې اوچت او په چين کې ډير ټيټ

دئ. په دې ډول لویدیځه نړۍ د چین سره په هیڅ ډول سیالیتوب نه شي کولئ. دا د لویدیځې نړۍ دپاره یو ستر اقتصادي تاوان دئ.

د چین او د روسیې په تړاو ځکه پر همدومر لیکلو اکتفا کوم چې په اړوند ځای کې پرې مفصله توګه بحث شوئ دئ.

وګورۍ د مطلب عنوان دئ: *په افغانستان کې د نیابتي نوې جګړې څرک او د ځبرځواکونو ښکر په ښکر کیدل*

## لنډیز:

پورتني درې واړه دلایل زما په آند معقول او منطقي دي. لومړنئ خو یې ځکه ډیر پرځآی ښکاري چې په دې شلو کلونو کې به امریکا لیتیوم د افغانستان څخه بهر کړي وي. خپل د شل کلن جنګ مصارف یې هم کښلي (*ځکه مې دمخه یادونه وکړه چې نوی کشف شوي عناصر به د یو تریلیون څخه ډیر وي*) او دومره څه به یې نه وي پریښي، که وي هم لږ به پاتې وي. نو پریښي یې نه دي چې چینایان او یا روسیه دغو بې ساري ستروا‌و عظیمو معادونو ته لاس رسئ ومومي. په دې مانا چې د لوګر ولایت د عینک مسو کان په شان د افغانستان حکومت له چین سره د معادنو په استخراج کې هوکړه لیک ونه کړي.

که هرڅومره فکر وکړو نو څنګه به دې پایلې ته ورسیږو چې ولې امریکا په افغانستان یرغل وکړ. شل کاله دلته وجنګیده. په سلګونو میلیارده ډالر یې مصرف کړل او په پایله کې بې مسؤلیته وتل ؤ.

ځکه خو زه په دې باور یم چې امریکایان په سر کې دا پلان نه ؤ چې بیرته به د افغانستان څخه ووځي، ځکه ښه موقعیت لري د چین، روسیې او ایران د زنې لاندې به ورته پراته وي.

دغه وروستئ پلان بیرته بدل شو ویې غوښتل چې بهتره ده چې داسیمه د چین او روسیې د پاره نارامه او بې ثباته کړي. دا ورته ډیره ارزانه تمامیږي، نسبت دې ته چې دوی خپله دلته حضور ولري. په پیل کې به دغو هیوادونو ته سرخوږئ او په پایله کې به په جګړه کې ښکیل شي.

ښه لاره دا ده چې بیا پخواني ښسټپال او یا نور نوي ښسټپال په پاکستان کې ورو‌زي او دغو سیمو یا لااقل د دغو سیمو پولو ته یې واستوي.

ځکه خو امریکا دا بهتره وبلله چې خپلې پښې سپکې کړي. تش په نامه د طالبانو سره د سولې پروسه پیل کړي او بلاخره د افغانستان اسلامي جمهوري نظام له منځه یوسي او طالبان واک ته ورسوي، چې همداسې هم وشول.

د دې ترخنګ یې شل ترهګرې ډلې جوړې کړې چې خپله افغانستان بې ثباته وساتي په پیل کې ګوانډ، سرخوږئ چین او روسیې ته وي. وروسته به په جګړه کې ورسره ښکیل شي.

امریکایانو په پوهاوی ډول د سولې په پروسه کې د افغانستان حکومت څنډې ته کړ، او طالبان چې د افغانستان د حکومت په وړاندې یوه ډله وه دومره لوړ سیاسي ارزښت ورکړ لکه یو خپلواک هیواد.

طالبانو ته یې د قطر په دوحه کې سیاسي دفتر پرانیست. هغه طالبان چې د امریکا په تورلیست کې شامل ؤ د نړۍ هیوادونو ته رسمي سفرونه وکړل. طالبانو ته یې د یو خپلواکه هیواد حکومتي چارواکو په سترګه وکتل.

بلاخره په بله وینا یې طالبان په رسمیت وپيژندل چې په پایله کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ په دوحه کې په فبرورۍ د ۲۰۲۰ کې هوکړه لیک لاسلیک شو. په دې ډول یې غوښتل چې ځانته په ساده اصطلاح د اوړو پزه جوړه کړي او د افغانستان څخه ووځي.

لنډه داچې طالبان په ۲۰۲۱-۸-۱۵ کابل ته راننوتل او ولسمشر محمد اشرف غني د افغانستان څخه ووت. هغه څه پیښ شول چې هیڅکله یې هم امریکا او هم بل هیواد وړاندوینه نه شوه کولئ.

دا دئ شپږمیاشتې د طالبانو د ټول افغانستان په واکمنۍ تیرې شوې. امریکا تراوسه طالبان په رسمیت ونه پیژندل. هماغه دوه مخي کوم چې د محمد اشرف غني سره کیدله اوس بیا هماغه دوه مخي د طالبانو اسلامي امارت سره کیږي. دوی ته پلمې جوړوي چې باید د ښځو حقوقو ته درناوئ وشي. نجوني او هلکان ټول ښوونځیو او پوهنتونونو ته وکولای شي لاړشي. ښځو ته کارکولو حق ورکړل شي. د بیان آزادي پلئ شي. ټول ګډونه حکومت جوړ شي او دی ته ورته ټول هغه څه کوم چې ۶ میاشتې مخکې د ولسمشر محمد اشرف غني په حکومتولۍ کې شتون درلود.

پوښتنه پیدا کیږي چې ولې د امریکایانو په خوښه شته نظام، شل کلنه لاسته راوړنه لمنځه یووړل شوه چې اوس یې امریکا او پاتې نړۍ بیرته هماغه حالت د طالبانو څخه غوښتنه لري؟

که چیرې د محمد اشرف غني حکومتولي یوه ښه نظام ؤ نو ولې یې ړنګ کړ، که بد نظام ؤ ولې یې بیرته عیناً هماغه ډول نظام او حتا هماغه جاسوسان کوم چې پخوا ؤ، اوس د طالبانو په حکومتولۍ کې شاملول غواړي؟

په لنډه کې ویلای شو چې دا ټولې هسې پلمې او بهانې وې او دي. امریکا په لیتیوم او نورو عنصرو پسې راغلي غله ؤ، غلا یې وکړه بیرته ووتل. بله مهه دا چې امریکا په سرکې او متحدین یې ورپسې غواړي د لوي افغانستان سیمه د روسیې او چین دپاره بې ثباته او نارامه وساتي. د دغې سناریو پلي کولو د پاره چې خدای دې نه کړي چې داسې شي، امریکا به دا هڅه وکړي چې لوی افغانستان تل یو ضعیف، بې ثباته او غیر ځواکمن رژیم ولري. لوی افغانستان به تر هغو بې ثباته وي چې د امریکا موخې تر سره شي. دا چې بیا د امریکا موخې کله ترسره کیږي؟ آیا د امریکا په پلانونو کې بدلون راځي؟ آیا د نړۍ اوسنۍ حالات به تر کله په دې شکل پاتې کیږي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دې چې یو بل سره د زنځیر کړیو په شان تړاو لري، د دغو کړیو په شلیدلو کې د پلانونو بدلیدل شتون لري. باید انتظار شو.

# په افغانستان کې د امریکا د جنګ لګښت ۲۰۰۱-۲۰۲۱

[84]

د امریکا ولسمشر جوبایډن په افغانستان کې د لګښت په اړه یو ځل وویل چې په افغانستان کې له "دوه ټریلیون" ډېر لګښت شوی او بل ځل یې د "یو ټریلیون ډالرو" یادونه وکړه.

د ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۲ ز کال چې د امریکایي عسکرو شمیر په افغانستان کې ډیر شو، نو بښکاره ده لګښت یې هم ۱۰۰ میلیاردو ته لوړ شو.

کله چې د ۲۰۱۴ څخه بهرنۍ قواوې وتلې، امریکایي پوځیانو افغان پوځ ته روزنه ورکوله او په جګړه کې یې برخه ډیره کوچنۍ وه، نو له دې سره د دوی کلنۍ لګښت هم ۴۵ میلیاردو ډالرو ته راټیټ شو.

د امریکا د دفاع وزارت په وینا په افغانستان کې د ۲۰۰۱ کال له اکتوبر نیولې د ۲۰۲۰ تر دسمبر میاشتې د امریکا جګړې لګښت ۸۲۵ میلیارده ډالره و، چې وایي د دې ترڅنګ ۱۳۰ میلیارده ډالر نور د بیارغاونې پر چارو لګول شوي دي، چې له دې سره د رسمې شمېرو له مخې په یاده موده کې ټول لګښت ۹۵۵ میلیارده ډالره کېږي چې د امریکا د ولسمشر جوبایډن د یو ټریلیون له اټکل سره نژدېوالۍ لري.

ناټو په رسمي توګه په ۲۰۱۴ کال کې خپل پوځي ماموریت پای ته ورساوه خو ۱۳ زره پوځیان یې د افغان امنیتي ځواکونو د روزنې او د ترهګرۍ ضد عملیاتو په موخه افغانستان کې پرېښودل.

د ځینو راپورونو له مخې چې ټولنیزو رسنیو ته رارسیدلې دي ویل کیږي د امریکا د هر سرتیرې مصرف په کال کې یو میلیون ډالر ؤ.

د ۲۰۱۹ ز کال دمارچ په میاشت کې د امریکا د دفاع وزارت ښوولې وه چې د ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۱۸ ز کلونو پورې امریکا اټکل ۷۳۷.۵۹۲ میلیارد دالر په افغانستان کې مصرف کړي. دا په داسې حال کې ده چې یواځې د ۲۰۱۹ ز کال دپاره پنتاګون د مالیې وزارت څخه د ۴۶.۳ میلیارده دالرو غوښتنه وکړه.

---

84 https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-58455589
د بی بی سي له سایت څخه اخیستل شوئ

د دې ترځنګ بیا په یو بل راپور کې چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت ویلي دي چې په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو په نظامي عملیاتو د ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ۲۰۱۹ ز کال پورې ۸۲۴.۹ میلیارډ ډالر لګیدلي دي.

د براون پوهنتون (*دا پوهنتون د امریکا ډیر پخوانۍ پوهنتون دې چې د امریکا په روهډ ایسلند کې موقعیت لري*) څیړونکي اټکل کوي چې په افغانستان او پاکستان کې د امریکا په پوځي عملیاتو نژدې ۲.۳ تریلیون ډالره لګیدلي دي.

خو دامریکا ولسمشر جوبایډن د ۲۰۲۲ کال د جنوري په میاشت کې وویل چې موږ شل کاله په افغانستان پاتې شو، زموږ د هرې اونۍ مصرف یومیلیارد ډالر ؤ. که حساب یې کړو نو په کال کې ۵۲ اونۍ دي، ضرب د ۲۰ کاله شي نو ۱۰۴۰ اونۍ کیږي. په دې مانا چې دا جګړه د جوبایډن له خولې امریکا ته ۱۰۴۰ میلیارده ډالره تمامه شوه.

خو د ځیني نورو سیاسونو له قوله چې ولسمشر جوبایډن د خپل ولس له ویرې چې غبرګون سره مخ نه شي دا لګښت په هره اونۍ کې یو میلیارد ډالر ښودلۍ، په داسې حال کې چې د دغې ارقام څه د پاسه دوه برابره دئ. چې دغه ارقام د براون د پوهنتون ارقامو سره نیژدیوالۍ لري (۲.۳ تریلیون).

همداراز د ځینو سرچینو له قوله د امریکا د برون په پوهنتون کې د امریکا او د افغانستان د جګړې په هکله څیړنې شوې دوی وایي چې د افغانستان او امریکا د جګړې وژل شویو کسانو شمیر ۱۷۶۰۰۰ تنه ؤ. له دې جملې څخه ۴۶۳۱۹ ملکي کسان دي او ۶۹۰۹۵ یې نظامي ځواکونه دي، همداشان ۵۲۸۹۳ طالبان وژل شوي، نژدې ۲۵۰۰امریکایان وژل شوي.

د بی بی سی د همدې راپور پر بنسټ له هغه راهیسې چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو پرضد جګړه پیل شوې تر دې دمه له ۳۵۰۰ زیات بهرنیان وژل شوي چې له ۲۳۰۰ زیات یې امریکایان دي.

له ۴۵۰ تنو زیات بریتانویان هم په کې وژل شوي دي.

نژدې ۲۱ زره امریکایان ټپیان شوي خو دا شمېر د هغو افغان سرتېرو پرتله لږ دی چې دې جګړه کې یې خپل ژوند بایللی دی.

خو د دې ترځنګ که بیا دغه لاندینۍ مطلب ورسره پرتله کړو یو څه نژدې والۍ لري.

85

***د غه لاندینۍ مطلب د امریکا غږ د ویب سایت څخه کټ مټ کاپي اخیستل شوئ دئ***

د ۲۰۰۱ کال څخه تر اوسه *(زما په آند تر اګست میاشتي ۲۰۲۱ کال)* په افغانستان کي ۲۴۴۲ امریکایي پوځیان وژل شوي. د متحده ایالاتو د براون پوهنتون څېړونکي اټکل کوي چې پدې موده کې د افغانانو مرګ ژوبله د امریکایي پوځیانو په پرتله ۷۰ ځلې زیاته ده. په دوو وروستیو لسیزو کې یواځې ۴۷ زره ملکي افغانان وژل شوي دي.

**ټول وژل شوي**

**۱۷۱,۳۳۶**

امریکایي پوځیان: ۲٬۴۴۲ وژل شوي

امریکایي قراردادیان: ۳٬۸۴۶

د ایتلاف د نورو هیوادونو پوځیان: ۱٬۱۴۴

بشري مرستندویان: ۴۴۴

خبریالان او د رسنیو کارکونکي: ۷۲

ملي پوځ او پولیس: ۷۵٬۳۱۴

ملکي وګړي: ۴۷٬۲۴۵

د دولت مخالف جنګیالي: ۵۱٬۱۹۱

دغه پورتني اعداد چې جمع شي نو ۱۷۱.۳۳۶ نه، بلکې ۱۸۱.۶۹۸

نو کیدای شي چې دغې منبع ( براون پوهنتون / د دفاع وزارت) په جمع کولو کې تیروتنه کړي وي.

منابع براون پوهنتون, د دفاع وزارت

86

---

85 https://projects.voanews.com/afghanistan/timeline/pashto.html

86 https://www.voadeewanews.com/a/6415264.html ۲۷-۱-۲۰۲۲

***دغه لاندینۍ مطلب هم ټول د امریکا غږ د ویب سایت څخه کټمټ کاپي را اخیستل شوئ. که څه تیروتنې ولري نه دي اصلاح شوي.***

واشنګټن ـــ د افغانستان د بیا ودانۍ لپاره د امریکا څارونکي اداره سیګار وايي د افغانستان شل کلنه جګړه کې امریکا او ایتلافي ملګرو ۸۳۵ بېلینه ډالر مصرف کړي او د دغه هیواد د بیا ودانۍ لپاره ۱۴۵ بېلینه ډالره مصرف شوي دي.

د سیګار انسپکټر جنرل جان ایف سوپکو د زیارت- پنجشنبې (زما په آند موخه ۲۷-۱-۲۰۲۲ ده) په ورځ د امریکا ځېرنیزې اداري اټلانټیک کونسل کې د یوې مباحثې په وخت ویلي، په افغانستان کې د تیرو شلو کالو کې چې کوم څه شوي، باید بیا تکرار نه شي. جان سوپکو زیاته کړې که چرې دغه هر څه بیا تکرار شو نتیجه به یې یو ځلې بیا یقیني ناکامي وي.

دغه مباحثه په داسې مهال شوې چې افغانستان دا مهال د لویې بشري تباهی سره مخامخ دی او نړیواله ټولنه په دې نه پوهیږي چې په دې حالاتو کې د طالبانو سره څنګه اړیکې ونیسي او د افغانانو مرستې وکړي.

د سیګار انسپکټر جنرل د مباحثې په مهال په خپلو خبرو کې وویل : د رپورټونو څخه دا خبره څرګنده شوې چې په افغانستان د لګول شوي امداد سمه څارنه نه کیدل تر ټولو لویه ستونزه وه او په دغه هیواد کې د ځمکنیو حالاتو بدلیدو سره بدلون نه راوستل یې هم یو علت وو.

جان سوپکو په دغه مهال زیاته کړې چې په افغانستان کې د دومره کالو د پاتې کیدو او د حالاتو کتو وروسته داسې لس مهمې خبرې دي که پرې عمل وشي نو کوم څه چې مخکې شوي هغه بیا نه شي تکراریدلی. نوموړي ویلي:

د بشري امداد یو ښکاره حدف ټاکل

د ټول مالي امداد رونتیا

د موجودو خطرو درجه بندي کول

افغانستان کې کیدونکی مصرف په کلکه څارل چې دا یقیني شي چې امداد په سمه توګه وکارول شي

د لګیدونکي مصرف لپاره حساب کتاب ساتل

که چرته کوم څه غلط کیږي سمدستي ودرول

د څارونکو احتساب یا څارنه کول

د حالاتو سره سمه پالیسي جوړول

د ګټورو نتیجو لپاره ګټور شرطونه ایښودل

د دوامداره فرصتونو لپاره اوږد مهاله لارې کتل

د سیګار انسپکټر جنرل د خپلو خبرو په مهال وویل، اداري يې معلومه کړې چې په تیرو شلو کالو کې د افغانستان د بیا ودانۍ لپاره مصرف شوي ۱۴۵ بېلینه ډالرو کې ۳۰ سلنه برخه یا خو ضایع شوې او یا غلا شوې ده.

*[(زه په پوره ډاډ سره ویلئ شم چې ۱۴۵ بیلیونه ډالر یوه ډیره اوچته شمیره ده چې بیا رغونې ته ځانګړې شوې وي. خو که یوه شیبه دا ومنو، او له دې څخه ۴۳.۳ (۳۰ سلنه) بیلیونه غلا شوې تر منفي کړو نو بیا هم نژدې ۱۰۲ بیلیونه ډالر د بیا رغونې د پاره باید مصرف شوي وي. په دې مانا چې هر ولایت ته ۳ بیلیونه ډالر رسیدل چې د بیا رغونې چارې پرې سرته رسیدلئ وئ. زما په ګمان اوس باید افغانستان د نړۍ په ډیرو پرمختللو هیوادونو قطار کې وئ. او باید اقلاً ۶ بریښنایز د برق بندونه جوړ شوي وئ. د افغانستان لوی ښارونه باید د کابل سره د اورګاډي پټلۍ نښلول شوي وئ. په سلګونو فابریکې جوړې شوې وئ. په لکونو کارګران به پکې په کار بوخت وئ، چې البته دا ټول ندي شوي. نو څنګه دا ومنو چې ۱۰۲ بیلیونه ډالر پرته له دې چې ۴۳.۳ بیلیونه يې غلا شوي یا ضایع شوي نور ټول په بیا رغونه کې مصرف شوي. زه د یو افغان په صفت هیڅکله هم نشم منلئ او نه به کوم بل افغان راسره دا ومني. زما په ګمان ۵ سلنه به په بیا رغونه کې مصرف شوي وي، پاتې ۹۵ سلنه غلا او ضایع شوې ده.)]*

نوموړي خبرداری ورکړی چې مونږ په ډیر لږ وخت کې د افغانستان پشان وړوکي هیواد کې ډېر په تادۍ ډیرې زیاتې پیسې داسې مصرف کړې چې څارنه يې نه ده شوې.

ښاغلي جان سوپکو وویل د بشري امداد په وخت باید دغه خبرې په پام کې وساتل شي. که مونږ د نړۍ ټولې پیسې افغانستان ته ولیږو نو دا به په افغانستان کې یو بل مصیبت جوړ کړي او دغه هر څه به د طالبانو یا نورو بدو خلکو په لاس ورشي. نوموړي ویلي دغه امداد باید په افغانانو مصرف شي او د هغوی مرسته وشي.

په دغه مباحثه کې افغانستان کې مېشتي امریکایي خبریالي کارلوټا ګال، د پاکستان د خارجه چارو پخواني وزیر خورشید قصوري، د افغانستان مدني فعالې پېښتنې درانۍ او د پاکستان او افغانستان دوو نورو څېړنکارانو هم وینا وکړې.

امریکایي خبریالي کارلوټا ګال په مباحثه کې د خبرو په وخت په افغانستان کې د یوې کورنۍ کېسه هم شریکه کړه چې د بې وسۍ د لاسه يې دوه ورځې وړاندې خپله لور خرڅه کړې.

کارلوټا ګال زیاته کړې : *په افغانستان کې د غربت او د خوراک د کمۍ د لاسه خلک د ګیا/ وښو په خوړلو مجبوره شوي، تېره ورځ د ۲۸ کسانو یوې کورنۍ ته د خوراک لپاره یوائې اته وچې ډوډۍ ورکړل شوي. دلته چې تېره شپه د تودوخې درجه منفي ۱۶ ډګري سېنټي ګرېډ ته رسیدلې وه، خلک نه لرګي لري او نه د کور تودولو لپاره بل کوم انتظام.*

د خپلو خبرو په وخت افغان مدني فعالې پښتنې درانۍ د افغانستان ګاونډي هیوادونه او په خاصه توګه د پاکستان په کردار نیوکې وکړې. پښتنې درانۍ زیاته کړه : *د پاکستان استخباراتي اداره د مدني ټولنو غړو او افغان مدني فعالانو نه سختې پوښتنې کوي، دوی خپل هیواد ته نه پرېږدي، خو طالبان او د دوی مشران په پاکستان کې په ازاده ګرځي او خپل کورونه لري.*

د پاکستان حکومت تر اوسه دا ډول تورونو ته څه جواب نه دی ویلی، خو په پاکستان کې یې د طالبانو د مشرانو د کورونو خبرونه مخکې رد کړي دي.

## امریکایان په سپین سترګتوب د خپل بې مسؤلیته وتلو ګرم ولسمشر محمد اشرف غني ګڼي

که چیرې نړیوال پرنسیپونه په پام کې ونیول شي، که چیرې دیپلوماتیک نزاکتونه وساتل شي، که چیرې ښکیلاګر هیوادونه د خبروکولو نورمونه وپالي، نو بیا دا ډیره حیرانوکي خبره ده چې امریکا د خپل فجیح ډول وتلو پړه پر ولسمشر محمد اشرف غني ږدي.

د دې دپاره چې دغه موضوع ښه څرګنده او ثبوت شوي وي، دې ته مې اړتیا ولیده چې ږومبۍ باید نور څه ولیکم.

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ړنګیدو نښې نښاني هغه وخت څرګندې شوې چې امریکا د طالبانو سره په دوحه کې خبرې (۲۰۱۸ز) کې پیل کړې. د دوحې د تړون د لاسلیک( ۲۹-۲-۲۰۲۰) څخه وروسته خو بیا داخبر بلکل یقیني شوې وه.

پوښتنه دا ده هغه څه چې پیښ شو یو ناورین ؤ که اړتیا؟ په پوهاوی توګه مهندسي شوې پیښه وه او که یوه طبعي انساني تیروتنه؟

امریکا او زموږ ټول کورني اړوند اړخونه بدنام او ناکام شول. دوې به خپلې تیروتنې وارزوي او که لکه د مخکې په شان پړه به یو پر بل اچوي؟ دا پړه اچونه به تر کله وي؟ یا خو به ځینې لاهم لجاجت کوي (ګل مرجان یې نه مني !!!).
دا او داسې ډېرې پوښتنې لا نه دي ځواب شوې او ډیر معلومات لاهم پټ پاتې دي! راتلونکی وخت او تاریخ به د هرې پوښتنې د پاره ځواب ووایي خو انتظار هم اړین دی.

د سولې موضوع د افغانانو خپلمنځي (افغاني طالبان او حکومت) مسئله وه. که لږڅه نور هم شاته نظر واچو، لکه څنګه چې د بُن په لومړني کنفرانس دسمبر ۲۰۰۱ کې د امریکایانو له لوري طالبانو ته بلنه نه وه ورکړل شوې، ځکه خو دغې بدمرغې جګړې او سولې ۲۰ کاله دوام وموند. دا د امریکایانو لومړۍ تیروتنه وه. زموږ خپل کورني پردیپال او جاسوسان خو په دې خوښ ؤ چې طالبانو ته د بُن په کنفرانس کې د ګډون حق نه ؤ ورکړ شوئ.

کله چې په ۲۰۱۸ ز کال کې د طالبانو او امریکایانو ترمنځ د سولې پروسه پیل شوه، امریکایانو په پوهاوی توګه دا ځلې حکومت  څنډې ته کړ.

دا ځل بیا امریکایانو دوهمه او ستره تیروتنه وکړه  (آیا دا انساني تیروتنه وه که په پوهاوي توګه وشو؟). امریکایانو نه غوښتل چې طالبان او حکومت سره مخامخ خبرو ته کښیني او یو جوړجاړي ته سره ورسیږي. بې له دې چې د امریکا غوښتنې په پام کې ونیول شي. زه په دې ډاډه یم که د سولې د پروسې د پیل څخه امریکا غوښتې وئ، چې افغانان (حکومت او طالبان) خپله دا پروسه پرمخ بوځي، نو د سولې پروسه به ډیر پخوا په سولیزه توګه بریالی پای ته رسیدلې وئ.

د افغانستان شرایط د اګست په میاشت کې ډیر سخت یو نازک حالت ته ورسیدل. په آخرو وختونو کې د افغانستان حکومت هوډ درلود چې یوه بیړنۍ لویه جرګه راوبلي او د جرګې د فیصلې پر بنسټ ولسمشر محمد اشرف غني به په سولیزه توګه واک یوې شورا، یا طالبانو او یا هغه چا ته وسپارې چې لویې جرګې پرې فیصله کړي وي . د دې ترڅنګ حکومت دا غوښتل چې ځیني مهمي لاس ته راوړني هم باید تظمین شي. لکه د مسلح قوا جوړښت، د ښځو حقوق د بیان آزادي او دی ته ورته ځیني نور مسائیل.

د افغانستان د حکومت غوښتنه د امریکایانو (ټام ویسټ د خلیل زاد معاون) څخه دا وه چې دغه موضوع دې تضمین کړي. حکومت دغه موضوع امریکایانو سره مطرح کړه، امریکایانو ویل دا ښه خبر ده چې په سولیزه توګه واک انتقال کیږي، خو د پورتنیو یا شل کلنې لاس ته راوړني (ملسح قوا، د ښځو حقوق، بیان آزادي او ځیني نور...) موضوعاتو تضمین امریکایانو نه کاؤ. (آیا دا یو پلان شوئ کار نه ؤ؟) خو بیا هم برسیره پر دې چې امریکایانو تضمین نه کاؤ، د حکومت دغه کاملاً با صلاحیته پلاوئ یوه ورځ مخکې یا هم په همدې ورځ باید دوحې ته تللئ وئ (۱۵-۸-۲۰۲۱) چې و نه شو.

لکه څنګه چې څرګنده ده طالبان د ژمنې خلاف په ۱۵ اګست ۲۰۲۱ کابل ته راننوتل.

حمدالله محب د امریکا غږ اشنا تلویزیون دري څانګې سره په ۱۷-۱۲-۲۰۲۱ مرکه کې وویل : چې په ۱۵-۸-۲۰۲۱ د سراج الدین حقاني  سره یې تلیفوني خبرې وکړې چې هرچیرې غواړې زه درځم یو بل سره به وغږیږو (په افغانستان کې دننه)، د مقابل لورې ځواب دا ؤ چې سمه ده زه بیرته درته ځواب درکوم. بیرته ځواب راونه رسید. همدغه موضوع یې په کابل کې لوړ پوړي امریکایې چارواکي (ټام ویسټ ) سره هم شریکه

کړې وه، هغې هم ورته **وویل زه مشوره کوم او بیرته ځواب درکوم**، یوه ساعت ورسته چې ټام ویسټ حمدالله محب ته بیرته زنګ وواهه د امریکایانو نظر منفي ؤ.

بناً زما په آند دا یو ځرګند ثبوت شو چې امریکایانو په پوهاوی توګه نه غوښتل چې حکومتي چاروکي د طالبانو سره مخاخ کښیني او خبرې وکړي. امریکایانو ګمان کاؤ چې په دې وروستیو نازکو شیبو کې به دوی (حکومت او طالبان) ډیر ژر یوې غوځې پریکړې ته ورسیږي. په دې مانا چې په سولیزه توګه به واک طالبانو او یا کومې شورا ته ولیږدوي. په بله وینا د دوه مخو امریکایانو (خلیلزاد د امریکا ځانګړئ استازئ) نژدې دونیم کلو منډې رامنډې به بابیزه ثبوت شي. بله دا چې د دوی د کلونو هڅې چې دا سیمه بې ثباته او نارامه کړي او خپله ترې ووځې ناکامه به پای ته ورسیږي.

بله مهمه خبره د پورتني دلیل د ثبوت دپاره او هم د ولسمشر محمد اشرف غني تر وروستی شیبې دافغانستان څخه د نه وتلو په تړاو د لوستونکو پاملرنه د ۸ صبح کابل دغې لاندې لیکنې ته را اړوم.

**دغه لاندینئ مطلب په دري ژبه دئ، ما د موضوع د حساسوالي له کبله نه دئ ژباړلئ. کوم ځای چې زموږ په موضوع پورې نژدې والئ او تړاو لري، ځای ځای د ۸ صبح کابل سایت څخه په ۱۷ د تلې (میزان) د ۱۴۰۰ لمریز کال کټمټ کاپي راخیستې شوئ دئ. که ځیني تیروتنې هم ولري، په پوهاوی توګه اصلاح شوي نه دي.**

87

*نکته دیگری که ادعا و استدلال اشرف غنی را در مورد توجیه فرار بسیار ناگهانی‌اش زیر سوال می‌برد، حکایت و روایت یکی از همراهان صاحب مقام حکومت او در این فرار به سنجر سهیل، صاحب امتیاز روزنامه ۸صبح است. در این حکایت اشرف غنی صبح روز یک‌شنبه در صدد تشکیل نشست اضطراری کابینه است تا «برمبنای آن، برای هراس، آشفته‌گی و سراسیمه‌گی مردم پاسخی فراهم شود»، اما نیم اعضای کابینه در کابل نیستند و امرالله صالح، معاون اول رییس جمهور، نیز از کابل خارج شده است. سپس غنی تصمیم می‌گیرد که به مرکز سوق و اداره وزارت دفاع برود و نیروهای پی‌پی‌اس را به وزارت دفاع می‌فرستد. اندکی بعد که خبر می‌رسد بسم‌الله محمدی وزیر*

---

87

د ۸ صبح کابل له سایت څخه اخیستل شوي
https://8am.af/escape-and-fall/

*دفاع در وزارت نیست و برای بازدید از قوای هوایی به میدان هوایی رفته است و جنرال هیبت‌الله علی‌زی، لوی درستیر (رییس ستاد مشترک ارتش) در یک نشست با امریکایی‌ها مشغول است، اشرف غنی به وزارت دفاع نمی‌رود.*

*جنرال علی‌زی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر یک‌شنبه، ۲۴ اسد / ۱۵ آگست با قوماندانان قوای امریکا در کابل نشست اضطراری و فوق‌العاده داشت. او در پایان این نشست از طریق واتس‌اپ به قوماندانان نیروهای مسلح افغانستان در شهر کابل و اطراف آن این پیام و دستور را ابلاغ کرد:*

*سلام به تمام اعضای گروپ. همین لحظه جلسه ما همراه مشاوران خلاص (تمام) شد. » تیم «دلتا فورس» امریکا کُل‌شان آمده در همین‌جا هستند. قوماندان عمومی‌شان هم آمده. طیاره‌های اپاچی حالا سر کابل پرواز می‌کنند، هر جایی که هدف دارید، هدف‌ها را عاجل‌عاجل پاس (معین) کنید در گروپ. و دوم گپ این‌که بی ۵۲ است در تمام چهار طرف کابل که تحرک را ببیند، مکمل بمبارد می‌کند. و سوم گپ این است که جت‌ها هم فراوان است، اف ۱۶، اف ۱۸ و انواع و اقسامش؛ صرف شما هماهنگی را زودزود انجام دهید و هر جا که مشکوک است، کوردینات‌هایش را پاس کنید. اولویت برای فعلاً بگرام، پل‌چرخی، جنوب کابل و میدان‌وردک است. در همین چهار طرف کابل هر جایی که هدف دارید، زودزود به تیم همکارها پاس کنید، بسیار اجراآت سریع صورت می‌گیرد.*

***از امریکا در واقع با امضا در پای موافقت‌نامه دوحه با طالبان، پایان عمر جمهوریت و حکومت غنی در افغانستان را اعلام کردند و بر آن مهر تایید زدند. این را مسوولان درجه یک نظامی امریکا، لوید آستین وزیر دفاع، جنرال مارک میلی لوی‌درستیز، جنرال کنت مکنزی رییس فرماندهی مرکزی نیروهای مسلح ایالات متحده در جلسه پرسش و پاسخ کمیته نیروهای مسلح سنای امریکا در ۶ میزان ۱۴۰۰ / ۲۸ سپتامبر ۲۰۲۱ بی‌پرده اظهار داشتند و حتا آن را شکست استراتژیک برای امریکا خواندند.***

***مارک میلی گفت «شکست استراتژیک» امریکا در افغانستان نتیجه تصمیم‌هایی است که در طول ۲۰ سال اخیر گرفته شده است.***

*جنرال کنت مکنزی اظهار داشت* ***که (سقوط حکومت افغانستان ریشه در توافق‌نامه دوحه داشت. امضای توافق‌نامه دوحه واقعاً تاثیر مخرب بر حکومت افغانستان و نیروهای نظامی‌اش داشت.)***

*لوید آستین، وزیر دفاع ایالات متحده امریکا، در این جلسه گفت که با تحلیل مکنزی موافق است. او افزود که در توافق‌نامه دوحه تعهد شده بود که حملات هوایی ایالات متحده علیه طالبان متوقف می‌شود: (بنابراین طالبان قوی‌تر شدند، عملیات تهاجمی خود را علیه نیروهای امنیتی افغانستان شدت بخشیدند و افغان‌ها هفته‌وار تعداد زیادی را از دست می‌دادند).*

**د ۸ صبح کابل د پورتنۍ لیکنې څخه څرګندیږي چې:**

دا سمه وه چې حمدالله محب د سراج الدین حقاني سره تلیفوني غږیدلئ ؤ او حمدالله محب د سراج الدین حقاني تلیفوني ځواب ته تم ؤ. همداراز له دې سره جوخت لوی درستیز جنرال علي زي د امریکایانو د پوځ مشر سره د همدې موضوع په تړاو خبرې کولې.

په بله وینا حمدالله محب د امریکایانو ملکي استازې ټامویست سره خبرې وکړې، هغه پس له مشورې منفي ځواب ورکړ ، چې سراج الدین حقاني ته مه ورځه. دا مشوره څرګنده نه ده چې له چا سره شوې. زما په آند د یو یا څو ملکي لوړپوړو امریکایي چارواکو سره شوې وه ( ټامویسټ به د امریکا بهرنیوچارو وزیر، او وزیر به سلسلتاً د ولسمشرجوبایډن سره مشوره کړې وي) .

څرنګه چې جناب بسم الله محمدي د دفاع وزیر نه ؤ ، نو لوی درستیز علي زي ته د امریکایې پوځ مشر په مشوره هرډول چمتووالئ ښودل شوئ ؤ.

همداراز د ۸ صبح کابل د پورتنۍ لیکنې څخه ښکاره څرګندیږي چې د امریکا د دفاع وزیر، لوی درستیز او نور جنرالان د امریکا دغیرنظامي لوړ پوړو سره هم غږي نه ؤ.

پوښتنه پیدا کیږي چې ولې امریکایانو دوه ډوله خبرې کولې؟

آیا دا بیا هم واضح نه شوه چې امریکایان دوه مخي دي، یو ته یوڅه وایې او بل ته بل. ولیدل شو چې امریکایانو هیڅ ډول نظامي (هوایي او ځمکنۍ) مداخله ونه کړه. آیا دا واضح نه شوه چې امریکایانو اصلاً نه غوښتل چې په سولیزه توګه دې واک یوې شورا او یا طالبانو وسپارل شي؟

بله داچې لکه څنګه چې حمدالله محب او خپله ولسمشر محمد اشرف غني هم ویلي ؤ چې په وروستۍ دقیقې کې د دې تصمیم ونیول شو چې محمد اشرف غني د هیواد څخه ووځي. د ځینو په ګمان دا درواغ وه.

خو زه وایم که ولسمشر محمد اشرف غني د مخه پلان ؤ چې ووځي نو ولې دوه ورځې مخکې نه وت؟ یا لا اقل د امرالله صالح په شان یوه ورځ مخکې به وتلئ وئ. یاهم د نورې کابینې غړو په شان به دمخه وتلئ وئ. په آرامه یې کولای شول چې ووځي. طالبان خو لا کابل ته نه ؤ راغلي. بناً دا خبره کاملاً زه رد کوم چې ولسمشر د افغانستان څخه په داسې شرایطو کې وتلئ وئ، او یا یې د طالبانو څخه ډار درلود.

په همدې ورځ ۱۵ د اګست نیمه کابینه نشته یا وتلي دي. لومړئ معاون امرالله صالح پنجشیر ته تللئ. بسم الله محمدی (د دفاع وزیر) چې په پلمه کې ولسمشر ته ویل شوي هوایي ډګر ته د هوایي ځواکونو لیدو ته تللئ. درواغ وه. بسم الله محمدی د افغانستان څخه د وتلو په نیت هوایي ډګر ته راغلئ ؤ. بناً توله کابینه او سیاسي مشران خبر ؤ چې واک یوې شورا او یا هم مستقیم طالبانو ته ورتسلیم کیږي، ځکه خو نیمه کابینه نه وه. بیا هم تکرار کوم چې ولسمشر محمد اشرف غني د طالبانو څخه ډار نه درلود. لکه څنګه چې ولسمشر محمد اشرف غني خپله هم ویلي ؤ، چې د خپلو هیوادوالو د وینو تویدو په خاطر مې وطن پریښود. دا خبره ځکه سمه بریښي چې د ولسمشر په شتون کې باید پوځ جګړه کړې وئ. دا جګړه د افغانستان په پلازمینه کې کیدله، نه په لرې پروت ولایت کې. چې په ریښتیا سره به یې ډیرې وینې تویې کړې وئ.

په هر حال په دې منځ کې امریکایانو خپله دوه مخي بیا ثابته کړه. دا چې محمد اشرف غني د بوټونو / څپلکو پښنو کولو وخت هم پیدا نه کړ او د هیواد څخه ووت، په دې هکله هر ډول خبرې کیږي، ماته د حمدالله محب خبره سمه بریښي، خو په ډاډ سره په دې هکله څه نشم لیکلئ. دا به هم راتلونکی وخت او تاریخ د هرې پوښتنې د پاره ځواب ووایي خو باید تم (انتظار) شو.

یواځې یو څه چې په ډاډه زړه ویلئ شم، هغه دادئ چې محمد اشرف غني د طالب څخه ویره نه درلوده، که یې وژلئ هم وئ. خامخا بل څه لیدل شوي ؤ. په ډاډ سره ویلئ شم چې که طالبانو ولسمشر وژلئ، نو ولسمشر محمد اشرف غني ترې ډار هم نه لاره او دایې ځانته ننګ هم نه باله. ځکه د خپل هیوادوال له خوا، لکه نور په لکونو افغانان چې وژل شوي، دئ به هم وژل شوئ وئ مهمه نه وه. مهمه دا وه چې د شهید ډاکتر نجیب الله په شان به وژل شوئ وئ.

بله دا چې مخکې له دې چې طالبان کابل ته راننوځي، طالبانو ویلي ؤ چې دوی ټولوته عفوه کړې ده. خیر راتلونکي ته به تم شو. راتلونکئ به په دې هکله ریښتنې څرګندونې بربنډې کړي.

داچې امریکایانو وویل موږ په دې نه پوهیدو چې اشرف غني په دې ورځې وتلئ یا وځي، دا هم یو سالم عقل نه شي منلئ. ډیرئ جګپوړي حکومتي چارواکي د کابل هوایي ډګر څخه په الوتکه/ الوتکو کې سپریږي خو امریکایان خبر نه دي؟ حتا ځینې نور لوړپوړي چارواکي د بهرنیانو په الوتکو کې سپاره شول. په داسې حال کې چې د کابل هوایي ډګر امنیت او د الوتکو د رادار سیستم کنترول ټول د امریکایانو پلاس کې ؤ. نو آیا امریکایانو په پوهاوي توګه زمینه داسې برابره نه کړه چې حکومتي لوړپوړي چارواکي د کابل هوایې ډګر له لیارې افغانستان پریږدي؟

همداشان د محمد اشرف غني چورلکې هم چې په هوا کیږي، امریکایان پرې نه خبریږي؟ د رادار په سیستم کې باید لیدل شوې وئ. او که د امریکایي رادار سیستم کارکوونکي تصادفاً ټول ویده وه؟

په هر حال د امریکا درواغجنې خبرې دي چې کړې یې وې.

د دې دپاره چې اصلي موضوع ښه څرګنده شوي وي، ځکه خو دې ته مې اړتیا ولیده چې پورتني څه ولیکم.

اوس به بیرته اصلي موضوع ته راوګرځو، دا چې د امریکا ولسمشر جوبایډن د افغانستان اوسني حالت پړه په ولسمشر محمد اشرف غني ږدي، ماته د حیرانتیا خبره ده. ولسمشر جوبایډن او خلیلزاد له شرموونکې ستراتیژیکې ناکامۍ او له سپکاوي ډکې

ننګوونکې هوکړې سره سره په کوم حقوقي او اخلاقي استدلال، د کابل د سقوط او د اوسني ترینګلي سیاسي او اقتصادي وضعیت پړه پر ولسمشر محمد اشرف غني ږدي؟

زه وایم په ټولیزه توګه امریکا او په ځانګړي ډول خلیلزاد نه ارزښتونه پیژني نه معیارونه لري، نه اخلاقي پولې لري او نه ژمنو ته ټینګ دي. په ځانګړي ډول امریکا د ژمنو د عمل کولو تاریخ اصلاً نلري. امریکا هرکله چې د خپلې موخې دپاره بل هیواد سره ژمنه کړې، د موخې په پوره کیدو، په سپین سترګتوب سره پخپلو ژمنو پل ایښئ.

زما په ګومان ولسمشر جوبایډن او ولسمشر ټرمپ او خلیل زاد باید د ارواح پوهانو (روانشناسانو) او دیپلوماتیکو دکتورینو سره یو کال کورس ولولې. او خبرې وکړي، ترڅو یې هم اعصاب یو سالم انسان ته ورته شي او هم یې دیپلوماتیک نزاکتونه زده کړي وي.

په دې اړه به د ولسمشر جوبایډن یوې بلې بیلګې ته هم اشاره وکړم، هغه دا چې دوه ورځې دمخه (۲۵-۳-۲۰۲۲) د امریکا ولسمشر جوبایډن د اوکراین د جګړې په تړاو د ناټو یوې بیړنۍ غونډې دپاره اروپا ته راغلئ ؤ. جوبایډن ولسمشر پوتین یو قصاب خطاب کړ. یوه ورځ ورسته چټک د جرمني صدراعظم او د فرانسې ولسمشر او د اروپا ځینو نورو صدراعظمانو وویل دا د جوبایډن خپل شخصي نظر دئ، دا د ناټو نظر نه دئ. موخه مې له دې څخه دا وه چې جوبایډن هم په خپلو خبرو کولو نه پوهیږي او نه دیپلوماتیکو نزاکتونه مراعت کوي.

بناً څرګنده ده کله چې امریکا په قطر کې له طالبانو سره خبرې پیل او افغان حکومت یې له دغه بهیر څخه په پوهاوئ توګه څنډې ته کړ، که یو پر بل باندې د پړې اچولو لوبه پریښودل شي او منل شوي اخلاقي پرنسیپونه بنسټ وګرزول شي، نو یقیناً پوهیږو چې په ځانګړي ډول د خلیلزاد په مشرئ امریکایي پلاوې او په ټولیزه توګه امریکا حکومت باید د اوسني ناورین مسئولیت ومني او شرافتمندانه دې د افغانانو څخه بښنه وغواړي. د دې تر څنګ دې امریکا موږ ته د تېل شوي شل کلنې جګړې غرامت او قیمت راکړي. د امریکا ولسمشر دې د امریکایانو ټولو تیروتنو ته په کتو، خپل کانګرس سره دا خبره شریکه کړي او د دې شل کلنې جګړې د بیې پرې کولو موضوع دې ورته وړاندې کړي او مثبته رایه دې ترې واخلي.

**ځينې نورې مهمې خبرې**

88

په کال ۲۰۱۵ کې یونسکو یو راپور خپور کړئ ؤ چې د نړی په ۱۵۳ هیوادونو کې افغانستان ټیټ ترین سلنه باسواده ټولنه ده. دا شمیرنه د پنځلس کلن څخه پورته حساب شوې وه. د یونسکو د خپور شوي راپور په بنسټ ۶۱.۶ ٪ مطلق بې سواده دي، او ۳۸.۴٪ یواځې یو څه لوستل کولئ شي.
په اوسنی ټولنه کې سواد، تعلیم او د کمپیوتر سره آشنایي ډیره اړینه ده. د دې ترڅنګ ۹۰٪ ښځینه او ۶۳٪ سړي په کلیو کې مطلق بې سواده دي.

89

همدارنګه په کال ۲۰۱۴ م کې ۸ صبح کابل خبر خپور کړ چې په کې ویل شوي ؤ چې د ښووني او روزنې وزارت په قول اوس (۲۰۱۴ ز کال) ۶۴٪ د افغانستان وګړي بې سواده دي.
موخه مې له دې څخه داوه ، یوه ټولنه چې سواد ونلري نو یو ړوند ملت ته ورته دئ، ځکه خو د قضیو او ستونزو په تړاو سم چلند او مناسب غبرګون نه شي ښودلئ او هم پرځای تصمیم نه شي نیولئ. نو زموږ ټولنې ته د هرڅه دمخه باید سواد، ښوونه او روزنه ورکړل شي.

لنډه داچې څرګنده شوه زموږ ټولنه۶۴ ٪ بیسواده ټولنه وه او ده. بناءً داسې ټولنه ډیر ژر غولول کیږي. په وروستیو کې موږ څه پاکستان وغولولو، بیا امریکا او نورو وغولولو. هغه څوک چې لوړ تحصیلات لري، پوه او عالم خلک دي، هغوی هیڅکله جنګسالار، غاصب، جاسوس، لاسپوڅي او په مافیایي کړی کې ورډوب خلک نه دي. دا ځکه چې دوی ملي ارزښتونه د هرڅه نه لوړ بولي. البته داسې هم نه وه چې ټول لوړپوړي او ځینې نور خلک دې هم په پورتنیو کړیو کې ورکډ خلک ؤ. ځینې په کې په آګاهانه توګه

---

88 http://www.hambastagi.org/new/fa/article/1619-afghanistan-is-most-illiterate-country-in-the-world.html
د حزب همبستګی افغانستان سایت څخه را اخیستل شوئ

89 https://8am.af/thirty-six-percent-of-the-people-are-literate/

وطن ته مین خلک هم ؤ، د دوی ونډه ډیره کوچنی وه، او کوم ځانګړئ واک یې ځکه نه درلود چې د یادو کړیو په لړکیو کې راتلل، نو ښکاره ده چې خبرو یې هم کوم ځای نه شو نیولئ. دا ډول خلک هم ځکه له دغو پوستونو څخه نه ؤ لرې شوي چې پر حکومت څوک ګوت نیونه ونشي کړئ.

تاریخ ښودلې ده که زموږ هیواد پرمختګ کوی او یا غښتلئ کیږي نو خپله د افغانانو له لاسه دئ. دا ځکه چې افغانستان یو هیواد دئ چې مختلفې قبیلې په کې ژوند کاؤ او کوی. دغو ټولو قبیلو که سره لاس یوبل ته ورکړ، اجنبي یې په منځ کې لاره ونه موندله، پردي پال (جاسوسان) یې پخپل منځ کې پری نه ښودل او یو موټئ ؤ نو هرومرو به پرمختګ کوي او هیواد به ودانیږي. که چېرې موږ په خپلو کې سره هم غږي او یو موټئ نه ؤ، نو بهرنیانو (د پردي پالو یا جاسوسانو) زموږ منځ کې نفاق کړئ او بدبختي مو په برخه شوې ده، لکه څنګه چې اټکل تیرڅلوییښت کاله همداسې ؤ.
بهرنیانو له موږ سره د خپلو موخو او ګټو په خاطر (سلګونه میلیونه ډالره) مرستې وکړې.
موږ له دې مرستو لومړنی نیمایي خپلو شخصي جیبونو کې واچولې. یوه برخه مو بیرته همدې بهرنیانو ته په شکل د اشکالو ورکړه، او څلورمه برخه به په کومه پروژه مصرف شوي وي.
موږ ونه شو کولای چې د بهرنیانو مرستې ته ضرفیتونه جوړ کړو. پردیو د پردیپالو پواسطه موږ کې لاره وکړه او د نفاق او بدبختی تخم یې را کې وکاره.
که وګورو غازی شاه امان الله خان چې په هیواد مین شخص ؤ او زموږ د هیواد خپلواکي یې په خپل سیاسي فکر لرو سره تر لاسه کړه. هغه د پرمختګ په لور ګامونه اوچت کړي ؤ، خو بیا ستر بهرني ښکیلاکګر (انګلیس) څنګه ګډ ملا په واسطه موږ کې د نفاق ریښه وزغلوله. او پایله دا شوه چې امان الله خان ونه غوښتل چې خپل هیوادوال بیرته په هیوادوالو ووژني نو هیواد یې پریښود.
همداشان د شهید سردار محمد داود خان په حکومتولی کې د بل ښکیلاکګر له خوا د ځینو کړیو په لمسون په موږ کې نفاق واچؤ او همداشان بیا شیهد ډاکټر نجیب الله څنګه د پاکستان د استخباراتو له خوا ووژل شو. دا درې تنه په تیره یوه پیړی کې هغه کسان ؤ چې بهرنیان ترې په ډار ؤ.
زه بیا هم تکرار کوم چې دا هر ښه او بد که په زموږ ګران هیواد باندې تیر شوي او یا په راتلونکې کې تیر شي نو زموږ خپل دلاسه دي.
څه دپاسه دیرش وروستیو کلونو کې د جهاد ټیکه دارانو د اسلام د سپیڅلي دین څخه په استفادې د بهرنیانو د ګټو په خاطر زموږ هیواد په کندواله بدل کړل. د یادولو وړ ده چې قومندانان او یا هم ټیټ پوړي قوماندان چې په دې نه پوهیدل چې زموږ مشران خرڅ

شوي خلک دي په ريښتيا چې جهاد يې کاؤ، ډيرئ د دوی څخه ووژل شول. جهادي ټيکه دارانو په بدل کې ځانونو ته په بهراو کور دننه شانداري ماڼۍ جوړې کړې.
منم چې د کرزي په دولت کې فساد، رشوت، د مخدره توکو توليد او قاچاق شتون درلود او داسې نورې ډيرې نيمګړتياوې وې چې دا ټولې نيمګړتياوې ولسمشر محمد اشرف غني ته په ميراث پاتې شوې.
بايد ووايم چې په افغانستان کې د فساد او رشوت سرچينه امريکا او ځينې نور بهرني هيوادونه ؤ. که څوک راسره دا نه مني، نو دوستم که د څوکۍ لرې شوئ وئ کوم هيواد مرسته نه کوله؟ قسيم فهيم يا عبدالله عبدالله که د څوکۍ لرې شوئ وئ کوم هيواد مرسته نه کوله همداسې نور ټول درواخله. که چيرې هرڅوک د خپل جيبونو او خپلو بادارانو په غم کې اوسې نو پيريان خو به دا هيواد نه رغوي.

## د ولسمشر محمد اشرف غني په هکله زما نظر

ولسمشر محمد اشرف غني يو متواضع، ساده سپيڅلئ او بې کبره انسان دئ. خپل ملت او هيواد پرې ډير ګران دئ. ځکه يې هم ويل چې د هيواد سره ليونۍ مينه لرم.

محمد اشرف غني په هيڅ جهادی تنظيم پورې تړاو نه درلود، د افغانستان د هيڅ ګوند غړيتوب يې نه درلود، د افغانستان په ملت يې د نورو سياسونو په شان لاسونه په وينو ککړ نه ؤ.

ولسمشر محمد اشرف غني نه يواځې اقتصادي پوهه لرې، بلکې د سياسي پوهې څخه هم برخمن دئ. داچې په بهرني او کورني سياست کې بريالئ نه شو، لامل يې امريکايان ؤ.

محمد اشرف غني د خپلو اقتصادي او سياسې پوهې په درلودلو سره سترې اقتصادي برنامې درلودې. ځينې له دغو بنسټيزو برنامو څخه په دومره نا امنه شرايطو کې هم پلې کړې. د دې ترڅنګ يې د هيواد شتمنۍ په توګه نژدې لس ميلیارده ډالر پانګه زيرمه کړه. کوم چې اوس د لوی ښکيلاکګر امريکا له لوري کنګل شوي دي. که دا شتمني د مسؤلو کسانو په واک کې وئ، دا به هم اوس چور او تالا شوي وئ.

څرنګه چې څرګنده ده د يو هيواد د سوکالۍ او رغولو او د برنامو د پلې کولو مهم عنصر ډاډمن امنيت دئ. هغه امنيت کوم چې په خواشينۍ موږ څه دپاسه څلويښت کلونو

کې نه درلود. خو برسیره په نا امنۍ، محمد اشرف غني په تیرو کلونو کې ځینې مهمې بښتیزې پروژې چې پورته ورته اشاره وشوه پلي کړې.

دا منم چې ملت د جنګ څخه ستړي شوي ؤ، **دوی د ولسمشر محمد اشرف غني څخه معجزه غوښتله!** دا په اصطلاح د سیاسونو غوښتنې وې. ځینې په دې آند دي چې محمد اشرف غني ډیرئ وزیران او لوړپوړي چارواکي بیواکه کړي ؤ. دې هم ځانته دلایل درلودل. په بله وینا دوی هغه خلک ؤ چې د بهرنیانو د فشار له لوري مقرر شوي ؤ، هغه خلک چې د مخدره توکو په مافیایي کړۍ او په لوړه کچه فساد کې ښکیل ؤ. محمد اشرف غني پر دوی او تش په نامه سیاسونو، چې ډیرئ یې په اصل کې سیاسون نه، بلکې پردیپال جاسوسان ؤ، نور باور نه درلود. دوی خاورې ته ژمن نه، بلکې د پردیو موخو او خپلو جیبونو ډکولو ته ژمنتیا درلوده. ځکه یې واک ترې اخیستئ ؤ، همدا لامل ؤ چې محمد اشرف غني په دې تورن ؤ چې ټول واک یې خپل لاس کې نیولئ.

دغه یاد شوي ښاغلي په دې پوهیدل چې محمد اشرف غني سپیڅلئ انسان دئ، څنګه یې باید داسې په تنګ کړي چې د ولسمشرۍ له څوکۍ ګوښه شي. یا دا چې له دوی سره د فساد او مخدرتوکو کځوړې خلاصې ونیسي. چې بیا هغوی خپلې موخې سرته ورسوي، په کوم چې دوی بریالي نه شول. په بله وینا دوی په ټولو کړنچارو کې محمد اشرف غني ته خنډونه جوړول.

دغه سیاسون او لوړ پوړي چارواکي اصلاً د سولې ملاتړي نه ؤ. دوی یواځې بې ثباتي او نا امني رامنځ ته کوله، دا یواځې او یواځې د خپلې بقا دپاره. کټمټ کومه سناریو چې پاکستان تعقیبوي. بهتره ده ووایم چې په جګړه او نا امنۍ کې دوی ژوندوي ؤ، ساه یې اخیستله او جیبونه یې ډکیدل. که سوله او امنیت وئ، نو دا هرڅه بیا نه کیدل.

موږ تاسو ولیدل چې ډیرئ د دغو سیاسونو او لوړپوړو تش په نامه د سولې په برخه کې ګاونډیانو او روسیې ته منډې وهلې راوهلې. دا یواځې د دې له پاره، که د طالبانو په وجود کې هم دوی ته شته زمینه بیا مساعده شي. خو ښه وه طالبانو هم دوی پیژندلي ؤ او دي.

محمد اشرف غني خپله د ټولو افتخاراتو او لاس ته راوړنو سره سره په ډیره عاجزۍ سره وویل چې *موږ وبالله. زما ستره تیروتنه په امریکا او د هغه په متحدینو باندې باور ؤ.* همداراز ویې ویل *هغه تورونه چې ګواکې په میلیونونو ډالره یې له ځانه سره وړي دي یو بین المللي سازمان ته د یو ډالر حساب هم ورکولئ شي.* دا په ریښتیني توګه د هغه د صداقت استازولي کوي، ځکه خو ورته غني بابا وایم. زه په پوره ډاډ او مسؤلیت سره ویلئ شم چې محمد اشرف غني بابا به د ملت پیسې له ځانه سره نه وي وړي. هغه دې ته

اړتیا نه درلوده. دا موضوع به بلاخره په اثبات ورسیږي او د مخالفینو او محترمو سیاسونو مخونه لکه چې تل تور ؤ بیا به هم تور ثابت شي. بیا هم باید انتظار شو.

دا چې محمد اشرف غني په یوه ناڅاپي توګه هیواد پریښود، لکه څنګه چې غازی امان الله خان د خپل واک او قدرت په خاطر د خپلو هیوادوالو وینه تویونه خوښه نه کړه، داسې هم محمد اشرف غني هم د خپلو هیوادوالو وینه تویونه ونه غوښته او هیواد یې پریښود. د محمد اشرف غني په شتون کې به د کابل ښار په سرو وینو لمبول شوئ وئ. ځکه خو زه په دې آند یم چې یو معقول او پرځای تصمیم نیول شوئ ؤ.

زه په دې ډاډه یم که چیرې محمد اشرف غني د امریکا د سي آی اې او یا د پاکستان د آی اس آی جاسوسانو او یا هم د نورو لاسپوڅو له لوري ترور نه شي، نو هرومرو هیواد ته راستنیږي، هغه له دې ویره نلري چې ګواکې د طالبانو له لوري به ووژل شي. یو خو دا چې طالبانو عمومي ښښنه کړې، او که نه په پښتنو کې متل دئ ***چې نر پسه د قربانۍ دپاره وي***. دا چې پخپل کور کې د خپل کور دغړي له خوا وژل کیږي دردونکي نه ده، لکه پخپل کور کې چې د بیګانه له لوري ووژل شي. دا که د طالبانو اسلامي امارت وي او که نه وي، هرو مرو به محمد اشرف غني بابا راځي. ټول واقعیتونه به هم برملا شي. انتظار به باسو.

## د افغانستان څخه د محمد اشرف غني وتل

90

دغه لاندینۍ لیکنه کټ مټ د ۸ صبح کابل له سایت څخه کاپي را اخیستل شوې. که څه تیروتنې ولري په پوهاوی نه دي اصلاح شوي.

**د جمهوریت ۷۲ وروستي ساعتونه؛ ارګ کې د دریيو وروستیو ورځو پېښو روایت**

د ولسمشرۍ ماڼۍ د عامه او ستراتیژیکو اړیکو پخوانی رییس، وحید عمر

**۸صبح**د لړم ۱۵مه، ۱۴۰۰

د افغانستان د ولسمشر محمد اشرف غني لېږدوونکو چورلکو د اګست میاشتې په پنځلسمه نېټه د یکشنبې په ماسپښین د جمهوري ریاست له ارګ څخه د نامعلوم مقصد پر لور الوتنه وکړه. درې الوتکې د دلکشا ماڼۍ په څنډو کې د چورلکو له میدانه او یوه بله د کابل له هوایي ډګره په هوا شوې. دغو چورلکو ۵۳ تنه د یوه ناڅرګند هدف پر لور لېږدول. هغه هدف چې په لومړۍ چورلکه کې له سپرو درېیو یا څلورو تنو پرته نور څوک پرې نه پوهېدل. د معمول آوازو برعکس، په هغه ورځ چې په دې څلورو چورلکو کې کوم کسان سپاره وو، هغوی ټول د مخکیني ولسمشر محمد اشرف غني نږدې کسان

90 https://8am.af/ps/the-last-72-hours-of-the-republic-a-narration-of-the-events-of-the-last-three-days-in-the-arg-palace/

نه وو. په دغو چورلکو کې چې په ناڅاپي ډول ۵۳ تنه پکې سپاره شوي وو، دوه ویشت تنه یې د افغانستان د هوایي ځواک پیلوټان او دوه ویشت نور د جمهوري ریاست د ګارډ اړوند ساتونکي (د جمهوري ریاست ساتونکي) وو چې په هغه ورځ یې په ارګ کې مسوولیت درلود. په دغو  چورلکو کې ډېری سپرو کسانو فکر کاوه چې له ولسمشر سره دفاع وزارت ته ځي.

په هماغه ورځ، له هغې ورځې وروسته او آن له سقوط مخکې ورځو کې ډېری حکومتي چارواکو، د پارلمان غړو، سیاسي مشرانو او  د مدني ټولنې او رسنیو فعالینو افغانستان پرېښی و او افغانستان عملاً د طالبانو لاس ته ورغلی و.

خو له غمیزې مخکې درېیو ورځو کې، په ارګ کې څه وشول؟ دلته د کابل له سقوط مخکې ۷۲ ساعتونو پېښې یوه یوه په پوره امانتدارۍ بیانوم چې دغه تاریخي بحث منحرف نه شي. دا لیکنه توجیهي نه ده، تحلیل په کې نشته، هېڅوک په کې خاین یا اتل نه دی، یوازې هغه پیښې لیکل شوې چې په وروستیو ۷۲ ساعتونو کې په ارګ کې وشوې او زه د دې پېښو شاهد وم. زه دغه کیسه پر چا د تور لګولو  او یا چا ته د برائت ورکولو لپاره نه کوم او کوم اخیستون او قضاوتونه چې پرې کېږي، د هغو مسوول نه یم.

**پنجشنبې د اګست ۱۲مه**

**پنجشنبې د اګست ۱۲مه د ماسپښین درې بجې:** د جمهوري ریاست ارګ په سلامخانې مانۍ کې ډېر شمېر ځوانان راټول شوي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ځوانانو د ورځې نمانځنې لپاره پروګرام جوړوي چې ولسمشر غني به هم ورته وینا کوي. له دې مخکې د ورځې په اوږدو کې ولسمشر د لومړیو کرښو له څو سرتېرو سره ټلیفوني خبرې وکړې او بیا یې له شیعه علماو سره د عاشورا مراسمو د امنیت خوندیتوب په اړه وکتل.

محمد اشرف غني په ۳:۳۰ تالار ته را ننوځي، له تالاره د ولسمشر او جمهوریت د زنده‌باد نعرې پورته کېږي. خو د تېرو پروګرامونو برعکس دا مراسم ساړه دي او غړونه چوپ او لړزېدلي دي. زه هم وربلل شوی یم، زه پهلومړۍ لیکه کې د کلتور وزیر او سیمه ایزو ارګانونو ادارې د رئیس څنګ ته ناست یم، خو اندېښمن یم. له هرات، کندهار، هلمند او غزني څخه بد خبرونه را رسېدلي. دغو څلورو ستراتیژیکو ولایتونو سقوط کړی او عمومي روحیه د ځوانانو ورځې نمانځلو ته برابره نه ده.

د پروګرام اجنډا ګورم، د قرانکريم قرائت، د اطلاعاتو او فرهنګ د وزير ډاکتر وفايي زاده وينا، د دوو ځوانانو وينا، د ځوانانو له لوري ولسمشر ته تنديس ډالۍ کول او د ولسمشر لارښوونکې وينا. د اطلاعاتو او کلتور وزير ډاکتر وفايي زاده مراسم پيلوي. زه د وفايي زاده د خبرو په بهير کې ورو له خپل ځايه پاڅېږم. يو همکار مې چې په تالار کې و، هغه په خپله څوکۍ کېنوم. پخپله له سلام خانې راوځم او له دې مانۍ پنځوس متره ليرې چايخونې ته ورځم.

په هغه ورځ ولسمشر د ځوانانو، حکومت ځوانولو او ورته نورو مسايلو په هکله نه غږېږي. محمد اشرف غني د خپل حکومت په وروستيو کې، په حکومت کې له دننه ډېرى ځوانانو څخه مخ اړولى او په دې نظر دى چې ده کومو ځوانانو ته فرصت ورکړى او په لويو دولتي دندو يې ګومارلي، هغوى يې له باوره ناوړه ګټه اخيستې ده. په دغو مراسمو کې ولسمشر د روان وضعيت په اړه خبرې وکړې او له طالبانو سره د وينې تر وروستي څاڅکي د مقاومت ډاډ ورکړ. د يووالي پر اړتيا ټينګار کوي، هڅه کوي چې د نظام د احتمالي سقوط په اړه آوازې رد کړي. وينا تر ډېره عاطفي او احساساتي ده او د داسې يوه رهبر په ښه غږېږي چې پوهېږي د خپل نيمګړي فصل وروستۍ ورځې يې را نږدې دي. د نورو تېرو ويناوو برعکس په ځوانانو کې شور او ولوله کمه او اندېښنه ډېره ده. مراسم د مازديګر په ۵ بجو ختمېږي او د ولسمشر وينا هم دومره رسنيز پوښښ نه مومي.

**پنجشنبې د اګست ۱۲مه د ماښام شپږ بجې:** د ارګ په ډېرينه ودانۍ کې خپل دفتر ته ورستنېږم، په دفتر کې مې ډېر شمېر همکاران راته په تمه دي. ټول ځوانان دي، خو اندېښنه يې د ځوانانو ورځ او د ولسمشر وينا نه ده. ټول اندېښمن دي. دوی پوهېږي چې د نظام سقوط حتمي دی، ځو ورځې مخکې امريکايانو، کاناډايانو او انګليسانو اعلان کړی چې ډېر شمېر خلک له افغانستانه باسي. ټول شواهد ښيي چې ناڅاپي څه کېدونکي دي. هڅه کوم چې د هغوی اندېښنه کمه کړم، خو پخپله هم د اندېښنې نه کولو لپاره کوم دليل نه لرم. له خپلو همکارانو سره دوه ساعته غږېږم او ژمنه ورسره کوم چې له هرې ممکنې لارې به يې مرسته وکړم. د ماخوستن اته بجې کور ته را ستنېږم.
**پنجشنبې د اګست ۱۲مه د ماخوستن نهه بجې:** د شپې نهه بجې په کور کې يم. د ولسمشر کاري مهالوېش ګورم. ټاکل شوې وه چې ماخوستن په اته بجې له چا سره په ټيليفون خبرې وکړي، په مهالوېش کې يوازې ټيليفوني خبرې ليکل شوې، خو دا نه دي ليکل شوي چې له چا سره؟ هڅه کوم ځان پوه کړم چې ولسمشر له چا سره غږېږي. د ولسمشر د دفتر رئيس ته مسج کوم، پوښتم يې چې جمهور رئيس له چا سره وغږېده او څه يې وويل؟ وايي: ولسمشر د امريکا د دفاع او بهرنيو چارو له وزيرانو سره غږېدلی

دی. زه غواړم چې جزییات راکړي، متین بېګ وایي چې  دی په خبرو کې نه و او هغوی له ولسمشر سره یوازې غږېدلي دي. په ټولنیزو شبکو کې آوازې خپرېږي چې د امریکا د دفاع او بهرنیو چارو وزیرانو ګواکې له ولسمشر غني د استعفی غوښتنه کړې ده. د بهرنیو چارو وزیر په جریان کې نه دی، ډاکټر محب مې پیغام نه ځوابوي. ولسمشر ته لاسرسی نه لرم. د جمهور رئیس دستیار سهراب احمد ته پیغام لیکم. هغه په کور کې دی او ظاهراً د ولسمشر د ټیلیفوني خبرو په جزیاتو نه پوهېږي، وایي: جمهور رئیس یوازې و او بل هېڅوک نه پوهېږي. د امریکا حکومت وروسته په هماغه شپه د ټیلیفوني خبرو په اړه یو خبر خپروي او زمونږ له لوري هېڅ نه خپرېږي، هېڅوک نه پوهېږي چې هغوی واقعاً ولسمشر ته څه ویلي او محمد اشرف غني څه ویلي، د حکومت په آرشیف کې له دغې مکالمې هېڅ هم نه پاتې کېږي.
سخته شپه ده، د شوګیرو شپه، څوک سترګه نه شي پټولای، په ښار کې عجیبې آوازې اورېدل کېږي. هېڅوک پر بل باور نه لري، د حکومت دننه او بهر فضا له خفګان او اندېښنو ډکه ده، هر څوک بل د دې وضعیت مسوول بولي، د سقوط زنګ کړنګېدلی دی، ټول پوهېږي چې د حکومت عمر لنډ دی، ټوله شپه د وټس اپ پیغامونه تبادله کېږي، ځیني خلک له ما د وضعیت پوښتنه کوي او زه له نورو خلکو د وضعیت پوښتنه کوم.

چورلکو ټوله شپه د کابل پر فضا شور جوړ کړی، یو شمېر پوهېږو چې دغه چورلکې او الوتکې د کابل په هوایي ډګر کې امریکایي او برېټانیایي ځواکونه ښکته کوي. د امریکا ولسمشر بایډن اعلان کړی چې کابل ته درې زره تازه دمې سرتېري رالېږي چې په هوایي ډګر کې مېشت شي او د سفارت کارکوونکي، پاتې سرتېري او افغان همکاران یې له افغانستانه وباسي. بریټانویانو او کاناډایانو هم همدا ډول اعلان کړی، په دولت کې دننه او بهر ډېرو پر (نړیوالو همکارانو) زړه تړلی او فکر کوي چې (له افغانستانه د ایستونکو) په لېست کې به شامل شي.

کندهار، هلمند، غزني او هرات نن سقوط کړی. په هرات کې اسماعیل خان، د کورنیو چارو وزارت ستر امنیتي مرستیال رحمن رحمن، د هرات والي صبور قانع او د هرات د امنیت رئیس حسیب صدیقي طالبانو نیولي دي، په لویو ښارونو کې یوازې مزارشریف، جلال آباد او کابل د حکومت په ولکه کې دي. جلال آباد آرام دی او هېڅ تحرک په کې نشته. په مزارشریف کې جنګ د ښار تر څنډو  رسېدلی او د کابل په دروازې، مېدان ښار کې سخته جګړه روانه ده، د کابل د محاصرې کړی لا تنګېږي.

جمعه د اګست ۱۳مه

**جمعه د اګست ۱۳مه د سهار لس بجې:** د جمعې ورځ ده او زه په کور یم، د ولسمشر دستیار راته مسج کوي چې په لس نیمو بجو چې په کابل ښار کې د بېځایه شویو کمپونو ته د ولسمشر د ورتګ پلان شوی و، هغه وځنډېده. په هر حال ما پلان نه درلود چې پکې ګډون وکړم، دستیار زیاتوي چې وضعیت مخ په خرابېدو دی، ولسمشر هدایت ورکړی چې ماسپښین ۲:۳۰ بجې عاجل امنیتي ناسته جوړ شي. زه معمولاً په امنیتي ناستو کې ګډون کوم، دا ځل په تمه یم چې په ناسته کې د ګډون بلنه راکړل شي، خو څوک بلنه نه راکوي. د ملي امنیت شورا له دارالانشاء سره اړیکه نیسم. د امنیت شورا منشي مهدي طه نومېږي او راته وايي د ملي امنیت سلاکار هدایت راکړی چې د ولسمشر له مرستیالانو او د امنیتي برخې له وزیرانو پرته نور خلک ور و نه بلل شي. ډاکتر محب ته پیغام لیکم او ورته وایم چې غواړم په ناسته کې ګډون وکړم، نوم مې د ناستې د غړو په لیست کې شاملېږي، ټاکل شوې نن دوه نیمې بجې په وروستی امنیتي ناسته کې ګډون وکړم.

په تېره یوه میاشت کې تقریباً هره ورځ امنیتي ناستې جوړېږي. دغه ناستې څو ځله د دفاع وزارت د سوق او اداره په مرکز کې وشوې. له هغې وروسته امنیتي ناستې د امنیت شورا په دفتر کې د ملي امنیت سلاکار په مشرۍ ترسره کېدې. لومړي مرستیال خپلې امنیتي ناستې درلودل او په خپل دفتر کې يې کولې. دفاع وزارت ته د بسم الله خان په راتګ، پر امنیتي دستګاه د انحصار سیالي په دریو ځایونو کې روانه ده؛ د لومړي مرستیال دفتر، د امنیت شورا دفتر او د دفاع وزارت. د دغو سیالیو د کابو کولو لپاره له دریو اونیو راهیسې امنیتي ناستې د سلامخانې ماڼۍ په الحاقیه کې پخپله د ولسمشر په مشرۍ کېږي او ټول په کې ګډون کوي.

**جمعه د اګست ۱۳مه د ماسپښین دوه نیمې بجې:** د سلامخانې ماڼۍ په الحاقیه ودانۍ کې ځانګړې امنیتي ناسته دایرېږي. د نورو امنیتي ناستې برعکس په دې ناسته کې د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس ډاکتر عبدالله او د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر هم ګډون لري. لومړی مرستیال امرالله صالح، دویم مرستیال سرور دانش، د دفاع وزیر جنرال بسم الله خان، د ملي امنیت شورا سلاکار ډاکتر محب، د کورنیو چارو وزیر جنرال میرزکوال، د ملي امنیت عمومي رئیس ضیا سراج، د چارو ادارې رئیس ډاکتر

فضلي او د ولسمشر د دفتر رئیس متین بیک هم په دې ناسته کې ګډون کوي. امرالله صالح ته د ولسمشر ښي لور او ډاکتر عبدالله ته د ولسمشر چپ لور ته څوکی اېښودل شوې دي. په دې ټل جنجال و چې له جمهور رئیس وروسته د هېواد دویم نفر څوک دی. په همدې خاطر چې په ډېری ناستو کې ډاکتر عبدالله ګډون کوي، امرالله صالح په کې غیرحاضر وي. خو اوس کیسه له تشریفاني جنجالونو تېره ده او هېڅوک په چپ او ښي اړخ اعتراض نه لري.

د ناستې فضا سړه ده، ولسمشر د ناستې په پیل کې وایي چې دا د پرېکړې شېبه ده، له ټولو ګډونوالو غواړي چې که د درېدو تصمیم نه لري، همدلته اعلان کولای شي، د ناستې ګډون وال په خپلو ځایونو غلي ناست دي، هېڅوک څه نه وایي.

ولسمشر خپلو انقلابي خبرو ته دوام ورکوي. د وینې تر وروستي څاڅکي د درېدو، د مزار او مېدان ښار جبهو ته د مرستې رسولو او خلکو د منظمولو په اړه غږېږي. د ولسمشر خبرې تقریباً لس دقیقې دوام کوي او پیغام یې د مقاومت او درېدلو دی.

امرالله صالح عین خبرې تکراروي، د ولسمشر دریځ ستایي او د تل په څېر د امرالله صالح او جمهور رئیس ترمنځ توصیفي ډیالوګ تکرارېږي. (د ولسمشر او لومړي مرستیال اړیکي تل سره نږدې وې. په وروستیو دوو کلونو کې معمول دي چې د کابینې او امنیت شورا د ناستو لویه برخه، د ولسمشر او امرالله صالح ترمنځ په توصیفي ډیالوګونو تېرېږي. دانش په دې ناستو کې لږ خبرې کوي.) امرالله صالح له ولسمشره پوښتنه کوي چې دوه ورځې مخکې ورسپارل شوې د کابل تصویري امنیتي طرح یې لوستی که نه؟ ولسمشر د تل په څېر د کابل د امنیت د خوندیتوب لپاره د صالح هلې ځلې، د شېر نیمو بجو د ناستو اغېزمنتیا او نور کارونه ستایي او وایي چې سند یې لوستی او ورسره موافق دی.

له کومې ورځې چې له ډاکتر عبدالله د اجرائیه رئیس لقب تللی او د ملي روغې جوړې د عالي شورا رئیس لقب یې اخیستی، له هغې وروسته په لومړي ځل امنیتي ناسته کې ګډون کوي. د همدې ورځې په سهار تازه له قطره راستون شوی او خبرې یې ظاهراً له طالبانو سره ښې نه دي، وایي چې طالبان د مشارکت په اړه خبرو ته چمتو نه دي او

غواړي چې په زور واکمن شي. په امنیتي ناستو کې د ملي روغې جوړې عالي شورا رئیس ګډون دا اخیستون ایجادوي چې نور یې له سولې او مذاکرې لاس مینځلی وي.
د ملي امنیت سلاکار په دې ناسته کې نه غږیږي. یوازې د ناستې په پیل کې اجنډا لولي او په نورو بحثونو کې برخه نه اخلي، د دفاع وزیر خفه دی، د مقاومت خبره لړه کوي. امرالله صالح چې غږیږي، د دفاع وزیر ورته په بې‌باوری ګوري. هغه کوي دا ووایي چې طالبان په کومو ځایونو کې چې واکمن دي، له خلکو سره یې بد چلند نه دی کړی. د بسم الله خان له خبرو داسې ښکاري چې نور د مقاومت په نتیجې باوري نه دی. امرالله صالح د بسم الله خان دا خبرې د طالبان سپین ښودل بولي او وایي په امنیتي او دفاعي ځواکونو کې چې کوم مغلوبه ذهنیت رامنځته شوی، دا د ماتې لامل کېږي. د امرالله صالح او بسم الله خان ترمنځ څو جملې تبادله کېږي. ولسمشر مداخله کوي او د ناستې فضا سړېږي. (د لومړي مرستیال او دفاع وزیر اړیکې له اوله تتې وې، ټاکل شوې وه چې له کورنیو چارو وزارت څخه د جنرال مسعود اندرابي تر تللو وروسته، جنرال بسم الله خان د ډاکتر عبدالله په ونډه کې وزیر شي. په کورنیو چارو وزارت کې د بسم الله خان مقرري تقریباً دوه اونۍ د لومړي مرستیال د مخالفت له امله ځنډېدلې وه، تر دې چې بالاخره د دفاع وزیر شو.)
د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت رئیس خپل ګزارشونه وړاندې کوي. د ملي امنیت د رئیس راپور ناهیلې کوونکی دی، خو د کورنیو چارو وزیر وایي چې د کابل وضعیت د اندېښنې وړ نه دی، د مېدان ښار کمربند پیاوړی دی او نه ماتېږي، وایي چې مېدان ښار ته مرستندویه ځواکونه لېږل شوي. د امنیت رئیس ضیا سراج مې تر څنګ ناست دی، په یوه سپینه پاڼه ورته لیکم، آیا ریښتیا د مېدان ښار کمربند قوي دی؟ هغه یې لولي، راته لیکي: «دروغ وایي».
د ناستې په وروستیو کې زه نوبت اخلم، وایم چې د ناستې په پیل کې د ولسمشر خبرې نه دي ثبت شوې، وړاندیز کوم چې له ناستې وروسته دې ولسمشر دغه خبرې تکرار کړي چې ثبت او نشر یې کړو، د ناستې غړي موافقه کوي. ناسته د مازیګر په پینځو بجو د طالبانو د تمامیت غوښتلو پر ضد د دربېدو او مقاومت په پیغام سره پای ته رسېږي، زه بېرته دفتر ته ورځم چې د ولسمشر ثبتي پیغام چمتو کړم.

د ملي امنيت د سلاکار دفتر پرېکړه کوي چې د دې ناستې خبر خپور نه شي. د افغانستان اسلامي جمهوريت د وروستۍ امنيتی ناستې رسمي رپوټ نه خپرېږي. امرالله صالح له ناستې يو ساعت وروسته د ناستې د جزيياتو يوه برخه پر خپل فېسبوک او ټوېټر خپروي.

**جمعه د اگست ۱۳مه د ماښام شپږ بجې:** زه د جمهور رئيس پيغام په يوه پاڼه کې چمتو کوم، پيغام لنډ خو قاطع او جنګي دی، ولسمشر په دې پيغام کې قاطع غږېږي او ژمنه کوي چې تر وروستۍ شېبې به د خپل ولس دفاع کوي. له خلکو غواړي چې چمتو شي او د کابل دفاع وکړي، د امنيتي ناستې روحيه همداسې وه. (د هغې آوازې برعکس چې د يوې رسنۍ مسوول خپره کړې وه چې ما کوم پيغام ليکلی و، د ولسمشر د استعفی متن و، دا اصلاً د ولسمشر د استعفی متن نه و، د مقاومت، درېدو او د کابل او هغو سيمو د دفاع لپاره عمومي بلنه وه چې لا د حکومت په واک کې وې.)

پيغام ثبتولو ته چمتو دی، د ولسمشر دفتر ته زنګ وهم، د جمهور رئيس دستيار وايي چې ولسمشر نه غواړي پيغام په ارګ کې ثبت کړي، غواړي چې د بالاحصار په غونډۍ يې ثبت کړي، زه ورته وايم چې بالاحصار مناسب ځای دی، تاريخي اهميت لري، خو ښه به دا وي چې د ولسمشر مرستيالان، د دفاع وزير، د کورنيو چارو وزير او د ملي امنيت رئيس هم را وبلل شي او د پيغام د ثبت پر وخت د ولسمشر تر څنګ ودرېږي، د نظر يووالی بايد وښودل شي.

په ۶:۳۰ بجو راته زنګ وهل کېږي چې ولسمشر د دلکشا مانۍ د چورلکو په ميدان کې بالاحصار ته د تللو لپاره چمتو دی، زه په منډه ځان هغه ځای ته رسوم، چورلکې ته پورته کېږم. يوازې ولسمشر او د دفاع وزير په چورلکه کې دي، سهراب پوښتم چې نور ولې نشته؟ وايي نه پوهېږم، ښايي وخت کم او هغوی نه وي را رسېدلي.

چورلکې الوځي، جمهور رئيس، د دفاع وزير او زه په کې سپاره يوو. ليکلی پيغام ولسمشر ته ورکوم، محمد اشرف غني بل کوم نظر نه لري، پيغام د دفاع وزير ته هم ورکوم چې ويې لولي، هغه هم په کې نظر نه لري.

بالاحصار ته چې رسېږو، د دفاع وزير وايي چې د مجاهدينو د دولت پر مهال، په بالاحصار کې يو کال د طالبانو پر وړاندې وجنګېد او طالبان ونه توانېدل چې د مېدان

ښار له لارې کابل ته راننوځي. زه ورته وایم، دا دویم امتحان دی چې عین کار تکرار شي. د دفاع وزیر راته په نهیلی ګوري، ورو راته وایي چې: « دا وارې سخته ده».
چورلکې د بالاحصار غونډۍ پر څنډو تیتیږي، خو تر کېناستو وړاندې بېرته هوا ته پورته کېږي، هېڅوک نه پوهېږي چې څه خبره ده، ښایي امنیتی ستونزه وي. ښایي تخنیکي ستونزه وي، چورلکې لس دقیقې د کابل د لوېدیځ پر فضا ګرځي، لس دقیقې وروسته بېرته د بالاحصار پر څنډو ښکته کېږي.
د بالاحصار لوړې څوکې ته رسېږو، د جمهوري ریاست د مطبوعاتو همکاران مخکې تر مخکې هلته رسېدلي او د پیغام ثبت ته چمتو دي. ولسمشر او د دفاع وزیر دواړه په یوه فریم کې درېږي. جمهور رئیس یو ځل پیغام لولي او د کامرې مخې ته له یاده غږېږي. پیغام یې لنډ، خو سخت او متشدد دی، ۴ دقیقې پیغام ثبتېږي، له پیغام ثبتېدو وروسته څو دقیقې د بالاحصار پر څوکو ګرځو، بسم الله خان ولسمشر ته د کابل د جنګونو کیسې کوي، لس دقیقې وروسته بېرته موټرو ته ستنېږو چې چورلکو ته ورسېږو، ولسمشر او دفاع وزیر په یوه موټر کې سپرېږي، جمهور رئیس ناڅاپه دروازه پرانیزي او راته وایي: «عمر صیب، د پیغام له خپرولو وړاندې له سراج صاحب (د ملي امنیت رئیس) سره مشوره وکړه.» ولې؟ نه پوهېږم! خو د پیغام له خپرولو وړاندې باید د ملي امنیت له رئیس سره مشوره وکړم.
**جمعه د اګست ۱۳مه د ماښام اووه نیمې بجې:** بېرته دفتر ته ستنېږم، همکارانو ته مې وایم چې د ولسمشر پیغام د خپرېدو لپاره چمتو کړي. ضیا سراج ته زنګ وهم، نه یې ځوابوي، څو شېبې وروسته پخپله زنګ راوهي. راته وایي چې د ولسمشر پیغام د څو ساعتونو لپاره خپور نه کړم، پوښتنه کوم چې ولې؟ وایي طالبانو توافق کړی چې اسماعیل خان، د هرات والي، د کورنیو چارو وزارت امنیتي معین او د هرات د امنیت رئیس را خوشې کړي او کابل ته د راتګ اجازه ورکړي. وایي، ټاکل شوې چې هغوی ته له کابل څخه الوتکه واستول شي چې کابل ته یې را انتقال کړي، د ولسمشر جنګي پیغام د هغوی خلاصون له خطر سره مخ کولای شي. ژمنه کوي چې څنګه الوتکه له هراته کابل ته الوتنه وکړي، ماته به خبر راکوي چې پیغام خپور کړم. د شنبې ورځې د سهار تر ۲ بجو په تمه کېږم، خو سراج د الوتکې د الوتنې خبر نه راکوي.

د سهار په ۲ بجو راته د امنیت شورا مرستیال پیغام راکوي چې الوتکه له ۸۵ تنه سپرلیو سره له هراته را پورته شوه، خو اسماعیل خان په کې نشته. اسماعیل خان ظاهراً د هرات د هوایي ډګر له دروازې بېرته کور ته ستون شوی دی. هېڅوک نه شم پیدا کولای چې د پیغام د خپرولو مشوره ورسره وکړم. د پیغام نشر ځنډېږي او همداسې پاتې کېږي. (وروسته خبر شوم چې اسماعیل خان په هرات کې د ایران د کونسل په هلو ځلو بېرته خپل کور ته ستون شوی، ظاهراً ورته ویل شوي وو چې په هرات کې پاتې کېدل یې کابل ته تر تللو غوره دي. وروسته چې کله طالبانو کابل ونیوه، اسماعیل خان ته یې اجازه ورکړه چې مشهد ته لاړ شي، د دغه روایت سمون نه شم تاییدولای.)
بیا هم سخته شپه ده، مزارشریف سقوط کړی، څو ساعته مخکې پرېکړه وشوه چې د مزار په کلکه دفاع باید وشي. په څو ساعتونو کې مزار څنګه سقوط وکړ؟ څو ورځې مخکې ولسمشر مزارشریف ته تللی و او هلته یې د جګړې قومانده د دولتی نظامیانو او سیاسي رهبرانو یوې ګډې شورا ته سپارلې وه. عطامحمد نور او جنرال دوستم ژمنه کړې وه چې د وینې تر وروستي څاڅکي به د مزار دفاع کوي. هغوی په لومړی ناسته کې عطامحمد نور د مزار د جنګ عمومي قومندان ټاکلی و، په مزار کې سخته جګړه ونه شوه. تر وروستی شېبې د مزار ښار آرام و او د ښار په څنډو کې ځای ځای جنګ کېده. د شپې ناوخته ناڅاپه د مزارشریف د ماتې خبر خپرېږي او ورسره د مارشال دوستم او عطا محمد نور د لېږدونکو موټرو د کاروان عکسونه هم د حیرتانو له پله خپاره شول. یو مزاری خبریال د مزار د سقوط هغه ویډیو مستقیماً په خپل فېسبوک خپروي چې د کور له برنډې یې کړې وه. مارشال دوستم او استاد عطا ترمز ته وتښتېدل او مزارشریف سقوط وکړ.
د مزار له سقوط وروسته یوازینۍ هیله جلال آباد دی، جلال آباد څه ناڅه آرام دی. په کابل کې دولتي ځواکونه او پوځي مشران غافل دي. په ننګرهار کې ولې تحرک نشته؟ د مېدان‌ښار په خط کې سخته جګړه روانه ده او ظاهراً امریکایي ځواکونو د جګړې لومړۍ کرښه بمبار کړې ده. د کابل په خط کې لا ماته نه ده راغلې، په هغه شپه د سهار تر څلورو بجو ویښ پاتې شوم، خوب به چاته ورشي.
**شنبې د اګست ۱۴مه، ۲۰۲۱**

**شنبه د اګست ۱۴مه د سهار نهه نیمي بجې:** سهارنی ناسته له ولسمشر سره د حرامسرای په انګړ کې کېږي. سهارنی ناسته په وروستیو شپږو میاشتو کې د جمهور رئیس په مهالوېش کې ځای شوې ده. زه معمولاً په سهارنیو مجالسو کې پنځلس دقیقې ګډون کوم او په ټولنیزو رسنیو کې د وضعیت رپوټ وړاندې کوم، نور له ناستې وځم. نن تر موږ وړاندې سلام رحیمي ناسته درلوده. ورپسې بیا جمهور رئیس د ملي امنیت سلاکار او اداره امور رئیس سره لیدلي دي. اصلي خبرې هلته شوې دي، زموږ ناستې تر ډېره تشریفاتي دي.

ناسته ۱۵ دقیقې دوام کوي او ډېرې خبرې په کې نه کېږي. په دې ورځ د جمهور رئیس برنامې مختصرې دي، په کاري اجنډا کې یې درې فعالیتونه دي: لومړی، کوم پیغام چې پرون په بالاحصار کې ثبت شوی، هغه دې خپور نه شي. ولسمشر باید نن لس نیمې بجې بل پیغام ثبت کړي. له پرون ماښام راهیسې ولې دریځ بدل شو؟ نه پوهېږم! وروسته ولسمشر تصمیم لري چې له شمال ختیځو ولایتونو کابل ته د را کډه شویو کورنیو ته رسیدګی لپاره ناسته وکړي او ماسپښین وروسته ټاکل شوې چې له سیاسي او جهادي مشرانو سره وګوري. (ولسمشر تېره شپه د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر سره غږېدلی و. په دې ناسته کې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر سره خبرو ته اجمالي اشاره لرله او په هماغه خبرو کې یې لکه چې وویل: «دوه تر درېیو اونیو وخت لرو چې معقوله حل لاره پیدا شي.» دا چې دغه خبره مې سمه په یاد نه ده او یادښتونه مې هم راسره اوس نشته، د دې برخې پر جزیاتو به بیا بل وخت مفصله لیکنه وکړم.)

**شنبې د اګست ۱۴مه د سهار لس نیمي بجې:** له همکارانو سره ګلخاني مانۍ ته ځم چې د ولسمشر نوی پیغام ثبت کړو. له ملي راډیو ټلویزیون او د ارګ له ټولنیزو پاڼو اعلان کوو چې ولسمشر افغان ولس ته مهم پیغام لري، خو اصلاً د ویلو لپاره مهم څه نه لري. پیغام خنثی او بې محتوا دی، راښکون په کې نشته، په رسنیو کې پوښښ نه پیدا کوي. پرون چې په بالاحصار کې کوم پیغام ثبت شوی و، هغه ښه و، خو د نشر اجازه مو یې ترلاسه نه کړه. د پرون پیغام د مقاومت او درېدو پیغام و، په نني پیغام کې د مقاومت خبره نشته، په نني پیغام کې د (معقولې سیاسي حل لارې) خبره شوې ده. پرون شپه څه وشول او ولې (د مقاومت او درېدو پیغام) په (د معقولې سیاسي حل لارې په موندلو) بدل

شو؟ نه پوهېږم! پرون چې په بالاحصار کې د جمهور رئیس او د دفاع وزیر کوم عکسونه اخیستل شوي وو، نن یې بې کوم هدف او اصلي پیغام خپروو او ورسره لیکو چې: «ولسمشر او د دفاع وزیر د بالاحصار لیدنه وکړه».

وروسته چې ولسمشر کورنیو بېځایه شویو ته د پاملرنې کومه ناسته کوي، ګډون په کې نه کوم، ځکه دا ناسته بې وخته، بې مورده او بې نتیجې ده.

**شنبې د اګست ۱۴مه د ماسپښین دوه نیمې بجې:** سیاسي او جهادي مشرانو له ولسمشر سره د ملاقات غوښتنه کړې ده. ناسته د ماسپښین دوه نیمو بجو ته تنظیم شوې، زه نه یم بلل شوی، خو اعتنا نه کوم او چهارچنار ماڼۍ ته ورځم، په چهارچنار ماڼۍ کې د جمهور رئیس له سیاسي سلاکار اکرم خپلواک پرته نور هېڅوک نشته. خپلواک د ولسمشر سلاکار هم دی او د ملي روغې جوړې د عالي شورا مرستیال هم، په دې خاطر معمولاً د دغو ناستو تنظیم د هغه مسوولیت دی. ترې پوښتنه کوم چې سیاسي او جهادي مشران ولې نه دي راغلي، وایي چې هغوی په سپیدار ماڼۍ کې ناسته لري او د هغې ناستې له ختمېدو وروسته ټول په ګډه دلته راځي.

سیاسي او جهادي رهبران په یوه ساعت ځنډ، د ماسپښین درې نیمې بجې ارګ ته را رسېږي. ناسته پیلېږي. د ولسمشر مرستیال په ناسته کې نشته، پخوانی جمهور رئیس کرزی، ډاکتر عبدالله عبدالله، د مشرانو جرګې رئیس فضل‌هادي مسلمیار، محمد یونس قانوني، استاد کریم خلیلي، استاد محمد محقق، باتور دوستم، د بهرنیو چارو وزیر حنیف اتمر، د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب، د ولسمشر د دفتر رئیس متین بیک، د چارو اداري رئیس فضل محمود فضلي، د ولسمشر سلاکار اکرم خپلواک او د مذاکراتي پلاوي غړی سلام رحیمي په ناسته کې ګډون لري. د ولسي جرګې رییس میر رحمن رحماني ناوخته ناستې ته را رسېږي. استاد سیاف ته څوکۍ اېښودل شوې، خو پخپله نشته، د ناستې له پیلېدو مخکې حامد کرزی، د چارو ادارې رئیس ځان ته ور غواړي او په غوږ کې ورته څه وایي، ډاکتر فضلي غوښتنه کوي چې کامرې دې له ناستې وایستل شي. زه عکاس ته وایم چې پاتې شي او د ناستې عکسونه دې د ارشیف لپاره واخلي. دا ناستې مهمې دي او عکسونه یې باید په تاریخ کې ثبت شي.

د ناستې فضا کړکېچنه ده، په څېرو کې اندېښنې او پرېشاني له ورایه ښکاري، ټول غلي ناست دي او پر شونډو هېڅ موسکا نشته. ظاهراً داسې ښکارېږي چې سیاسي مشران ارګ ته راغلي او مهم پیغام لري. له معمول سره سم د قرانکریم تلاوت کېږي او وروسته ولسمشرناسته پیلوي، د معمول خلاف، جمهور رئیس د ویلو لپاره ډېر څه نه لري. مایک روښانوي او ډاکتر عبدالله ته وایي چې د هغه خبرو اورېدو ته چمتو دی، ډاکتر عبدالله له حامد کرزي غواړي چې پیغام ورسوي.

پخوانی ولسمشر حامد کرزی عاطفي غږېږي او وایي په کابل کې جګړې او وینې توېدو ته اندېښمن دی. نورو ته په کنایه وایي چې دی په دې خاطر ډېر اندېښمن دی چې کورنۍ یې په کابل کې ده. وایي جرمنانو غوښتل چې زوی یې میرویس په پنځه کلن بورس المان ته بوځي، خو ده ورسره موافقه نه ده کړې. بیا وایي دی نه غواړي چې خپل بچي یې بهر وي او د افغانانو د بچو په درد پوه نه وي. بیا اصلي مطلب ته راځي، جمهور رئیس ته وایي چې د پرېکړې او قربانۍ وخت دی او د کابل د ورانېدو او وینې توېدو مخه باید ونیول شي. حامد کرزی سپینه خبره نه کوي، خو ټول پوهېږي چې هدف یې څه دی.

ورپسې ډاکتر عبدالله، استاد خلیلي، استاد محقق، یونس قانوني او ښایي یو بل کس خبرې کوي. پیغامونه تقریباً سره ورته دي، په کابل کې باید د وینې توېدو مخه ونیول شي. د پروني امنیتي ناستې برعکس نن هېڅوک د مقاومت خبره نه کوي. ټول د لا ډېرې وینې توېدو او د کابل د ورانېدو د مخنیوي خبره کوي. په تېرو ناستو کې معمول دا و چې سیاسي مشرانو به د افغانستان د بېلابېلو سیمو د دفاع لپاره د خپلو قوتونو خبرې کولې او له دولت څخه به یې وسلې، مهمات او امکانات غوښتل. سیاسي مشرانو په تېرو څو میاشتو کې له دولت څخه د ولسي پاڅونونو او امنیتي مفرزو په نوم ډېر امکانات اخیستي دي. دا هغه امکانات وو چې په میدان کې شته ځایي ځواکونو ته لږ رسېدلي دي.

پرون ټولو د مقاومت او درېدو خبره کوله او نن ټول ناڅاپه غواړي چې په کابل کې د وینې توېدو مخه ونیول شي. په تېرو ۲۴ ساعتونو کې واقعاً څه شوي دي؟ نه پوهېږم! ولسمشر ظاهراً د سیاسي رهبرانو پیغام درک کوي او د ناستې په جمع بندۍ کې دی هم د مقاومت او درېدو خبره نه کوي، وایي چې د رهبرانو له وړاندیز سره موافق دی. دنده ورکوي چې یو باصلاحیته پلاوی وټاکل شي چې سبا قطر ته لاړ شي او له طالبانو سره

نهايي پرېکړه وکړي، دا خبره کوي او په بېړه بې له خدای په امانی له ناستې وځي. د افغانستان د سياسي مشرانو وروستی ناسته يوازې نيم ساعت دوام کوي.

د ناستې له پای ته رسېدو مخکې يونس قانوني وايي چې دی او د مقاومت يو شمېر نور سياسي مشران اسلام آباد ته بلل شوي او ټاکل شوې چې سبا هلته لاړ شي. له ولسمشره اجازه غواړي، ولسمشر په غصه کېږي او وايي چې دا وخت پاکستان ته د تللو نه دی. په دې وخت کې پاکستان ته د سياسي مشرانو تګ به ښه پيغام ونه لري، قانوني هېڅ نه وايي.

د ناستې له ختمېدو وروسته، له تالاره بهر يونس قانوني سره مخ کېږم، په دې خفه دی چې ولسمشر يې پاکستان ته له تللو سره موافقه نه ده کړې. په ولسمشر پسې سختې خبرې کوي، ماته وايي ولسمشر ته وايه چې د درناوي له مخې مې څه ونه ويل که نه، اسلام آباد ته د تللو لپاره د چا اجازې ته اړتيا نه لري. زه يې ټولې خبرې اورم، خو څه نه وايم، زه نه غواړم چې د ولسمشر او قانوني ترمنځ پيغام رسوونکی شم.

هلته د چهارچنار مانۍ د مخې په ميدان کې ډاکتر عبدالله، کريم خليلي، حنيف اتمر، متين بيګ او اکرم خپلواک سره غږېږي. زه ور نږدې کېږم چې وګورم څه وايي، د بهرنيو چارو وزير په منځ کې ولاړ دی، خبرې کوي او نور يې په دقت اوري. اتمر په دې خفه دی چې جمهور رئيس ته ولې پيغام په روښانه ډول ونه ويل شو. وايي ولسمشر د سياسي مشرانو په غوښتنه سم او واضح نه دی پوه شوی. ډاکتر عبدالله ورسره موافق دی، ښايي ولسمشر نه وي پوه شوی چې دوی غوښتل هغه دې له واکه لېرې شي او واک دې په بيړه ولېږدول شي. د بهرنيو چارو وزير وړانديز کوي چې دی او ډاکتر عبدالله دې جمهور رئيس ته ورشي او پيغام دې ورته په واضح ډول ووايي چې هغه په ابهام کې نه وي. ډاکتر خپلواک لېږي چې له ولسمشره وخت واخلي، ډاکتر خپلواک حرم سرای ته د وخت اخيستو لپاره ورځي، خو ظاهراً جمهور رئيس ډاکتر عبدالله او اتمر ځان ته مني. ولسمشر د حرم سرای ودانۍ شاته له ډاکتر محب او ډاکتر فضلي سره بوخت دی.

په ناسته کې د سياسي مشرانو له پيغامه زما اخيستون روښانه دی. ډاکتر غني بايد له واکه لېرې شي، د هغه د کار دوام يې د خپلو بهرنيو چارو وزير په شمول، هېچا ته د منلو نه دی. په دولت کې دننه او بهر سياسيونو محاسبه دا ده چې که ډاکتر غني له صحنې ووځي، طالبان به له دوی سره جوړجاړی وکړي او مشارکتي حکومت به جوړ کړي. طالبانو په دې اړه مخکې له مخکې سياسي مشرانو ته ځيني پيغامونه ورکړي وو.

. (زما په ذهن کې پوښتنه دا ده چې اوس طالبان بې له جنګ او جدي مقاومته د کابل دروازو ته را رسېدلي او پوهېږي چې په کابل کې به هم ورسره جدي مقاومت ونه شي، نو څنګه به معاملې ته چمتو شي؟ آیا طالبان دې ته لیواله دي چې د زور له لارې، په مطلق ډول کوم واک ترلاسه کوي، هغه له بل چا سره ووېشي؟ ولې باید دا کار وکړي؟ دا ټکی د بحث وړ دی.)

**شنبې د اګست ۱۴مه د ماښام شپږ نیمې بجې:** د جمهور رئیس بل پروګرام د امریکا له سفیر او د نړیوالو ځواکونو له پوځي مشرانو سره لیدنه ده چې د مازدیګر په ۵:۴۵ باید ترسره شي. دا ناسته سهار د ولسمشر په مهالوېش کې نه وه او په بیړه ور زیاته شوې. زه دې ناسته ته نه یم بلل شوی، په کاري دفتر کې یم، په ۶:۳۰ بجې د ولسمشر له دفتره راته زنګ وهي او وایي چې یو خبر باید خپور کړو، ولسمشر د امریکا له سفیر او د نړیوالو ځواکونو له پوځي مشرتابه سره د ملي امنیت سلاکار، د چارو ادارې رئیس، د ولسمشر د دفتر رئیس او د لوی درستیز هیبت الله علیزي په حضور کې ولیدل او نړیوالو همکارانو د همکارۍ د دوام او له طالبانو سره د ګډې مبارزې ډاډ یې ورکړی دی.
همکارانو ته مې هدایت ورکوم چې خبر عاجل خپور کړي. ساعت وروسته بیا زنګ راغی چې بل خبر باید خپور کړم، په ناسته کې پرېکړه شوې، جنرال سمیع سادات چې د لښکرګاه له سقوط وروسته کابل ته راستون شوی، د کابل د امنیتي ځواکونو عمومي قومندان ټاکل شوی او په کابل کې ټول امنیتي ځواکونه به هغه ته ګزارش ورکوي. بیا څه وشول؟ یو ساعت مخکې د واک د لېږد او د قطر ته د پلاوي د لېږلو خبره وه، ساعت وروسته بیا له طالبانو سره د جنګ او مقاومت خبر خپروو. ولس به دې متناقضو خبرونو څه برداشت وکړي؟ په هر حال، د سمیع سادات د مقررۍ خبر خپروو او ټاکل شوې چې .هغه راتلونکي شل ساعته چې کابل سقوط کوي، د کابل د دفاع مسوول وي
د ماښام اوه نیمې بجې دي، زه او همکاران مې لا هم په دفتر کې یوو، نن یې اندېښنې لا ډېرې دي، له ما اطمینان غواړي، هغه ډاډ چې زه یې ورته نه شم ورکولای. د ماخوستن اتو بجو ته نږدې له دفتره راوځو، تر اماني لېسې پیاده ځوو، هلته سره بېلېږو او خپلو کورونو ته ستنیږو.

**شنبې د اګست ۱۴مه د شپې له اتو تر دولسو بجو :** له خپل پخواني کور څخه بل ځای ته کډه شوی یم، مخکې مې چې کوم کور کرایه کړی و، هغه په نسبتاً زیانمنونکي سیمه کې و. د ملي دفاع د وزیر په کور له برید او د خپل ښه ملګري او همکار دواخان مینه پال له مړینې وروسته مې تازه په یوه نسبتاً خوندي ځای کې بل کور کرایه کړ، نوي کور ته لا کډه پوره نه ده راوړل شوې، یو ساعت له خپلې مور سره غږېږم، د مور په ذهن کې څه ګرځېدلي او فکر کوي چې کوم ناڅاپي څه پېښېدونکي دي، زه ورته وایم چې

تشویش مه کوه، لږ تر لږه تر دوو اونیو څه نه کېږي، لږترلږه د سیاسي مشرانو له ناستې زما اخیستون دا و؛ خو پخپله پوهېږم چې دغه ډاډ بېمورده دی، ټول شواهد دا ښیي چې یو ناڅاپي څه کېدونکي دي.
زه په حکومت کې د بل هر چا په پرتله په خبریالانو، د مدني ټولنې فعالینو او له حکومته بهر پرګنو کې نسبتاً ډېر ملګري لرم، ټول اندېښمن دي او په حکومتي دستګاه کې یې یوازینۍ اړیکه له ما سره ده، زه ورته د ویلو او ډاډ ورکولو لپاره څه نه لرم، اندېښنه اوج ته رسېدلې ده، ټول له هېواده د وتلو په فکر کې دي. یو ملګری مې په هوایي ډګر کې دی او دوبۍ یا استانبول ته پرواز لري. پرلپسې پیغامونه راته کوي چې وضعیت خراب دی او په لومړي پرواز کې باید له کابله ووځم. له هغه سره ژمنه کوم چې دا کار به وکړم، خو پخپله پوهېږم چې مشخص پلان نه لرم، زما کور او کورنۍ غړي چې اکثریت (حکومتي او غیرحکومتي مخکښې طبقې) څخه دي په کابل کې دي. دویم هېواد نه لرم چې ورته لاړ شم، ساعت وروسته مې یو ملګری چې په کام ایر شرکت کې کار کوي، زنګ راوهي او راته وایي چې اکثریت حکومتي او غیرحکومتي چارواکو د راتلونکي ورځې په پروازونو کې ټکټونه اخیستي او که زه غواړم له کابل څخه ووځم، نو هغه راته د کام ایر په یوه پرواز کې عاجل ځای پیدا کولای شي. مننه ترې کوم او ورته وایم که اړتیا شوه احوال به درکړم. د کورنۍ یو شمېر غړي له پخې ډوډۍ سره یو ځای کور ته راځي، دا چې د کورنۍ غړي مې راسره دي خوشحاله یم، خو اندېښنه هم لرم. که طالبان نن شپه کابل ته را ورسېږي، دوی ته زیان ونه رسېږي، د شپې دوولس بجې خدای په اماني کوي او ځي، زه د کورنۍ غړي تر دروازې بدرګه کوم، کوڅه مو تشه ده او بل حس لري، کوم څه کېدونکي دي.

یکشنبې، د آګست ۱۵مه ۲۰۲۱

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د شپې له دوولسو د سهار تر څلورو بجو:** د کابل پر فضا د پوځي چورلکو او الوتکو غړونه اورېدل کېږي، له دې شور پرته هم خوب ناشونی دی، د کابل له هرې څنډې بد خبرونه راځي. ټولنیزې شبکې خبر ورکوي چې طالبان پلچرخي زندان ته ننوتي او په زندان کې جنګ روان دی. ساعت وروسته امرالله صالح ټویټ کوي چې «په پلچرخي زندان کې د بندیانو پاڅون) کنټرول شوی دی. نن شپه د مېدانښار خط هم مات شوی او طالبان تر کمپنۍ را مخکې شوي دي. څوک پیغام کوي چې په دهبوري کې یې د کور په مخ کې د طالبانو موټر تېر شو. بل پیغام کوي چې طالبان ارزان قیمت

ته دننه شوي دي. بل پیغام کوي چې پغمان سقوط وکړ، بل وایي جمهور رئیس، ډاکتر محب او ډاکتر فضلي تښتېدلي دي، ټوله شپه همدا ډول پیغامونه تبادله کېږي.

یوه امنیتي مقام ته پیغام لیکم: آیا نن شپه کوم څه کېدونکي دي؟ هغه راته لیکي چې څه نه کېږي. دا پیغام راته ډاډ نه راکوي، پوهېږم چې امنیتي چارواکي تر ما ډېر بېچاره او بې خبره دي، کابل ښاریان نن شپه ویښ دي، اندېښمن دي او عجیبه وېره پرې خپره ده.

د سهار ۴ بجې په خپله بستره کې پرېوځم، خوب نه راځي، تر لمرخاته ویښ پاتې کېږم، سهار وختي چې لومړی خبر لولم د جلال‌آباد وروستي لوی او ستراتیژیک ښار سقوط کړی، دا لوی ښار هم له لږ مقاومت او جګړې پرته د طالبانو لخوا سقوط وکړ.

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د سهار نهه بجې:** دفتر ته رسېږم، له معمول سره سم د ارګ چایخانې ته ورځم، د معلوم خلاف نن په چایخانه کې ګڼه ګونه نشته، په چایخانه کې چې کوم هلکان کار کوي، ورسره ملګری شوی یم. د چایخانې کارکوونکي پرېشانه ولاړ دي، قهوه اخلم او د چایخانې هلکانو ته وایم چې د تېرې میاشتې حساب وکړئ چې پیسې یې ورکړم، داسې احساسوم چې ښایي بیا فرصت نه وي.
د ولسمشر ورځنی مهالوېش ګورم، په اته نیمې بجې له سلام رحیمي سره ناسته لري، په نهه بجې د ملي امنیت سلاکار سره ګوري. نهه نیمې بجې سهارنی ناسته کېږي چې زه هم باید په کې ګډون وکړم. په لسو بجو له ډاکتر خپلواک سره ګوري. یوولس بجې د سوداګرۍ وزیر نثار احمد غوریاني سره ناسته لري. له یوولس نیمو تر ماښام اوو بجو پورې د ولسمشر مهالوېش د (امنیتي هدایاتو صدور) ته ځانګړی شوی دی. (وروسته چې رسنیو کې کوم عکس خپور شو، ښودل یې چې ولسمشر او د ملي امنیت سلاکار په هغه سهار د متحده عربي اماراتو د استخباراتو له مرستیال سره د حرمسرای په انګړ کې لیدلي دي. دا لیدنه د ولسمشر په رسمي مهالوېش کې شامله نه وه. په دې خاطر د دغې لیدنې د جزیاتو او څرنګوالي په اړه لومړی لاس معلومات نه لرم. خو وروسته مې د هغې ناستې جزیات واورېدل، هغه معلومات دلته په دې خاطر نه لیکم چې د صحت او سموالي په اړه یې اوس هم تدقیق کوم.)

سهار نهه نیمې بجې ځان سهارنې ناسته کې د ګډون لپاره حرمسرای ته رسوم. د حرمسرای په انګړ کې ولسمشر د ملي امنیت سلاکار سره په خبرو بوخت دی. د حرمسرای په عمومي درواز کې د ولسمشر دستیاران ناست دي، زه هم هلته په تمه کېږم. د ولسمشر یو دستیار مې خوا ته راځي، د غزني د جاغوري دی، مور او پلار یې په

غزني کې دي، طالبان یې د غزني له نیولو وروسته کور ته ورغلي، د خپلې مور او پلار امنیت ته اندېښمن دي.

په نهه نیمو بجو زموږ ناسته پیلېږي، ولسمشر آرام دی، له ما غواړي چې د وضعیت په اړه ورته ووایم، زه ورته وایم چې: په کابل کې عجیبه وېره ده، ښایي لږ خلک تېره شپه ویده شوي وي، آوازه ده چې کابل سقوط کوي. نن واټونه تش دي، حکومت فلج دی، حکومتي کارکوونکي دفترونو ته لږ راغلي، آن د حکومت وزیران او مرستیالان نه پوهېږي چې څه روان دي او څه کېږي، زه پوهېږم چې دا خبرونه نوي نه دي، په ناسته کې ټول پر وضعیت پوهېږي؛ یوازې د خپلې وظیفې په توګه درته دا خبرې کوم.

ولسمشر وایي اړینه ده چې نن ورځ داسې پروګرام ولري چې په رسنیو کې خپاره شي. وضعیت باید نورمال وښودل شي چې د خلکو اندېښنه ډېره نه شي، د دفتر رئیس او د چارو د ادارې رئیس ته هدایت ورکوي چې په پدوله دښته کې د بېځایه شویو کمپ ته د ورتللو زمینه ورته برابره کړي، زه حیرانېږم، ولسمشر په دې وضعیت کې غواړي چې پدوله دښتې ته لاړ شي؟ له ما مخکې متین بیک او ډاکتر فضلي مداخله کوي، وایي د کابل وضعیت داسې نه دی چې ولسمشر پدوله دښتې ته لاړ شي.

یو کس وړاندیز کوي چې پدوله دښتې ته د ورتللو پر ځای دې د کابینې غونډه جوړه شي. وزیرانو او حکومتي مقاماتو ته دې وضعیت تشریح شي. ولسمشر باید ورته واضح ووایي چې وضعیت څنګه دی، ولسمشر موافقه کوي. ټاکل شوې چې ماسپښین دوه بجې د کابینې ناسته وشي، ولسمشر، بیک او فضلي ته دنده ورکوي چې له امرالله صالح سره وغږېږي چې څه ستونزه پیدا نه شي، بیک او فضلي ولې باید له امرالله صالح سره وغږېږي؟ هغه وخت یې په دلیل نه پوهېږم. (وروسته خبر شوم چې امرالله صالح د جمعې ورځې له ناستې وروسته له ولسمشر سره مستقیم تماس نه درلود، ظاهراً د شنبې په ورځ له سیاسیونو سره له ناستې وروسته چې قطر ته د پلاوي لېږلو پرېکړه په کې وشوه، ډاکتر محب او فضلي امرالله صالح ته ورځي چې له پرېکړې یې خبر کړي. امرالله صالح په هماغه شپه یا د یکشنبې په سهار وختي کابل پرېږدي، د دغو معلوماتو د سموالي په اړه باید تدقیق وکړم.)

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د سهار لس نیمې بجې:** زه او د دفتر رئیس د ولسمشر له ناستې راوتلي یوو او د ګلخانې مانۍ مخې ته سیوري ته ولاړ خبرې کوو. د چارو ادارې رئیس ورځي چې له امرالله صالح وخت واخلي او دی او متین بیک ورسره وغږېږي. پنځه

دقیقې وروسته بیک ته زنګ وهي. لومړي مرستیال يې زنګ او پیغامونو ته ځواب نه دی ورکړی. څو دقیقې وروسته بیا اړیکه نیسي، لومړی مرستیال په کابل کې نشته، دفتر یې تش دی، امرالله صالح ولسمشر ته له اطلاع ورکولو پرته خپل دفتر پرې ایښی او نامعلوم ځای ته تللی، یو همکار یې وایي چې ظاهراً پنجشیر ته تللی، اندېښمنونکی خبر دی. لومړي مرستیال څنګه له اطلاع پرته کابل پرېښی دی؟ آیا نن کومه پېښه کېږي؟ په ټولنیزو شبکو کې، د کابل په هوايي ډګر کې د پي آی اې الوتکې دننه عکسونه خپرېږي، یونس قانوني، کریم خلیلي، محمد محقق، صلاح الدین رباني، باتور دوستم او خالد نور د پاکستان هوايي شرکت په ځانګړې الوتنه کې اسلام آباد ته روان دي. دوی ولې په دې مهمه ورځ اسلام اباد ته وړي؟ له هوايي ډګره خبر راځي چې د کابینې یو شمېر غړي د هوايي ډګر په وي آی پي تالار کې د کام ایر او ترکش ایرلاین پروازونو ته په تمه دي. د اداري اصلاحاتو د کمیسیون له رئیس نادر نادري سره خبرې کوم. د هوايي ډګر په تالار کې دی، وایي چې په رسمي سفر قطر ته ځي، سهار وختي میدان ته تللی، خو پروازونه ځنډېلي دي، ډاډمن کېږم چې په داسې وضعیت کې د کابینې ناسته شونې نه ده، په هغه ورځ د کابینې ناسته ونه شوه.

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د سهار یوولس بجې:** زیاتره همکاران مې په چایخانه کې راټول شوي دي، ټول وارخطا او ناآرامه دي، خو د ارګ د نورو ادارو برعکس زما زیاتره کارکوونکي دفتر ته راغلي، ماسره چې حکومت د اطلاع رسونې په دستګاه کې کوم همکاران کار کوي، تل ځان د ارګ په دستګاه کې شپږمه ګوته بولي، زما اکثریت همکاران د دولت ساز ټیم نه دي او له ایټالیا څخه زما له راتګ وروسته ارګ ته راغلي وو. په تېرو دوو کلونو کې دوی ته تل د شک په سترګه کتل شوي دي. دوی د وحید عمر په ټیم مشهور دي، هغه ټیم چې د لومړی مرستیالی، امنیت شورا او اداره امور له نظره يې وفاداري د پوښتنې وړ ده. په داسې وضعیت کې یې یوازینۍ هیله زه یم، اندېښنه یې دا ده چې هسې نه د ناسم وضعیت په راتګ زه او زما همکاران قرباني شوو. ځینو خلکو مې همکارانو ته ویلي چې ټول ارګ د ناوړه وضعیت لپاره یو پلان لري چې زما ټیم په .کې شامل نه دی، زه ورته وایم چې زه له داسې کوم پلانه خبر نه یم
له همکارانو سره مې په اندېښنو غږېږم چې ناڅاپه په ښار کې د ډزو غږ اورېدل کېږي. په ارګ کې عجیبه انارشي خپرېږي، ذهنونه له مخکې دې منلو ته چمتو دي چې طالبان کابل ته را ننوتي دي، موږ د ارګ د خروجي دروازې (پنځلسمې دروازې) سره نږدې د چایخانې مخې تر زاړه چنار لاندې ناست یوو، د پي پي ایس (د جمهوري ریاست ساتنې ګارد) په ګډون د ارګ ځینې کارکوونکي د ارګ خروجي دروازې ته منډې وهي، یو شمېر خلک په پنځلسمه دروازه وتلي او د آریانا څلورلارې خوا ته روان دي، ځینې نور د اداره امور له لارې روان دي چې د پل محمود خان په دروازه ووځي، موږ څو شېبې

له خپل ځایه نه خوځېږو، زما د یوه همکار ورور د جمهوري ریاست د ساتنې ریاست (پي پي ایس) کې کار کوي، همکار ته مې پیغام کوي چې له ارګ ووځه، موږ هم سمدستي فکر کوو چې له ارګ باید ووځو.

زه او شپږ همکاران مې (نومونه يې په دې خاطر نه لیکم چې ځینې يې اوس هم په هېواد کې دي) په بیړه د ارګ په خروجي دروازه وځوو. د آریانا څلورلارې خوا ته ګرندي ګامونه اخلو، نه پوهېږم چې چېرته روان یوو، د لارې په منځ کې مې یو همکار وایي چې: عمر صاحب چېرې لاړ شوو؟ زه ورته وایم: نه پوهېږم! کور ته لاړ شوو؟ وایي کورونه خوندي نه دي، ښايي تر ټولو خوندي دا وي چې ارګ ته ننوځو او په یوه څنډه کې پناه واخلوو. ښه نظر دی، بېرته له خپلو همکارانو سره جنګي دروازې (هغه مشهوره دروازه چې درې رنګه بېرغ پرې نصب دی)، ارګ ته ننوځو او د سوق او ادارې (توحید) مرکز د ودانۍ ترڅنګ په چمن کې کېنوو، د پي پي ایس موټر او ټانکونه حرکت کوي، ارګ نظامي شوی او د ټول ارګ په انګړ کې د پي پي ایس له ځواکونو او زما له څو همکارانو پرته نور څوک نشته، په پنځلسو دقیقو کې ارګ تش شوی دی، لږ شمېر کسان په ارګ کې پاتې دي.

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د غرمې دولس بجې:** زه او همکاران مې لا هم د ارګ په انګړ کې د توحید مرکز ودانۍ خوا ته ناست یوو، د ډزو غږ غلی شوی دی، هر یو هڅه کوي چې خپلو کورنیو او ملګرو سره وغږېږي، یو وایي چې په دشت برچي کې د طالبانو بیرغ پورته شوی، بل وایي چې د کارته نو حوزه طالبانو نیولې ده، بل وایي پولیس يې لیدلي چې ملکي جامې يې اغوستي، وسلې يې ایښې او حوزې يې تخلیه کړې، زه له خپلو څو ملګرو سره په اړیکه کې یم، ټول اندېښمن دي همکارانو ته مې وایم چې همدلته اوسئ، زه امنیت شورا ته ورځم چې خبر راوړم.
د امنیت شورا دفتر ته ورځم، وارخطايي جوړه ده، د امنیت شورا ودانۍ په شاتنۍ برنډه کې ډاکتر محب، متین بیک، سلام رحیمي، د امنیت شورا دفتر مرستیال رفیع فاضل او څو نور کسان ګورم، هر یوه سره ټیلیفون په لاس کې دی او له چا سره غږېږي، متین بیک وایي باید اعلان وکړو چې کابل خوندي دی او ځای ځای ډزې شوې دي، خلک باید آرامتیا ته را وبلل شي. همدا خبره په خپل شخصي ټوېټر کې ټویټ کوي، زه مې همکارانو ته زنګ وهم او جمله ورته وایم چې د ارګ له پاڼو يې خپره کړي.

وروسته بیا متین بیک او سلام رحیمي د ټیلیفون له لارې په قطر کې د طالبانو له رهبرۍ سره اړیکه نیسي. طالبان وایي چې دوی کابل ته نه دي ننوتي او څوک چې ډزې کوي د طالبانو غړي نه دي، رحیمي ترې غواړي چې د ډاډ لپاره اعلامیه صادره کړي، څو

شپې وروسته د قطر طالبان اعلامیه ورکوي، طالبان په خپله اعلامیه کې وايي چې کابل ته د ننوتلو نیت نه لري.

بل خوا د ملي امنیت سلاکار او همکاران یې هڅه کوي چې له بهرنیو همکارانو سره اړیکه ونیسي، داسې ښکاري چې څوک یې ټیلیفون نه ځوابوي، بالاخره یو امریکایي افسر ځواب ورکوي او وايي چې هغوی له لوی درستیز هیبت الله علیزي سره همدا شپېه په هوایي ډګر کې ناسته لري او پلان جوړوي، وايي که اړتیا شوه هغوی به ښار ته ننوځي. په دې شپېه کې ظاهراً د امنیتي دستګاه نور مسوولین د میدان په هغه خوا کې دي. میدان د نړیوالو ځواکونو په کنټرول کې دی. د دفاع د وزیر، د ملي امنیت رئیس او نورو حکومتي چارواکو هیڅ درک نشته، داسې ښکاري چې د دولت دستګاره نوره له کاره لوېدلې ده.

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د غرمې دولس نیمې بجې:** بیا د ارګ په انګړ کې له خپلو همکارانو سره یم، په امنیت شورا کې مې چې وضعیت ولید زړه بوږنوونکی و، زه نور داډه نه یم چې ډاکتر غني ته د حکومت او اداري او امنیتي دستګاه په نوم څه پاتې دي، نور د دولت په نوم څه نه دي پاتې، دولت رسماً پاشل شوی. یوازې یو څوک باید دا رسمي اعلان کړي، زه خپلو همکارانو ته عذر کوم چې خپلو کورونو ته لاړ شي یا د خپلوانو او ملګرو په کورونو کې پناه واخلي، هر یو کولای شي چې پلی، په یوې دروازې ووځي او ځان یوه امن ځای ته ورسوي؛ خو هغوی وايي چې تر څو راسره ته ونه وځې، موږ یو هم هیڅ چېرته نه ځوو، تر څو چې ژوندی یم، د همکارانو دا ځواني به مې هېره نه کړم.
په ۱۲:۳۵ د ولسمشر دستیار سهراب احمد زنګ راوهي او په لومړي نمبر قصر کې د جمهور رئیس کور ته بلل کېږم. د جمهور رئیس د کور په دهلېز کې راته سهراب احمد په تمه دی، یو ځای کوټې ته ورننوځو، ولسمشر، د ملي امنیت سلاکار، سلام رحیمي، د دفتر رییس او چارو اداري رییس په کوټه کې ناست دي. ولسمشر وايي چې ولس ته د ډاډ ورکولو لپاره یو پیغام باید ثبت شي، زه ورته وایم چې خلک په شاک کې دي او په دې وخت کې به ګرانه وي چې د ډاډګېرنې پیغام ګټه ولري، خو که ولسمشر څه وايي، نو وړاندیز کوم چې د دفاع وزیر، د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت رئیس ته زنګ ووهي او هغوی ته د ښار د امنیت د خوندیتوب هدایت ورکړي. موږ به دغه ټیلیفوني مکالمه ثبت او خپره کړو، موافقه کېږي. زه غواړم لږترلږه خلک دا ووینې چې دولت لا شته دی او ولسمشر د کورنیو چارو او دفاع وزیر سره په اړیکه کې دی. هدف مې تر ډېره همدا دی، پرېکړه کېږي چې دغه مکالمه په ګلخانې ماڼۍ کې ثبت شي.

په ۱۲:۴۵ دقیقو بېرته خپلو همکارانو ته ور ستنېږم، ورته وایم چې د عکاسۍ او فلمبردارۍ کامرې دې چمتو کړي او ګلخانې ته دې لاړ شي. هغوی وایي چې د جمهوري ریاست عکاسان او فلمبرداران نشته، ټول تښتېدلي دي، پخپله د فلمبردارۍ کامره را اخلم، په یوه نامعلوم ځای کې د ارګ فبلمبردار ته زنګ وهوو، هغه راته تشریح کوي چې له کامرې باید څنګه کار واخلم. ټاکل شوې د جمهوري ریاست له آدرسه د ولسمشر وروستی پیغام زه پخپله ثبت کړم.

**یکشنبې د اګست ۱۵مه د ماسپښین یوه نیمه بجه:** په ګلخانې ماڼۍ کې د مکالمې ثبتولو ته چمتو یوو. ولسمشر له سلام رحیمي، د دفتر رئیس، د چارو ادارې له رئیس او خپل دستیار سره ګلخانې ته را رسیږي، د ملي امنیت سلاکار ورسره نشته. ولسمشر د امان الله خان د مېز شاته او د احمدشاه ابدالي د تاج اېښودلو مراسمو تر تابلو لاندې کېني، ما پخپله د فلمبردارۍ کامره راخیستې او ثبت ته چمتو یم. خپل موبایل یوه همکار ته سپارم چې دا مکالمه په ټیلیفون کې هم ثبت کړي. زه په کامرې چنداني نه پوهېږم، هسې نه چې ناسمه یې ثبت کړم، د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت رئیس رخ کېږي، ټاکل شوې وه چې لوی درستیز یا د دفاع وزیر هم په دې مکالمه کې وي، داسې ښکاري چې اړیکه ورسره نه ده شوې.
ولسمشر تقریباً اووه دقیقې له دې دوو امنیتي مقاماتو سره غږېږي. ځینې هدایتونه ورکوي، د کورنیو چارو وزیر او د ملي امنیت رئیس خبرې اوري. په سترګو صیب! وایي او مکالمه ختمېږي، دا مکالمه آن موږ ته چې په کوټه کې یوو، د ډاډ وړ نه ده. په هر حال، مکالمه باید خپره کړو، (د جمهور رئیس د دې خبرو پر وخت مې چې د ملي امنیت د سلاکار د غیابت په اړه وروسته څه واورېدل، ډېر مهم دي. ظاهراً په کوم وخت کې چې د کورنیو چارو له وزیر او د ملي امنیت له رئیس سره د ولسمشر مکالمه ثبتېږي، په هغه وخت کې یا له هغې څو دقیقې وړاندې ډاکټر محب او خلیل حقاني په خپلو کې په ټیلیفون خبرې کوي. دغه ټیلیفوني خبرې پر هغه وضعیت مستقیم اغېز لرلی شي چې ۹۰ دقیقې وروسته واقع کېږي. محب حقاني ته زنګ وهلی و که حقاني محب ته، نه پوهېږم؛ خو د دې ټیلیفوني خبرو لومړی لاس جزییات مې له هغه چا واورېدل چې هلته موجود و، بل وخت به یې تر لازم تدقیق وروسته ولیکم.)

له ګلخانې را وځوو، د ولسمشر دویم مرستیال سرور دانش د ګلخانې مخې ته ولسمشر ته په تمه دی. سرور دانش له یوه ساعت (ښایي په ښار کې له ډزو) راهیسې په ارګ کې دی. د ولسمشر د لومړي او دویم مرستیال دفترونه د صدارت ماڼۍ په انګړ کې دي، د امرالله صالح دفترونه تش شوي او نامعلوم لوري (ظاهراً پنجشیر) ته تللی دی. استاد دانش هم ارګ ته راغلی، د ګلخانې ماڼۍ د دروازې مخې ته د ولسمشر په غوږ کې څه

وايي، ولسمشر د چارو اداري رئيس ته چې لږ هغه خوا ولاړ دی دنده سپاري چې دده ستونزه حل کړي، کومه ستونزه؟ هغه وخت نه پوهېدم. (وروسته مې واورېدل چې استاد دانش غوښتل د کابل هوايي ډګر ته لاړ شي او له هغه ځايه استانبول ته پرواز وکړي، خو نه غواړي چې په موټر کې لاړ شي. د ښار فضا ګډوډه ده، دانش نه غواړي چې خطر ومني او په موټر کې هوايي ډګر ته لاړ شي، ارګ ته راغلی چې جمهور رئیس هدايت ورکړي، ده ته يوه چورلکه برابره شي او هوايي ډګر ته يې انتقال کړي. د پي پي ايس قوموندان د دانش غوښتنه ردوي او وايي چې چورلکې په هوايي ډګر کې دي، دانش نهيلی کېږي او هماغه شېبه په موټر کې هوايي ډګر ته روانېږي.)

**يکشنبې د اګست ۱۵مه د ماسپښين دوه بجې:** له همکارانو سره مې له ګلخانې مانۍ را ته منتظر دی، زه ورسره روغبړ 0وځم، په راوتو کې چې سرور دانش جمهور رئيس کوم، راته وايي: عمر صاحب نامخدا ټول همکاران دې حاضر دي، زه ورته په طنز وايم چې زموږ کار د روغتون د کارکوونکو په څېر دی، د جنګ او بحران پرمهال مو کار ډېرېږي. بېرته له خپلو پينځو همکارانو سره د ارګ په انګړ کې خپل پخواني ځای د توحيد مرکز څنګ ته ځوو، حوصله او امکانات نشته چې د کورنيو چارو وزير او ملي امنيت رئيس سره د ولسمشر د مکالمې فلم له موبايل څخه کمپيوټر ته انتقال کړو.
همکارانو مې چې کوم فلم په موبايل کې ثبت کړی هغه ګورو، وايو چې همدا سم دي، همدا فلم بايد د ارګ له پاڼو خپور کړو. هڅه کوو چې فلم خپور کړو، خو د فايل حجم زيات دی، د ارګ انټرنېټ ستونزه لري، فايل د ارګ د ټولنيزو شبکو مسوول ته د وټس اپ له لارې لېږو چې هغه يې د ارګ په ټولنيزو پاڼو کې خپور کړي.
**يکشنبې د اګست ۱۵مه د ماسپښين دوه نيمې بجې:** زه او پينځه نور همکاران مې لا هم د ارګ په انګړ کې يوو، يو چايدار باشي لا هم په ارګ کې دی او په همدې حالت کې موږ ته چای راوړي، د ارګ فضا بشپړه آرامه ده، هېڅوک مو شاوخوا کې نشته، عجيبه صحنه ده، خو موږ هڅه کوو چې سترګو ته يې ونه دروو، له خپلو همکارانو سره څو يادګاري عکسونه اخلو.
په ورپسې لسو دقيقو کې راته څو کورني او بهرني خبريالان په يوه وخت مسجونه کوي. وايي آوازه ده چې جمهور رئيس له کابله وتلی او د قدرت تشه رامنځته شوې، غواړي چې خبر تاييد يا رد کړم، زه يې پروا نه کوم او ځواب نه ورکوم، دا څو شېبې مخکې ولسمشر له امنيتي مسوولينو سره وغږېده، فلم چې خپور شي ټول به ډاډه شي چې هېڅوک نه دی تښتېدلی.

څو شېبې وروسته په نږدې ځای کې د ډز غږ اورېدل کېږي، د پي پي ايس يو ساتونکی چې له ما سره ملګری شوی، په منډه زما خوا ته راځي؛ په غوږ کې راته وايي چې: عمر

صاحب دا ځای خوندي نه دی، له خپلو همکارانو سره له ارګه ووځئ، زه یې پوښتم چې نور مقامات څه شول؟ وایي: «درته وایم عمر صاحب چې وضعیت ښه نه دی، کور ته لاړ شئ».

ذهن ته مې یو څه راځي، همکارانو ته مې وایم چې همدلته اوسئ او بهر مه وځئ. زه ځم چې وګورم څه خبره ده، په منډه د تشریفاتو د میدان له منځه د امنیت شورا دفتر ته ځان رسوم، د امنیت شورا دفتر ته چې ننوځم، دویم منزل ته پورته کېږم، ګورم چې د ملي امنیت د سلاکار دفتر تش دی، په امنیت شورا کې هېڅوک نشته، په منډه را ښکته کېږم. په لومړي پوړ کې یو ساتونکی وینم، پوښتنه ترې کوم چې ډاکتر محب، سلام رحیمي، متین بیک او همکاران یې څه شول؟ وایي ښایي نمبر یک ماڼۍ کې د جمهور رئیس د کور خوا ته تللي وي.

د امنیت شورا له ودانۍ را وځم، زړه نا زړه یم آن په امنیت شورا کې څوک نشته. آیا ټول تښتېدلي دي؟ یوه شېبه وایم چې خپلو همکارانو ته لاړ شم او زر له دې ځایه ووځو، یو څو قدمه اخلم، بیا را ستنېږم، یو څوک باید پیدا کړم. په نمبر یک ماڼۍ کې د ولسمشر د کور خوا ته ځم، په لاره مې یو ورور له خیرخانې زنګ راوهي: خیریت دی؟ چېرې یې؟ ورته وایم چې خیریت دی، دفتر کې یم. د ولسمشر تر کور پورې تقریباً درې دقیقې لاره ده، په لاره مې له ورور سره غږېږم. پر ارګ بشپړه چوپتیا خپره ده. په دې ټولو درېیو دقیقو کې په لاره هېڅوک نه وینم، آن د نمبر دو قصر ساتونکي هم نشته.

د نمبر یک ماڼۍ په دروازه د جمهور رئیس استوګنځي ته ورننوځم، په عمومي دروازه چې نمبر یک ماڼۍ ته را ننوځې، ودانۍ کابو پنځوس متره لیرې ده. له لیرې ګورم چې د ودانۍ مخې ته د تورو شیشو سپین لکسس موټر ولاړ دی، د موټر دروازې ته نږدې د ملي امنیت سلاکار او د چارو اداري رئیس په خپلو کې سره غږېږي، ولسمشر، د دفتر رئیس او سلام رحیمي هلته نه ګورم.

هاخوا په لس متره فاصله کې د جمهو رئیس دستیار سهراب احمد ولاړ دی، زه د سهراب خوا ته ورځم، پوښتم یې چې څه خبره ده؟ سهراب وایي د دفاع وزیر بسم الله خان زنګ را وهلی و، له ولسمشر سره یې لنډې خبرې وکړې. کوم مهم پیغام یې ورته درلود، له هغه پیغام وروسته راته جمهور رئیس وویل چې د دفاع وزارت ته ځوو، زه حیرانېږم، سهراب ته وایم چې زه خو ناڅاپي دلته راغلم، چا راته احوال نه و راکړی چې ولسمشر د دفاع وزارت ته ځي، سهراب څه نه وایي.

زه او سهراب چې چېرته ولاړ یوو، لس متره لیرې ترې د ملي امنیت سلاکار او د چارو اداري رئیس لا هم ولاړ دي او په خپلو کې خبرې کوي، د خبرو پرمهال ډاکتر محب ناڅاپه د موټر دروازه پرانیزي او موټر ته پورته کېږي، ډاکتر فضلي په منډه د نمبر یک قصر خروجي دروازې ته ور منډه کوي، سهراب هم ورپسې ځي، زه هم ورپسې کېږم. (د ولسمشر په سفرونو کې دا معمول دی چې کله جمهور رئیس روان شي، موږ ټول په منډه ځوو او په موټرو کې سپرېږو، دا غیر معموله چاره نه ده.) زه لا په دې فکر یم چې په موټر کې ولسمشر دی. د ملي امنیت سلاکار ورسره سپور شو او د دفاع وزارت ته ځوو، له دې پرته مې ذهن کې هېڅ هم نشته، په منډه له نمبر یک ماڼۍ وځم، هلته بل سپین موټر ولاړ دی، د چا موټر دی؟ نه پوهېږم، موټر ته پورته کېږو او موټر روانېږي.

د سلامخانې ماڼۍ دروازه چې د دفاع وزارت لار پرې وتلې، دې دروازې ته نږدې موټر چپ لاس ته تاوېږي او د دلکشا دروازې له لارې دلکشا ماڼۍ ته ننوځي، زه موټر چوونکي ته وایم چې د دفاع وزارت هغه خوا دی، موټروان وايي چې نور موټر د چورلکو د میدان خوا ته تللي دي، دفاع وزارت ته په چورلکه کې ځوو؟ عجیبه ده، خو شاید امنیتي دلایل وي.

زموږ موټر د سپیدار او دلکشا ماڼیو ترمنځ د چورلکو په میدان کې درېږي. درې چورلکې تقریباً له یو بله د څلوېښت مترو په واټن الوتنې ته چمتو دي. زه په منډه یوې چورلکې ته پورته کېږم، څه ګورم؟ چورلکه له مخکې ډکه ده، اووه تنه په کې سپاره دي. د جمهور رئیس مېرمن او یاور یې، د ملي امنیت سلاکار او د امنیت شورا څلور کارکوونکي همدا اووه کسان دي او نور څوک نشته؟ ولسمشر چېرې دی؟ بیک او رحیمي هم په ارګ کې وو، هغوی څه شول؟ نه پوهېږم!

وروسته پوه شوم چې سلام رحیمي او متین بیک څو شېبې مخکې حرمسرای ته د ) ډوډۍ خوړلو لپاره تللي و. حنیف اتمر هم په وروستیو شېبو کې ارګ ته را رسېدلی و، ولسمشر په وروستیو شېبو کې د ملي امنیت سلاکار او د جمهوري ریاست د ساتنې ریاست (پي پي ایس) قومندان له خوا په یوه موټر کې له نمبر یک ماڼۍ یوې چورلکې ته راوستل کېږي. د بهرنیو چارو وزیر، سلام رحیمي او متین بیک د چورلکو له الوتنې وروسته په خپلو موټرو کې سپرېږي او په شش درک کې د سلام رحیمي کور ته ورځي. له هغه ځایه ځان هوایي ډګر ته رسوي او هلته په میدان کې له نورو پوځي او ملکي چارواکو، د پارلمان غړو او نورو هغو خلکو سره یو ځای کېږي چې په هوایي ډګر کې دي. دا چې ولسمشر څنګه په وروستیو شېبو کې چورلکې ته راوستل شو، په دې اړه نسبتاً موثق معلومات لرم، خو اوس یې په دې خاطر نه لیکم چې ډېر به پرې باور ونه

کړي. خو دا کيسه د کولو ده او له لازم تدقيق وروسته به يې په يوه فرصت کې په جزياتو وليکم).

د چورلکې د څنډې په څوکيو ناست يوو، پوښتنه کوم چې څه خبره ده؟ ټول غلي دي، څوک څه نه وايي، څو شېبې وروسته د پي پي ايس قومندان راځي، د ملي امنيت سلاکار له چورلکې ښکته کوي او له ځان سره يې بيايي. څو شېبې وروسته يو بل کس راځي، د ولسمشر مېرمن او ياور يې هم له چورلکې ښکته کوي، دوی ولې له چورلکې ښکته شول؟ چېرته لاړل؟ هغه وخت نه پوهېدم، د چورلکې دروازه بندېږي، څوک نه پوهېږي چې څه کېدونکي دي، زه زړه نازړه يم، آيا رېښتيا د دفاع وزارت ته ځو؟ يوه شېبه وايم چې له چورلکې ښکته شم، خو چورلکې په هوا کېږي، موږ چېرې روان يوو؟ د دفاع وزارت ته؟ ميدان ته؟ چېرې؟

چورلکې په ټيټه ارتفاع له ارګه وځي، د دفاع وزارت د لوري خلاف د کابل شمال ته روانېږي، کله چې د خيرخانې فضا ته رسېږي، زما په زړه کې ګرځي چې دا چورلکې خو لکه چې په کابل ښار کې نه ښکته کېږي، دا لکه چې اوږد او ښايي نه راستنېدونکی سفر وي، زه په ژوند کې لومړی ځل د ناغوښتلي سفر مسافر شوی يم چې هېڅ منزل او مقصد يې نه دی را معلوم، همکاران مې چې لا هم د ارګ په انګړ کې راته په تمه دي چې زه به ورته د وضعيت احوال ورکوم، هغوی ته پيغام لېږم: په منډه له ارګه ووځئ!

له هغه لوري پيغام راځي: «سفير صاحب، تاسې څه کوئ او چېرې ځئ»

وايم: نه پوهېږم!

وروستی يادښت

واکمن قضاوت دا دی چې د اګست په ۱۵ نېټه له افغانستانه د ډاکټر غني وتل د طالبانو په لاس د افغانستان د سقوط لامل شو. که هغه په دې ورځ تېښته نه وای کړې او په افغانستان کې پاتې وای، ښايي وضعيت داسې نه وای. د ډېرو د قضاوت اساس دا دی چې افغانستان د اګست په ۱۵مه نېټه ولسمشر درلود او لا هم پر وضعيت واکمن و، او شتون او نشتون يې پر وضعيت اغېز درلود. بل قضاوت دا دی چې درېيو تر څلورو کسانو واک انحصار کړ، ټول يې اغفال کړل او افغانستان يې خرڅ کړ، ما له هغو سره چې نن له قهر او غوسې سره مخ دي د نظر او سليقې توپير لرم او درلود مې. دا افغانستان د عامو وګړو دا ټوليزه کرکه او غوسه برحقه ګڼم خو د افغانستان د سياسي او

غیرسیاسي کسانو ترمنځ د انکار، ځان غولوونې او له مسوولیته د تېښتې له بهیر سره نه یو ځای کېږم. له همدې امله مې په تېرو اتیا ورځو کې په عمومي فضا کې له مجازي جنجالونو کې نه ده اخیستې. د ټویټر د دوو جملو تحلیل او د فېسبوک د یوې جملې قضاوت چې زموږ د تېر وخت په ګټه تمام نه شو، زموږ د اوس او راتلونکي په ګټه به هم نه وي. هیله من یم چې د هدفمندو او رغنده بحثونو فرصت برابر شي.

دلته په اجمالي بڼه او د بل بحث لپاره یوازې څلورو ټکو ته اشاره کوم:

۱ـ زما په اند، د افغانستان سقوط په یوه ورځ نه دی شوی. د افغانستان د نظام پاشل یو تدریجي بهیر و. هغه څه چې په افغانستان کې وشول یوازې د یوه دولت سقوط نه، بلکې د یوه سیاسي، ټولنیز او اقتصادي جوړښت تدریجي پاشل کېدل و چې موږ یې بنسټ پر تخیلي او مجازي ستنو ایښی و. دا بحث لوی اړخونه لري چې یوه ورځ باید پیل شي.

۲ـ د افغانستان سیاسي او غیرسیاسي مشران هر یو پر خپل ځای، په خپل حد کې، د خپل مسوولیت په ساحه کې او په خپلو بېلابېلو رولونو کې، د دغه شرم برخه وو. د سیاسي، دولتي، اقتصادي، کلتوري، مدني، رسنیو او... د رول بحث، ددغې غمیزې د لارې پرانیستلو لپاره مطلق نه نسبي دی.خو د چا چې پر وضعیت واک، ځواک او اغېز ډېر و، هغوی د نورو په پرتله ډېر مسوول دي. خو باید ومنو چې په افغاني ټولنه کې هر څوک یو نفوذ او اغېز درلود، تر خپله حده یې په دې شرم کې رول درلود. زموږ د ډېری لپاره د ملامتۍ بار په اوږو وړل آسانه نه دي. له همدې امله، هڅه کوو چې په آسانه، له مسوولیته د تېښتې په شعار سره ووایو چې زه په دې شرم کې شامل نه وم او ددغې ملامتۍ له منلو ځان خلاص کړو.

۳ـ د افغانستان په عمومي فضا کې بحث دا دی چې واک د څو تنو په انحصار کې و او موږ یې ټول خرڅ کړو. له دې بهیر سره یو ځای کېدل زموږ د ډېری لپاره د برائت اخیستو تر ټولو آسانه لار ده، خو زه په دغه ځان دوکه کولو کې نه شاملېږم. داسې به وانګېرو چې د افغانستان سقوط د څو تنو په لاس شونی شو چې واک یې انحصار کړی و او نور ټول له هغو ادعاګانو سره چې لرلې مو، یوازې ننداره مو کوله، ددغه غفلت او ناغېړۍ شرم چېرته یوسوو؟ د ناتوانۍ، ځاني ماتې، یو ادعا کوونکی خو کنګل او متفرق نسل چې له یو بل سره په جنګ دي چېرته یې یوسوو؟ د سیاسي او غیر سیاسي مشرانو د اخلاقي ځوړتیا بار چې ددغې پاشل کېدو د اصلي لاملونو په پیاوړتیا کې یې رول درلود چېرته یوسوو؟

۴ـ موږ ټول شل کاله که په نظام کې دننه وو او که بهر، ځینې داسې انتخابونه مو کړي چې مسوولیت یې باید ومنو. زه په تېرو شلو کلونو کې په نظام کې د ننه او له نظامه بهر فعال وم او د افغانستان پر ټولنه مې مثبت او منفي اغېز درلود. سم او ناسم انتخابونه او روغې او ناروغې محاسبې مې کړې دي. زه د خپلو ټولو کړیو انتخابونو او محاسبو پر وړاندې مسوول یم او ښه و بد یې د بل په اوږو نه ږدم. زه له دې زیات د بل چا ګرېوان ته لاس وراچوم، خپل ګرېوان ته سر ټیټوم، ټولو ته مې همدا سپارښتنه ده.

## د بي بي سي سره د ولسمشر محمد اشرف غني د مرکې بشپړ متن

**د بي بي سي په استازيتوب د دې مرکې کوربه د بريتانيې لوی درستيز، جنرال نېک کارټر ؤ**

91

**۲۰۲۱-۱۲-۳۰**

**پاملرنه:**

**دغه متن کټ مټ د افغان سباوُن له ويب سايټ څخه کاپي شوئ دئ. ما يوائې هغه ځايونو کې چې په انګليسي تورو ليکل شوي ؤ، په پښتو تورو ځکه ليکلي چې متن وړاندې وروسته کيده، مانا يې هم بدليدله. (البته چې دا به زما د کمپيوتر تخنيکي ستونزه وي چې پرې نه پوهيږم). پرته له دې ما په کې ګوتوهنې نه دي کړي. که کومه تيروتنه په کې وي هم نه ده اصلاح شوې.**

جنرال کارټر: ښاغلی جمهور رئيس، خوښ يم چې د دې مرکې فرصت مو برابر کړ. د کابل د سقوط او واک ته د طالبانو د رسېدو څخه ۱۰۰ ورځې اوښتي. ما او تاسې د سقوط څخه مخکې ورځو کې ډېرې خبرې او بحثونه کړي. د سقوط څخه وروسته تاسې سره خبرې نه کول ستونزمن و او اوس ښه فرصت برابر شو چې څه د پاسه ۱۰۰ ورځې وروسته خبرې کولی شو. فکر کوم لومړنی شی چې په دې مرکه کې غواړم وارزوو، دا ده چې موږ ټولو سږکال د اګست په مياشت کې دومره په چټکۍ سره د طالبانو واک ته رسېدو سره ټکان خوړلی و. چې له امله مو په چټکۍ سره هېواد پرېښود. زما په نظر همدا موضوع به زموږ د خبرو د پيل لپاره مناسبه وي چې وپوښتم تاسې ولې هېواد پرېښود. غواړم پدې اړه وضاحت ورکړئ تر څو موږ پوه شو چې د هغې اونۍ په وروستيو کې [۱۴ او ۱۵ اګست] کې څه پېښ شول؟

جمهوررئيس غني: مننه ښاغلی جنرال. خوښ يم چې تاسې وينم او تا سره مرکه کوم. په واقعيت کې موږ دواړه [د افغانستان د مسئلې] لوبغاړي يوو. غواړم په تېرو شلو کالو کې

---

91 https://www.afghansabawoon.com/مقالي/د-بي-بي-سي-سره-دبېواکه-شوی-ولسمشر-محمد-ا/

له تاسي، د بریتانیا له دولت او د بریتانیا له خلکو څخه د مرستو او همکاریو په خاطر، په ځانګړي ډول له تاسي څخه چې د ایساف قوماندانی د معاون او بیا مو نورو دندو کې خدمت کړی دی، مننه وکړم. مستقیم راځم ستاسي د سوال ځواب ته.
زما د تللو لومړنی دلیل، د کابل له وراني څخه مخنیوی و. د واک په سر د مجاهدینو خپلمنځي جګړو پر مهال یو ځل کابل ویجاړ او د جنګ په میدان بدل شوی و. د طالبانو دوه مختلفې ډلې له دوو مختلفو جهتونو څخه کابل ته د نږدې کېدو پر حال کې وې، د دوی تر منځ د پراخې جګړې قوي احتمال موجود و، چې په نتیجه کې یې د کابل پنځه میلوني ښار خاورې سره خاورې کېده او خلک متضرره کېدل. زما دریز پدې اړه واضح و، ما نه غوښتل چې دویم اسد [بشار الاسد] شم.
دویم؛ په پاتې کېدو سره مې یوې خونړۍ کودتا ته مشروعیت ورکول کېده. دا یوه کودتا وه، نه کوم سیاسي جوړ جاړی. طالبانو د خپلو ټولو هوکړو او بیانیو څخه سرغړونه وکړه [او په زوره کابل ته ننوتل.
دریم؛ ما نه غوښتل یو کودتا ته مشروعیت ورکړم، بلکې غوښتل مې چې راتلونکې کې د یو اساسي سیاسي جوړجاړي ته لار پرانیستي وي. پر افغانستان د طالبانو تسلط، سوله او ملي یووالی ندی راوستی. هغه څه ته چې موږ اړتیا لرو، واقعي سوله او ملي یووالی دی.
او وروستی دلیل؛ ما نه غوښتل چې د پاکستان ای اس ای خپل ارمان پوره کړي او جمهوریت تحقیر کړي او ما په زور یوې بیانیې ورکولو ته مجبور کړي. یا تر دې هم بدتر به دا وی چې د یو افغان جمهور رئیس څخه استنطاق پیل کړي. دا ټول زما پاتې کېدو سره په حقیقت بدلېدل.
اما اساسي دلیل چې ما هېواد پرېښود دا و چې زموږ امنیتي ځواکونو سقوط کړی و، ټول [امنیتي] وزیران او د ملي امنیت سلاکار راغلل او ماته یې اطلاع راکړه چې ځواکونه یې پاشل شوي او نشي کولای له کابل څخه دفاع وکړي. دا چې ولې داسې یو حالت ته ورسېدو او د دې باعث شو، پدې اړه هم ستاسې پوښتنې ته ځواب ورکولای شم.
جنرال کارټر: مننه، مشخصا هغه ورځ، هغه یکشنبه یوه عجیبه ورځ وه. زما منظور دا دی چې د هغې ورځې څخه په ذهن کې څه لرئ، په هغه ورځ څه پېښ شول؟
جمهوررئیس غني: هغې ورځ سره تړلې پېښې مهمې دي. یوه شپه مخکې (د آګست په ۱۴ تاریخ) ښاغلي استین (د امریکا متحده آیالاتو دفاع وزیر) ماته خبر راکړ چې ټاکل شوې ۳۰۰۰ امریکایي ځواکونه د کابل د هوایي ډګر د امنیت د تامین په خاطر راشي. هغه وویل: " هغوی د کابل د دفاع لپاره موظف شوي ندي، په تکرار سره یې وایم، هغوی د کابل د دفاع لپاره توظیف ندي." سهار د دفاع وزیر بسم الله خان راسره اړیکه ونیوله، وې ویل، طالبان د انسجام په حال کې دي او هیڅ هوایي ملاتړ نشته. همدارنګه، د نیویارک فدرالي خزانه د پنجشنبې یا جمعې (۱۲ یا ۱۳ د آګست) کې زموږ زیرمه

شوې پیسې بندې کړې. موږ تقریبا نهه میلیارده ډال زیرمه درلوده، چې پنځه میلیارده یې هلته وې. معمول دا و چې هره میاشت ۲۰۰ میلیونه ډالر موږ ته راتلل. دا بهیر ودرول شو او د امریکا د بهرنیو چارو وزیر ښاغلي بلینکن وویل چې د پیسو لیږد ځکه ودرول شو چې دوی اندېښنه درلوده چې دغه پیسې طالبانو ته په لاس ور نه شي.
ماته په کراتو ویل شوي و چې طالبان نه غواړي چې ماسره د طرف په صفت تعامل وکړي، تاسې فعال نقش درلود او تاسې ته معلومه وه چې زما تأکید پر دې و چې پروسه کې د افغانانو د مشارکت لپاره یوه با عزته لار پیدا شي، زما ټینګار په لویه جرګه و. دا په بین المللي سطحه یو ترکیب و.
په ملي کچه، یوه ډله افراد لکه جمهوررئیس کرزی، ډاکټر عبدالله او نور راغلل او وې ویل، دوی باید طالبانو سره د مذاکراتو لپاره د باصلاحیته پلاوي په توګه وټاکل شي، ما هم دا واک هغوی ته ورکړ.
له دغه دوو، امنیتي او سیاسي، اقداماتو سره جمهوریت د یو نهاد په صفت له منځه لاړ. ما دا حقوقي صلاحیت نه درلود چې د جمهوریت داسې زوال ته مشروعیت ورکړم، هېڅ داسې کوم حقوقي میکانیزم نه و موجود چې زه واک پرته د لومړي معاون امرالله صالح بل چا ته انتقال کړم. مګر نه یواځې چې زه دوی ته د منلو وړ نه وم بلکې د
جمهوررئیس معاون (صالح) هم د منلو وړ نه و.
په داسې یوه فضا کې، د هغې ورځې په سهار مې هیڅ فکر نه کاوه چې ماسپښین به زه وطن پرېښودلو ته اړ کېږم. موږ د بین المللي لوبغاړو، ناټو او د امریکا متحده ایالاتو، لخوا نه بلکې د ښاغلي رحیمی لخوا خبر شوو چې د حقاني ډله ژمنه کړې چې کابل ته به نه ننوځي. اما دوه ساعته وروسته کېسه بدله وه. د هماغې ورځې په سهار د متحده عربي اماراتو یو استازی راغی چې طالبانو سره سیاسي جوړ جاړي ته د رسېدو لپاره مرسته وکړي.
له ما څخه وغوښتل شول چې له افغانستان څخه ووځم، همدارنګه یې زما د ملي امنیت د سلاکار په شمول یو شمېر همکارانو ته د وتلو لار راکوله. زما میرمن څخه چې د وتلو اراده یې نه درلوده، وغوښتل شول چې ووځي، هغوی لاړل. یو ـ یو نیم ساعت مخکې منتظر وم، چې له بسم الله خان څخه مې تماس ترلاسه کړ او د سقوط خبر یې راکړ. زه دفاع وزارت ته په روانېدو وم، ۲۵ دقیقې منتظر پاتې شوم.
وروسته بیا د ملي امنیت سلاکار ډاکټر محب او د **پي پي اس** مشر ښاغلئ کوچئ راغلل وې ویل **پي پي اس** سقوط کړئ، که زه په خپل موقف ودرېږم، ټول وژل کېږو.
هغوی له ما څخه د دفاع توان نه درلود، ډاکټر محب ډېر ډار شوی و. هغوی دوه دقیقې وخت هم را نکړ. زما لاربښوونه دا وه چې خوست ته د تګ لپاره ځان چمتو کړو. ډکټر محب راته وویل، خوست او جلال اباد هم سقوط کړی دی.

زه نه پوهېدم چېرته ځو. کله مو چې حرکت وکړ ځرګنده شوه چې وطن پرېږدو. دغسې یو حالت ما هېڅ تیاری نه درلود، حتی تاسې سره د تماس موقع مساعده نه شوه ( که ما کولای شوای تاسې سره تماس ونیسم، تاسې په بین المللي دوستانو کې راته نږدې وی).
یوازې تاسې سره مې پدې خبرې کړې وې که مو په یاد پاتې وي، دا وه چې که چېرې سیاسي توافق وشي او طالبان وغواړي زه افغانستان پرېږدم، غواړم داسې ځای ته لاړ شم چې بې طرفه وي. پدې توګه کولای شم خدمت وکړم او بېرته راشم. بس دا هر څه واقعا ناڅاپه و.
جنرال کارټر: یو نظر دا دی که تاسې چېرته پاتې وای او په ارګ کې خوندي شوې وای، دغه تشه چې اوس رامنځته شوې، ور څخه مخنیوی کېده. ایا تاسې دغسې فکر کوئ؟ ایا هغه وخت داسې کوم څه ستاسو ذهن ته راغلل؟
جمهوررئیس غني: دا تشه په لاندې دلایلو نشوای ډکېدای. پرون تاسې ولیده چې د بي بي سي له لارې، یو افشاګر د بریتانیې د تخلیې برنامه په ډاګه کړه. هلته د ۱۵۰۰۰کسانو د تخلیې یادونه وشوه. د ناټو ټولو دخیلو هېوادونو د تخلیې پر یوې پالیسۍ پرېکړه کړې وه او اجرا شو.
جنرال کارټر: که لږ منصفانه اوسو، هیڅ چا د تخلیې پلان عملي نکړ، فکر کوم خلک متوجه شول...
جمهوررئیس غني: نه، دا سمه نده. د تخلیې پلان عملي کېده. د تروریزم په وړاندې ټولو قطعاتو ته په خوست، جلال اباد، کندهار او کابل کې د وتلو وړاندیز شوی و. زموږ جنرالانو ته وعدې ورکول شوې وې. د ملي امنیت اداره چې یو حیاتي بنسټ و، کارمندان یې تخلیه/ وویستل شول. پدې توګه یو رواني محیط (د رامنځته کېدو په درشل کې و) بل مهم ټکی جنرال کارټر دا دی چې په کابل پولیسو کې اصلاحات را نه وستل شول. اردو نسبتا اصلاح شوې وه، اما فقط نسبتا اصلاحات راغلي و. یوازې د جمهوررئیس مرستیال امرالله صالح یو کال هره ورځ د شپږ نیمو بجو جلسو مشري وکړه، چې په نتیجه کې وضعیت ښه او په کابل کې یو څه نظم او قانونیت رامنځته شوی و.

طالبان ښارونو ته داخل شوي و، ستاسې اطلاعات هم همدا وایي. ما چا سره کار کړی وای یوازې د **پې پې اس** ځواکونو سره؟ هغوی هم ټولو یونیفورم بدل کړ او محلي جامې یې واغوستې او تري تم شول. تېر ته کتل ډېر مهم دي، زما د لیدلوري له مخې بل طرف دا و: ایا د وسلې تر فشار لاندې راغلی وای او یو له تاوتریخوالي ډک غیر قانوني اشغال ته مې مشروعیت ورکړای وای؟

جنرال کارټر: ښاغلی جمهوررئیس، کوم شی چې ډېر خارق العاده دی، دا دی چې تاسې د اګست د میاشتې په پیل کې، احتمالا د افغانستان پارلمان ته وویل، تاسې کولای شی دا هر څه سم او مرتب کړی. کولای مو شوای کابل وساتئ، حتا په یاد مې دي چې د مارچ میاشتې په پیل کې مې لندن ټایمز ته مقاله لیکله چې په هغه کې مې ذکر کړه چې موږ باید د افغانستان له دولت ملاتړ وکړو. دا بالکل ممکنه وه. که د کلیدي ولایتونو مرکزونه د افغانستان دولت په واک کې وای، موږ بیا هم کولای شو د دې ټولو شخړو د حل لپاره یوه سیاسي حللاره پیدا کړو. دا د فکرمندۍ خبره ده چې په څومره چټکتیا هر څه د اګست په اوله اونۍ او بیا د اګست په منځ کې رامنځته شول؟
جمهوررئیس غني: یقینا، دلته باید یو لړ مسایل ذکر شي.
اول؛ زموږ لوجستیکي وابستګي ده. زموږ د تدارکاتو ځنځیر او د افغانستان د امنیتي برخې تدارکاتي قراردادونه امریکا پورې تړلي و. د جولای تر لومړۍ د امریکا د تخلیې پروسه بشپړه شوه (نظامي برخه). پدې کارسره ټول تمرکز پر ځواکونو و. خو اصلي مسئله قراردادونه ول ـ د قراردادیانو د شمېر په اړه مختلف تخمینونه شته، زه غواړم له ۱۰۰۰ څخه تر ۱۷۰۰۰ پورې ذکر کړم. زموږ د تامیناتو ټول ځنځیر تر سخت فشار لاندې و.
دویم؛ افغان ځواکونه په ځانګړي ډول، ملي اردو له جوړېدو راهیسې په هوایي ملاتړ ولاړه وه. کله چې له ګڼو ستراتیژیکو ګواښونو سره مخ شول، دوی په تاکتیکي کچه عملیات نشوای کولای. مثلا، دشفافیت لپاره یې باید ووایم چې ۶۰۰۰پولیسو شپږ میاشتې معاشات نه و تر لاسه کړي.
داسې نظامي اډې وې چې تامینات یې د هوا له لارې کېدل. د امریکایي ځواکونو تخلیه ځنځیري تاثیر درلود، ښاغلی جنرال، تر ټولو مهم دا چې له نظامي پلوه ستاسو د پوهولو لپاره ووایم چې ستراتیژیکي ساحې زموږ د نړیوالو ملګرو له خواپه نظر کې نه وې نیول شوې. افغانانو ته ستراتیژیکې ساحې ولسوالۍ او ولایات دي، او د دوی سقوط د افغانانو په منځ کې ځنځیري اغېز لري.
زموږ د بین المللي همکارانو له نظره، دغه ساحې عادي وې او ځنځیري اغېز یې نه درلود. پدې توګه که موږ غوښتل چې د کندهار او کابل څخه چې ستراتیژیکې ساحې وې دفاع وکړو، ځکه د جنوب دفاع مهمه وه، د ختیځو سیمو امنیت ټینګ و، دواړه ننګرهار او پکتیا محفوظې وې. زموږ ناتواني د ځواکونو نشتوالی و، ځکه کوماندو په تاکتیکي ډول پراګنده شوي وو.
ستونزه دا وه چې تکتیکي عمل د دې باعث شو چې ستراتیژیک اهداف تر سیوري لاندې راولي. دا له کویډ۱۹ سره چې یو طبیعی افت دی مقایسه کړی. د نړۍ بهترینو سیستمونو ونشوای کړای په چټکۍ او په موقع سره اجراات وکړي. دوو میاشتو کې ټول لوجیستیکي ځنځیر له سره جوړول [ستونزمن و].موږ په بشپړ ډول خپل لوجیستیکي وابستګۍ ته له

متوجه کېدو پرته ډاډه و، ځکه موږ ته داسې ډاډ راکړل شوی و چې بدیلونه به وړاندې شي. خو تر وروستۍ ورځې، د اګست ۱۴ پورې د قراردادونو د بدیل په لټه کې و.
جنرال کارټر: مخکې لدې چې د دښمن خبره وکړو، ایا فکر کوئ چې د وسله والو ځواکونو د اعلی سرقوماندان په صفت تاسې د تغیر راوستو لپاره د کافي صلاحیت او توانایي څخه برخمن وئ؟
جمهوررئیس غني: نه، ځکه امنیتي برخه څو ځانګړنې درلودې چې زما تر نظر لاندې نه وې.
اول، کندهار کې امنیه قوماندان ما وټاکه او که پر ما تحمیل شو؟ ټول منطقوي ځواکونه، محلي پولیس او ولسي پاڅون کوونکي او نور د محلي بانفوذه اشخاصو په واسطه ایجاد شول که نه؟ اول چا سقوط وکړ؟ همدوی. ډېر ملاحظات او استدلالونه شته چې یو جنګسالاره ستراتیژي ممکنه وه؟ خو، دا جنګسالاران و چې سقوط یې وکړ.
جنرال کارټر: کولی شو دې ټکي ته بېرته را وګرځو. ځکه کله چې عمومي وضعیت ته په کلي توګه ګورو، دا ټکی پکې مهم دی. ما غوښتل چې یوازې د اګست میاشتې د پېښو جمعه بندي وکړم، او فکر کوم افغانان غواړي پدې اړه ستاسو لیدلوری واوري. لومړنی مورد چې زه پرې پوهېږم او تاسې پرې پوهېږئ دا دی چې د متحده ایالاتو کانګریس، فکر کوم په وروستیو کې جان ساپکو د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو ځانګړی سرمفتش غوښتي چې پر تاسو د ځینو تورونو تحقیق وکړي. هغه ادعا چې ګواکې کله تاسې وطن پرېښود، مشخص مقدار پیسې مو له ځان سره انتقال کړې، زه فکر کوم احتمالا تاسې غواړئ هغه ته ځواب ورکړئ. بله پوښتنه چې زیات افغانان غواړي هغه واوري، که څه هم توضیح ورکول شوي ده، تاسو لپاره به واقعا هم سخته وه، چې افغانانو ته د ۷ کالو تعهد او ژمنتیا وروسته په داسې حالاتو کې وطن پرېښود؟
جمهوررئیس غني: بالکل دا ډېره سخته پرېکړه وه، په تېرو سلو ورځو کې زه لیکل کوم، یوازې وم، فکر مې کاوه چې تر دې سخت شی به بل نه وي. زه مجبور شوم خپل ځان قرباني کړم تر څو کابل وژغورم او د د تاوتریخوالي څخه ډکه کودتا رسوا کړم، دا یوه کودتا وه او په هېڅ کچه پکې ولس په پام کې نه دی نیول شوی.
دویم، زه غواړم په قاطعیت سره ووایم، ما له هېواده هیڅ پیسې ندي ویستي. لومړني هدف تر رسېدو وروسته ټول هیلیکوپټرونه تالاشی ته ورکړل شول. نه یوازې د ښاغلي ساپکو له تحقیقاتو هرکلی کوم، بلکې لکه مخکې مې چې ددغې ادعا له اوازې سره وړاندیز کړی چې غواړم د ملګرو ملتونو یا بل کوم تحقیقاتي بنسټ له خوا د دې موضوع تحقیق وشي، تاسې له کلونو راهیسې ما پېژنئ، ایا تر اوسه ما د ویزې، یا کوم بل کار په اړه کومه شخصي غوښتنه کړې؟ که ما غوښتلی چې پیسې تر لاسه کړم، کله مې چې د مالیې وزارت پرېښود، ما کولای شوای یو قراردادي شرکت یا عایداتي کمپنی جوړه کړم. ما د خپل عمر یوه ورځ هم د امریکا په شمول هیڅ یو هېواد ته کار ندی کړی. د

نورو رهبرانو برخلاف ما له امریکا، ناټو او هیڅ هېواده هیڅ پیسې ندي ترلاسه کړي. د افغانستان د ټولو سیاسي نخبه ګانو د ملي امنیت ریاست د اوپراتیفي بودیجې څخه پیسې تر لاسه کولې، ما هېڅکله هېڅ ډول پیسې له دغې ادارې نه دي اخیستي.
ما د حقوقو او مزایاوو پرته د مالیې وزیر او د کابل پوهنتون د رئیس په توګه کار وکړ. د جمهوري ریاست پر مهال ما خپل امتیاز د لومړۍ میرمن دفتر ته ورکول، ځکه د هغې دفتر د تمویل لپاره کوم حقوقي میکانیزم نه و موجود.
زما د ژوند سبک سره ټول بلد دي. په پیسو به څه وکړم؟ هدف مې دا دی چې دا اساسي پوښتنه ده. تاسې پوهېږئ چې زما اساسي اړتیاوې ډېر ساده دي. زه له نړیوال بانک څخه په دوامداره توګه د تقاعد پیسې ترلاسه کوم، چې له هېواد څخه بهر د حساب درلودو اړتیا نه احساسوم. زما میرمنې شتمني د هغې میراثي شتمني ده چې په لبنان کې دی، موږ نور څه نلرو. فقط همدومره. زما زوی او لور پرانیستی او شفاف ژوند لري. ما هیڅ یو افغاني یا خارجي شرکت سره هیڅ ډول شراکت نه درلود. دا یو تور دی، داسې تور چې اول روسیې خپور کړ.
پدې اړه زه هر ډول تحقیق ته حاضر یم. زه خپل هېواد سره د تعهد په خاطر متمایز شخص یم. زه د نورو خلاف اطلاعاتي سازمانونو سره د ارتباط یا له نورو لارو نه یم راغلی. ما خپل شخصیت خپله جوړ کړی چې شتمني مې خپله پیدا کړې ده. کله چې افغانستان ته راغلم په بتسدا (د میریلنډ ایالت یو ښار) کې مې خپل کور خرڅ کړ تر څو په هغو پیسو کابل کې کور جوړ کړم. بیا مې هم خپله شمتني یو ځل په ۲۰۱۴کال کې چې کله جمهوررئیس شوم ثبت کړه او بیا مې په ۲۰۱۹کال کې اعلان کړه چې پنځه میلونه ډالره نقده شتمني لرم. دا زما شخصي پیسې وې، ما اراده درلوده چې د خپل اجدادو په کلي کې یو فرهنګي مرکز چې کرنیز څېړنیز برخه هم پکې وي جوړوم. بله اراده مې نه درلوده. اوس چې کومه شتمني لرم هغه په کابل کې زما کور دی، بیا هم کولای شئ د هغې په اړه په بشپړ ډول تحقیقات وکړئ. ما له افغانستان څخه بهر هیڅ پیسې ندي انتقال کړي، ما خپله شتمني په دوامداره توګه له بهر څخه افغانستان ته انتقال کړې ده.
جنرال کارټر: مننه ښاغلی جمهوررئیس، د دې شفافیت په خاطر، زه پوهېږم دا به د هغو ډېرو افرادو لپاره چې پدې اړه یې پوښتنې درلودې، ډېر ګټور وي. اوس به هغه توافق ته را ګرځو چې د ۲۰۲۰کال د فبرورۍ په ۲۹لاسلیک شو. زه نه پوهېږم چې د هغې په اړه کومه ملاحظه وه که نه، ایا داسې کوم ټکي شته چې تاسې احساس کوئ کېدای شوای په متفاوت ډول تر سره شوی وای او بله نتیجه تر لاسه شوی وی؟
جمهوررئیس غني: د فبرورۍ په ۲۹ هوکړې څخه مخکې باید د ۲۰۱۸کال پیښې درک شي. دا جالبه ده چې د څو پېښو، تاریخونه یو شان دي. د ۲۰۱۸کال د فبرورۍ په ۲۸مه مې په کابل کې د کابل پروسې په نوم یو کنفرانس دایر کړ، طالبانو ته مې د سولې

وړانديز وکړ. د هغې په دوام تاشکنت کې يو بين المللي کنفرانس جوړ شو چې په هغه کې د سيمې هېوادونو د کابل پروسه تاييد کړه. وروسې په کابل کې د علماوو يو کنفرانس د اوربند غوښتنه وکړه او ما له ځنډ پرته د ۲۰۱۸کال په جون کې اوربند اعلان کړ. دا له ۱۹۷۸څخه را پدېخوا د هېواد په تاريخ کې لومړنی هر اړخيز اوربند و. وروسته له هغې (بيا هم تاسې ښکېل وئ) هغوی سره بحثونه وشول. د اندونيزيا، سعودي او افغانستان علماوو د جګړې د درېدو غږ وکړ. او د نومبر په مياشت کې په يو بين المللي کنفرانس کې چې د افغانستان د شريکانو لخوا په جنېوا کې جوړ شو، تعقيب او دوباره هغه تاييد شو.
موږ واقعا د افغانانو په رهبرۍ او د افغانانو په مالکيت يو کنفرانس درلود، زما هدف د سولې پروسه کې د سولې وړانديز و چې په ملي او بين المللي کچه د اسلامي نړۍ د علماوو، سيمې او بين المللي ټولنې لخوا تاييد شو.
داسې نده چې متحده ايالات يو ناڅاپه په صحنه کې راښکاره شو او هڅه يې وکړه چې په سوله کې منځګړتوب وکړي. زما وړانديز دا و چې د متحده ايالاتو يو ځانګړی سفير يا ځانګړی استازی دې، موږ سره د پاکستان په برخه کې مرسته وکړي. د دې کار لپاره سفير خليلزاد منصوب شو. خو يو بل ټکی چې بايد ستاسو د پاملرنې وړ وګرځي او موږ په بشپړ ډول په هغې پوه يو، داده چې جمهوررئيس ټرمپ د ۲۰۱۷کال په اګست کې د افغانستان او جنوب اسيا ستراتيژي اعلان کړه. په هغه ستراتيژۍ کې هغه له افغانستان څخه د وتلو تصميم بيان کړ. هغه د افغانستان له دولت وغوښتل چې د اندازه ګيرۍ وړ نتيجه محوره اصلاحات رامنځته کړي او پاکستان يې په مستقيم ډول مخاطب کړ چې تروريستانو ته دې پناه ورکول بند کړي او داسې نور...
د افغانستان خلک له جګړې ستړي شوي و. پوهېږئ، زموږ د متحدانو په ځانګړي ډول زموږ د مهم شريک متحده اياالاتو له نظره ډېره توجه جګړې ته شوې چې ناپايه بلل کېده. مګر دې ته پام نشته چې د دغې ناپايې جګړې متضررين افغانان و. د لګښت ګټه بدله شوه. خلکو سوله غوښته. ما هم د سولې په بهير فشار راوړ. د سولې د پروسې هرکلی په ملي کچه وشو، شفافه او د خلکو له خوا و. هغه پېښنه چې د ۲۰۲۰کال د فبرورۍ په ۲۹کې رامنځته شوه چې د سولې د يو توافق پر ځای موږ د خروج له توافق سره مخ شو. دا لومړنی برخه ده. کله چې جمهوررئيس ترمپ...
جنرال کارټر: په بخښنې سره، کله چې وايي د خروج هوکړه، هدف مو د امريکا متحده ايالات دي؟
جمهوررئيس غني: د امريکا د خروج بهير؛ هغه وخت طالبان د نړۍ د تر نورو تروريستي سازمانونو په صف کې حسابېده. دا د تروريزم يو نړيوال شاخص دی. د طالبانو د تروريزم بيه د افغانستان د ناخالص توليد شاوخوا ۱۸سلنه وه کمول و، وروسته دغه قيمت ۱۹.۷ ته لوړه شوه. ياد توافق داسې بنه خپله کړه چې د جمهوررئيس ټرمپ له

وینا سره یې تضاد درلود ـ هغه ویلي و چې د خروج لپاره مشخصه موده نه ټاکي مګر دغه توافق موده وټاکله.
پدې هکله دویمه برخه دا ده چې په هغه ورځ دوه توافقه وشول. په کابل کې د لومړي ځل لپاره دوه پېښې تر سره شوې. د ناټو سرمنشي ستولتنبرګ او د امریکا د دفاع وزیر اسپر لومړی کابل ته راغلل او یوه ګډه اعلامیه یې وړاندې کړه. پر دغې اعلامیې په میاشتو کار شوی و او د دوحې تړون سره موازي پرې کار روان و.
جنرال کارټر: په بخښنې سره دغه ګډه اعلامیه د دوی او چار تر منځ وه؟
جمهوررئیس غني: بلی، متحده ایالات، ناټو، د افغانستان دولت او ټول متحدینو تر منځ وه. زما پوښتنه دا وه چې ایا موږ کوم نوی توافق ته اړتیا لرو چې د دوه اړخیز امنیتي توافقنامې ( **بي اس اې)** ، د ستراتیژیک مشارکت توافقنامه، **(اس پي ای)** د ځواکنو د وضعیت توافقنامه، **(اس اؤ اف اې)** ، د ناټو ځایناستئ شي؟ د هغوی حقوقي کسانو تر ملاحظې وروسته وویل شول چې نه، ټولې توافقنامې تایید شوي دي او په ګډه اعلامیه کې به دا موضوعات شامل شي، بیا مې د جمهوررئیس له مرستیال امرالله صالح او نورو همکارانو پوښتنه وکړه. د دې دواړو ترمنځ (د دوحې تړون او ګډه اعلامیه) د تضاد په صورت کې کوم توافق حاکم دی؟ سفیر خلیلزاد وویل ګډه اعلامیه ځکه دا اعلامیه یو پېژندل شوي دولت سره شوی. مګر کله چې دغو دواړو هوکړو ته کتنه وشي، د دوی تر منځ څلور ټکي ډېر ژور تضاد سره لري
جنرال کارټر: پدې اساس زه فکر کوم چې تاسې باید توضیح کړی چې بل توافق یا منځنی توافق.
جمهوررئیس غني: د امریکا دولت او طالبانو [توافق]؛ د فبروری د ۲۹ په ماسپښین په قطر کې د بهرنیو چارو وزیر پیمپو په حضور کې سفیر خلیلزاد لاسلیک کړ. په کابل کې وزیر اسپر وویل: « دا په شرایطو ولاړ یو توافق دی» بیا یې وویل: « تکراروم دا په شرایطو پورې تړلی یو توافق دی، که طالبان په خپلو ژمنو ونه درېږي، د امریکا متحده ایالات به خپل توافق هغوی سره لغوه کړي.» ستولتنبرګ وویل، «موږ به اجازه ورنکړو چې تېرې شل کلنې لاسته راوړنې له منځه لاړې شي. ناټو د افغانستان او د افعانستان له خلکو سره ولاړ دی. اوس د دې وخت دی چې واقعي سولې په لور ګامونه پورته کړو» خو موږ سره توافق کې د افغانستان دولت، د افغانستان خلکو ته روښانه ده چې اوربند او سیاسي بحثونه د امریکا شاته تګ پورې تړلي دي او اصل همدا و چې « تر هغو چې په «ټولو شیانو توافق ونشي، په هیڅ شي توافق نه کېږي
خو تاسې که د طالبانو او امریکا توافقنامې ته وګورئ، په هغې کې یواځې دا راغلي چې د دواړو لورو ترمنځ اوربند به بحث موضوع وي. دلته هم ډېره ضروري ده چې پوه شو، طالبانو د افغانستان د اسلامي امارت په ویلو چې د امریکا لخوا په دې نوم په رسمیت نه پیژندل کېږي، خو امریکا سره د طالبانو په توافقنامه کې د افغانستان اسلامي

جمهوریت ته حتا اشاره هم نده شوې. هر څه یې په دې خلاصه کړل چې افغان اړخونه به طالبانو سره مذاکره کوي، پداسې حال کې چې موږ سره په توافق کې بیا مشخص شوي چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت یوه ټول شموله هیات به طالبانو سره مذاکره کوي. همدارنګه د امریکا او طالبانو ترمنځ توافق کې، طالبانو ته د یو دولت په څېر کتل شوي، تاکل شوې نه وه چې دوی به تروریستي سازمانونو ته ویزه او پاسپورټ ورکوي.
بله مهمه موضوع چې واقعا د اګست د میاشتې د پېښنو مهم دلیل ګڼل کېږي دا دی چې موږ سره د توافق (میاشتې میاشتې دا د بحث موضوع وه) کې راغلي و، چې امریکا د طالبانو او اسلامي جمهوریت دواړو ترمنځ د زندانیانو خلاصون تسهیلوي. هغه ارقام چې په شفاهي ډول ذکر شوي و، حداکثر ۱۰۰ دي. امریکا سره د طالبانو په توافق کې امریکا په یوجانبه ډول ژمنه کړې چې ۵۰۰۰طالب زندانیان به آزادوي او دا ژمنه د مارچ تر ۱۰ ده.
جنرال کارټر: تاسې سره مشوره نه وه شوې؟
جمهوررئیس غني: نه، موږ دا رد کړي و، قطعي مو رد کړي و. ما د سولې ټوله توافقنامه مطالعه کړي و، تاسې پوهېږی چې زه خپله کار خانګي کوم، دا کار د یو اوربند څخه د مخه [سم نه و]، هغه هم یو جامع او دایمي اوربند په بدل کې چې ښاغلي اسپر او د ناټو عمومي سرمنشي هم پر هغه ټینګار کړی و، لکه موږ چې په [۲۰۱۸] کې یو اوربند وکړ، هیڅ مشوره راسره ونشوه.
سربېره پر دې، د امریکا متحده ایالات یو جانبه تعهد کړی و چې د طالبانو پاتې زندانیان به هم په درې میاشتو کې خلاصوي. له بده بخته بیا وایي امریکا د افغانستان حاکمیت ته درناوی کوي او په داخلي چارو کې یې لاسوهنه نکوي.
موږ ته ضرب العجل راکړل شو چې دوی باید خلاص کړو. د زندانیانو شمېر لومړیو کې څو سوه و، خو بیا وروسته زرګونو ته ورسېدل، بیا خبره ۵۰۰۰ته ورسېده چې ۴۰۰ پکې داسې کسان و چې د ناټو د غړو هېوادونو سرتېري یې وژلي و، په ځانګړي ډول فرانسه او استرالیا پدې هکله ډېر اندېښمن وو. احتمالا ۴۰ تنه د مخدره موادو ستر نړیوال قاچاقبران پدوی کې شامل و.
زه مجبور شوم چې د دوی خوشي کولو لپاره لویه جرګه را وغواړم [دومره لویه پرېکړه د ملت له مشورې پرته ما نشو کولای]. همدارنګه د امریکا بهرنیو چارو وزیر پمپیو یو خط موجود دی چې مستقیما یې د افغانستان خلکو ته ډاډ ورکړی دی:
اول، متحده ایالات به طالبان تاوتریخوالي کمولو او [د افغانستان اسلامي جمهوریت سره] مستقیمو مذاکراتو ته مجبوروي.
دویم، متحده ایالات د یو مستقل، یو موټي او ډموکراتیک افغانستان ملاتړ کوي چې هم په کور دننه سوله ولري او هم ګاونډي هېوادونو سره.

پمپیو ماسره اړیکه کې شو او ماته یې ډاډ راکړ وې ویل، زندانیان ستاسې د فشار وسیله نده، بلکې امریکا ده. خو دغه ژمنې هیڅ یوه ترسره نشوې. کله چې تېر ته ګورو، له هغه سند [د طالبانو او امریکا هوکړه] څخه د افغانستان د اسلامي جمهوریت پاکول د اګست په میاشت کې د سقوط اساسي لامل شو. طالبانو موږ سره د سیاسي مذاکراتو څخه انکار وکړ او موږ ته به یې ویل چې تاسې څوک یاست؟ حتا د زندانیانو په اړه یې ویل چې دا د متحده ایالاتو ژمنه ده چې پر هغې به عمل کوي.
پدې توګه مهمه ده چې پوه شو د افغانانو په مالکیت او مشرۍ یوه پروسه چې په سیمه ییزه او نړیواله کچه یې ملاتړ درلود، له منځه یوړل شو.
جنرال کارټر! دغه پروسه دومره پټه وساتل شوه چې حتی د امریکې ملي امنیت مشاور، جان بولټن ته د هوکړې کاپي ورنکړل شوه او یواځې ورته ورکړل شو چې وې لولي او بېرته ترې واخیستل شو. بولټن دا خبره یې په خپلو خاطراتو په کتاب کې لیکلې. موږ سره هېڅ سند شریک نه شو او سلګونه نظرونو ته هم هیڅ توجه ونشوه.
واضح خبره ده چې د پروسې او نتیجې مسوولیت د امریکې بهرنیو چارو وزارت د مذاکراتي ټیم دی، په ځانګړي ډول دا پوښتنه چې د بهرنیو چارو وزارت حقوق پوهانو څنګه اجازه ورکړه چې دوه دومره متفاوت هوکړه لیکونه چې په هېڅ ډول اختلاف یې سره منځه نشي تلی ترتیب شي.
زموږ مذاکراتي هیأت خورا متحد پاتې شو او له اساسي ارزښتونو یې تمرکز لرې نشو.
زما ژمنه خلکو سره دا وه چې د سولې پروسه کې به شفافیت وي، ځکه د سولې دوام لپاره شفافیت اړین دی. وروستۍ خبره، د ۲۰۱۹ کال په جنوري کې مې جمهوررئیس ټرمپ ته یو لیک واستوه او ورته مې وویل که وتلو اراده لري، نو باید په ټولو مسایلو بحث وکړو.
ما په دوه اړخیزې امنیتي توافقنامې **بي اس اې** او ستراتیژیک مشارکت په توافقنامې **اس پي اې** استناد وکړ. همدارنګه مې د اپریل په میاشت (۲۰۱۹) کې پیمپیو ته لیک ولیکه او په تفصیل مې څرګنده کړه چې کوم بهیر چې د سولې په نوم روان دئ، بې نظمه دئ او په افغانستان کې کورني بې اتفاقي زیږوي.
جنرال کارټر: آیا د هغو دوو لیکونو ځواب مو وموند؟
جمهور ریس غني: یوځواب دا ؤ، چې د سي آی اې رئیس او مرکزي قوماندانی **سینټکوم** قوماندان راغلل. هغوی زموږ اندیښنې یادداشت کړې مګر هیڅ ځواب ورسره نه ؤ.
تاسې په دې پوهېږئ، اساسي مسئله دلته ده، چې د امریکا امنیتي برخه پدې باور و، چې په دوامداره توګه [تر هغې چې سوله نه وي شوې] پاتې کېدل د متحده ایالاتو په ګټه و. طبعا هغوی نه شو کولای چې د خپل اعلی سرقوماندان په استازیتوب خبرې وکړي او

وې ویل چې د هغه (ټرمپ) نظر هره دقیقه بدلیږي. دغو خبرو زموږ امنیتي برخه غافل کړ، ځکه هغوی په تکتیکي کچه کار کاوه.
دویم ځواب واضحه و، زما په وړاندې یو سراسري کمپاین پیل شو چې غني د سولې مانع دی، د نړیوالو رسنیو سرلیکونو کې او همدارنګه په داخلي رسنیو کې ټول سرلیکونه زما په ضد و. بلې ما ځواب تر لاسه کړ. او بل ځواب د بهرنیو چارو وزیر پمپیو لیک و چې واضح خبرې یې پکې کړې وې او لویې جرګې ته یې ډاډ ورکړ او چې متحده ایالات به د ارزښتونو په فاع کې زموږ تر څنګ پاتې کیږي او موږ باید د سولې لپاره ریسک ومنو. پدې برخه کې موږ بشپړ توافق درلود. زه د سولې لوی پلوی وم. زما انتخاباتي شعار او پلټفارم سوله وه، مګر د دې مسؤلیت زما دی چې ما د دوی په ډاډ ورکولو او خبرو باور وکړ او دا مسؤلیت به ګور ته وړم.
جنرال کاټر: پوه شوم! د سیمې نور قدرتونه پدې برخه کې اساسي نقش درلود لکه پاکستان. تاسې په یاد لرئ، چې د ۲۰۱۸ کال په دویمه نیمایي کې مو ماته بلنه راکړه، چې د یو منځګړي په صفت ستاسې او د پاکستاني حکومت تر منځ اوسم. ستاسې تمه څه وه چې څه پایله تر لاسه کړئ؟
جمهور رئیس غني: مشترکې ګټې. تاسې په یاد لرئ چې زه پاکستان ته لاړم او د پاکستان لوی درستیز جنرال راحیل شریف او نورو سره سره مې ولیدل. حتي **جي ایچ کیو** ته لاړم چې د هغې له وجې په کور دننه له نیوکو سره مخامخ شوم. له بده مرغه واقعیت همدا دی چې د افغانستان مسئله پاکستاني پوځ او استخباراتو سره ده ځکه هغوی ته مې مراجعه وکړه.
موږ د یوې نا اعلان شوې جګړې قربانیان و. ما غوښتل هغه جګړه پای ته ورسوم. زه له پاکستان سره د یوې رښتوني همکارۍ برنامې غوښتونکی وم. زه چې اوس تېر شوي وخت ته ګورم، یو موضوع ته چې موږ ټولو باید پام کړی وی دا و چې د پاکستان پوځي واکمن او مشر جنرال مشرف د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۲ مې نېټې وینا وه. بشپړ متن یې په **سي اس پي اې اڼ** کې شته. هغه په شدت سره ناهیلي څرګنده کړه او وې ویل، چې پاکستان مجبور دئ او باید د خپل وجود په اړه پریکړه وکړي. داشیبه د پاکستان د بقا د آزمایښت شیبه ده او هغه تصمیم نیولئ، چې د متحده ایالاتو په څنګ کې ودریږي سره له دې چې نه پوهیږي، چې هغوی څه غوښتنه لري. د امریکا له خوا دوی ته داسې ګواښ دوی خپله کلکه بې عزتي وګڼله او تر آخره یې له یاده ونه ویسته. پاکستان د **ډیپ سټیټ** په وسیله کنټرولیږي او د **ډیپ سټیټ** یو فوق العاده تکتیکي ظرفیت لري، دغه ظرفیت دوی لومړئ د شوروي اتحاد یرغل په مهال او بیا دویم ځل د امریکا د جګړې په دوران کې وښودله. متحده ایالاتو پاکستان سره د تعامل هېڅ عملي لاره پیدا نکړه.
زما هیله دا وه (چې تاسې هم پکې خپلې هلې ځلې وکړې ځکه ستاسې اړیکه پاکستان سره متفاوته ده او خبرې ته مو غوږ نیول کیږي) چې پاکستان ته قناعت ورکړو چې یو

ودان افغانستان د پاکستان په ګټه ده نه په تاوان. موږ په سیمه ییزه کچه ډېر څه کولی شو، او په بدل کې زموږ یواځنی غوښتنه په خپله خاوره خپل حاکمیت و، پدې هم پوهېدو چې زموږ حاکمیت لپاره پاکستان یو اساسي عنصر دی. یواځنی موضوع چې ما پاکستان سره پرې خبرې نه وې کړې د ډیورنډ مسئله وه، او هغه هم ځکه چې دا زما د واک خبره نه وه(پدې اړه یواځې د کرښې دواړه غاړو افغانان پرېکړه کولی شي)، افغانستان یو قوي او باثباته دولت ته اړتیا لري تر څو وکولی شي پدې موضوع بحث وکړي، پرته له دې موضوع نور ټول موضوعات د بحث وړ و تر څو یو واقعي دولت-دولت اړیکې ایجاد کړو. زما او ستا پر هڅو سر بېره، له بده مرغه پاکستان تغیر ونکړ او پاکستان د نړیوال قانون حاکمیت او همکارۍ او د هېوادونو استقلالیت ته یو اساسي ګواښ دی.
پاکستان د یو زخمي انسان احساس کوي، دوی احساس کوي چې د بحران په شېبو کې همکاري کوي، خو وروسته هېرېږي. اوسنی حالت پاکستان ته لویه بریا ده. هغوی په دوامداره توګه په خپله لوبه کې کامیاب شوي، د طالبانو تر شا د پاکستان د جنرالانو لاس اوس لکه لمر روښانه دی. طالبانو بې له پټنځای، بې له ملاتړه، بې له درملو، بې له هغو ټولو تجهیزاتو او بمونو چې افغانستان یې له تباهۍ سره مخ کړ هېڅکله بریالي کېدلی نشول.
او اوس کابل کې د پاکستان سفیر د وایسرای نقش لري، لکه د روسیې سفیر چې د شوروي یرغل په مهال لره. مګر دا دوام نشي کولی. له دې ټولو درس دا دی چې پاکستان د خپل نفوس، جغرافیایي موقعیت، هسته یي اسلحو [ته په اندېښنه کې دي]، او زه فکر کوم پاکستان په ځانګړې توګه د جنوبي آسیا لپاره د ټرمپ د ۲۰۱۷ کال له ستراتیژي وروسته واقعاً د خپلو هستوي تاسیساتو تهدید ته په اندېښنه کې و، ځکه چې ټرمپ په څرګنده توګه ویلي و چې موږ اجازه نه ورکوو، چې د پاکستان هسته یي تاسیسات د تروریستانو لاس ته ولوېږي. پرته له تعقیبي دیپلوماتیک فشار څخه پاکستان لفظي تهدید بې ګټې و او هغوی یې غوسه کړل، او د دې غوسې سړولو لپاره پاکستان په افغانستان کې وینو بهولو ته زور ورکړ او وروسته د متحده ایالاتو په لیدلوري کې هم بدلون راغی [او یواځني قربانیان افغانان و]. یوه بله مهمه موضوع دا وه چې د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ د ۲۹ نېټې د هوکړه لیک د ارزیابۍ لپاره د متحده ایالاتو د ملي امنیت شورا هېڅ جلسه نه ده دایره شوې. یوازې یوه جلسه پدې اړه شوې وه او هغه هم ډېر په ځنډ. په همدې دلیل ټولو امنیتي مسؤلینو سره چې زما خبرې نه وې شوې نه پوهېدل چې آیا رښتا دوی ته د اخراج امر شوی که بل څه؟ دوی منتظر و چې راتلونکي کې به څه کیږي.
جنرال کارټر: بالکل، د راتلونکي په اړه څه نظر لرئ؟ منظور مې دادی، چې موږ او تاسې ټول د داعش پدېدې را څرګندېدو ته اندېښمن یو. د ژمې راتګ او وچکالۍ پېښېدو

سره موږ ټول افغانستان کې د یوې بشري فاجعې پېښېدو ته تشویش لرو. پدې اړه تاسې څه نظر لرئ؟

جمهور رئیس غني: مننه، دا زما اساسي تشویش هم دی او تمرکز پرې لرم.

لومړی موضوع د ترهګرۍ ده. لکه څنګه چې جمهور رئیس اوباما د نوبل جایزې اخیستو په مهال خپله وینا کې وویل، د سپتمبر د ۱۱ نېټې تراژیدي د څو کوچنیو سړیو کار و چې ژور نفرتونه یې زړه کې ساتلي و او د نوي ټکنالوژي په استعمال یې یو زوړ تکتیک عملي کړه. ترهګري اوس یو ایکوسیستم دی. القاعده او داعش د یو سازمان په توګه ممکن تنزل کړی وي. مګر د یو ایکوسیستم په توګه موږ واقعاً له یو لوی ګواښ سره مخامخ یو.

افغانان یو اساسي پوښتنه لري: آیا طالبان سره د امریکا هوکړه طالبانو او پاکستان ته د تروریزم په وړاندې د جګړې **اوټسورس** کول ؤ؟ یا آیا هدف دا ؤ چې افغانستان څخه وتلو لپاره یوه لاره پیدا کول ؤ؟

طالبان د امنیت راوستلو ادعا لري، مګر حقیقت دا دی چې امنیت ځکه راغی چې طالبانو خپله جګړه درولې. د وینې تویولو مسؤلین همدی و. دوی هېڅ ډول امنیت ندی راوستی، بلکې خپله جګړه یې درولې، خو له بلې خوا بل ډول تاوتریخوالي ته لاس اچولی: د امنیتي او دفاعي غړو وژل، د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی، اجباري ودونه او نور چې خلک یې بیانوي.

دا ډېره اساسي مسئله ده، ځینې درسونه ډېر مهم دي. ما د ۲۰۰۱ کال سپتمبر په ۲۷ د فایننشل ټایمز په مجله کې یوه مقاله لیکلې

(The Folly of Quick Action)

په یاده مقاله کې ما ویلي و چې افغانستان ته باید د یو پلان په اساس وي، کنه ډېر څه د خطر سره مخ کېدی شي.

د تروریزم په وړاندې جګړه اعلان شوه او اردو ته مسؤلیت وسپارل شو او استخباراتي ادارو ته پراخ صلاحیتونو ورکړل شول. هغه مبارزه چې د عدالت تأمین لپاره پیل شوی و د انتقام په جګړې بدل شو. جګړه د ستراتیژیک پر ځای تکتیکي بڼه خپله کړه او ورځ په ورځ پراخېده.

لومړی اساسي ستونزه دا وه چې تروریزم د اسلامي تروریزم په بڼه توضیح شو.

تروریزم اسلام سره هېڅ اړیکه نه لري. سره له دې چې په تېرو ۲۰۰ کلونو د هر مذهب پیروان تروریستي تکتیکونه ته لاس اچولی، د هغوی تکتیکونه ته هېڅکله مذهبي بڼه ورنکړل شوه. یو دمي دغه ستونزه د یو میلیارد مسلمانانو ستونزه وبلل شوه، او پر عراق یرغل [د امریکا جګړه] د سیمه ییزې اجماع له منځه وړلو یوه اساسي مرحله وه. موږ سیمه ییزې اجماع ته اړتیا لرو، د اسلامي نړی اجماع ته اړتیا لرو. زما لومړی خبره دا

ده چې اسلام او تروریزم باید سره جلا شي. د اسلام په وړاندې کرکه به ډېر لوړ قیمت ولري او د تاوتریخوالي د بیا بیا زېږېدو لامل ګرځي
دویم، ډېر تمرکز باید په استخباراتو، پولیسي او اقتصادي او سیاسي عملیاتو وي تر څو مبارزه [تروریزم سره] اغېزمن وي.
دریم، اروپا او آسیا باید د دې مبارزې په سر کې وي، ځکه دوی تر تهدید لاندې دي او له همدې ځایونو سرچینه اخلي. د پاکستان ستونزه باید حل شي. یو منځمهاله پلان باید ایجاد شي تر څو پاکستان سره مرسته وکړي چې باثباته شي، هلته حالات خراب دي او پر دوی د هغه افراطیت چې دوی خپله زېږولی تأثیرات شوي.
جنرال کارټر: که د راتلونکي خبرې ته لاړ شو، زه پوهېږم چې تاسې یې وړاندوینه وکړه، زما پوښتنه دا ده چې آیا تاسې زموږ په څېر افغانستان کې دننه د داعش د پورته کېدو تشویش لرئ؟ او فکر کوم تاسې بشري فاجعې پر موضوع هم غوښته خبرې کړئ.
جمهور رئیس غني: بالکل زه هم دا تشویش لرم. ډېر کلونه ما د غربي استخباراتي ادارو څخه غوښتنه وکړه چې تروریزم ته د ایکو سیستم په نظر وکتل شي او یو همغږې ستراتیژي باید ایجاد شي تر څو دغې پدیدې سره مبارزه وشي. ما ویل چې د داعش، القاعده او هغه وخت کې طالبانو په څېر پدیدې سره په تکتیکي ډول مبارزه نشي کېدی. د جګړې سنګرونو یو ترکیب د یوې مبارزې ستراتیژي نشي جوړولای. نو باید پدې موضوع تأمل وشي. داعش ځکه مخ په ځواکمنېدو دی چې دوی د طالبانو خپله وسله په بېرته په همدوی استعمالوي. داعش د طالبانو شاګردان دي، او د طالبانو څخه یې الهام اخیستی. له بده مرغه یو مکمل نسل پرته له تاوتریخوالي او انتحاري څخه بل څه نه دي زده کړي. ستاسې معلوماتو لپاره یې باید ووایم چې انتحاریان به په بازار کې خرڅېدل. له بده مرغه طالبانو د افغانستان له تاریخه هېڅ زدکړه نه ده کړې. په زوره د قدرت نیول تل په زوره چپه کیږي هم. افغانانو څخه د یو ټولشمولې ملي سولې حق اخیستل د تاوتریخوالي د نوي څپې باعث شوی. له بده مرغه نړیواله ټولنه (د شوروي اتحاد او امریکا) افغانستان کې د دخیلیدو دواړو ځلو کې پر زور تاکید کوه او پدې فکر و چې د ځواک استعمال د حل لاره ده. افغانستان لپاره باید د سولې یو اساسي پلان موجود وي. اوس طالبان واکمنان دي، دوی باید مسؤلیت هم واخلي.
جنرال کارټر: په بخښنې سره، مخکې له دې چې بشري بحران ته موضوع ته لاړ شو، ډېر خلک پدې بحث کوي چې آیا اوسني طالبان د ۲۰۰۱ کال څخه د مخه طالبانو څخه متفاوت دي؟ آیا ستاسې په نظر دوی په دې خبره پوه شوي چې افغانستان په تېرو ۲۰ کلونو کې بدل شوی؟
جمهور رئیس غني: له بده مرغه حالات ښه نه ښکاري. مخکې له دې چې د تغیر شاهدان واوسو، دوی باید لومړی پدې خبره پوه شي چې د دوی په اصطلاح بریا قیمت څه شی دی؟ دوی هېڅ مسؤلیت نه دی اخیستی. د بېلګې په ډول د ارغنداب درې پېښنو ته

وګورئ، سپین بولدک او نورو ځایونو کې د دوی وینې تویولو او د قتال کچې ته وګورئ. پدې کې شک نشته چې دوی هم د تاوتریخوالي څخه متضرر شوي و چې د دوی د زېږون باعث شو، پدې هم باید پوه واوسو.
دویم، دوی مطلق انحصار ته مخه کړې، پرته له دې چې فکر وکړي چې دوی هغه مهارتونه نه لري چې هر څه وچلوي. درېیمه او تر ټولو بوږنونکې د ملا حسن وینا، هغه هم صوتي، چې پکې ویلي یې دي چې دوی د اوسني بشري بحران، اقتصادي سقوط او خلکو د وتلو او مهاجرت مسؤلیت نه لري. په زرګونو افغانانو طالبانو څخه د تېښتې په موخه مهاجرت ته مخه کړې.
د کابل په هوایي ډګر کې ګډوډې ولې جوړه شوه؟ ولې ۲۰۰،۰۰۰ افغانان ووتل؟ که چېرې دوی په دې باوري شوي و چې حالاتو تغیر کړی، افغانستان کې پاتې کېدل.
طالبان باید د افغانستان تنوع ته درناوی ولري. دوی باید دا خبره ومني چې افغانستان په تېرو ۲۰ کلونو کې بدل شوی، دوی د بیان او نظر د اظهار آزادۍ حق ولري او دا هم ډېره مهمه ده چې غرب پر افغانانو د جنګسالارانو یوه ډله تحمیل نکړي.
جنرال کارټر: آیا فکر کوئ که چیرې تاسې پاتې شوي وی دوی مو دې ته اړ ویستلو شو چې په دغو خبرو ځان پوه کړې؟
جمهور رئیس: نه. له بده مرغه ما پسې ډېر منفي تبلیغات شوي ؤ، او موږ ته هېڅکله دا موقع مساعده نشوه چې دوی سره کېنو او خبرې وکړو. خلیلزاد دوی سره کېناسته. موضوع په بشپړ ډول امریکایي شوه او افغانان ترې حاشیې ته شول. زه پدې نظر یم چې اوس د حقیقي بحث امکان شته، ځکه دوی د دولت دارۍ تر ټولو اساسي فکتور څخه، چې مشروعیت، برخمن نه دي. طالبان داخلي او نړیوال مشروعیت نه لري. اوس نړیوالو او سیمې ته لازمه ده چې دوی ته د مشروعیت ورکولو په برخه کې په متفق ډول عمل وکړي. د سولې پروسه کې دوی په مختلفو لارو لاړل، د مشروعیت په برخه کې باید داسې ونکړي. ځکه زه په دې باور وم، جنرال کارټر، چې د افغانستان مسئله نظامي حل لاره نه لري. په همدې دلیل د جګړې زیاتېدو سره سره موږ تر آخره د یو سیاسي جوړجاړي لپاره هڅه کوله. طالبانو او د دوی ملاتړو، آی ایس آی، پدې باور و چې د حل لاره جګړه ده، او ټوله انرژي یې په جګړه ولګوله. د تاوتریخوالي او جګړې شدت ته یې هر اړخیزه او په میتودیک ډول کار وکړ. دوی هېڅ ډول سیاسي جوړجاړي ته ژمن نه وو.
جنرال کارټر: زما پوښتنه هم همدا وه چې ستاسې مشوره نړیوالو ته څه ده چې څه ډول طالبانو سره تعامل وکړي، ستاسې نظر دا دی چې دوی مشروعیت ته اړتیا لري.
جمهور رئیس غني: داسې یوه اجنډا باید موجوده وي چې پر سولې، هیله مندی، مشروعیت، فرصت او تعلق متمرکز وي. مشروعیت تر ټولو اساسي موضوع ده، مګر پدې باید پوه واوسو چې په یوه ورځ نشي تر لاسه کېدی. موږ باید دا پنځه بعدي پروسه

همزمانه پر مخ یوسو. هیله مندي د ټولو په سر کې راځي. د افغانستان نفوس ۴۱.۵ میلیونو ته رسیږي. د ۲۰۲۲ کال مارچ میاشتې پورې شاوخوا ۹۰٪ وګړي قحطۍ او ولږې سره مخ کیږي. اقتصاد سقوط شوی، د دې دلیل دا نه دی چې سیاسیونو او د تخنیکي برخې پوهانو وطن پرېښی، بلکې دلیل یې دا دی چې دوی شته جوړښتونه له منځه وړي. ما تر آخرو شپېو خلکو ته خواږه رسول، او باید یې مې کړی وی ځکه د افغان ولس په وړاندې زه مسؤل وم.
طالبانو سره د نړیوال تعامل په برخه کې ځینې مهم موضوعات دي چې باید ذکر شي. لومړی، افغانستان کې بشري بحران د هېڅ چا په ګټه نه دی، په ځانګړې توګه اروپا او آسیا ته. دا به د یو مهاجرت د یوې لویې څپې باعث شي. دویم، ستونزه یواځې افغانستان کې دننه ۴۱.۵ میلیونه خلکو پورې نه محدودیږي بلکې ۸۰ میلیونو ته رسیږي، د کرښې هاخوا پښتانه هم افغانان دي او د کرښې دې غاړه خپلو وطندارانو سره شریک تاریخ لري، همدارنګه ۶ میلیونه دیاسپورا او مهاجر افغانان پدې کې شامل دي، دغه موضوع عاجلې پاملرنې ته اړتیا لري.
دوې د حل لارې موجودې دي:
لومړی دا چې خلکو سره کار وشي او د طالبانو حکومت باید دا مرسته تسهیل کړي تر څو ستونزې ته د حل لاره پیدا شي. له بده مرغه په دویم کال کې د اقلیمي وړاندوینو په اساس موږ به د یوې ډېرې شدیدې وچکالۍ ښکار کیږو، زه دعا کوم چې خدای ج موږ له دې وچکالۍ څخه وساتي. پر زراعتي ثبات کار اړین دی. ښارمیشتی نفوس له کلک بحران سره مخ دی، ځکه هېڅ ډول دنده او د عایداتي سرچینه نه لري. د دې حل لپاره زه په لسګونو د حل لارې وړاندیز کولی شم.
دویمه موضوع د سیمې د خلکو د ګټو موضوع ده. موږ مخکې د کووېډ تاثیرات کنترول کړي و. خو د کووېډ څلورمه او پنځمه څپه یوه نړیواله ستونزه ده. ځینې مسئلې دي چې منطقوي تاثیرات لري لکه د خلکو مهاجرت، جرمي ګروپونه، د مخدره موادو قاچاق او نور، په بل عبارت طالبانو سره باید د بحث یوه اجنډا ترتیب شي چې دوی پدې برخه کې څه کولی شي. غواړم بیا یې توپیر ته اشاره وکړم چې یوه برخه بشري بحران دی او بله برخه یې انکشافي، په همدې دلیل یواځې د ملګرو ملتونو په اداراتو اتکا کول د وخت ضیاع ده.
افغانستان کې ډېر منابع شته چې انسجام ته اړتیا لري. زه کولی شم پدې برخه کې مشخص بحث ولرم. که خلکو ته هیله مندي پیدا شوه، ستونزو ته د حل لاره هم پیدا کیږي. فرصت هغو ګروپونو پورې مربوط کیږي چې معاش نه ورکول کیږي. نه د ملکي خدماتو مامورینو او نه هم د امنیتي سکتور معاش لري، په ځانګړي ډول ښځې هېڅ ډول عاید نه لري او له شدیدې ولږې سره مواجه دي. څنګه کولی شو چې دغې توپیر ته متوجه شو؟ ځکه دلته موضوع باید مشروطه وي.

مشروعیت تر هغې نشي تر لاسه کېدی تر څو چې سوله نه وي شوي. زما وړاندیز نړیوالې ټولنې ته دا دی چې د دې انتخاب څخه اجتناب وکړي چې څوک ګټونکي او بایلونکي دي. پرېږدئ چې یوه پروسه پر مخ لاړه شي. لویه جرګه یوه ډېره مؤثره ملي پروسه ده. د یو څو کلونو لپاره باید وخت پورې محدود ځیني شرایط موجود وي.
جنرال کارټر: لطفا لویه جرګه زموږ اوریدونکو ته تشریح کړئ؟ څنګه ترتیبیږي او څه نتیجه ورکولی شي؟
جمهور رئیس غني: لویه جرګه زموږ یو قدیمي نهاد دی او دا د افغانستان د ټولو قومونه او ژبنیز ګروپونو شریک میراث دی. د جرګې کلمه ترکي او دري ریښه لري او لویه پښتو کلمه ده چې مانا یې ستر دی. دغه نهاد په وروستیو کې ډېر دیموکراتیک شوی، ځکه چې د غړو انتخاب د همغو خلکو له خوا په رایو کیږي د چا استازیتوب چې دوی کوي. زه د دوه وروستي لویې جرګو د جوړولو ویاړ لرم چې د ۲۷ اقشارو استازیو پکې برخه اخیستې وه او د ښځو او ځوانانو پکې د ملاحظې وړ حضور درلود. لویه جرګه معمولا په دغسې حالاتو کې دایریږي، ۵۰ کمېټې پکې وي او یادې کمېټې په مشخصو موضوعاتو بحث کوي او نظر ورکوي. لویه جرګه په مشورتي بڼه تر سره کیږي او د ټول ولس استازیتوب پکې وي. همدا نهاد په ۲۰۰۲ کال کې انتقالي حکومت ایجاد کړ او په ۲۰۰۴ کال کې اساسي قانون تصویب کړ.
طالبان په کوم اساس حکومت کوي؟ څوک چاته مسؤل دی؟ افغانان باید یوې هوکړې ته ورسیږي. که چېرته یو قوم یا ژبنیز ګروپ یا کومه سیمه هم له دې پروسې نفې شي، دا خپله یوې نیابتي جګړې ته دعوت دی. طالبان باید پدې خبره پوه شي چې د کمیونستانو او مجاهدینو د تېروتنو تکرار به دوی هم په آرامه پرې نږدي. دوی په همغه لاره روان دي. څوک محرومول، پر زور او وژنو اتکا کول هېڅ نتیجه نه ورکوي. افغانان خدمات غواړي، فرصتونه غواړي، او همدا د دې پروسې مهمې برخې دي. یو واقعي تفاهم لپاره بحث ته اړتیا شته. که چېرته دوی ځیني افرادو سره ستونزه لري، هغوی دې د پروسې برخه نه ګرځي. راځئ چې یوې داسې هوکړې ته ورسیږو چې د دومره کلونو لپاره ځیني افراد هېڅ انتخاباتو ته نه دریږي او سیاسي فعالیت به نه کوي. موږ باید ملت ته پر افرادو ترجیح ورکړو.
همدرانګه، د فساد حساب باید وي. د هر کس تحقیق باید وشي چې د افغانستان حکومت کې د ۲۰۰۱ څخه تر اوسه کار کړی. حتی ټول نړیوال حسابونه باید واضح شي چې چاته څومره ورکول شوي دي. د سوءاستفاده حساب هم باید وشي. د دې حساب باید وشي چې ولې ځینو کسانو ته ۱۰۰ زره جریبه ځمکه په یو لاسلیک ورکړل شوې؟ که چېرته دوی غواړي له دې تېر شي او مخ پر وړاندې لاړ شي، دا پرېکړه هم باید لویه جرګه ونیسي. موږ باید دې نتیجې ته ورسیږو چې د امنیت تعریف یوازې د جګړې درېدل نه دي، انساني امنیت او تعامل باید موجود وي.

هیڅ څوک هیڅ افغان ته د پردیتوب احساس ورکولو حق نه لري. دا ځمکه زموږ د ټولو ده. د ښځو او سړو. د ټولو ژبو د ویونکو. پوهیږې، موږ ۳۴ ژبې لرو چې څلور یې لویې دي. موږ ته باید د دې فرصت راکړل شي چې دې نتیجې ته ورسیږو. نړیواله ټولنه باید له خپلو تېروتنو زدکړه وکړي او په پروسه کې لاسوهنه ونکړي بلکې ملاتړ یې وکړي.
د سیمه ییز عام المنفعه کارونو په برخه کې باید ووایم چې ډېرې پروژې تر کار لاندې دي، جنرال کارټر. د ټاپي پایپلاین باید اوس هرات ته رسېدلی وی. نورې داسې پروژې لکه د اورګاډي پټلی، د برق او انرژي د لېږد لاینونه او اوبو پروژې. ۲۶ منځني د اوبو بندونه تر کار لاندې و چې د وچکالۍ ستونزه حلولای شي.
د نړیوال لید په اساس د بشري بحران د کنترول په برخه کې، ۵ میلیونه افغانان الکترونیکي تذکرې لري، په ځانګړي ډول کابل میشتي. الکترونیکي تذکرې او زموږ هغه اصلاحات چې مالیې وزارت او د افغانستان بانک کې موږ راوستي کولای شي چې پیسې خلکو ته مستقیم ولېږل شي. د شته بشري بحران حلولو لپاره داسې لارې شته چې ارزانه دي او د خلکو اقتصادي مشکلات کموي.
داسې احساس کیږي چې خلک ساه ویستلی نشي، مطلق خفک شوي. اسلام زموږ د یووالي تر ټولو لویه وسیله ده، دا چې موږ اسلام څنګه تفسیروو دا دې موږ ته پرېښودل شي.
زما پایلنی ټکی د بازار په اړه دی، سوداګري د بهرنیو مرستو څخه ډېر اغېزمن دی. د صادراتو یو ډالر د مرستې له ۲۰۰-۱۰۰ ډالر سره برابر دی. مرسته مؤثره نده تمامه شوې بلکې تکتیکي ګټه یې کړې. د بریتانیې په استثنا، پر قراردادیانو اتکا وه او پر لویو پروسو د تمرکز پر ځای پر وړو حسابدهیو تمرکز شوی، دا باید بدلون ومومي. سیمه باید د افغانستان ستونزې خپل وګڼي.
جنرال کارټر: بالکل، موږ او تاسې له ډېره پخوا سره اړیکه کې یو. تاسې د یو ډېر اوږد مهال لپاره خاموشه وئ، ۱۰۰ ورځې پدې فکر که به وئ چې څه وشول، حکومت او افغانستان سره ستاسې تړاو، آیا تاسې کومه پښېمانتیا لرئ؟ څنګه احساس لرئ؟ موږ غواړو پوه شو، چې ستاسې تعهد ته په کتو په تاسو څه تیریږي؟
جمهور رئیس غني: زما د ټول ژوند کار له منځه یوړل شو. زما ټول ارزښتونه تر پښو لاندې شول او د هر څه پړه پر ما واچول شو. زه افغانستان پداسې حال کې راګرځېدم چې له خپله مرګه ښه خبر وم. ما په ۱۹۹۶ کال کې د خپلې ګېډې ۹۸٪ برخه د کنسر له امله لاسه ورکړه. زه خپلې خاورې او خپل ولس ته پرته له خدمت څخه بل هیڅ ارمان نه لرم. ما خپل ټول ژوند د افغانستان او سیمې د تاریخ په مطالعه تېر کړ او پدې فکر وم چې داسې یو لید مې پنځولی چې کېدی شي زموږ بنیادي ستونزه حل کړي. د امریکا متحده ایالات او زموږ غربي همکارانو یو انتخاب درلود، یا دې د تروریزم پر وړاندې د

خپلې مبارزې بڼه بدل کړي یا دې ووځي. مګر موږ په تمامه مانا ملي استقلالیت تر هغې نشو لرلای تر څو چې د تروریزم پر وړاندې جګړه روانه وه. ځکه خپلې خاورې لپاره زموږ هر فکر د یادې جګړې قرباني کېده.
جنرال کارټر: هو، زه تاسې شخصا پېژنم او ستاسې پر تعهد خبر یم. تاسې په عام محضر کې ویلي و چې تاسې به تر مرګه دربېږئ، د جمهور رئیس په صفت تاسې پر کوي او مسؤل ګڼي. ستاسې ځواب ورته څه دی؟
جمهور رئیس غني: بالکل، د دوی غوسه کاملا قابل درک ده. دوی دا حق لري چې ما مسؤل وګڼي، په ځانګړي ډول زموږ پر نړیوالو شریکانو تر آخر زما اعتماد او هېڅکله پر دوی انتقاد نه کول [زما څخه د مخه جمهور رئیس په څېر]. تاسې ته مالومه ده چې ما ټول فشارونه پر ځان تېر کړل تر څو د اوسنۍ نتجې مخه ونیسم. خلک حق لري چې په دې هم پوه شي چې پر ما د خارجیانو دوامداره تحمیل فرصتونه او زما واک محدود کړل. موږ مجبورا ٪۵۰ کابینه ډاکټر عبدالله او د هغو ملګرو ته ورکړ. امنیتي سکتور کې اصلاحات او د فرصتونو ایجاد په برخه کې موږ مقاومت او اختلاف سره مخ و. د اوس لپاره زما غوښتنه زما د افغان خویندو او ورونو څه دا دی چې پدې فکر وکړي آیا دا زموږ د وسعې څه پوره وه چې آیا دا شوني وه چې یوه خوا د جګړې اور بل وي او بله خوا موږ داسې بنیادي اصلاحات راوستی وی چې د هغه په اساس مو جګړه ګټلی وی. جمهوریت سیاسي ملاتړ له لاسه ورکړی و. زموږ نړیوالو همکارانو زموږ سیمه ییزې اړیکې متأثره کړې وې. زموږ ټولو ګاونډیانو غوښتل چې امریکا له افغانستان څخه ووځي.
زه پدې هیله یم چې د وخت په تېرېدو سره درک زیات شي، مګر د خلکو غوسه بالکل د درک وړ ده ځکه زه خپله هم د خپل ولس په څېر غوسه او آزار شوی یم. دا چې زه اوس هم تمرکز لرم دلیل یې دا دی چې غواړم راتلونکي لپاره داسې یوه لاره تعقیب کړو چې موږ آبادی ته ورسوي، زه هېڅ کومه شخصي اجنډا نه لرم بلکې غواړم افغانستان سره مرسته چې په سم لور روان شي. دلته هم نړیوالې ټولنې ته یو درس پروت دی.
یو بې طرفه افغانستان به ټولو ته ګټور وي نسبت هغه افغانستان ته چې د بهرنیو د جګړې ډګر وي. یواځې یو بې طرفه افغانستان سره کولی شي چې سیمه او نړیواله ټولنه اړ باسو چې په راشي او صداقت سره مرسته وکړي. اوس موږ د خبرپاڼو په سرلیکونو کې نه یو، او تر ډېره وخته به د نړۍ په یاد کې نه یو. ما همدغه خبره په کراتو کراتو د خلکو د توجه وړ وګرځوله.
آیا موږ ډېر څه کولی شو؟ بالکل مو کولی شو. په اوسط ډول ما د ورځې له ۱۴ څخه ۱۶ ساعته کار کوه. د جمهور رئیس په توګه ما یواځې دوه ځلې بامیان ولایت کې ۴ ساعته تفریح کړې، له دې پرته نور ټول کار، کار و. خو که چېرې موږ پدې پوه شوي وی چې د پوځیانو خروج به لویه مسئله وي، او زما د۲۰۱ کال لیک ته مثبت ځواب

ورکړل شوی وی، پایله به یې بل ډول وه. مګر موږ ته ډاډ راکړل شوی و چې سوله کې به موږ سره مرسته کیږي. له بده مرغه چې هغسې نشول. خو دا هم د نړۍ د نظم برخه ده.
زموږ د ټولو لویه ستونزه دا وه چې موږ پدې فکر و چې موږ سره د نړیوالې ټولنې زغم دوام کوي. دلته درس دا دی چې موږ داسې یوه لاره پیدا کړه چې موږ ملي روغې جوړې او استقلالیت ته ورسوي او حسابدهي رامنځته کړي تر څو موږ ټول یو، بل سره بیا یو ځای ژوند وکړو.
جنرال کارټر: ډېره مننه ښاغلی جمهور رئیس. دې مکالمه کې ډېر درسونه شته. ډېره مننه چې ما سره مو دا مرکه وکړه. موږ ټول افغانستان ته تر ټولو ښه راتلونکی غواړو. زما په اند طالبانو سره د تعامل په برخه کې ستاسې مشورې ګټورې دي. ډېره مننه چې نن سهار له موږ سره پاتې شوې.
جمهور رئیس غني: مننه جنرال کارټر اول له بي بي سي هم مننه.

## په افغانستان کې د نیابتي نوې جګړې څرک او د څېرڅواکونو تقابل

د امریکا متحده ایالات چې د نړۍ په هره ستره او کوچنۍ سیاسې مسله کې که په امریکا پورې څه تړاو ولري او که ونه لري په یوډول نه په یو ډول، ځان داخلوي. دا ځکه چې امریکا یو څېرځواک هیواد دئ. په شکل د اشکالو اعظمي هڅه کوي چې په نړۍ کې ترخپل توان هرڅه دخپل لاس لاندې ولري. په ځانګړې ډول آسیا او ختیځې اروپا ته یې پاملرنه ډیره ده.

په اروپا او په آسیا (منځنۍ آسیا) کې د روسیې سره او وریسې د چین سره ښکر په ښکر ده.

امریکا هڅه کوي چې د خپلو موخو لاس ته راوړلو د پاره په کور دننه چین او روسیې ته ستونزې وزیږوي، که په کور دننه ورته ګرانه یا هم شوني نه وې، نو بیا د کور په خوله کې ورته ستونزې جوړې کړي.

زه غواړم څرګنده کړم چې امریکا په سیمه کې د چین او روسیې پر وړاندې کومې موخې لري او څنګه خپلو موخو ته رسیدل غواړي.

**لومړئ چین:**

امریکا د چین د چټک اقتصاد څخه په ډار کې ده. د چین د بې ساري تولیداتو څخه چې ټوله نړۍ یې انحصار کړې ده، ډار لري، برسیره پر دې، د امریکا اقتصاد یې له ګواښ سره مخ کړئ. چین په بې ساري ډول په نړۍ کې اقتصادي پرمختګ وکړ. چین خپله پانګونه دومره په نظامي او پوځي برخه کې نه کوي. چین د نړۍ ټول بازار غواړي انحصار کړي. ځکه خو خپله ټوله پانګونه په تولیداتو مصرف کوي. په دې ډول چې ټوله نړۍ به چین ته احتیاجه اوسي (امریکا او اروپا هم).

د دې دپاره چې امریکا د چین د بې ساري اقتصادي پرمختګ مخه نیولې وي، په دې هڅه کې ده چې چین ته ستونزې جوړې کړي، ترڅو د پرمختګ مخنیوئ شوئ وي.

امریکا د چین د پاره د **ایغور** مسلمانانو د حق تلفی کیسه رابرسیره کړې ده. امریکا هڅه کوي چې د دغې سیمې میشتو مسلمانانو او په نورو هیوادونو کې د مسلمانانو احساسات راوپاروي، او په دې ډول یې د خپلې موخې په توګه وکاروي.

امریکا دا هڅه کوي چې د خپلو رسنیو فوکس ټولې همدې خواته راوګرځوي او ددې سیمې له خلکو سره د نسل پر بنسټ د ترکي ژبو هېوادونو دخلکو له جذباتو هم استفاده وکړي.

همدا ډول امریکا د تایوان او هانګ کانګ په مسلو کې هڅه کوي چې د ناټو هم غړي خپله کړي. امریکا او بریتانیا د تل په څیر دخپلو لاسپوڅو او جاسوسانو په مرسته دې هڅه کې دي چې د دغو سیمو په خلکو کې نفوذ وکړي، د خلکو اذهان بدل کړي، او د رژیم ډیرې کوچنۍ ناخوالې ورته ډیرې سترې څرګندې کړي او په دې ډول وګړي وهڅوي چې پاڅونونه او مظاهرې وکړي او دغه سیمیز هیوادونه د چین سره په لانجو کې ښکیل کړي.

موږ تاسو په همدې سیمو کې په وار وار د خلکو مظاهرې شاهدان ۈ. په هرحال امریکا هڅه کوي چې لا اقل سرخوږئ چین ته جوړ کړي. دا که په اوس کې سرخوږئ وي، په اوږد محال کې ستره ستونزه او پایله جګړه جوړولئ شي.

د دې ترڅنګ امریکا د خپلو پروپاګنډي شبکو پواسطه هڅه کړې او کوي بې چې د چین نظام په کور دننه او بهرنیانو ته یو دیکتاتوري رژیم معرفي کړي.

تش په نامه د بیان آزادي او ځیني هغه څه چې د چین د ملي ارزښتونو سره په ټکر کې وي، امریکایان هغه په کور دننه چینایانو ته بندیزونه یادوي. په داسې حال کې چې بې شمیره دا ډول ملي ارزښتونه شته چې په امریکا کې هم په رسنیو کې تبصره پرې نه کیږي، بلکې نه یوازې په امریکا، په هر بل هیواد کې هم.

خو چین هغه هیواد دئ چې نه یوازې په نړۍ کې اقتصادي نفوذ بلکې د سیاسي نفوذ څیښتن دئ.

چین په نړۍ کې په تولیدي اقتصادی لحاظ لومړئ درجه هیواد دئ. چین هغه هیواد دئ چې د نړۍ هیوادونو سره په اقتصادي پروژو کې ځان ملګرئ کوي او د دوه اړخیزو ګټو ته په پام کې نیولو سره پانګونه کوي. د دې ترڅنګ چین ډیرئ د نړۍ د پرمختګ په حال کې هیوادونو سره عمراني پروژې هم سرته رسوي (لکه افغانستان). په دې ډول د دغو هیوادونو په وګړو کې هم ځانته ځای پیدا کوي، که څه هم دا بلاعوض مرستې نه بلکې پور وي. څرګنده ده چې په ځینو مواردو کې به بلاعوضې هم وي. خو بیا هم پخپل نرم سیاست سره هڅه کړې چې دغو هیوادونو سره اړیکې ښې او ټینګې وساتي.، او هم یې په غیرپوهاوۍ ډول تر اغیزې لاندې وي.

**دوهم روسیه**

د چین ترڅنګ د امریکا بل ستر سیال هیواد چې په آسیا او اروپاکې پروت دئ هغه روسیه ده.

موږ تاسو ولیدل چې د ساړه جنګ په ترڅ کې امریکا خپل یواځنئ سیال شوروي اتحاد د افغانستان سره په جنګ کې راښکیل کړ.

امریکا د پاکستان په مرسته هلته تش په نامه اسلامي تنظیمونه جوړ کړل مرستې یې ورسره وکړې چې د شورویانو سره وجنګیږي. امریکایانو غوښتل چې د ویتنام د جنګ کسات ترې افغانستان کې واخلي، او داجګړه څومر که اوږدیږي اوږده شي، خو ګرباچوف ډیر ژر درک کړه چې دا د امریکا د لوري پیل شوې بابیزه جګړه ده، ډیر ژر یې ورته پایله ورکړه.

هو! البته دا د امریکا په ګټه تمامه شوه چې شوروي اتحاد ټوټه ټوټه شو، او د همدې جګړې د پای ته رسیدوو سره د شوروي څخه یواځې روسیه پاتې شوه. دا بیا یو بیل بحث دئ چې دا زموږ د بحث موضوع نه ده.

د څو کلونو راهیسې امریکا په دې هڅه کې وه چې د روسیې د سیاسي پرمختګ څخه په ختیځو اروپایي هیوادونو کې، د ناټو غړی هیوادونه بیدار وساتي چې ګواکې روسیه د ناټو پولې ته رانژدې نه شي.

امریکا د څو کلو راهیسې د اوکراین سره مرستې کولې او هلته یې هم عامه اذهان د پروپاګنډ او جاسوسانو له طریقه د روسیې پر وړاندې منفي کول، تر څو د اوکراین کرکه د روسانو په مقابل کې پیدا او بلاخره زیاته شي. امریکایانو هلته د خپلو پروپاګنډي شبکو او هم خپلو جاسوسانو په واسطه منفي تبلیغات پیل کړل.

په دې اړه لکه څنګه چې په لومړي څپرکي کې مو هم ولوستل، دلته یې تکرار اړین بولم. وګورئ د اوکراین په اړه امریکا د کوم وخت راهیسې دغه پلان درلود.

*د پیریانو جګړې د لیکونکي په حواله: د اویایمو زیږدیز کلونو په پیل کې د سي آی ای د پټو عملیاتو کار کوونکو د پټو خپرونو او تبلیغاتي هڅوړاندیز کړئ ؤ چې موخه یې اوکراینیان او هم د منځنۍ اسیا هیوادونه ؤ. د کارتر د ملی امنیت سلاکار بریژنسکي د امریکا د پټو عملیاتو ملاتړو په ډله کې ؤ چې غوښتل یې د شوروی پرپولو د غیرروسي جمهوریتونو په منځ کې د نشنلیزم احساسات وپارول شي.*

په هر حال روسيې دا درک کړه چې امريکا او په ټوله کې ناټو د اوکراين په واسطه د روسې پولې ته رانژدې کيدل غواړي.

امريکا اوکراين ته ځواکمن توغندي ورکړل چې په خپله ختيځه خاوره کې يې کښينوي. په واقعيت کې روسيې ته ګواښ خو د اوکراين په جامو کې!!.

ولسمشر پوتين ماسکو کې په يوې غونډې ته په وينا کې څرګنده کړه،[ که چيرې دې امکان شتون درلودئ چې موږ په کانادا يا مکسيکو کې د امريکا پولې ته نژدې توغندي کښينولي وئ، نو د امريکا غبرګون به پرته له جنګه څخه څه وئ؟]

روسيې په وار وار د امريکا او ناټو څخه وغوښتل چې دا په ډاګه موږ ته ګواښ دئ. موږ په دې هکله بې تفاوته نه شو پاتې کيدئ. په هر حال همدغه لامل شو چې روسيه پس د څو کلونو په اوکراين يرغل وکړي. دا هغه څه ؤ چې امريکا د کلونو کلونو(اويايمو کلونو) راهيسې غوښتل چې روسيه د اوکراين سره په جګړه کې ښکيل شي.

دا دئ تراوسه يې نژدې يوه مياشت تيره شوې چې د روسيې سرتيري د کيف د ښارڅخه دباندې پراته دي. تر اوسه خو روسيه وايې موږ اوکراين نه نيسو، موږ په کې دغه د لويديځ پلوه رژيم بدلول غواړو. د دې ترڅنګ ديپلوماتيکې هلې ځلې هم د اوکراين سره پر مخ بيايي. دا به راتلونکئ څرګند کړي چې څه پيښ کيږي.

تراوسه خو امريکا (ناټو) نه غواړي چې اوکراين د ناټو غړئ شي. راتلونکي ته به تم شو. که څه هم په وار وار د اوکراين ولسمشر زيلينسکي دغه غوښتنه د ناټو غړيو څخه وکړه. بلاخره زيلينسکي په ډاګه وويل چې زه د ناټو او اروپايي ټولنې څخه ناهيلئ يم.

ناټو(امريکا) ځکه نه غواړي چې اوکراين د ناټو غړي شي، ځکه چې بيا ناټو (امريکا) مستقيماً د روسيې سره په جګړه کې ښکيل کيږي، او دا ناټو (امريکا) نه غواړي چې روسيې سره وجنګيږي. هو! ناټو اوکراين ته هر ډول توغندي او پوره سلاح او مهمات ورکوي، د دې دپاره چې ورسره وجنګيږي او جګړه ښه اوږده شي. په بله وينا دا چې اوکراينيان مري مهمه نده، خو د امريکا د سلاح فابريکې به په چټکۍ توليد کوي او ګټه به تر لاسه کوي.

امريکا غواړي هرڅومره چې داجګړه اوږده شي پرې خوښ دي. په دې ډول غواړي روسيه د اوکراين سره وجنګيږي، ځکه روسيې ته به هم اقتصادي ضربه ور په برخه شي، هم سياسي پرستيژ به يې نړيوالو ته راټيټ شي، او هم به بنديزونه پرې ولګيږي. دا دئ د امريکا او اروپايې ټولنې له خو په روسيې بنديزونه ولګيدل.

خو زه وایم چې دا بندیزونه به نه یواځې روسیې ته درنه تمامه شي، بلکې په امریکایانو او په تیره بیا په اروپایانو به هم ډیره ژوره اقتصادي اغیزه ولري. په پیل کې به روسیې ته هم اقتصادی ضربه ورسیږي، خو امکان لري چې روسیه به خپل ګاز چین او د منځنۍ آسیا له لیارې حتا هند ته صادر کړي.

زما په آند باید د خبرو، ډیپلوماسۍ او سیاسي چینلونو له طریقه د حل لاره وپلټل شي. لکه څنګه چې پورته هم ورته اشاره وشوه، اوکراین ته سلاح ورکول د سلاح فابریکې فعال ساتل دي چې په واقعیت کې د سلاح د فابریکې ګټه ده چې ورته په لاس ورځي. دا په ظاهره کې مرسته ده، خو په اصل کې د اوکراین ملت څخه لکه د افغان ملت په شان استفاده کول دي.

اوکراین باید د امریکا د سیاست څخه چې په افغانستان کې یې ۲۰ کاله پرمخ بیوه، زده کړه وکړي. اوکراین دې د امریکا په ظاهراً غولونکو خبرو نه تیروځې. امریکا لکه څنګه چې افغانستان په وچ ډاګ کې سورلمرته پریښود، داسې به اوکراین هم پریږدي. خو د اوکراین خلک دې باید د عراق، سوریې او افغانستان جنګ څخه پند واخلي، د امریکا په خوله دې نه غولیږي . نه دې خپل خلک په روسانو وژنې، نه دې هم خپل آباد وطن نور د امریکا دپاره په کنډواله بدلوي. امریکا غولونکې ده، دا وژونکې مرستې تل پاتې نه دي. بلاخره به امریکا اوکراین ته ووایي چې د روس سره جوړجاړۍ وکړی، موږ نوره مرسته نه کوو.

امریکا په ظاهر کې افغانستان سره په میلیاردونو ډالره مرسته وکړه، نظامي تجهیزات یې هم ورکړل، خو په آخر کې یې ټول ویجاړ کړ، د دوی په لاس جوړ شوي پولیس او اردو په دوه ورځو کې ونړیدل او امریکا تور مخ ووتله.

ټول د ساړه جنګ څخه ورسته جګړې لکه د اوکراین، افغانستان، سوریې، لیبیا او اعراق جګړې د درواغو جګړې وې. هره جګړه، جګړه ده. په بله وینا انسان وژنه ده، هیڅ جنګ د بل جنګ تور مخ نه شي سپینولئ. موږ باید د امریکا په درواغجنو خبرو ونه غولیږو.

اوکراین که څه هم د ناټو په پیمان کې غړیتوب نه دئ تر لاسه کړئ، خو سرتیرو یې په کې کله کله ګډون درلود. اوکراینانو څو ځله د ناټو سره په ګډه نظامي مانورونه سرته رسولي، او هلته د دوه زره امریکایي سرتیرو څخه زیات شتون درلود.

څرګنده ده چې په دې کړنو یې آګاهانه د روسیې حساسیتونه راوپارول چې په شعوري ډول د اوکراین سره په جګړه شي .

روسیې په وار وار دغو کړنو ته خپل غبرګون څرګند کړ. خو لویدیځو هیوادونو په سر کې امریکا په دې امنا ونه کړه. که لویدیځو هیوادونو په سر کې امریکا په شعوري توګه په اوکراین کې بهران نه ایجاد کاوْ، نو ولې یې دغه نظامي مانورونه نه درول. او یا به

يې اوکراين مخکې له جګړې څخه د ناټو غړۍ ګرځولئ وئ. (په داسې حال کې چې دا يې اصلاً نه غوښتل) د روسيې په خوله کې نظامي مانورونه څه مانا درلوده؟ اوکراين ستره تيروتنه وکړه چې جنګ کوي او د امريکا مني. بايد ژر تر ژره د خبرو او ديالوګ لار پرمخ بوځي.

پوتين په وار وار وويل چې موږ نه غواړو اوکراين ونيسو. صرف لويديز پلوه رژيم بدلول غواړو. البته چې د پوتين موخه به يو روس پلوه رژيم وي، لکه بلاروس. خو هر څومره که دا جګړه اوږده شي، بلاخره دا امکان شته چې روسيه مجبوره شي ټوله د اوکراين خاوره ونيسي.

امريکا هڅه کوي چې په نورو ختيځيو اروپايي هيوادونو کې ملت ته د روسيې په وړاندې اذهان منفي څرګند کړي، د امريکا پروپاګنډي شبکې په پوره ځواک سره فعالې دي، چې په دې ډول روسيه په نورو ختيځوهيوادونو کې هم کوم خواخوږئ ونلري.

د اروپايي اتحادي هيوادونو په هکله نظريات مختلف دي. اروپايي اتحاديه په ظاهره کې او په رسنيو کې ددې جګړې په سياسي اړخ خبرې نه کوي. يوازې په بشري ناورين چې د اوکراين په ملت پروت دئ تبصرې کوي. چې په دې هکله هر وجدان لرونکئ انسان بايد خواخوږي ولري.

خو موږ تاسو د جرمني د پارلمان غړې خبرې واريدې، چې ويلې يې ؤ ولې موږ بايد د امريکا په خوله هرڅه وکړو؟ موږ نه غواړو چې په دې جنګ کې ښکيل شواو زموږ ګټو ته زيان ورسيږي.

همدا شان د اروپايي اتحادي په پارلمان کې هم يوې ميرمنې د پارلمان غړې د اوکراين جنګ وغانده، خو د دې ترڅنګ يې وويل چې د دغې انساني بهران لامل د امريکا وسلې دې چې خلک وژني.

په ظاهر کې خو د اوکراين او روسيې مسئله نوې ده، خو اصلاً د ډير پخوا څخه امريکا غوښتل حتا د ساړه جنګ په ترڅ کې يې غوښتل چې شوروي ته د اوکراين له طريقه ستونزې جوړې کړي.

نو دا ؤ د د اوکراين په هکله د امريکا دوه مخئ سياست، چې اوکريان نه د ناټو غړئ کوي خو نوي سلاح، مهمات او د الوتکو ضد توغندي ورکوي. دا پخپله د دې مانا ده چې جګړه اوږده شي.

موخه مې دلته د اوکراين او د روسيې د جګړې څخه يواځې او يواځې دا وه چې لوستونکو ته د امريکا دوه مخئ سياست او ښکيلاکګرې کړنې څرګندې کړم.

اضافه تر دې د روسيې او اوکراين پر موضوع بحث ځکه لازم نه دئ چې د خپلې اصلي موضوع څخه لرې ځو. په دې هيله چې ژر تر ژره دواړه هيوادونه (روسيه او اوکراين) د ديالوګ له ليارې يوې سوليزې پايلې ته ورسيږي. نور جنګ ودريږي. د اوکراينيانو

کډوالي پایله ومومي. بې ځایه او بې کوره شوي کورنیو ته کورونه ودان او خپل کهول سره یوځآی شي.

**دریم منځنی آسیا (روسیه)**

امریکا په څنګ د دې کې چې روسیه یې د اوکراین سره په جګړه کړه، د کلونو راهیسې په دې هڅه کې وه چې روسیې ته د منځنی آسیا له لیارې ستونزې ایجاد کړي. که څه هم د امریکا هڅې د روسیې په وړاندې د ساړه جنګ راهیسې پیل شوې وې، خو کله چې شوروي اتحاد مات شو، بیا دغه هڅې تکنۍ شوې.

د ولسمشر محمد اشرف غني د حکومتولۍ په ترڅ کې د امریکا دغه پلان بیرته په ډیرې چټکتیا سره فعال شو.

امریکا په ۲۰۲۰-۲-۲۹ ز کې د طالبانو سره پرته د افغانستان د حکومت څخه په دوحه کې د سولې تړون لاس لیک کړ. پرته د افغانستان حکومت څخه د طالبانو سره د سولې تړون لاس لیک کول په دې مانا ؤ چې د محمد اشرف غني حکومت باید سقوط وکړي. په پوهاوی توګه یې د محمد اشرف غني حکومت نسکور کړ.

امریکا د خپلې هرې موخې د پاره چې افغانستان ته راغلې وه تر یوې اندازې یې ترلاسه کړه. په دې ترڅ کې امریکا بل نوئ پلان طرحه کړئ ؤ، هغه باید عملي شي، ځکه خو د خپلو متحدینو سره یوځای په داسې بې مسؤلیته توګه ووتل.

لکه څنګه چې اوریدل کیږي د اسلامي دعوت ایتلاف او داعش دغه دواړه ډلې سخت دریزه او جنګیالۍ ډلې دي. ویل کیږي چې د اسلامي دعوت ایتلاف نژدې ۴ زره څخه تر ۴.۵ زره سرتیري لري. دوی لګیا دي د ځانو د پاره نور سرتیري هم پیدا کوي. د دې ډلو یوځای کیدل یا اتحاد به نه یواځې افغانتسان نارامه او بې ثباته کړي، بلکې د سیمې هیوادونه په تیره بیا زموږ شمالي ګاونډیان او منځنی آسیا چې بلاخره به چین هم ورنه ساړه غوړونه ونه لري. البته چې د امریکا انګلستان او پاکستان اصلي موخه هم همدغه ده. په دې ډول موږ بیا یو بل اوږد او نیابتي جګړې ته ور ننوځو. بیا به موږ په خپلمنځني جګړې کې اخته کیږو. بیا به د افغانستان وګړي د دې نیابتي جګړې قربانیان وي. هیله مې داده چې داسې ونه شي.

امریکا چې کله په افغانستان یرغل وکړ، چې ګواکې د القاعدې شبکه له منځه یوسی. په کال ۲۰۰۱ کې که یوه تروریستي ډله د القاعدې په نامه په افغانستان کې فعاله وه، د شلو کلونو په ترڅ کې القاعده نه یواځې په پوره توګه له منځه لاړه نه شوه، بلکې شل نورې لویې او وړې تروریستي ډلګی په افغانستان کې حضور وموند، چې له دې جملې څخه تر ټولو ستره او ځواکمنه اوس د داعش تروریستي ډله ده.

په دې اړه دمخه هم پرې بحث شوئ، تکرار لیکل یې اړین نه دي.

**د لوستونکو پام دغه ټکي ته را اړوم، هغه دا چې د اشرف غني د حکومت له نسکورېدو سره سم امریکا دا تبلیغ پیل کړ چې داعش په افغانستان کې لوی ګواښ دی او باید پر ضد یې جدي مبارزه وشي.**

په ظاهره کې خو دا هسې یوه خبره ښکاري. خو د امریکا دغه تبلیغ شاته ډېر نور څه پراته دي. موخه یې دا ده چې دغه ترهګرې ډلې شمال د افغانستان کې د طالبانو سره په جګړه کړي، او بلاخره به دا جګړه زموږ شمالي ګاونډیانو ته ولېږدوي.

92

د ترهګرو ډلو په هکله په ډهلي کې (اکتوبر ۲۰۲۱) د سیمیزو هیوادونو د ملي امنیت سلاکارانو په یوې غونډه کې د روسیې د ملی امنیت سلاکار پتروشف ویلي ؤ چې په افغانستان کې د شلو څخه هم زیادې تروریستي ډلې فعالې دي. د یادونې وړ ده چې په دې غونډه کې د امنیت سلاکاران د افغانستان سره د تروریزم، د مخدره توکو د قاچاق او د کډوالۍ په اړه سره یوې هوکړې ته ورسیدل.

دوی په غوڅ ډول خپل ملاتړ په افغانستان کې دسولې او ثبات دپاره څرګند کړ. پتروشف په یوې خبرې غونډه کې وویل چې د افغانستان د اوسني وضعیت له کبله تروریزم د تهدیدنو د لست په سر کې دئ. نوموړي زیاته کړه چې افغانستان د نړۍ ۹۰ سلنه مخدره توکي (تریاک) تولید کوي.

93

---

92

https://www.isna.ir/news/1400081915411/پاتروشف-بیش-از-۲۰-گروه-تروریستی-در-افغانستان-فعال-هستند

د اسنا د سایت څخه اخیستل شوی

ز کال ۲۰۲۱

93

https://www.bbc.com/persian/afghanistan-58272273

بی بی سی د سایت څخه اخیستل شوی

لکه څنګه چې څرګنده ده زموږ په ګران هیواد افغانستان کې نژدې د ۴۰ کلو راهیسې نیابتي جګړه روانه ده.

دغه جګړه پردۍ ده، تمویل، حمایه، ملاتړ یې پردي کوي. بیا خوڅرګنده شوه که تروورستي ډلې جوړیږي هم پردیو هیوادونو کې جوړیږي. ځکه خو د تروریستي ډلو لښکرې هم پردي دي. هرڅه یې پردي دي.

هو! په دې کې شک نه شته چې افغانان یې قربانیان دي.

دا چې د کلونو راهیسې اوریدل کیږي چې په افغانستان کې نژدې شل ترهګرې ډلې شتون لري، دا کومې ترهګرې ډلې دي، له دې ډلو څخه به لاندې یو څو د بیلګې په ډول درو پیژندل شي:

## د القاعدې شبکه

لکه څنګه چې تل ویل شوې دي، د القاعدې او تروررستانو ځاله د افغانستان دخاورې څخه دباندې ده. د ملګرو ملتود سازمان له قوله چې د القاعدې مشران د پاکستان او افغانستان په پوله پرته سیمه کې ځای پرځآی ؤ. خو دا تل په اثبات رسیدلې وه چې د افغانستان په خاوره کې نه، بلکې د افغانستان خاورې ته نژدې د پاکستان په خاوره کې پټ ؤ.

د القاعدې مشر اسامه بن لادن د پاکستان په ابت آباد کې په ۲۰۱۱ ز د امریکایانو له لوري ووژل شو. د ۲۰۱۹ ز کال په اوړي کې امریکا اعلان وکړ چې د اسامه بن لادن زوی حمزه بن لادن په یو هوایي بریدکې د پاکستان او افغانستان په پوله سیمې کې ووژل شو. (هغه هم د پاکستان خاوره کې)

## القاعدې څانګه په هند کې

په کال ۲۰۱۴ ز کې ایمن الظواهري د القاعده شبکې مشرد القاعدې یوې بلې څانګې پرانیستل اعلان کړل. دغه څانګه یې په هند کې دالقاعدې څانګه وبلله. القاعدې په دې ډول غوښتل چې په اسیایې ملکونو کې اسلامي سخت دریځه پلویان ولري او سمیزمحلي مشران ولري.

اسلامي دولت یا داعش په کال ۲۰۱۴ ز په افغانستان کې د خراسان په نامه څانګه پرانیسته. دغه د داعش ډله ډیرئ د کنړ اود ننګرهار په سیموکې فعاله وې. داعشیانو په کابل کې څو ځله مرګوني بریدونه هم وکړل. لکه په کابل کې د نجونو په ښوونځئ او

زیږنتون. په هریو برید کې په لسګونو ښځې او نجونې ووژل شوې. همدارنګه ځینې نور ملکیان هم په کې ووژل شول. طالبانو د داعش ډله په لوی ننګرهار کې له دغې سیمې څخه ورکه کړه. خامخا به بلې لورې ته تښتیدلي وي، یا خو به د پاکستان له لوري په ډول یا بل نامه بیا راپیدا شي.

### د پاکستاني طالبانو تحریک

دغه ډله د پاکستاني طالبانو په نامه یادیږي. ښکاره ده چې د پاکستان د حکومت په وړاندې مبارزه کوي. د افغانستان د اسلامي امارت سره یې اړیکې ښې دي.

### حرکت اسلامي ازبکستان

دغه ډله نژدې څه د پاسه شل کاله دمخه د امریکا له خوا د تروورستانو په ډله کې وشمیرل شوه. دغې ډلې چې ویل کیږي په ۱۹۹۱ ز کال د تاجکستان په کورنۍ جګړه کې هم ښکیل پاتې شوي ؤ.

### حرکت اسلامي ترکستان شرقي ( یا حزب ترکستان اسلامي)

دغه ډله ځان ته یوه خپلواکه اسلامي ډله وایي، چې د **چین د اویغوریانو** مسلمانانو د پاره منځ ته راغلې ده. څوکاله دمخه دغه ډله د امریکا له خوا د تروریستي ډلو څخه ووتله**!!!!**.

څرګنده ده چې ولې د امریکا دپاره د تروریستي ډلو وویستل شوه. په دې هکله پورته یادونه شوې.

د ملګروملتونو د سازمان له قوله چې په شمال د افغانستان کې هم فعالیت لري. په دې هکله د افغانستان اسلامي امارت څه نه دي ویلي.

[94]

د افغانستان ملي پولیسو د ۲۰۱۶ ز د مارچ په میاشت کې برسیره په افغاني طالبانو په افغانستان کې د لاندینیو فعالو تروریستي ډلو لست د انترپول پولیسو ته ورکړ.

---

[94] http://afghanpaper.com/nbody.php?id=139314
شبکه اطلاع رساني افغانستان له سایت څخه اخیستل شوئ

**داعش**

**القاعده**

**د پاکستان طالب ډله**

**جنبش اسلامي ازبکستان**

**حرکت الجهاد اسلامی**

**د افغانستان اسلامي حزب (چې بیا وروسته له دولت سره یو ځای شو)**

**لشکر طیبه**

**لشکر اسلامی عبدالعظیم او شهید بری ګیت (یوه** هندی ډله)

**جنبش ترکستان شرقی (اویغورستان)**

**جهیش محمد (د کشمیر آزادی غوښتونکي ډله)**

**سپاه صحابه پاکستان**

**تحریک نفاز شرعیت محمدی**

**اتحاد جهاد اسلامي**

**لشکر جهنګوی**

**حرکت المجاهدین**

**بریګار ګوریلایي**

**امارات قفقاز** (چیچینیان)

وروستی ډله د افغانستان په شمال کې فعاله ده. دوی ډیرئ د کورنیو لاسپوڅو له لوري د بدخشان، بغلان، قندز، جوزجان او ځینو نورو ولایتونو کې فعالیتونه کول.

لکه څنګه چې دمخه هم ورته اشاره وشوه، زما په آند مخکې له دې چې امریکا د طالبانو سره د سولې خبرې په دوحه کې پیل کړي، د امریکا پلان بدل شو. پلان دا شو د محمد اشرف غني رژیم باید نسکور شي. پس له دې د امریکا حکومت طالبان په تروریستي ډلو کې نه شمیرل. خو امریکا د همدغې طالبانو رژیم په ۲۰۰۱ کې نسکور کړ. بله دا چې ځینې طالب مشران لا اوس هم د امریکا په تور لست کې شامل دي، حتا د ځینو په سر

يې ميليونونو ډالر جايزه ايښې ده. دا د امريکا بل ضد او نقيص کړنې او دوه مخې ثابتوي.
ځرنګه چې په ټولنيزو رسنيو کې وليدل شول، ځينې نور افغان پردېپال کوم چې تراوسه لا په هغو سيمو کې د افغانستان درې رنګه بيرق (تور،سور،شين) نه بلکې د خراسان په نامه بل بيرق په سترګو کيده، . وايې **چې « داعش خراسان غواړي، موږ هم خراسان غواړو. داعش افراطي مسلمانان دي، موږ هم افراطي مسلمانان يو. داعش د طالب ضد دي، موږ هم د طالب ضد يو. دليل څه دئ چې له داعش سره همکاري ونه کړو؟ »**

امريکا په افغانستان کې بې ثباتي رامنځ ته کړه، او دا به لا د بې ثباتی پيل وي. امريکا او د هغه ملګرئ ستر پخوانئ ښکيلاکګر انګلستان غواړي چې د پاکستان په لويه او تل پاتې همکارئ د پخواني لوی افغاستان سيمه د داعش، يا هم د طالبانو او يا نوي جهاديان شايد هم د پخوانيو جهاديانو او نورې ډلې ټپلې را وزيروي چې چين او روسيې ته په پيل کې سرخوږئ او په پايله کې يې جګړې ته ور داخل کړي، ځکه خو دغه سيمه بايد بې ثباته او نارامه کړي.

مهمه خبره داده چې په ورته وخت کې چين، روسيه او ايران همغږي دي. کيدای شي چې چين له واخان سره څيرمه سيمه په تاجکستان کې نظامي اډه جوړه کړي. ځکه خو چين او روسيې ګډ نظامي مانورونه سرته ورسول.
که چيرې امريکايان بريالي شي چې د افغانستان په شمال کې داعشيان تقويه کړي او دوی دومره ځواکمن کړي چې د افغانستان مرکزي دولت (اسلامي امارت) د واک څخه ووځي، لکه څنګه چې طالبان يې دومره ځواکمن او د اشرف غني دولت يې بې واکه کړ. نو که چيرې داعشيان او نورې تروريستي ډلې په ځواکمنه توګه د افغانستان شمالی ګاونډيانو يا په بله وينا منځنی آسيا او چين خاورې ته ورسيږي، بيا به نو ستره نيابتي جګړه په سيمه کې پيل شوي وي.
په دې جګړې کې به لوی افغانستان، منځنی آسيا، چين ښکيل وي. پرته له شکه کله چې منځنی آسيا او چين ته ترهګرې ډلې ورسيږي نو روسيه او چين به هم بې تفاوته پاتې نه شي، خو دا به راتکونکي ته پريږدو، بيا هم انتظار اړين دئ.
په دې اړه د يادولو وړ بولم چې امريکا هر وخت هر هغه څه کوي په کوم کې چې خپلو موخو ته رسيدل غواړي. اوس که امريکا اسلامي امارت په رسميت نه پيژني، کيدای شي چې وروسته يې د خپلو موخو رسيدو ته ورسره تعامل وکړي او په رسميت يې وپيژني.
همدارنګه روسيه او چين هم دا کوښښ کوي چې د طالبانو سره اړيکې ښې وساتي او د دوی په مټه د داعشيانو مخه منځنی آسيا او د چين پولې ته بنده کړي.

په بله وينا امريکا دا هڅه کوي چې دا شل تروريستي ډلې د پاکستان په هراړخيزې مرستې سره تقويه، تمويل او روزنه يې وکړي او بلاخره يې چين او يا اقلاً د چين پولې ته ورسوي. د دې ترڅنګ د همدغو ډلو څخه منځنۍ آسيا او يا اقلاً د دوی پولې ته ورسوي. چې بيا وروسته په يادو هيوادونو کې ستونزې او يا هم جګړې پيل کړي.
بلمقابل چين او او روسيه (منځنۍ آسيا هيوادونه) دا هڅه کوي چې د طالبانو سره اړيکې ښې کړي او د دوی پواسطه دا شل ډلې د سيمې څخه وشړي، چې د دوی پولو ته راونه رسيږي.
امريکا نه يواځې په اروپا، اوکراين بلکې حتا په خپله روسيه کې هم هڅه کوي چې د ولس اذهان د روسيې د حکومت په وړاندې بدل کړي. دا پروپاګنډ روان دئ، او جاسوسان يې لکه څنګه چې په افغانستان کې فعاله ؤ او دي، داسې په دغو هيوادونوکې هم فعاليت کوي.

## لنډيز

امريکا غواړي چې چين د ايغور د مسلمانانو سره په جګړه اخته شي او هم تايوان او هانګ کانګ کې ورته سرخوږئ او ستونزې پيښوي. د دې ترڅنګ امريکا غواړي چې روسيه د منځنۍ آسيا له لوري اوهم د اوکراين له لوري په جګړه کې ښکيل کړي. د اوکراين جګړه عملاً پيل شوې او دا ځکه چې د روسيې پولې ته (اوکراين او ځينې نور ختيځ اروپايي هيوادونه) ناتو توغندې کښينول.
په دې هکله په وار وار سره د روسيې ولسمشر پوتين ناټو او امريکا ته خبرداریئ ورکړ، خو ګټه يې ونه کړه، ترڅو چې روسيې په اوکراين عملاً يرغل وکړ. په واقعيت کې خو دا جګړه هم امريکا او ناټو پيل کړه.
په هر حال څرنګه چې د اوکراين جګړه اوږده شوه، خلک ډير مړه شول او په ميليونونو اوکراينيان لويديځې اروپا ته کډه شول، د دې ترڅنګ د روسيې او اوکراين ترمنځ ډيالوګ هم روان دئ، نواوس داسې نښې نښانې ليدل شوي چې د اوکراين خلک د جنګ څخه ستړي شول او امکان لري چې روسيې سره يو جوړجاړي ته ورسيږي.
که چيرې په ريښتيا هم جوړ جاړي ته رسيږي، نو بيا هم ناټو او امريکا د اوکراين په جګړه کې ماته په برخه شوه. دا ځکه چې امريکا تر وسې وسې هڅه کوي چې د روسيې او اوکراين جګړه اوږده شي. ځکه خو په سرکې امريکا ورپسې ناټو درندې وسلې، د

الوتکو ضد توغندي، مهمات او حتا جنګي الوتکې یې د اوکراین په اختیار کې ورکړي چې ورځې موږ هرڅه درکوو خو تاسو د روسانو سره وجنګیږئ، خو د ناټو غړیتوب نه درکوو. سلاح ورکول اوکراین سره مرسته نه، بلکې اوکراینیان وژل دي او د سلاح جوړولو فابریکې سره مرسته ده. په بله وینا د امریکا د سلاح ماشینونه فعاله ساتل کیږي.

دا هم بیا د امریکا دوه مخي ده چې نړۍ والو ته داسې څرګندوي چې ګواکې موږ غواړو چې اوکرینیانو سره مرسته وکړو. پرمختللې سلاح او مهمات ورکوو. څومره ژر چې شونې وي د روسیې او اوکراین جګړه ودریږي، خو په ریښتیني توګه اصلاً داسې نه ده. دوی هڅه کوي چې جګړه اوږده شي او روسیه په کامله توګه ضعیفه او په نړۍ کې یې سیاسي پرستیژ هم راټیټ شي. دا د امریکا په ګټه او روسیې په تاوان ده. او ښکاره خبره ده چې امریکا غواړي چې روسیه نوره هم ضعیفه کړي.

که چیرې دا سناریو ومنل شي چې امریکا د چین او روسیې د بې ثباتۍ له پاره متې رانغړولي دي، یاد هیوادونه هم بل کوم داسې پلان طرحه نه کړلئ شي چې امریکا د خپلو دغو کړنو څخه لاس په سر کړي، <u>بیا نو د امریکا له لوري افغانستان په پیل کې یو ښه بستر د بې ثباتۍ خورولئ شي.</u>

په بله وینا چې امریکا مخکې له دې چې طالبانو سره د سولې خبرې پیل کړي په افغانستان کې یې ترهګرې ډلې په چټکۍ سره فعالې کړې، لکه څنګه چې پورته هم ورته اشاره وشوه (نژدې شل ترهګرې ډلې). دغه ترهګرې ډلې به بلاخره د چین د ایغور مسلمانانو سره یوځای کیږي. همداشان منځنۍ آسیا ته هم لیږدول کیږی او د شته ډلګیو سره به یوځای شي، او بلاخره به روسیې او یا د روسیې پولې ته رسي. **ځکه خو امریکا د اشرف غني د حکومت د ړنګیدو سره سم اعلان وکړ چې په افغانستان کې ترهه ګرې ډلې ډیرې فعالې شوې دي.**

**د دغې سناریو پلي کولو د پاره چې خدای دې نه کړي داسې وشي، امریکا به دا هڅه وکړي چې لوی افغانستان تل یو ضعیف، بې ثباته او غیر ځواکمن رژیم ولري. لوی افغانستان به تر هغو بې ثباته وي چې د امریکا موخې تر سره شي.** دا چې بیا د امریکا موخې کله ترسره کیږي؟ آیا د امریکا په پلانونو کې بدلون راځي؟ آیا د نړۍ اوسنئ حلات به تر کله په دې شکل پاتې کیږي؟ دا ټولې هغه پوښتنې دې چې یو بل سره د زنځیر کړیو په شان تړاو لري. باید انتظار شو. راتلونکئ به ورته ځواب ووایي.

پورته یادو شویو خبرو ته کڅه هم دمخه اشاره وشوه، خو په دې لنډیز کې مې تکرار اړین وباله، ځکه خو دوه ځلې یادونه وشوه. هیله من یم چې د درنو لوستونکو حوصله مې کمه کړې نه وي.

# پنځم څپرکۍ

## د طالبانو دوهم ځل حکومتولي

۱۵ د اګست ۲۰۲۱ کال

د جون میاشتې ۲۰۲۱ ز کال کې په ډېره چټکۍ سره طالبانو په نطامي عملیاتو فشار زیات کړ او په ډېره لنډه موده کې یې د هیواد له نیمايي څخه زیاتي ولسوالي په خپله ولکه کې راوستلې. ډېر ژر ژر په حیرانوونکې توګه ستر ولایتونو سقوط کاؤ. هره ورځ یو یا دوه ولایتونو سقوط وکړ. په پیل کې به تمرکز د ولایاتو په مرکزونو ؤ چې وساتل شي، خو څو میاشتې وروسته دغه لړۍ ډېر ژر پلازمینې کابل را راورسیده.

د بریتانیا د دفاع وزیر د ۲۰۲۱ د اکتوبر په وروستۍ اونۍ کې خپل پارلمان ته د خبرو کولو په ترڅ کې څرګنده کړه چې هغه هوکړه لیک کوم چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د ۲۹-۲-۲۰۲۰ کې په دوحه کې لاسلیک شو او د افغانستان حکومت په کې ګډون نه درلود، نو پر افغانستان د طالبان لاس خلاص پرېښودل شو.

په بله وینا دنوموړي موخه دا وه چې ووایي امریکایانو طالبانو ته واک ورکړ چې پرلپسې د افغانستان ولایتونه ونیسي. وسله وال ځواک هم پرته له جنګ څخه طالبانو ته ښارونه ورپرېښودل. په پیل کې حکومت ویل چې تکتیکي پر شاتګ کوي. خو اصلاً داسې نه وه. حکومت جګړه نه کوله.

همداراز بی بی سی په ۳۰-۹-۲۰۲۱ دا خبر خپور کړ چې د امریکا دفاعي چارو جګپوړي چارواکي ویلي ؤ چې پر افغانستان د طالبانو ولکه د دې ډلي او ټرمپ اداري ترمنځ شوي تړون (د دوحې تړون ۲۹-۲-۲۰۲۰) سره تړاو لري .

امریکايي جنرال فرانک مکېنزي د خپل هېواد استازو جرګې د وسله والو ځواکونو کمېټې ته ویلي ؤ چې دغه تړون پر افغان حکومت او پوځ زیان رسوونکی اغیز لرله، د دفاع وزیر یې لويډ استن هم وویل دې تړون طالبان لا ځواکمن کړل.

په اصل کې خو کله چې په ۱۲-۱۰-۲۰۱۸ په دوحه (قطر) کې د امریکا او د طالبانو ترمنځ مذاکرات پیل شول او بلاخره د دغومذاکراتو پایله دا شوه چې په ۲۹-۲-۲۰۲۰د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شي، امریکا د افغانستان اسلامي جمهوریت ته شا کړه او طالبانو ته یې ستر سیاسي پرستیژ او ارزښت ورکړ. په بله وینا دوی یې په رسمیت وپیژندل، که څه هم ځیني د طالب مشران لا د امریکا په تور لست کې ؤ/ دي او په سر یې میلیونونو ډالره جایزه اینبودل شوې (البته چې دا د امریکا دروا غجنې کړنې دي).

د امریکا له لوري د دوحې په مذاکراتوکې د افغانستان هغه جمهوریت څنډې ته کړئ شو چې دوی (امریکا) پرې سلګونه میلیارده ډالره لګښت کړئ ؤ. دوې هغه جمهوریت څنډې ته کړ د چا سره یې په ډیره ستونزمنه توګه ستراتیژیک نظامي تړون لاس لیک کړ (کوم چې حامد کرزي ورسره نه لاسلیک کاؤ.). امریکا د طالبانو لومړنۍ حکومتولۍ (۱۹۹۶-۲۰۰۱) ته افراطي تروریستي ډله ویله. اوس د دوی پلاس جوړ شوئ د افغانستان جمهوري نظام ړنګاؤ او طالبانو ته یې واک سپاره.

بلاخره په ۱۵-۸-۲۰۲۱ محمد اشرف غني د هیواد څخه ووت او طالبان په همدې ورځ په کابل ته راننوتل. په دې ډول طالبانو په دراماتیکه توګه ټول افغانستان تر خپلې ولکې لاندي راوست.

د افغانستان وسله وال ځواک په ټوله کې مسلح قوا په دوه ورځو کې وپاشل شوه او له منځه ولاړه. په داسي حال کې چې دا ټل ویل کیدل چې زموږ مسلح قوا باید د دوهم ځل دپاره له منځه لاړه نه شي.

امریکا او د هغه متحدینو د افغانستان اسلامي جمهوري نظام او خلک په یوه سخت بُهراني حالت کې یو تیاره راتلونکي ته په وچ ډاک پرېښودل. په داسي حال کې چې نن سبا بې وزلي په افغانستان کې لوړې کچې ته رسېدلي ده. له دویم نړیوال جنګ څخه وروسته به هم د جنګ ښکیلو هېوادونو کې فقر دومره وده نه وه کړې لکه څنګه چې نن سبا د افغانستان خلک ورسره لاس او ګرېوان دي.

څومره میندو خپل ماشومان د لوږې له کبله خرڅ کړل؟ په ټولنیزو رسنیو کې مو څومره عکسونه ولیدل چې میندې ناستي دي خپل ماشوم څنګ ته یا په لاس کې د خرڅ لوحه

ورکړې وه؟ څومره یو زړه دردونکۍ حالت دئ. څومره میندې د خپلو ماشومانو سره د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ ز په ژمي شپو کې یخ ووهل او مړه شول. ځکه خو ویلۍ شم چې تر دې سخت حالت په افغانستان هیڅکله نه ؤ راغلئ. د دغو ډول ټولو نه بښیدونکي پیښو لامل د امریکا بې مسؤلیته وتل ؤ.

په هر حال مخکې له دې چې نظام سقوط وکړي، ویل کیده چې د طالبانو نفوذي خلکو د کابل هوایي ډګر شا او خوا سیموکې ځای پرځای شوي ؤ.

د پخواني نظام په ړنګیدوسره د امریکایانو او متحدینو له لوري هره ورځ په زرګونو افغانان په الوتکوکې بهرني هیوادونو ته ولیږدول شول. ډیرئ هغه خلک او د دوی کورنۍ وې چې پخوا یې د بهرنیانو سره په نظام کې کار کړئ ؤ. خو په دې برسیره نور عام وګړي هم ووتل. حیرانوونکې پیښې دا وې چې ځینو خلکو په الوتکه کې ځانونه داسې زوړندو کول، لکه پخوا کلونه به چې د کابل ښار ملي بس کې ځان زوړند کاؤ. ځینې د الوتکو څخه راولویدل او مړه شول. موږ داسې تعلیم کړي ځوانان هم ولیدل چې په الوتکوکې پورې یې ځانونه خښول چې اصلاً تمه تري نه کیده چې فکر وکړي زه ترې را رالویږم.

په هر حال تراوسه په لکونو افغانان په الوتکوکې بهرني هیوادونه ته لیږدول شوي او په کمپونو کې یو نامعلوم راتلونکي سره مخ دي. ځینې د دغو افغانانو له ډلې بیرته خپل هیواد ته راستانه شول. د بهرنیانو له لوري د افغانانو د لیږدلولو لړۍ لا تراوسه هم روانه ده. برسیره پردې هره ورځ اقلاً درې زره افغانان پاسپورتونه اخلي او بهر ته وځي. دا لړۍ هم لا روانه ده، څرګنده نه ده چې دا لړۍ به تر کله داسې دوام لري.

د طالبانو اسلامي امارت تل دا خبرې په رسنیو کې کوي چې دا هیواد د ټولو افغانانو ګډ کور دئ. هیچا ته څه نه ویل کیږي افغانان دې بیرته راستانه شي، دا به راتلونکۍ ثابت کړي چې په کور دننه افغانانو او بیرته راتلونکو افغانانو سره څه ډول چلند کیږي.

95

---

95 https://www.bbc.com/persian/afghanistan-59125304
د بی بی سي له سایت څخه اخیستل شوئ

## د پخواني وسله وال ځواک غړي له داعش سره یوځای کیږي

په اول د نوفمبر د ۲۰۲۱ ز کې بی بی سی فارسي څانګې یو خبر د وال ستریت ژورنال د ورځپاڼې په قول خپور کړ چې په کې ویل شوي ؤ، اوس دا څرګنده شوې ده چې ځینې پخواني د مسلح قوا نظامیان د داعش (خراسان) ډلې سره یو ځای شوي دي. دوی خپل زده کړل شوي تکتیکونه داعشیانو ته ورزده کوي چې د طالبانو پروړاندې یې وکاروي. په دغه راپور کې راغلي دی چې د پخواني نظام یوتن دغې ورځپاڼې ته ویلي دي چې زه خپله څوتنه د ملي امنیت ریاست غړي او د اردو نظامیان پیژنم چې د داعشیانو سره یوځآی شوي دي.

والستریت ژورنال زیاته کړې ده چې دا هغه څه دي چې کټ مټ د صدام حسین د رژیم نظامیان د القاعدي سره یوځآی شول.

زما په ګمان دا ټول هغه خلک دي چې پخوا یې هم چنداني د افغانستان درې رنګه (تور،سور، شین) بیرق نه پیژانده او خپل بیرق یې درلود. (دوی ویل داعش د طالب دښمن دئ، موږ هم د طالب دښمنان یو.....) د دوی دوه مخې څیرې اوس ټولو ته څرګندې شوې. اضافه تر دې د تبصرې وړتیا نلري.

## په پخواني نظام کې پټ طالبان

96

د والاستریت ژورنال راپور: په پخواني حکومت کې پټ طالبان د افغانستان په فتح که ستر رول لاره.

په ۲۸ د نوفمبر د ۲۰۲۱ م کې بی بی سی فارسي څانګې یو خبر د د وال ستریت ژورنال د ورځپاڼې په قول خپور کړ چې په کې ویل شوي ؤ، اوس دا څرګنده شوې ده چې د طالبانو پټ خلک په خریلو ړیرو سره د افغانستان په اسلامي جهوری نظام کې

---

96 https://www.bbc.com/persian/afghanistan-59451008?fbclid=IwAR06ceCEaIt11hOa4QmZNTQFBLIZeTbknYL3DYmJWxLoqszQzUavs9oBxpQ
په ۲۸-۱۱-۲۰۲۱ د بی بی سی له سایت څخه اخیستل شوئ

شتون درلود. طالبان په وزارتونو، پوهنتونونو او ډیرئ دولتي ارګانونو کې ځای پر ځای شوي ؤ.

یو د هغو طالبانو څخه چي د افغانستان په اسلامي جمهوري نظام کې يي د کابل ښار په عملیاتو کې تل ګډون درلود دغې ورځپاڼې ته ویلي ؤ چې زموږ شته کسانو د پلازمینې په ستراتیژیکو ځایونو کې ځای پرځای ؤ او د پلازمینې کابل په نیولو کې يې مهم رول درلود.

ځینو طالبانو بیا دغې ورځپاڼې ته ویلي وه چې زموږ بې ږیرې طالبانو په ډیرئ دولتي موسساتو او بین المللي مرستندویه سازمانو کې نفوذ درلود.

په دغې راپور کې زیاته شوې وه چې نفوذي خلکو خپل همکاران او ګاونډیان هغه وخت حیران کړل چې امریکایان د کابل څخه په وتلو کې شول. هغوی خپلې وسلې او مهمات د پټنځایونو څخه راوکښل او د جنګیالي طالبانو سره يې د کابل او نورو ښارونو په چټکو نیولو کې مرستې وکړې.

ځیني داسي اوریدني هم شوې دي چې نفوذي طالبانو مخکې د ۱۵ د اګست ۲۰۲۱ څخه د هوایي ډګر په شا او خوا کې لا ځای پرځای شوي ؤ. ما خپله په کابل کې داسې هم واوریدل چې ځینو ځایونو کې نفوذي طالبانو د جمهوری نظام وسلوال خلع سلاح کړي ؤ، او یا هم د ملګرتوب په توګه د هغه وخت د نظام په ګټه نه جنګیدل. دا هم د طالبانو سره د واک په نیولو کې ستره مرسته وه.

<u>جنرال فیض د څه د پاره کابل ته راغئ</u>

د طالبانو واک ته رسیدو څخه لنډه موده وروسته د سیپتمبر میاشت ۲۰۲۱ ز کې جنرال فیض د پاکستان د آی اس آی مشر کابل ته راغئ. نوموړئ د طالبانو له لوري رابلل شوئ نه ؤ. همداشان محمود قریشی د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر هم غوښتل لنډ د طالبانو د واک ته رسیدو څخه وروسته کابل ته راشي، البته پرته د بلنې څخه، خو د طالبانو له لوري ورته مثبت ځواب ور نه کړل شو.

په هرحال اوس جنرال فیض د طالبانو د نظر خلاف کابل ته راغئ ( طالبان د افغان ملت دحساسیت په خاطر نه غواړي چې پاکستاني جګپوړي دومره ژر افغانستان ته راننوځي). نوموړئ زما په ګمان د څو موخو د پاره کابل ته راغئ.

**لومړئ**: د دې د پاره چې منځپاله طالبان (یو څه پوست چلند لري)، په ډیرو مهمو کلیدې پوستونو کې ونه ګمارل شي. په ځانګړې ډول هغه طالبان چې د هند پر وړاندې سخت دریځ نه غوره کوي او د کشمیر مسله ورته ډیره د اهمیت وړ نه وي.

**دوهم**: حقاني ډلي ته دې مهم او کلیدي پوستونه ورکړل شي.

**دریم**: جنرال فیض او قریشي نړیوالو ته وښیي چې دوی لا اوس هم پر طالبانو واکمن دي او هر څه که ورته وایي نو هغه به ومنل شي.

دا ځکه چې اوس طالبان په دې هڅه کې دي چې ځان نور د پاکستان د دیکتي کولو څخه راخلاص کړي. موږ ولیدل چې د کوټې شورا هم قندهار ته ولیږدول شوه. پاکستان په دې ویره کې دئ چې نور به طالبان د دوی خبرې ته غوږ نه نیسي. ځکه د ۴۰ کلو راهیسې پاکستان په دې هڅه کې دئ چې په افغانستان کې داسې رژیم حکومتولي وکړي چې پاکستان ته د منلو وړ وي.

<u>د بهرنیو چارو زارت په نړیوالو اړیکو کې اردو ژبه:</u>

څو موده پخوا مې واوریدل چې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت په نړیوالو اړیکو کې اردو ژبه د انګلیسي تر څنګ ورزیاته شوې ده. ډیر خواشینئ شوم او د یو افغان په صفت یې زغملئ نه شم. زه د هرې ژبې زده کول خوښوم. اردو ژبه هم. اردو ژبه مې لږه لږه زده هم ده. خو لکه څنګه چې د پاکستان سره په تیرو ۴۰ کلونو کې ډیر حساسیتونه راپیدا شول او شته، نو د افغاستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت ته نه ښایي چې په نړیوالو اړیکو کې د اردو ژبه ورزیاته کړي او یا یې وکاروي. دا چې د هرچا په امر شوئ وي، افغان ملت ته ستر سپکاوئ دئ، افغانان یې زغملئ نشي.

وګورئ د پاکستان په بهرنیو چارو وزارت کې خو هم اردو ژبه په نړیوالو اړیکو کې نه کارول کیږي، هلته خو د پاکستان د زیږیدو سره تر ننه انګلیسي ژبه کارول شوې ده.

پوښتنه پیدا کیږي چې ولې اردو ژبه بیا د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په سیاسي اړیکو کې وکارول شوه؟ زما په ګمان دا ډول کړنې عمدي کیږي، چې خلک څه ډول غبرګونونه ښکاره کوي.

په هر حال دا چې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو سرپرست وزیر ښاغلي متقي ته چا دا مشوره ورکړې وه، خو متقي چې د بهرنیو چارو په وزارت کې سرپرست وزیر دئ، نو په سیاسي لحاظ باید پوه شي چې دا ډول کړنې هیڅ افغان ته خوښوونکي او د زغملو نه دي، بلکې یواځې او یواځې حساسیتونه راپارول او تخریشونه ایجادول دي. هلیه من یم چې ډیر ژر، دې او دې ته ورته کړنو څخه مخنیوئ وشي.

## د طالبانو دیپلوماتیکې هلې ځلې

کله چې طالبانو د افغانستان ټول واک په لاس کې واخیست، تراوسه په دې هڅه کې دي چې د طالبانو اسلامي امارت د ملګروملتونو د سازمان، امریکا، اروپایي اتحادیه، ګاونډیان او پاتې نړۍ له لوري په رسمیت وپیژندل شي، کوم چې تر اوسه هیڅ هیواد هم د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت نه دئ پیژندلئ.

دا کټ مټ هغه حالت دئ کوم چې شل کاله دمخه طالبانو د لومړي ځل دپاره نژدې ۹۵ سلنه د افغانستان خاوره په لاس کې وه، خو ملګروملتونو او نړیوالې ټولنې (پرته د پاکستان، سعودي عربستان او عربي متحده ایالاتو څخه) په رسمیت نه پیژاندل.

د افغانستان پر وړاندې د امریکا دغه چلند په ریښتنې دوه مخئ سیاست دئ. دا په ځای خبره ده چې سیاستوال وایي سیاست هیڅکله تل پاتې دوست او تل پاتې دښمن نه لري. خو په دومره لنډه موده کې د یوې مخې ۱۸۰ درجې د سیاست تغیر په نړۍ کې بې ساریٔ او یا خو هم ډیر لږ لیدل شوئ.

د ملګروملتونو سازمان، امریکا، لویدیځه نړۍ او پاتې ټوله نړۍ حتا د پاکستان په ګډون چې ترټولو لومړنئ حامي، پلوي او تقویت کوونکئ د طالبانو ؤ اوس د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژني. ټول دا دلیل وړاندې کوي چې د طالبانو اسلامي امارت دې د ښځو حقوقو ته درناوئ وکړي، نجونو ته دې اجازه ورکړل شي چې ښوونځیو، تعلیمي موسسو او پوهنتونونو کې خپلو زده کړو ته د پخوا په شان دوام ورکړي. د ښځو کار کولو مخنیوئ دې نه کیږي، د پخوا په شان دې بیرته په کارونو کې وګمارل شي. ټولګډونه حکومت دې جوړ شي. د پخوا په شان د بیان آزادي دې بیرته وګړو ته ورکړل شي. رسنئ دې خپلې خپرونې په آزاده توګه بیرته پیل کړي او..... داسې نور.

که چیرې د کاسې لاندې نیم کاسه نه وي، نو دا ټول ځیزونه څه کم شپږمیاشتې د مخه د محمد اشرف غني په حکومت کې شتون درلود، ولې برحاله حکومت چې د لسګونو زرو تنو په وینې تویدو سره جوړ شو. مسلح قوا چې په میلیاردونو ډالر پرې لګښت وشو او پاتې ټولې شل کلنې لاس ته راوړنې د خاورو سره خاورې کړې او په پښو ولاړ حکومت یې ړنګ کړل.

اوس نو په څه دا ټولې غوښتنې د طالبانو کیږي؟ آیا په ریښتنې توګه د ملګرو ملتونو سازمان شتون لري چې افغانان ورته خپل شکایت وکړي چې ولې مو شل کلنې لاس ته راوړنې په سیند لاهو کړې چې اوس بیرته د طالبانو څخه هماغه غوښتنه لرئ؟ آیا د امریکا د سنا په مجلس کې هم کله دا پوښتنه راپورته کیږي چې د څه له پاره مو جمهوري نظام ړنګ کړ؟ ولې مو شل کلنې لاس ته راوړنې له منځه یووړې؟ ولې مو زموږ په سلګونو میلیارده دالر مصرف کړل او اوس هماغه غوښتنې د طالبانو څخه کوؤ؟ همدارنګه د امریکا متحدین، د ناتو هیوادونه او دنړۍ پاتې هیوادونو خلکو سره په ککره کې دا پوښتنه نه پیدا کیږي؟ باوري یم چې د ټولو سره دا پوښتنه شته، خو د پاکستان په شان ټول هیوادونه د امریکا له ډاره څه ویلئ نه شي او نه د طالبانو رژیم په رسمیت پیژندلئ شي. پوښتنه دا پیدا کیږي چې آیا همدې ته وایي ولسواکي؟ زه خو ورته وایم زورواکي.

97

**د ټآم ویست غبرګون د امیرخان متقي د لیک په هکله چې د امریکا کانګرس ته یې استولئ ؤ ۱۹ نومبر ۲۰۲۱**

څو ورځې دمخه (نوفمبر ۲۰۲۱ ز) د طالبانو د بهرنیوچارو سرپرست وزیر امیرخان متقي یولیک د امریکا کانګرس ته استولئ ؤ. په دې لیک کې امیرخان متقي د امریکا د کانګرس څخه غوښتې ؤ چې د افغانستان نژدې لس میلیارده دالره کنګل شویو شتمنیو د آزادولو کې مرسته وکړي.

97 https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-59353992

امیر خان متقي زیاته کړې وه چې په دغو کنګل شویو پیسو سره به افغانستان د بشري او اقتصادي ناورین سره مخ شي.

د امیرخان متقی د دغې لیک په غبرګون کې بیا د افغانستان له پاره د امریکا ځانګړي استازي ټام وېسټ په تویټر لیکلي ؤ چې طالبانو په هغه لیک کې چې د امریکا کانګرس ته یې استولی، د افغانستان د اقتصادي او بشري ناورین په اړه حقایق ناسم څرګند کړي دي.

تام ویست د نورو خبرو برسیره په دې ټراو زیاته کړې وه چې امریکا طالبانو ته لا پخوا په څرګند ډول ویلې ؤ چې که د جګړې له لارې واک تر لاسه کړي، نو د افغانستان سره به نړیوالې بشري مرستې هم بندې شي، اوس همداسې وشول. نوموړي ویلي دي چې که طالبان مرسته غواړي نو د ترهګرو پر وړاندې دې جدې مبارزه وکړي، ټولګډونه حکومت دې جوړ کړي، نجونو ته دې د تحصیل اجازه ورکړي او د ښځو حقوقو ته دې درناوۍ ولري.

**د انګلستان صدراعظم د طالبانو سره د تعامل غوښتنه کړې وه**

98

د انګلستان صدراعظم بوریس جانسن په ۲۱ د نوفمبر ۲۰۲۱ خپل پارلمان کې وویل چې *په افغانستان کې د بشري ناورین د ډیریدلو د مخنیوي دپاره انګلستان باید د طالبانو سره تعامل وکړي. البته چې څرګنده ده طالبانو د دې څخه هرکلئ وکړ. د انګلستان لومړي وزیر وویل:*

*زه د طالبانو سره په تعامل کې یم. دغې موضوع ډیر بحثونه هم راپارولي دي. د کابل له سقوط او د نظام له بدلون وروسته، له طالبانو سره د تعامل نه کولو په اړه په بریتانیې کې له شته لیدلوري سره مخالف وم. ښایي هغوی یعنې (طالبان) د ټولو افغانانو استازیتوب ونه کړي. هغوی د افغانستان اوسنې چارواکي دي. بریتانیا د افغان ولس او له هغو سره د مرستې لپاره باید له طالبانو سره تعامل وکړي.*

---

98 https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-59367505

په همدې ډول د امریکا مالیې وزارت هم د یوې اعلامیې په خپرولو سره ویلي چې، د دغه وزارت یوه مرستیال د قطر له چارواکو سره د افغانستان د مسایلو او بشري مرستو په تړاو لیده کاته کړې دي.

د یادولو وړ ده چې عربي متحده اماراتو په کابل کې خپل سفارت بېرته پرانیست. د پاکستان، چین، روسیې، ازبکستان، ایران او ترکمنستان هېوادونو سفارتونه کابل کې فعال دي.

لکه څنګه چې امریکا په نړۍ کې یو ځبرځواک هواد دئ نو د هغه له ډاره تراوسه یو هیواد هم د طالبانو حکومت په رسمیت نه دی پېژندلی. خو د دې ترڅنګ که په یو هیواد کې بهرنۍ هیواد د سفارت په کچه استازولي ولري، نو بیا په رسمیت پیژندل څه ته وایي؟ خو دا باید په یاد ولرو چې په پیل کې به د ملګروملتونو سازمان ورپسې به امریکا د طالبانو اسلامي امارت په رسمیت وپیژني ورپسې به بیا نور هیوادونه هم د دوی په پله لاړ شي. خو د امریکا په ګډون نړیوال د طالبانو څخه غواړي، چې د نړۍ سره د نژدې کېدو د پاره باید په افغانستان کې ټولګډونې حکومت جوړ کړي، بشري حقونو ته درناوی وکړي، ښځو ته د کار اجازه ورکړي او نجونو ته د زده کړې شونتیا برابره کړي.

<u>د افغانستان د پاره د برتانیې ځانګړي استازي د امیرخان متقي سره لیدلي</u>

د افغانستان لپاره د برتانیې ځانګړي استازی مارټن لونګډن د ۲۰۲۱ د نوفمبر په ۲۸ پخپل تویټر کښلي ؤ چې په دوحه کې د طالبانو د بهرنیو چارو د سرپرست وزیر امیر خان متقي سره کتلي دي. نوموړي زیاته کړې وه چې له طالب پلاوي سره د افغانستان د بشري وضعیت، ترهګرۍ او ټولو زده کوونکو (نجونو او هلکانو)، محصلینو ته له افغانستان سره د برتانیې د مرستو پر دوام خبرې کړي دي. دا په داسې حال کې وه چې د برتانیې صدر اعظم بوریس جانسن د (جي شل) هیوادونو تر غونډې وروسته له اړمنو افغانانو سره د ۵۰ میلیونه پونډه د مرستې اعلان وکړ. هغه زیاته کړې وه چې له ګواښ سره مخ افغانانو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو سره مرسته د ټولو مسؤلیت دی. دا په دې مانا وه چې نور نړیوال هیوادونه هم ورته رغنده ګامونه پورته کړي.

پټه دې پاتې نه وي چې طالب پلاوي دوحې ته د سفر په ترځ کې د اروپایي ټولنې له استازو سره هم کتلي دي. اروپایي ټولنې په یوې اعلامیې کې ویلي چې له طالب استازو سره یې د ټول ګډونه حکومت جوړېدو، د ښځو او نجونو د کار او تعلیم حق، افغانستان

دې ته نه پرېښودل چې د ترهګرۍ په مرکز بدل شي اود بشري وضعيت په اړه خبرې کړي دي.

دسمبر ۲۰۲۱

د ملګرو ملتو سازمان په يو راپور کې راغلي ؤ چې دوی د افغانستان د حالاتو په هکله سخت انديښمن دي. د ملګرو ملتو سازمان وايي چې که افغانستان ته مرستې ونه رسيږي، نو په افغانستان کې يو سخت ناورين ته سترګې په لاره دي. د ملګرو ملتونو سازمان انديښنه څرګنده کړې ده ويلې يې دي چې اوس نژدې ۲۳ ميليونه د افغانستان وګړي خوراکه توکو ته اړ دي. د دې امکان شته چې نژدې ۹۷ سلنه د افغانستان اوسيدونکي د فقر سره مخ شي.

د امريکا حکومت د قطر سره د دوه جلا جلا تړونونو له لارې په نوفمبر د ۲۰۲۱ ز کې هوکړه کړې چې لدې وروسته به افغانستان کې د قطر د سفارت له لارې خپلې قونسلي چارې پر مخ بيايي او له افغانستان څخه په شرايطو برابرو افغانانو او هلته پاتې امريکايانو، چې له افغانستان څخه وتل غواړي، راويستلو کې به هم مرسته کوي.

د قطر سره دغه تړون د دې ښکارندويي کوی چې امريکا په غير مستقيم ډول غواړي د طالبانو سره په اړيکه کې اوسي.

د ۲۰۲۲ ز کال د جنورۍ مياشتې په وروستۍ شپوکې اميرخان متقي د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير د يو پلاوي سره د ناروې د حکومت په بلنه اوسلو ته راغئ. پته دې پاتې نه وي کله چې طالبان واک ته رسيدلي دي، لويديځې اروپا ته  دا د اميرخان متقي لومړنئ سفر ؤ.

د يادونې وړ ده چې د ناروې حکومت کابل ته چارترالوتکه وروليږله، او د طالبانو پلاوئ يې اوسلو ته راوست. همدارنګه ځينې تش په نامه د ښځو د حقوقو مدافعين هم وربلل شوي ؤ چې اوسلو ته ولاړل او په په اروپا کې ځينې افغانان د ناروې د دولت له خوا وربلل شوي ؤ. برسيره پردوې د امريکا او د اروپايي اتحاديي استازو هم په کې ګډون درلود. د طالبانو د پلاوې څخه د ټولو ګډونوالو دغه ځانګړې غوښتنې درلودې: د ښځوحقوقو ته درناوئ، د ښځود کار او تعليم او تحصيل نه مخنيوئ او يو ټول ګډونه حکومت جوړونه.

په ۱۷-۳-۲۰۲۲ م د ترکيي په انتاليا ښار کې د افغانستان د بهرنيوچارو وزارت سرپرست وزير اميرخان متقي د يو پلاوي په ګډون د ديپلوماسۍ په فورم کې د ګډون له

پاره ۳ ورځنۍ سفر درلود. برسیره پردې چې امیرخان متقي په دې کنفرانس کې خبرې وکړې، د افغانستان د پاره د امریکا د بهرنیو چارور وزارت ځانګړي استازي ټام ویسټ سره یې هم ولیدل. دوی دواړه دې هوکړې ته ورسیدل چې د افغانستان کنګل شویو څه کم ۱۰ میلیارده ډالرو څخه چې ۳.۵ میلیارده یې آزاده شوي دي په افغانستان کې د خیریه موسسو لاس ته نه ورکوي بلکي د افغانستان دولت یا مرکزي بانک ته سپارل کیږي. د افغانستان دپاره د امریکا ځانګړي استازي ټام وسټ د پخوانیو ویناؤ او تبصرو په پرتله خوښ لید (خوشبیني) درلود.

د ۲۰۲۲ کال د مارچ په آخره کې په چین کې هم د افغانستان دپاره یو کنفرانس یا غونډه جوړیږي. دا غونډه تر ټولو مهمه غونډه ده، وبه ګورو چې افغانستان ته څه لاس ته راوړنې لري.

**د طالبانو په رسمیت پیژنده**

امریکا په پوهاوی توګه اوس طالبان په رسمیت نه پیژني.

د امریکا حکومت سمدلاسه د دې له پاره د طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژني چې رومبۍ خو د خپلو وګړو سره په تقابل کې واقع کیږي چې ولې دې شل کاله ضایع کړل، په تریلیونو ډالره دې هم مصرف کړل زموږ زرګونه ځوانان دې هم وژل او اوس دې بیا هماغې طالبانو سره ژر دوستي پیل کړه او په رسمیت یې پیژني؟ د امریکا ملت به وایي چې نه مو د افغانستان خلکو ته څه وکړل او نه هغو موخو ته چې ورغلي ؤ پوره کړلې، په بې مسؤلیته توګه ترې راو وتلو، نو اوس څنګه پس د څو میاشتو د طالبانو حکومت په رسمیت پیژنې؟

که چیرې په سر کې امریکا د افغانستان اسلامي امارت په رسمیت وپیژني او ورپسې د نړۍ نور هیوادونه، نو په دې وخت کې طالبانو ته په کار ده چې د نړۍ سره ډیر محتاطانه برخورد ولري.

په بله وینا چې یو ښه اندول ساتونکۍ بهرنۍ سیاست پرمخ بوځي. دا ځکه چې موږ ته په دا شلو کلونو کې د امریکا دوه مخۍ سیاست پوره ښکاره شوۍ دۍ، نو دغې موضوع ته په کتو سره باید طالبان سیاسي اندول د چین، امریکا او روس امریکا په وړاندې وساتي. دا ځکه که چیرې افغانستان بیا یواځې امریکا ته مخه کړي، نو موږ خپل

ګاونډیان چین او روس په دې ناراضه کوؤ. امریکا ناباوره ده. د ژمنتوب هیڅ نورمونه نه ساتي، خو چین او روس کیدای شي موږ سره د خامو توکو په استخراج کې مرسته وکړي.

که موږ د افغانستان نیمي پیړۍ شاته ځلغنده نظر ولرو، نو ګورو چې کله یو هیواد ته دومره لنډ شوي یو چې نورو ټولو ته مو شا کړه او کله بل ته. شهید محمد داود خان په پیل کې شوروي اتحاد ته لنډ شو، ډیر ژر یې درک کړه چې تیروته. هماغه ؤ چې د ثور انقلاب رامنځ شو او یو مخي شوروی ته ورلنډ شؤ. د مجاهدینو او په لومړي ځل د طالبانو په راتګ سره پخپل منځي جګړو کې سره اخته شو، ترڅو طالبان له واکه لرې کړئ شول او یوې مخې مو ټولې نړۍ ته شا کړه او یواځې دوه مخې امریکا مو پیژندله، هغې هم بلاخره سور لمرته په وچ ډا ګ پریښودو. بناً دا باید موږ ته یوه ښه تجربه وي. تیرو تجربوته په کتوسره ګاونډیانو او نړیوالو هیوادونو سره متقابلې ډیپلوماتیکې اړیکې وساتو.

زه ډاډه یم چې امریکا به سوکه سوکه د وخت په تیریدو سره د طالبانو حکومت په رسمیت وپیژني.

داچې د اوکراین او روس جنګ رامنځ ته شو،*(په دې هکله اړوند ځای کې پرې بحث شوئ.)* په هر حال طالبانو ته دا یوه ښه موقع برابره شوه چې یوه ښه ډیپلوماسي وچلوي. امریکا په دې هم ډاریږي چې که دوی د طالبانو سره تعامل ونه کړي، بلاخره طالبان د امریکا سیالانو (چین او روسیه) سره ژر اړیکي ټینګوي. په داسې حال کې چې امریکا اصلاً دا نه غواړي. په دې هکله د یادولو وړ ده چې۲۰۲۲ ز کال د مارچ میاشت په دوهمه اونۍ کې کله چې د طالبانو سرپرست حکومت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي د ترکیې انتالیا ښار ته په غونډه کې ګډون وکړ، د دې ترڅنګ د اروپایي اتحادیې ځانګړئ استازئ توماس نیکلاس هم وویل چې *که طالبان د افغانستان دخلکو رضایت لاس ته راوړي نو اروپایي اتحادیه به هم د طالبانو پروړاندې پخپل سیاست کې بدلون راولي.* په دې مانا چې امریکا او اروپایي اتحادیه اوس د طالبانو پروړاندې د سیاست د بدلون په لور روان دي.

**د اروپايي اتحاديې استازی د طالبانو په وړاندې خوښلید (خوشبیني)**

99

د اوکراین د جګړې د پیلیدو څخه وروسته د طالبانو پر وړاندې د امریکا او د ځینو اروپايي هیوادونو په څرګندونو کې ښکاره مثبت بدلون لیدل کیږي.

د۲۰۲۲ ز کال د مارچ میاشت په دریمه اونۍ کې د چین د بهرنیو چارو وزارت د امریکا د ځینو څرګندونو په تړاو داسې غبرګون وښود چې موږ د اوکراین په جنګ کې طرف واقع نه یو او موږ نه غواړو چې زموږ اقتصاد ته زیان ورسیږي . په بله وینا دا چې لویدیځې نړۍ په روسیې بندیزونه لګولي، امریکا او نور هیوادونه دې زموږ څخه دا تمه نه کوي چې ګویا چین به هم په روسیه بندیز ولګوي. نو دا چې اروپايي هیوادونه د روسیې څخه ګاز وارد کول بند کړي، روسیه به خامخا د ګازو صادرولو بله لیار ولټوي. تر ټولو ښه او آسانه دا ده چې روسیه د طالبانو سره اړیکې ټینګې کړي او د تاجکستان له لارې د ټاپي پروژې په پلي کولو ټینګ او ګړندي ګامونه واخلي. نو د دغې ګمان په درلودلو او ورستیو پورتنیو د ډیپلوماتیکو، څرګندونو او پرمختګونو ته په کتو سره زما په آند چې امریکا غواړي د افغانستان اسلامي امارت سره اړیکې ورغوي او په راتلونکي کې به یې په رسمیت وپیژني. ځکه امریکا نه غواړي چې روسیې ته بله کومه لنډه محالي لیار د ګازو د صادرولو د پاره پیدا شي.

په هرحال دا به هم راتلونکۍ څرګند کړي باید تم شو.

---

99

https://pajhwok.com/fa/2022/03/18/thomas-nicholson-the-european-union-is-committed-to-the-people-of-afghanistan/
د پژواک له سایت څخه اخیستل شوئ

## د طالبانو په هکله تولیزې څرګندونې

نا امني

موږ ولیدل چې په تیرو څومیاشتو کې څو واري په کابل او د افغانستان په نورو ولایتونو کې انتحاري حملې وشوې. دا په دې مانا ده چې افغانستان لا تراوسه پوره امن هیواد نه دئ. برسیره پردې دوه سترو ډلو (داعش او د اسلامي دعوت ایتلاف، جمع خراسان څانګه) د دې امکان هم شته چې په اصطلاح مقاومتیان هم ورسره یوځای شي. بیا نو د طالبانو اسلامي امارت ته د پام وړ سرخوږی دئ.

که چیرې داعش او د اسلامي دعوت ایتلاف (ایتلاف دعوت اسلامي) یو بل سره متحد شي، کوم چې زما په آند دغه ډله خامخا د داعش سره یوځای کار کوي، ځکه چې د دواړو ډلو موخې ډیر سره ورته والئ لري. دواړه ډلې سخت دریزه خصوصیات لري.

د اسلامي دعوت ایتلاف ډلګې

په اکتوبر د ۲۰۲۱ کې امریکایې مجلې د فارن پالیسي په نامه چې په کال کې ۶ ځلې خپریږي د ځینو ځیرنیزو اسنادو پر بنسټ ښودلې ده چې د پاکستان آی اس آی د ۲۰۲۰ څخه را په دې خوا د یوې بلې ترهګرې ډلې جوړول پیل کړي دي. دغه ډله په نامه د اسلامي دعوت ایتلاف نوم فعالیت پیل کړئ.

ښکاره ده چې دغه ترهګره ډله به هم د یوویشت نورو ترهکرو ډلو په شان د پاکستان، انګلستان او امریکا له لوري تمویل، تجویز او ملاتړ کیږي. داسې ښکاري چې د پاکستان آی اس آی غواړي د دغې ډلې په شتون کې په افغانستان کې ترهګریز فعالیتونه دوام ولري.

کچیرې طالبان د پاکستان د حکومت او یا آی اس آی څخه ځانونه خپلواک کړي، د پاکستان غوښتنې چې زموږ ملي ګټو ته په تاوان وي ونه مني، بیا نو دا ګمان کیږي چې آی اس آی به سوکه سوکه نورې ترهګرې ډلې لکه داعش او د اسلامي دعوت ایتلاف، د خراسان څانګه او په اصطلاح مقاومتیان د اړتیا په وخت کې د طالبانو پر وړاندې وکاروي. بلاخره به بیا هماغه حالت وي لکه چې د افغانستان اسلامي جمهوریت په حکومتولی کې ؤ (حامد کرزي او محمد اشرف غني).

<u>نا امنۍ او د ترهګرو مخنیوئ</u>

لکه څنګه چې جوته ده په فبروری ۲۰۲۲ د کابل ولایت او ځینو نورو سیمو کې د طالبانو له خولې چې چانیز عملیات یې پیل کړي. دوی کور په کور پلټنې پیل کړې. ډیر شمیر سلاح، مهمات او ځینې غله او انسان تښتوونکي ونیول شول. زما په آند دغه پلټنې یو د هغو فکتورونو څخه دئ چې د نا امنۍ او ترهګرۍ په مخنیوي کې مرسته کوي. دغه ډول کړنې باید وستایل شي، البته په رسنیو کې یو اځې هغه خلک منفي تبلیغ کوي چې په کورونو کې یې سلاح پټې کړې دي. موږ تاسو د سپکو او درنو وسلو د موندلو شاهدان ؤ. حتا د پنجشیر په ولایت کې د نورو درنو وسلو ترڅنګ سکاټ توغندي هم وموندل شول.

## په افغانستان کې د امریکا له لوري تېل شوې شل کلنې جګړې ته ځغلنده کتنه

دا چې ځینې مطالب د موضوع سره د تړاو په خاطر تکرار لیکل شوي. په دې هکله په بښنې سره درنو لوستونکو ته لا درنه حوصله غواړم.

د نن څخه شل کاله د مخه په نیویارک کې د یولسم د سپټیمبر ۲۰۰۱ ترهګریزې پیښې څخه وروسته د همدې کال په اکتوبر میاشت کې د امریکا له لوري پر افغانستان د توغندیو عملیات پیل شول. همدا ډول څه موده وروسته یې د بمباریو او نور یرغلیز عملیات وشول.
یولسم د سپټیمبر ترهګریزه پیښه عربانو سرته رسولې وه. د ۱۹تنو ترهګرو له ډلې څخه یو هم افغان ثابت نه شو، خو په بدل کې امریکا په سهیلي افغانستان خاوره کې پر ودونو بمونه وغورځول. د ناوې پرځای خلکو جنازې کورونو ته یووړې. حتا روغتونونه یې هم بمبارد کړل. د شلو کلو جګړې په ترخ کې په لسګونو زره ملکي وګړي مړه او په لکونو ټپیان شول. امریکایانو په بګرام کې زندان جوړ کړ. د دې ترڅنګ امریکایانو په افغانستان کې دننه شخصي زندانونه هم لرل. هغه چا چې د دوی د غوښتنې خلاف کار کاؤ شخصي زندانو ته اچول کیدل. د امریکایانو پروړاندې څوک د پوښتنې نه ؤ.

امریکا په اصطلاح د القاعدې او ترهګرو ترنامه لاندې زموږ په ګران هیواد افغانستان باندې یرغل وکړ.
په نوفمبر- دیسمبر د ۲۰۰۱ ز کال د جرمني په بُن کې یو ناقص کنفرانس ترتیب شو.
په دې کنفرانس کې د امریکایانو په غوښتنه د افغانستان په هکله کوږ بنسټ کیښودل شو.
په دې مانا چې د جګړې مهم او ټولو ښکیلو ډلو په کې شتون نه درلود. د جګړې مطرح

ډله طالبان او ځینې نور په پوهاوی توګه له نظره وغورځول شول، او بلاخره یې حامد کرزئ د افغانستان د موقتې اداريې ریس وټاکه او د طالبانو رژیم یې نسکور کړ.
جنګسالاران او د بشري حقونو ناقضین یې پر افغانستان وتپل، چې په نتیجه کې یوه ناکاره اداره رامنځ ته شوه. د جګړه مارو ډلو اړوند کسان چې تر دې د مخه یې د قدرت له پاره کلونه کلونه له یوبل سره جګړې کړې وې، په نوې اداره کې سره راغونډ شول او د دې پرځای چې د افغانستان او ملت سترو اهدافو ته ژمن اوسي، خپلو شخصي او تنظیمي ګټو ته یې ترجیح ورکړه.

کله چې حامد کرزئ د افغانستان ولسمشر شو، نوموړي ته په یو تورتم کې ساتل شوئ افغانستان وسپارل شو. ځکه خو حامد کررزي د یو نظام یا دولتي سیستم رامنځ ته کیدلو د پاره بنسټیز ګامونه او د هر اړخیزې ودې په لور چټک پرمخ ولاړ.
درې ګونې قوا (مقننه، قضاییه او اجرايیه) رامنځ ته شوه. مشرانو، او ولسي جرګه تاسیس شوه. د وسله وال ځواک په جوړولو پیل وشو. په زرګونو ښوونځي او په سلګونو پوهنتونونه جوړ شول، چې په میلیونونو هلکانو او نجونې ښوونځیو او پوهنتونونو ته تلل.
د دې ترڅنګ ولسواکي او د بیان آزادي رامنځ شوه. په سلګونو تلویزیونونو شبکې او راډیویې خپرونې رامنځ ته شوې. په بې سارې ډول احزاب رامنځ ته شول د ښځوحقوقو ته درناوئ او داسې نور هر څه شتون درلود. افغانستان د ملګروملتونو د سازمان، امریکا، اروپایي اتحادیې او د نړۍ نورو هیوادونو په رسمیت وپیژند. خو بیا د دې ټولو چټکو مثبتو ګامونو ترڅنګ ډیرو ناخوالو لا هم شتون درلود.
افغانستان د نړۍ ۸۰ تر ۹۰ سلنه نشه یې توکې تولید کول. همداراز د نړۍ تر ټولو فاسد ترین هیواد وګرځید. شل نورې ترهګرې ډلې هم څرګندې شوې.
په کال ۲۰۰۳ ز کې بیا طالبانو د افغانستان په سهیل او سهیل لویدیځو سیمو کې سر راپورته کړ او د افغانستان اسلامي جمهوریت په وړاندې یې خپل چلیکي جنګونه پیل کړل. د لویو لارو په سر یې ماینونه خښ کړل، ښارونو کې یې په دولتي ودانیو او ځینو نورو سیمو کې بمې، ځانمګري چاودنې او دې ته ورته کړنې سرته رسولې.

طالبانو د افغانستان د اسلامي جمهوريت رژيم د ضعف څخه ګټه پورته کوله او په کلو باندو کې يې د دولت ضيعف ټکي په ډاګه کول، ترڅو په دې ډول عام وګړي د دولت څخه واړې، او پر ځای يې دوی (طالبان) ځان ورنژدې کړي.

د طالبانو او دولت ترمنځ جګړې د ۲۰۰۶-۲۰۰۷ څخه پيل شوې او سوکه سوکه يې زور واخيست. د آی اس اې اف (ايساف) ځواکونو د پاکسازۍ پروګرام پيل کړ او کلي باندونه يې د طالبانو له ولکې خلاصول. د دغه ځواکونو شمير په ۲۰۱۱ کې يولک او څلويښت زرو ته اوچت شو.
د امريکا او د متحدينو د يرغل څخه لس کاله وروسته په (۲۰۱۱ز) د امريکا پخوانۍ دوست او د القاعده مشر اسامه بن لادن د پاکستان په ابټ آباد ښار کې د امريکايانو له خوا ووژل شو. دا په دې مانا وه چې له اوله زموږ پر هيواد جګړه راتپل شوې وه، او يوه نيابتي جګړه وه. ترهګر او القاعده د افغانستان څخه بهر په پاکستان کې ځالې درلودې، کومې چې خپله امريکا او عربو ورته د آی اس آی په ملاتړ جوړې کړې وې.

لس کاله وروسته امريکايانو درک کړه چې دا جګړه دوی ته ډيره اوږده او ګرانه تماميږي، نو امريکا خپل پلان د روس او چين په خاطر بدل کړ. دوی په افغانستان او په پاکستان کې نيول شوي طالبان چې په ګونتنامو او بګرام زندانونو کې بنديان ؤ سوکه سوکه بيرته راخوشې کول.
د اسامه د وژل کيدو څخه وروسته په ديسمبر ۲۰۱۴ کې ناتو ځواکونه (ايساف) د افغانستان څخه ووتل او خپله دنده يې رسماً افغان ځواکونو ته وسپارله.
په دې ترڅ کې محمد اشرف غني د ټولټاکيو له ليارې ولسمشر وټاکل شو. کله چې د افغانستان نوي ټاکل شوي ولسمشر ښاغلي محمد اشرف غني په ۲۹-۹-۲۰۱۴ کې خپل د لوړې مراسم تر سره کړل نو په سهار يې ۳۰-۹-۲۰۱۴ کې د افغانستان او امريکا تر منځ امنيتي تړون لاسليک شو. دغه تړون د امريکا له لوري په افغانستان کې د امريکا سفير جيمز کننګهم او د افغانستان اسلامي جهموريت له لوري د ولسمشر د امنيتی سلاکار

محمد حنیف اتمر لاسلیک کړل. همدا شان یو بل امنیتي تړون د ناټو د ځانګړي استازي مورس یوخین سره هم محمد حنیف اتمر لاسلیک کړ.
د تړون په لاسلیکېدو به افغانستان کې تر ۲۰۱۴ وروسته امریکایي پوځیانو ته د پاتې کېدو اجازه ورکړل شي.
د افغانستان د جګړې متحدین ځلوېښت هیوادونه (د ناټو ټول هیوادونه) ؤ. په ۲۰۰۲ کی دوی دغه ماموریت د افغانستان له پاره دامنیت او مرستندویه نړیوال ځواکونه آی اس ای اف (ایساف) ترعنوان لاندې جوړکړل، چې تر۲۰۱۴ تر آخره پورې یې دوام وموند. په دغه کال بهرني ځواکونه د افغانستان څخه ووتل. له ۲۰۱۴ څخه وروسته کومه قوا چې په افغانستان پاتې شوه د غوڅ ملاتړماموریت تر عنوان لاندې ؤ. دا پوځیان ډېرئ امریکایان ؤ. له دې وروسته دغه جګړه د افغانستان د مسلح قوا او د طالبانو ترمنځ وه، چې امریکایي پوځیانو به کله کله ورسره هوایي مرسته کوله.
**کله چې امریکا خپل پلان د روس او چین په خاطر بدل کړ، نو بلاخره امریکا په ۲۰۱۸ کې د طالبانو سره مذاکرت پیل کړل او طالبانو ته یې په قطرکې دفتر پرانیست. له دغه ځایه د افغانستان اسلامي جمهوریت د زوال څرک څرګند شو.**
د افغانستان د پاره د امریکا د حکومت ځانګړئ استازئ زلمئ خلیلزاد په وار وار کابل او دوحې ته تګ راتګ پیل کړ. په زړه پورې خو داوه چې خلیل زاد به محمد اشرف غني ته یوه خبر کوله، عبدالله عبدالله ته بله خبره او نورو ته نورې خبرې. په دې ډول د امریکا پر ځانګړي استازي خلیلزاد بې باوري زیاته شوه.
په هر حال د امریکا او طالبانو ترمنځ مذاکرې نژدې ۱۸ میاشتې اوږدې شوې، چې بلاخره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي ځلمي خلیل زاد او د طالبانو پلاوي ملا عبدالغني برادر ترمنځ په ۲۹-۲-۲۰۲۰ کې په دوحه کې تړون لاسلیک شو. دا بیا د امریکایانو دوهم ځلي ناکاره او ناقصه کړنه وه چې دا ځل یې د افغانستان حکومت پکې څنډې ته کړ *(لومړئ ځل د بُن ناقص کنفرانس اوس د دوحې)*.
د دې هوکړه لیک پر بنسټ به امریکایان د ۱۴ میاشتو په ترڅ کې له افغانستان څخه ووځي. د طالبانو نژدې پنځه زره بندیان به آزاده کیږي. طالبان به د القاعدې په ګډون هیڅ بلې ډلې، ډلګۍ یا شخص ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان خاورې څخه امریکا

او متحدينو ته يې ګواښ پیښ کړي. طالبان به هیڅ بهرني سرتيري ته ګواښ نه پيښوي. طالبان به د امريکا ګټې نه ننګوي.

د ځينو نه تائيد شويو راپورونو له مخې د طالبانو او امريکايانو سره ځيني پټې مادې هم شتون درلود. يوه د هغو پټو مادو څخه د امريکا او طالبانو د تړون دا وه چې طالبانو ۸۰ ميلیارده ډالره د جنګ تاوان غوښته، ترڅو په ۴۰ ميلياردو ډالرو امريکا ورسره ومنله، خو په دې نامه چې د مرستو په توګه به يې افغانستان ته ورکوي.

څرنګه چې امريکايانو ويل موږ د ترهګرو، القاعدې، د مخدره توکو توليد- قاچاق او اداري فساد (وروستي موارد څو کاله وروسته د دوی په خوله کې پريوتي ؤ) د منځه وړو دپاره افغانستان ته راغلي يو. په داسې حال کې چې په افغانستان کې د بهرنيانو په شل کلن شتون کې د يوې ترهګرې القاعدې پر ځای، يوويشت ترهګرو ډلو حضور وموند، چې له دې يوويشت ډلو څخه داعش ځواکمنه ډله ده.

لکه څنګه چې څرګنده ده د طالبانو په لومړۍ واکمنۍ کې د کوکنارو کښت صفر ته رسيدلئ ؤ. خو په افغانستان کې د امريکايانو په شل کلن شتون کې د مخدره توکو توليد او قاچاق په بې ساري ډول لوړ شو، چې په پايله کې د نړۍ نژدې ۸۰-۹۰ سلنه مخدره توکې په افغانستان کې توليد کيدل. په دې مانا چې د نړۍ ترټولو سترد مخدره توکو توليد کوونکئ هيواد شو. همداشان اداري فساد خپل اوج ته ورسيد، چې بلاخره افغانستان په اداري فساد کې هم د نړۍ په هيوادونو کې په لومړي سر کې پريوت.

په لنډه کې ويلئ شو د هغه څه د پاره کوم چې پورته يادونه وشوه چې امريکايانو او متحدين يې راغلي ؤ، هغه ژمنه پرځای نه شوه (ترهګر، القاعده، فساد او د مخدره توکو توليد او قاچاق د منځه وړل).

امريکا او دهغې متحدين چې د څلويښتو هيوادونو څخه هم زياد ؤ، شل کاله مخکې يې طالبانو ته تروريستي ډله ويله، خو اوس ورته تروريستي ډله نه ويل کيده.

امريکا طالبانو ته دومره سياسي ارزښت ورکړ چې پرته د افغانستان له حکومت څخه د طالبانو سره هوکړه ليک لاس کړ. او په زړه پورې خو لا دا چې حتا امنيتي تړون يې ورسره لاس ليک کړئ، رسمي دولت له پامه وغورځيد او يوې ډلې سره هوکړه ليک لاسليک شو.

100

تسنیم چې د ایران یوه ویب پاڼه ده، د خپل سیمیز خبریال له قوله لیکي چې د امریکا د استیوکال خبریال چې نوموړي یو کتاب هم ( د سي آی اې او د امریکا پټه جګړه په افغانستان کې) لیکلئ خپل یادښت کې د امریکا ناکامئ په هکله لیکلي چې د امریکا هغو دولتي ارګانونو چې  په ۲۰۰۸ کال کې د افغانستان او امریکا د جنګ په اړه یو محرم رپورت ارزونه کوله وایي چې امریکا په افغانستان کې بریالئ نه ده، خو لا تراوسه یې ماته هم نده په  نصیب شوې. پس له دې چې بیا نور محرم راپورونه د افغانستان په هکله ځرګند شول بلکل همدغه خبره تایدوې. **کوم چې زما په آند ماته تور وي که سپین؟**
خو د دې ترڅنګه بیا د ولسمشر ترامپ اداري هم خپل وروستئ رپورت د ۲۰۱۹ کال د اګست په میاشت د افغانستان د جګړې په اړه ولیکه. د ولسمشرترمپ سلاکاران په دې آند شول چې **ستر لامل د افغانستان د جګړې د نه بریالیتوب د پاکستان استخبارات آی اس آی دئ چې د افغانستان دولت مخالفینو (طالبان) ملاتړي دي**، حمایت یې کوي او هغوی ته یې خپل هیواد کې خوندي ځایونه ورکړي. همدارنګه د مخدره توکو قاچاق، اداري فساد او ځینې نور فکتورونه هم په کې رول لري.
پوښتنه پیدا کیږی چې امریکا هرکال پاکستان ته میلیاردونو ډالر ورکول، ولې په دې شلوکلونو کې امریکا ونه توانیده چې د پاکستان لاس د طالبانو څخه لنډ کړي، او که اصلاً یې نه غوښتل او نه غواړي؟
د ځینو نه تایید شویو رسینو له قوله په کال ۲۰۱۱ کې د آی اس آی مشر اشفاق پرویز کیاني امریکایانو سره په لیدنه کې څرګنده کړه چې دا جګړه به ډیره اوږده او تاسو ته ډیره قیمته تمامه شي. دا ځکه چې د افغانستان دولت مخالفانو (طالبان، کیدای شي نورې تروریستي ډلې هم وي) سره په غوڅ، جدي او هراړخیزه توګه مقابله نه کیږي او پایله به

---

100
https://www.tasnimnews.com/fa/news/1396/11/08/1640481/پیش-بینی-نویسنده-کتاب-سیا-و-جنگ-های-مخفیانه-آمریکا-از-آینده-جنگ-افغانستان
د تسنیم د سایت څخه اخیستل شوی

داشي چې تاسو به بريالي هم نه شی. نوموړي د امريکا څخه غوښتي ؤ چې د افغانستان او پاکستان په پوله د افراطيانو له منځه وړل او پس له هغې پوله په غوڅ ډول ساتلو کې له موږ سره مرسته وکړی.

له دې خبرې څخه د پاکستان موخه څه وه؟ پاکستان په څه چل ول د موږک او د پیشو لوبه د امريکايانو او متحدينو سره پرمخ بیوله او دا لړی لا روانه ده. پاکستان په همدغو لوبو سره د امريکا څخه پیسې واخیستې. څرګنده شوه چې امريکا د پاکستان دغه خبره ومنله او د افغانستان په حکومت (محمد اشرف غني) به يې هم دا خبره منلي وي، خو هيڅ ډول سند نه دئ لاسليک شوئ. ځکه خو پاکستان وکولای شول د افغانستان په پوله اغزن سيم ولګوي، کوم چې هيڅکله پاکستان د دغې کړنې جُرئت نه درلود. دغه اغزن سيم د افغان ملت ټټر څيرې کول ؤ، دا زخم تر هغو نه رغيږي چې اغزن سيم بيرته ټول نشي.

د افغانستان د حکومت له لوري هيڅ کوم رسمي غبرګون ښکاره نه شو. يوائې دومره يې ويل او حتا اوس هم دا ويل کيږي د ډيورند په نه منل شوې کرغيړنې کرښې دواړو خواؤ ته د پرتو سيموخلکو خوښه ده چې څه تصميم نيسي، نه د حکومتونو.

د دې ترځنګ پاکستان په شمالي وزيرستان کې ټول کورونه تش کړل. بمباری يې پرې وکړې. مشران يې ترې ووژل يا يې بنديان کړل. دا لړی لاتراوسه هم روانه ده. په منظور پښتون (پښتين) او د هغه په نژدې ملګرو بريدونه (فبروری د ۲۰۲۲) د دې ګواهي ده. په دې ډول پاکستان غواړي چې د افغانستان په پوله ميشت پراته پښتانه قومونو يا پاکستان کې پرته له ستونزې جوړولو ژوند وکړي او يا يې وځپي، له منځه يې يوسي او يا خو ژوند داسې پرې تريخ کړي چې دا لړی ختمه شي.

همدارنګه د پاکستان د جوړښت څخه تر ننه پاکستان په دې هڅه کې دئ چې په افغانستان کې د دوی لاسپوڅئ رژيم حکومت وکړي. د افغانستان د کورني او بهرني سياست واک په لاس کې ولري. د پاکستان دا ارمان د ملي اتل شهيد ډاکټر نجيب الله تر حکومتولی پورې په سيند لاهوؤ. کله چې ډاکټرنجيب مړ شو، نو د افغانانو دا هيلې سمې ورسره مړې شوې، خو د پاکستان هيلې نوې وزيږيدي او پيغلتوب ته ورسيدې.

پاکستان غواړي چې افغانستان د هند سره هيڅ او يا په ډېره ټيټه ديپلوماتيکه کچه اړيکې ولري. پاکستان ډاريږي که د افغانستان اړيکې د هند سره ټينګې وې، بلاخره به د هند استخبارات په دې وتوانيږي چې هم د افغانستان او پاکستان په پوله او هم د هند او پاکستان په پوله کې پاکستان ته ستونزي پيدا کړي. خو په بدل کې پاکستان تر ټولو مهم فکتور چې افراطيت دئ (د ستر ښکيلاکګر انګريز زوړ سياست) تقويت اوحمايت کړئ.
د پاکستان افراطي بنسټپالان پخپل هيواد کې ځانمرګي بريدونه حرام ګڼي او زموږ په هيواد کې چې اسلامي رژيم ؤ (کرزي او محمد اشرف غني) جهاد يې ګاڼه. ځکه خو پاکستان مجبور ؤ چې امريکا ته ووايي د پاکستان په پوله د بنسټګرو افراطيانو له منځه وړلو کې ورسره مرسته وکړي!! دا خو تش په نامه خبرې وې. امريکا د پاکستان په وجود کې افراطيت او بنسټپالان وزيږول اوپاکستان ته يې وويل ستا دننده يواځې روزل دي. پاکستان په ډېرې خوښۍ سره د امريکا دغه امر پرځای کړ.
د ځينو شنونکو په باور پاکستان اتمي تسليحات د دې سبب شوي چې امريکا او ناتو البته چې که ډېر سخت مجبور شوي نه وي د پاکستان په وړاندې غوڅ او جدي غبرګون نه شي ښودلئ. ځکه خو ويل کيږي چې د امريکا په جنګي موخو کې تضادونه شتون لري او له دې څخه آی اس آی ګټه پورته کوي، اودا سبب شوې چې امريکا په زغرده او جدي توګه د پاکستان څخه دغه غوښتنه نه کوله چې دطالبانو اونورو بنسټپالو افراطيانو ملاتړی څخه لاس په سر شي.
خو زه په دې آند يم چې دا هرڅه د امريکا او انګليس په خوښه کيږي. که بنسټپال روزل کيږي هم د امريکا او انګليس په خوښه ده. که پاکستان د اتمي سلاح څيښتن شوهم د امريکا او انګليس خوښه ده. کچيرې اتمي سلاح تر اخيستل کيږي دا به هم د امريکا او انګليس په خوښه وي. زه پوره ډاډ لرم چې هيڅشئ هم د امريکا او انګليس د اجازې پرته نه کيږي. البته چې پاکستان هرڅه دغو هيوادونو ته کوي، خو د ډالرو په مقابل کې!!.
په هرحال که څه هم ولسمشر ترامپ د امريکا تر نورو ولسمشرانو (بوش، اوباما او جوبايډن) د پاکستان پر وړاندې تر يوې اندازې غوڅ دريځ غوره کړ لکه دامريکا مرسته پاکستان ته په کال کې ۱.۳ ميليارد دالر په تعليق کې کړه، خو دا کافی نه وه. زما په آند

امریکا د پاکستان څخه په جدي توګه نه ؤ غوښتي چې طالبانو او نورو بنسپالو د ملاتړ څخه لاس واخلي. که یې غوښتئ وئ دا شونې وه او ده.
دا شل کاله د امریکا ولسمشرانو پخپلو ضعیفو او نه قانع کوونکو دلایلو سره ویل چې په افغانستان کې د القاعدې او نورو تروریستي ډلو او مخدره توکو تولید له منځه وړلو له پاره دلته جنګیږي. دا هیڅګله هم قانع کوونکي خبره نه ده.
لومړئ خو القاعده هم امریکایانو افغانستان ته انتقال کړه او د مخدره توکو تولید او د فساد لومړني عاملین هم دوی خپله ؤ، بیا افغانان.
امریکا چې د القاعدې مشر (اسامه بن لادن) له منځه یووړ نو امریکې هلته بیا بل بچئ د داعش په نامه وزیږاؤ. پاکستان ته یې وویل ته به یې روزې!!.
که داعش په ریښتینې د عربي سیمو څخه راځي، نو په څو ملکونوبه دا لښکرې راتیریږی او د دې ټولو ملکونو پوله ساتونکي ځواکونه ویده دي؟ او یا داچې د دې ټولو ملکونو حکومتونه داعشیان دي او که داعشیان نه وي نو خامخا به د داعشیانو سره انډیوالان وي چې ورته وایي راځئ موږ اجازه درکوؤ زموږ په ملک تیر شئ او افغانستان ته واوړئ؟
کومه یې منطقي خبره ده؟ زما په آند ریښتیا خو دا ده چې داعش په پاکستان کې د امریکا او انګلیس په مشوره جوړشوئ. *لکه څنګه چې وړاندې ورته هم اشاره شوې وه، د ولسمشر حامد کرزي له خولې چې داعش امریکا شینوارو ته راوستل.*
امریکا د چین او د روسیې له کبله په سیمه کې د بل ډول جنګ د ایجادولو په درشل کې شوه، چې خپله په جنګ کې ښکیل نه شي. بس یواځې د همدغې ټکي د پاره یې د افغانستان څخه پښې سپکې کړې، او تش په نامه د طالبانو سره یې مذاکرات پیل او بلاخره تړون لاسلیک کړ. که څه هم امریکایانو په میلیاردونو ډالر مصرف کړي ؤ.
په پیل کې د امریکایانو دا پلان ؤ چې د تل د پاره به دلته پاتې شي (لکه په جرمني کې د دوهم نړیوال جنګ څخه تراوسه) ځکه خویې دلته په هره نظامي اډه کې ستره پانګونه کړې وه. خو لکه څنګه یې چې ولیدل د سیمې نور هیوادونه (چین او روسیه) بل ډول پلانونه لرې، ځان یې ویست او د دغې سیمې د نه خوندیتوب او بې ثباتۍ دپاره یې داعش او نورې اټکل شل ډلې د پاکستان په وجود کې ایجاد کړې.

امریکا چې د دوی پر وینا د ترهګرو، القاعدې، مخدره توکي او فساد له منځه وړلو دپاره یرغل کړئ، ټول درواغ او تش په نامه خبرې ثابت شوې.
کله چې امریکا وغوښتل د القاعده مشر اسامه بن لادن له منځه یوسې د جلال آباد څخه یې هلیکپترې په هوا شوې په یوساعت کې کې بیرته راستنې شوې او اسامه بن لادن یې له منځه یووړ. ولې یې لس کاله ورته وکتل پس له هغه یې مړ کړ.؟
همدارنګه اداري فساد، لکه څنګه چې ولسمشر جوبایدن په جنوري د ۲۰۲۲ کې وویل په افغانستان کې هره اونۍ زموږ نژدې یوملیارد لګښت ؤ (که څه هم د امریکا جمهوریت غوښتونکو ویلې ؤ چې هره اونۍ نژدې دوه میلیارد لګښت ؤ) خو په هر حال دغه لګښتونه که د افغانستان دولت له لیارې افغانستان ته ورکول کیدئ. افغانستان کې یې ورته ضرفیتونه جوړکړي وئ او هره میاشت یا اقلاً هر درې میاشتې بیرته ځنې حساب غوښتونکي وئ، هم به د امریکایانو پیسې په ځای مصرف کیدې او هم به په افغانستان کې اوس یو جنګسالار اوفاسد میلونران او میلیاردران هم شتون نه درلود. البته چې د یادونې وړ ده په ځینو مواردو کې پیسې د افغانستان دولت ته تسلیمیدې او د مالیې وزارت له طریقه مصرف کیدلې. خو ډیرئ داسې نه کیدې. دا جوته ده چې امریکایانو په پوهاوۍ توګه د خپلو موخو رسیدو دپاره همداسې کول.

**لنډیز**

**لومړئ**: زما په آند په لنډه کې ویل شم چې امریکا او متحدینو یې په پوهاوۍ توګه په پاکستان کې د ترهګرو ځالې د اسلامي سخت دریځو په جامو کې جوړې کړې او افغانستان ته یې راواستول چې امنیت خراب کړي او د دوی شتون ته اړتیا وي.
**دوهم**: په بې ساري ډول میلیاردونو ډالر افغانستان ته راواستول شول. کوم چې د افغانستان په تاریخ کې په دومره بې ساري پیمانه پیسې زموږ هیواد ته نه وې راغلې. په داسې حال کې چې ضرفیت شتون نه درلود. په بله وینا امریکایانو په افغانستان کې خلک په پیسو واخیستل. دا د دې لامل شو چې فساد رامنځ ته کړي. بناٌ اداري فساد د دوی له خوا رامنځ ته شو.

**دریم:** د حامدکرزي د حکومتولی څخه راپه دې خوا جنګي جنایت کاران، جنګسالاران، هر ډول غاصبین، چپاولګر، غله او داړه ماران په وزارتونو، نورو لوړو او ټیټ پوړو پوستونو کې وګمارل شول. دغو پورته یاد شوي کسان په کې د سوونو میلیونو ډالرو څېښتنان شول، او حتا ځینې یې په کې میلیاردران (ډالرو میلیاردران) شول. شمال، جنوب، لویدیځ، ختیځ کې د قدرت جزیرې جوړې شوې وې. نژدې ملک الطوایفي نظامونه ؤ.

د مخدره توکو د تولید او قاچاق کسان ډیر ژر په مافیایي کړی بدل شول. همدغو ښاغلو بیرته د راغلو بهرنیانو سره یولاس شول او په بین المللي مافیایي کړی بدل شول.

د مخدره توکو قاچاق ډیرئ د لوړپوړو چارواکو او د بهرنیانو پواسطه سرته رسیدل. بین المللي مافیا په بهر کې خلک په مخدره توکو روږدي کړل. د تقاضا او عرضې مسله رامنځ ته شوه. په بله وینا چې د مخدروتوکو تولید او قاچاق ته هم بهرنیانو زمینه برابره کړه، ځکه په بهر کې یې هم د تقاضا زمینه چمتو کړې وه.

د یادولو وړ بولم چې دغه پورته یاد شوي کسان ډیرئ پخواني مجاهدین (جاهلین) ؤ. کوم چې د طالبانو په لومړنی واکمنی کې د موړکانو په شان په سوړو ننوتي ؤ. حامد کرزي او امریکایانو د سوړو څخه راوکښل لومړئ موړکان ؤ، بیا پیشو او بلاخره تري زمریان جوړ شول. دا هغه وخت ؤ چې بیرته پرې د حامد کرزي زور هم ونه رسید.

پټه دې پاتې نه وي چې پورته یاد شوئ حکومت د ټولو ناخوالوسره ولسمشر محمد اشرف غني ته وسپارل شو (اداري فساد او مخدره توکو تولید ،قاچاق او زورواکي په واک کې). برسیره پردې چې د محمد اشرف غني حکومت ۵۰ سلنه ؤ، او خپله محمد اشرف غني په وروستی مصاحبه کې (متحده عربي اماراتو) کړې وه وویل ما واک نه درلود. په دې مانا چې واک د امریکایانو ؤ. فساد په کې شتون درلود، خو بیا هم وتوانیده چې ځینې حامد کرزي جوړکړي زمریانو څخه واک واخلي او لا اقل قفس ته یې کړي. د امریکا متحدین اوس حک حیران دي ، چې موړ دلته د څه د پاره راغلي وو.

101
ډیرئ بهرنیو سرتېرو چې په افغانستان کې یې دندې تر سره کړې، په لوړه کچه روحي ناروغان شول. په ځانګړي ډول په امریکا کې په زرګونو امریکایانو ځان وژنې وکړې. حتا په یو پاڅون کې خو امریکایي سرتیرو په ټولیزه توګه د افغانستان په جنګ کې ورکړل شوي مډالونه هغې خواته ګزار کړل چې زموږ دا مډالونه نور په کار نه دي. حتا د افغان ملت څخه یې ښنه وغوښتله. دوی ویل چې بې ځایه مو ملکري هم ووژل شول، نه مو افغانانو ته ښه ژوند جوړ کړ او نه په سرلوړۍ له دې هېواد څخه راووتلو.

برسیره پر دې د امریکا نړیوال پرستېژ او اعتبار ته یې هم سخته ضربه ورسوله او امریکایي چاروکي باید خپلو خلکو ته ددې خبرو ځواب ویونکي واوسي چې ولې داسې وشول؟ د امریکایانو متحدین به هم له دې وروسته په امریکا باور ونشي کولای ځکه په افغانستان کې دوی یو بشپړ جمهوري نظام په لوی لاس په نیمه لار کې پرېښود سره له دې چې امریکا سلګونو میلیارده ډالره مصرف پرې کړئ ؤ. په لسګونه زره افغانان ووژل شول، ټپیان او بندیان شول. د دوحې بین الافغاني مذاکرات په لوی لاس ټکني شول.
په هر حال پایله دا شوه چې په هره اونۍ او میاشت کې به یو یا څوولایتونه د طالبانو له لوري سقوط کاؤ.
د جون میاشتي ۲۰۲۱ ز کال څخه په حیرانوونکي توګه طالبانو په نظامي عملیاتو فشار زیات کړ او په ډېره لنډه موده کې یې د هیواد ټولې ولسوالۍ پرته له جګړې په خپله ولکه کې راوستلې. ډیر ژر ژر په حیرانوونکي توګه سترو ولایتونو سقوط وکړ.
بلاخره په ۱۵-۸-۲۰۲۱ محمد اشرف غني د هیواد څخه ووت او طالبان په همدې ورځ کابل ته راننوتل. په دې ډول طالبانو په دراماتیکه توګه ټول افغانستان تر خپلې ولکې لاندې راوست.

---

صرات عشق ویب سایت،
101
http://serateshgh.com/154715/

د افغانستان وسله وال پوځ په ټوله کې مسلح قوا په دوه ورځو کې له منځه ولاړه.
زه خپله هغه محال په کابل کې وم. حتا ما یو فیر هم وا نوریده چې د طالبانو سره د جمهوري نظام مسلح قواؤ جګړه کړي وي. د چا پزه هم زخمي نه شوه. طالبان په ټول افغانستان مسلط شول. یوې ورځې څخه تربلې ځواکمن شول.
بیا پوښتنه را پیدا کیږي چې ولې د افغانستان وسله وال ځواک د طالبانو سره و نه جنګیدل؟
د ناټو د ځواکونو د وتلو ۲۰۱۴ ز کال څخه وروسته د افغان ځواکونو مورال کمزوری نه شو، خو له دې سره جوخت په لرې پرتو سیمو کې افغان ځواکونو ته په آګاهانه توګه مالي، نظامي ملاتړ او د خوراکه توکي (لوژستیکي توکي) نه رسېدل.
په پیل کې ویل کیدل چې د ولایتونو په مرکزونو باید ډیر تمرکز وشي چې وساتل شي، خو ډیر ژر طالبانو د ولایتونو مرکزونه فتح کړل او په څو میاشتو کې د کابل دروازې ته هم راورسیدل.
طالبان ورځ تر بلې په خلکو کې خپل نفوذ پراخ کاوه (دا چې دلیل یې هر څه ؤ) او همدا لامل و چې د افغانستان څو ولایتونه یو پر بل پسې د څو ورځو په جریان کې سقوط شول. که څه هم دولت څو څو ځلې دا اعلان کړه چې په تکتیکي توګه پرشا تګ شوئ.
زما په آند قطعاً تاکتیکي شا تګ نه ؤ، دا هم د امریکا غوښتنه وه چې په همدې شکل د افغانستان حکومت وپرځول شي. په آخره کې د ملي دفاع وزارت لوی درستیز او ورپسې د خپله د فاع وزیر هم بدل شول. دا ځکه چې په داخل کې ځیني داسې ټاکونکي مهرې وې چې د امریکا د غوښتنو سره سم یې چارې سرته رسولې، دوی مسلح قواؤ ته ویل چې د طالبانو پرورړاندې ونه جنګیږي.
زموږ ستاسو په یاد دي چې په ډیرئ ولایتونو کې ملکي خلکو سلاح واخیسته او د داعش او طالبانو پر وړاندې د دولت ملاتړي شول، خو ګټه یې ونه کړه. همدا ډول په آخره کې محمد اشرف مزارشریف ته ولاړ (ویل کیده چې پیسې یې عطا نور ته ورکړې چې وجنګیږي) او عطا محمد نور خپل ټول توان په خرڅ ورساؤ چې د ځایي سیمې خلک د طالبانو په وړاندې سلاح واخلي او وجنګیږي، خپله هم د جګړې لومړی کرښې ته ولاړ.

خو بلاخره پس د ځو محدودو ورځو څخه خپله عطا نور په یوه غونډه کې هغه څه وویل چې زه به یې لنډیز په ځو کرښو کې ولیکم:

***موږ طالبان د ښار څخه په شا کړل. نورنو په مسلح قوا پورې اړه لري چې دفاعي ځواکو دلته ځآی پرځآی کړي. دا یوه ستره سازماني شوې توتېه وه، د دفاع وزیر بسم الله خان راته وویل چې دا ګټه نه کوي او بیرته په شا شه.***

د عطانور حیرانونکې خبرې دا مانا لري چې د افغانستان د وزیرانو(کلیدي وزیرانو) په کچه د امریکا خولې ته کتل چې څه ورته هغوی وایي هماغسې وکړي.

له دې څخه ځرګندیږي چې د مزارشریف په څیر نورو سترو ښارونه هم پرته له جنګ څخه طالبانو ته ولسوالۍ او ښارونه پریښودل.

لنډه داچې په ۱۵-۸-۲۰۲۱ ولسمشر محمد اشرف غني د افغانستان څخه ووت، په همدې ورځ که څه هم د طالبانو دفتر په دوحه کې اعلان وکړ چې کابل ته د داخلیدو هوډ نلري، خو بیا هم دوی کابل ته راننوتل. د پخواني ولسمشر حامد کرزي په وینا چې هغه په دوحه کې د طالبانو د فتر سره اړیکه ونیوله، چې د کابل امنیت د ګواښ سره مخ دئ او خلک بیا چور او چپاول باندې لاس پورې کوي، نو د کابل ښار امنیت ونیسی. البته چې د کابل په ځینو سیموکې چور او غلا هم وشوې.

په هرحال محمد اشرف غني له هیواد څخه ووت، طالبانو ته جوړ مظبوط دولت او اقلاً تر دوه لکه مسلح قوا په لاس ورکړل شوه.

جوړه حوکمتولي او مسلح قوا له منځه ولاړه. ټول په کور کښیناستل. طالبانو یواځې ډیر لږ مسلکي او تخنیکی خلکو ته چې بیړنی اړتیا یې لرله بیرته کارونو ته راوبلل. مسلح قوا په ټوله کې بیکاره شول. که څه هم ځیني بیرته راوبلل شول. نور دولتی مامورین هم ډیرئ په کور ناست دي. معاش ورکول نشته. ښځینه مامورینی خو مطلقاً ټولې په کور ناستی دي. ولسي جرګه او مشرانو جرګه خو اصلاً شتون نلري پاتې خولا د جرګې غړي. هغه شئ چې ډیراړین دئ دا دئ چې **تراوسه موږ اساسي قانون نلرو**. طالبان په دودیزه توګه کړنې تر سره کوي. په بله وینا که یو هیواد اساسي قانون ونلري، د څه په اساس خپله خط او مشي پرمخ بیایي. بیا څنګه د نړیوالې ټولې څخه غوښتنه کیږي چې د دوی حکومت په رسمیت وپیژندل شي؟

خو طالبانو برسیره پر دې ټولو په زړه پورې مهم کار دا ؤ چې عمومي عفوه یې اعلان کړه، هر څوک که په هر دولتي مقام کې یې کار کړئ ؤ ورته عفو شوې ده. د محمد اشرف غني څخه تر یو عادی مامور. خو په پټه ځینې پخواني نظامیان او د ملي امنیت کارکوونکي د کورونو څخه بیول شوي او مړئ ژوندئ یې لا معلوم نه دئ. برسیره پردئ ځینې پخواني نظامیان په غیرې انساني او فجیح ډول شکنجه کیږي او ویدیوګانې یې په یوتیوپ او فیسبوکونو کې خپاره شول.

دویم زبردست کار د طالبانو دا ؤ چې یوکمیسیون یې جوړ کړ د طالبانو د لیکو څخه یې مشکوک او هغه خلک چې د نورو سره یې زور یا زیاتئ کړئ وي باسي. تراوسه یې څه د پاسه ۳۰۰۰ (دسمبر ۲۰۲۱ / جنوری ۲۰۲۲) کسان ایستلي او که د مجازاتو وړ ؤ عدلی ارګان ته معرفي شوي دي.

نو په لنډه کې ویلئ شو چې امریکایان د افغانستان د جوړولو له پاره نه وه راغلي لکه څنګه چې څو موده دمخه د امریکا ولسمشر جوبایډن په ډاګه وویل: موږ د افغانستان ودانولو د پاره نه ؤ تللي. د هغوی موخه هیڅکله هم د افغانستان جوړول، ترهګرو له منځه وړل، د مخدره توکو تولید کمول، امنیت تأمینول او یا نورې تش په نامه دې ته ورته خبرې نه وي. دا ځکه چې اوس اوس د امریکایانو دپاره په افغانستان کې سوله او ثبات د امریکا له ګټو سره سمون نه خوري، ځکه چې دلته (په لوی افغانستان) کې سوله اوثبات د امریکا د سیالانو یاني چین او روسیې په ګټه دي.

## په بیرنۍ توګه سولیزافغانستان او ټول ګډونه حکومت

**څه کول په کار دي:**

لکه څنګه مې چې پورته اشاره درلوده بیا هم وایم زموږ ټولنه ۶۴٪ بیسواده وه، ده. داسې ټولنه د بهرنیانو شومو موخو له کبله ډیر په آسانۍ سره غولول کیږي. لکه څنګه چې تر اوسه زموږ هیواد کې شوي دي او کیږي.
راځۍ چې ټول یو موټۍ اوسو او هیڅ بحرني او کورني ته اجازه ورنکړو چې په موږ کې ژبني، قومي، مذهبي او نور ډول ډول نفاق خپور کړي. موږ ټول افغانان یو، همدا ډول طالبان (افغاني طالبان)هم افغانان دي ددې جامعې منل شوئ قشر دئ. دا که څوک غولیدلي وي او خپل هیوادوال وژني، پدې دې پوه شي چې پرته یو بل ته د لاس ورکولو څخه بله لار نلرو. څه د پاسه څلوېښت کاله په همدغې ماته او سورۍ بیرۍ کې بې پایلې روان یو.
راځۍ د تیر تاریخ څخه زده کړه وکړو. تر مرګه تجربه شوي څیزونه تکرار نه کړو. ولې ټول سره یوځای نشو، خپل هیواد ونه رغوؤ، ترڅو بهرنیان وشرمیږي او زموږ څخه لاس واخلي.
ترڅو چې د خان عبدالغفارخان خبره‌که *سره یو نه شو ورکیږو*. هیڅکله به امریکا، انګلستان، پاکستان او ځینې نور ملکونه ونه غواړي چې زموږ په هیواد کې سوله راشی او موږ دی یو امن هیواد ولرو.
امریکا د روسیې او چین په خاطر او انګلستان د پاکستان په خاطر زموږ وطن نا امنه ساتي.
موږ باید د سلیم عقل په درلودلو سره، پردیپال افغانان د پردیو له منګلو خلاص کړو او په ټولنه کې یې جذب کړو. د نفاق او د هرډول تبعیض نوم نور وانخیستلئ شي. ملت ته ووایو چې راځۍ په افغانستان کې چې څوک اوسیږي په هر مذهب او هره ژبه که وي، که مسلمان وي او که مسلمان نه وي یولاس یوموټئ یوه خوله اوسو. پرته د جنسي او هر ډول تبعیض څخه کار باید د کار اهلمن ته وسپارل شي.

پرته له ځنډه د نجونو دپاره ښوونځي او پوهنتونونه بيرته پرانيستل شي. ميرمنې بيرته د کار کولو اجازه ولري. مسلکي خلک په لوړو او ټيټو دندو وګمارل شي. همدارنګه بهرته تللو افغانانو ته په ريښتينې او جدي توګه بلنه ورکړل شي چې خپل هيواد ته راستانه شي او د خپل هيواد په بيا رغونه کې برخه واخلي.  د افغانستان د ټولو وګړو حقوقو ته (ښځينه او نارينه) په کې درناوئ وشي. ټول وګړي د يوې آينې په ډول په هغه حکومت کې ځان وګوري. هغه حکومت پرته له دې چې جنسيت، ژبې، مذهب، قوم، مليت او نژاد ته وګوري، بلکې د هغه پوهې مسلک او زدکړو ته په کتو سره په دندو وګماري. په بله وينا کار د کار اهلمن ته وسپارل شي، دا که ښځينه وي او که نارينه. دا به بيا يو ټولکړونه حکومت وي. البته چې د طالبانو، ځينو کورنيو او بهرنيانو په آند ټول ګډونه بل څه دي، چې هغه ډول ټولکړونه نور د منلو نه دي.

ځينو پخوانيو ورستو او خائنو څيرو(ځيني سياسون، واليان، وکيلان، د مخدره توکو ملي او بين المللي قاچاقچيان، په مافيايي کړی کې ورګډ کسان، زورواکي، جنګسالاران، هرډول غاصبين، انسان تښتوونکي او غله) ته په حکومت کې بيا ځای ور نه کړئ شي. صرف د افغان په صفت کولئ شي په افغانستان کې و اوسي او بس.  ترڅو د ملت باور ډير شي. ځکه پورته ياد شوی ښاغلي په عام ملت کې پوره د کرکې څيښتنان دي. پر دوی هيڅ باور نه دئ پکار.

نو په پيل کې د يوې بيړنۍ لويې جرګې *(ځکه اوس د ټولټاکنو شرايط مساعد نه دي. او نه به طالبان ټولټاکنې ومنې)* په ښسټ او پورتنيو اړينو ټکو ته په کتوسره يو مؤقت حکومت جوړ شي. ترڅو په دې ډول د خلکو او حکومت ترمنځ واټن بيخي ورک او يا لنډ شي. دا حکومت به په اوسني بيړني حالت کې تر يوې اندازې بريالئ حکومت وي، تر څو دا حکومت بيا په راتلونکي کې د ټولټاکنو زمينه مساعده او بلاخره پلي کړي.

دا به هغه حکومت وي چې د ملګروملتونو د سازمان، ګاونډيان، سيميز هيوادونه، عربي نړۍ، امريکا، اروپايي اتحاديه او نور هيوادونه به يې په رسميت وپيژني.

زموږ کنګل شوي شتمني به بيرته آزادې شي. د بهرنيو چارو وزارت به هڅه وکړي چې د نړيوالو پاملرنه زموږ هيواد ته را جلبه کړي او مرستې ورسره وشي. د مرستو دپاره په هيواد کې له مخکې ضرفيتونه جوړ شي. د معادنو او نورو خامو توکو استخراج به

پیل شي. پخوانی (د ولسمشر محمد اشرف غني د حکومتولی) بنسټیزې پروژې به د پلي کولو په درشل کې شي او حتا ځینې به یې په کار پیل وکړي. نورې پروژې به پیل شي.

په دې هیله چې بیا داسې کسان په واک کې نه وي چې د مرستو په نامه یې د بیت المال پیسو ته خپله کڅوړه خلاصه نیولي وي او پایله بیا هماغه پخوانیو حکومتونو په شان مافیایي کړۍ جوړې شي.

**په پای کې دعا کوم چې په ګران هیواد افغانستان کې تل پاتې سوله او ډاډمن امنیت تأمین شي.**

**د یو خپلواک، سر لوړي، سوکاله او ودان افغانستان په هیله.**

په درنښت

عبدالحبیب ببرکزئ ځدراڼ

مارچ میاشت ۲۰۲۲ ز کال

# اخيستنه


*https://pajhwok.com/fa/2022/03/18/thomas-nicholson-the-european-union-is-committed-to-the-people-of-afghanistan*. (2022, March). Opgehaald van Pajwok Afghanistan.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2014/07/140707_k03_af2014_election_commision_announced_run-off_prelimenary_result*. (2014, june). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.dw.com/ps/د-بن-تر-لومړي-كنفرانس-وروسته-د-افغان-حکومت-لاسته-راوړني/a-15554420*. (2011, December). Opgehaald van Deutsche welle.

*http://afghanpaper.com/nbody.php?id=133591*. (2017, may). Opgehaald van Afghan paper.

*/www.hambastagi.org/new/fa/article/1619-afghanistan-is-most-illiterate-country-in-the-world.html*. (2015, January). Opgehaald van Hezbe Hambastagi Afghanistan.

(2009, December). Opgehaald van Deutsche welle.

*BBC*. ( 2016, MAY). Opgehaald van https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2016/05/160522_mar_taliban_leader_mansur_profile: https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2016/05/160522_mar_taliban_leader_mansur_profile

*BBC*. (2013, juli). Opgehaald van https://www.bbc.com/persian/world/2013/07/130711_an_egypt_muslim_brotherhood

BBC, 1. . (2013, juli). Opgehaald van BBC: https://www.bbc.com/persian/world/2013/07/130711_an_egypt_muslim_brotherhood

(CSRS KABUL, 2019 June). Opgehaald van https://csrskabul.com/?p=5410.

DAM, B. (2009). *AMAN AND AMOTOR CYCLE how Hamid Karzai came to power.* ARBEIDERSPERS.

DAM, B. (2009). *EXPEDITIE URUZGAN De weg van Hamid Karzai naar het paleis.* DE ARBEIDERSPERS.

DAM, B. (2021). *OP ZOEK NAAR DE VIJAND.*

*dw.com/fa-af/ملا-هیبت-الله-آخندزاده-رهبر-جدید-طالبان-کیست/a-19281711*. (2016, may). Opgehaald van Deutsche Welle.

*http://afghanpaper.com/nbody.php?id=11294*. (2020, May). Opgehaald van Afghan paper.

*http://afghanpaper.com/nbody.php?id=139314*. (2017, september). Opgehaald van Afghan paper.

*http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=164014*. (2020, june). Opgehaald van Afghanpaper.

*http://www.afghanpaper.com/nbody.php?id=36456*. (2012, june). Opgehaald van Afghan paper.

*http://www.dailyafghanistan.com/national_detail.php?post_id=135746*. (2016, March). Opgehaald van The Daily Afghanistan.

*https://8am.af/escape-and-fall/*. (2021, september). Opgehaald van 8 am Afghanistan.

*https://8am.af/ps/the-last-72-hours-of-the-republic-a-narration-of-the-events-of-the-last-three-days-in-the-arg-palace/*. (2022, january). Opgehaald van 8 am Afghanistan.

*https://8am.af/thirty-six-percent-of-the-people-are-literate/*. (2015, April). Opgehaald van 8 am Afghanistan.

*https://ariananews.af/ps/o-ouou-58/* . (2018, july). Opgehaald van Ariana news.

*https://ariananews.co/news/اشرف-غنی-عبدالله-عبدالله-قدرت.html/*. (2020, february). Opgehaald van Ariana news.

*https://csrskabul.com/?p=5410*. (2019, june). Opgehaald van CSRS KABUL.

*https://csrskabul.com/?p=5410*. (2019, june). Opgehaald van CSRS KABUL.

*https://csrskabul.com/?p=5410*. (2019 , JUNE). Opgehaald van CSRS KABUL.

*https://dawatmedia24.com/%d8%a7%d8%ac%d8%aa%d9%85%d8%a7%d8%b9%d9%8a-%d8%b3%db%8c%d8%a7%d8%b3%d9%8a/110274* . (2019, August). Opgehaald van Dawat Media.

*https://nos.nl/artikel/164435-afghanistan-rijk-aan-mineralen*. (2010, June). Opgehaald van NOS Netherland.

*https://pa.azadiradio.com/a/28890849.html*. (2017, November). Opgehaald van Azadi Radio.

*https://projects.voanews.com/afghanistan/timeline/pashto.html*. (2021). Opgehaald van VO Voice of America.

*https://subhekabul.com/انتخاب-سردبیر/decreas-of-us-aid-afghanistan/*. (2020, April). Opgehaald van Subhe Kabul.

*https://tolonews.com/pa/afghanistan-170509*. (2020, february). Opgehaald van Tolo news.

*https://www.afghansabawoon.com/مقالي/د-بي-بي-سي-سره-دبېواکه-شوی-ولسمشر-محمد-ا/*. (2021, December). Opgehaald van Afghan Sabawoon.

*https://www.bbc.com/pashto/56441980*. (2021, March). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2013/11/131124_as_jirga_last_update*. (2013, November). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2014/09/140929_hh-afghan_us_security*. (2014, september). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-42048983*. (2017, November ). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-50886033*. (2019, December). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-51804788*. (2020, March). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-58455589*. (2021, september). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-59367505*. (2021, november). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/pashto/live/afghanistan-51687030*. (2020, February). Opgehaald van BBC Pashto.

*https://www.bbc.com/persian/51677036*. (2020, February). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2009/07/090710_a-af-election-profiles-karzai*. (2009, june). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2009/07/090710_a-af-election-profiles-karzai*. (2009, June). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2011/12/111128_k01_bonn2_agreement_review*. (2011, november). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2012/04/120429_k01_afghan_drug*. (2012, april). Opgehaald van BBC perisan.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan/2012/07/120707_l09_tokyo_conference_deferent*. (2012, june). Opgehaald van BBC Perisan.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan-41994135*. (2017, November). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan-51542364*. (2020, February). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan-51797576*. (2020, March). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan-58272273*. (2021, August). Opgehaald van BBC Perisan.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan-59125304*. (2021, November). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.bbc.com/persian/afghanistan-59451008?fbclid=IwAR06ceCEaIt11hOa4QmZNTQFBLIZeTbknYL3DYmJWxLoqszQzUavs9oBxpQ*. (2021, November). Opgehaald van BBC Persian.

*https://www.darivoa.com/a/2683985.html*. (2014, march). Opgehaald van Voice of Amerika.

*https://www.dw.com/fa-af/حکومت-های-موازی-جامعه-جهانی-مسوول- کرزی فساد-اداری-درافغانستان-است/a-5016078* . (2009, December). Opgehaald van Deutsche welle.

*https://www.dw.com/crime-opium-opium-narcotics-afghanistan/a-59842856*. (2021, november). Opgehaald van Deutsche welle.

*https://www.dw.com/ps/د-بن-تر-لومړي-کنفرانس-وروسته-د-افغان-حکومت-لاسته-راوړني/a-15554420*. (2011, December). Opgehaald van Ddeutsche welle.

https://www.facebook.com/208195492582381/posts/1492671467468104/. (2017, november). *sapand*.

*https://www.isna.ir/news/1400081915411/پاتروشف-بیش-از-۲۰-گروه-تروریستی-در-افغانستان-فعال-هستند*. (2021). Opgehaald van ISNA IRAN.

*https://www.kabulpress.org/article148675.html*. (2013, March). Opgehaald van Kabul press.

*https://www.nunn.asia/132821/*. (2018, november). Opgehaald van Nunn asia.

*https://www.nunn.asia/85665/جنگ-امریکا-در-افغانستان-۲۰۱۶-۲۰۰۱/*. (2016, oktober). Opgehaald van nunn asia.

*https://www.tasnimnews.com/fa/news/1396/11/08/1640481*. (2017, Januari). Opgehaald van Tasnim.

*https://www.tasnimnews.com/fa/news/1396/11/08/1640481/پیش-بینی-نویسنده-کتاب-سیا-و-جنگ-های-مخفیانه-آمریکا-از-آینده-جنگ-افغانستان*. (2017, January). Opgehaald van Tasnim Iran.

*https://www.tolafghan.com/news/17556*. (2020, March). Opgehaald van Tolafghan.

*https://www.voadeewanews.com/a/6415264.html*. (2022, january). Opgehaald van VO Voice of America.

*ی بی سی فارسی*. (2013, جولای). Opgehaald van https://www.bbc.com/persian/world/2013/07/130711_an_egypt_muslim_brotherhood

http://serateshgh.com/154715/

*بی بی سي- ژوندی خاطرې-په تیرو نهو لسیزو کې د افغانستان تاریخ ۱۹۹۲-۱۹۰۰*

*دویمه سقاوی* .(ل ۱۳۷۹) .افغان, سمسور

*نقش استعمار نوین جهان ابرقدرت در افغانستان* .(ل ۱۳۷۹) بایگان, خیرمحمد

*حقایق پشت پرده تهاجم شوروی بر افغانستان* .(ل ۱۳۷۷.بدیاگو کوردو ویز او سلیگ هریسن-ژباړه:عبدالجبار ثابت)

*سرې لښکرې په افغانستان کې* .(ل ۱۳۷۵)گروموف- ژباړه - داود جنبش

*د ملی تاریخ فلسفه او پښتنولي* .( ۱۳۷۳) حداد, قدرت الله

*دسایس پنهان، چهره های عریان- ازخروج قوای روسی تا سقوط اداره ایتلافي* .(ل ۱۳۸۰) .حکمتیار, م

*په افغانستان کې د مشروطیت غورځنګ* .(۱۳۸۲)حبیبی عبدالحئ ژباړه.-پوهنمله رحیمه

*د پیریانو جګړې ))* ستیو کول .(ل ۱۳۸۷) ژباړه-.زرموال,.

*GHOST WARS (STEVE COLL).*

تلک سرخ- محمد یوسف او مارک ادکین- *ژباړه- داکتر صمد - نثار احمد*

*افغانستان در قرن بیستم* .(ل دویم چاپ ۱۳۸۴) .طنین, ظاهر

*یک صدو یک روز در شمال افغانستان* .(ل ۱۳۷۹) .عمرزاد, فضل الهی

*تاریخ معاصر افغانستان* .(ل ۱۳۸۴)عطایي محمد ابراهیم-ژباړه-جمیل رحمان کامګار-

*راز خوابیده -اسرار مرگ داکتر نجیب الله* .(ل چاپ دوم ۱۳۷۸) مأمون, رازق

*دیورند، دیورند، دیورند))* .(ل ۱۳۸۸)مهدی, داکتر محیی الدین

*قوای نظامي اتحاد شوروي از افغانستان خارج ساخته شد* .(۱۳۸۰ل), ولواجی-اسدالله